ملي هینداره

مؤلف :

محمد گل نوري

ملي هینداره

اول، دوهم او دریم ټوک

PROPERTY OF ACKU
13892

مؤلف

محمد ګل نوري

د چاپ ټول حقوق په خپرندويه ټولنه اړه لري

کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم :: ملي هينداره (اول، دوهم او دريم ټوک)
مؤلف :: محمدګل نوري
مهتمم :: مطيع الله روهيال
خپرندوى :: علامه رشاد خپرندويه ټولنه - کندهار
کمپوز او ډيزاين :: م. روهيال
د پښتۍ طرح :: ع. افغانزى
چاپ کال :: ۱۳۸۷ ش - ۱۴۲۹ ق - ۲۰۰۸ م
شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه
د خپرونو لړ :: (۲۲)

اړيکي

m_rohyal2006@hotmail.com
mrohyal@gmail.com

ګرځنده

۰۰۹۳(۰) ۷۰۰۳۲۶۰۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

مننه او کوروداني

د دې کتاب د چاپي لګښت له یاره د هوښیارزي مرستندویه ټولني په نوښت او ابتکار له هیواد څخه د باندې دغو هیوادوالو خپلې پېرزویني راسره شریکې کړې دي:

- **ښاغلی میراحمد صافی**
- **ښاغلی حاجي اشرف ترین**
- **ښاغلی عبدالوهاب**
- **او ښاغلی حاجي حبیب الله**

علامه رشاد خپرندویه ټولنه د هوښیارزي مرستندویه ټولني د مسئولینو د دغه نوښت او یادو سوو درنو هیوادوالو له پېرزوینو څخه نړۍ نړۍ مننه کوي، چې د اروابناد استاد محمدګل نوري یو ډېر درانه اثر (ملي هینداره) له پاره یې د چاپ موقع برابره کړه، دوی هر یوه ته سوکاله او د کامیابیه ډک ژوند غواړو !

علامه رشاد خپرندویه ټولنه

کندهار



ارواښاد محمد گل نوري

(۱۳۲۰ هـ ق - ۱۳۹۳ هـ ق مړ)

فهرست

١. د سریزي پر ځای..........(محمد معصوم هوتک) الف
٢. یو څو خبري..........(مطیع الله روهیال) ح

لومړی ټوک

٣. لومړی خبري.................................. ٣
٤. فتح خان بړیځی.................................. ۵
۵. ښادي او بیبو.................................. ٢٨
٦. مرد او نامرد.................................. ۴٦
٧. زبزبانه شاپیرۍ.................................. ۵٣
٨. موسی جان او ولیجان.................................. ٧٣
٩. مومن خان او شېرینو.................................. ١١۵
١٠. جلات خان او شمایله.................................. ١٣۴
١١. عذر.................................. ١۵٢

دوهم ټوک

١٢. لومړی خبري.................................. ١۵۴
١٣. د طالب جان نکل یا ملا عباس او ګل بشره.................................. ١۵۵
١۴. ظریف خان او مابی.................................. ١٩٢

۱۵. خوشکیار او شاترینه ۲۱٦
۱٦. قطب خان او نازو ۲۲۵
۱۷. دلی او شهو ۲۳۷
۱۸. آدم خان او درخانۍ ۲۴۵
۱۹. قلندر جان او میراجان ۲۸۹

دریم ټوک

۲۰. مقدمه ۳۰۱
۲۱. محمدگل نوري د ملي هینداري مؤلف ۳۱۴
۲۲. خانان ۳۱٦
۲۳. شاترحسن ۳۲۱
۲۴. انارژړان او سپب خندان ۳۳۰
۲۵. د باچا زوی، مالداره او سپی ۳۴۷
۲٦. علیبیګ او شاپاڼۍ ۳٦۳
۲۷. لمبولال یا نیمبولال ۳۷۲
۲۸. دوه ورونه په یوه رنګ ۳۷۷
۲۹. ککرۍ ۳۹٦
۳۰. شرمښ او سره بوزه ۴۰٦
۳۱. د سوداګر زامن یا دري هوښیاران ورونه ۴۰۹
۳۲. حلاله مزدوري ۴۱۹
۳۳. مسګر او نجار ۴۲۸
۳۴. ګیدړه او پړانګ ۴۳۵
۳۵. خمرۍ ۴۴۲
۳٦. د زعفرانو سوداګر ۴۴۹
۳۷. سپیرکونډه او فیل ۴۵۳

د خپرندوی یادښت

پښتو ژبه د شفاهي ادب له پلوه خورا غني ژبه ده، د دغه شفاهي ادب پراخه لمن ده، چې زیاتو څېړونکو ته یې دا موقع برابره کړې، چې د دې ژبې د یادې سوې څانګې په باب په زړه پورې څېړنې وکړي. په دې برخه کې نکلونه، متلونه، لنډۍ، نارې او اصطلاحات د دغې ژبې خورا په زړه پورې نمونې دي او د دغې ژبې یوه خورا غني برخه تشکیلوي. په هره هغه ژبه کې چې د ویونکو زیاته فیصدي یې نالوستې وي، د ادب تر نورو څانګو شفاهي برخه ډېره غوړېدلې وي، دا ځکه چې د ویونکو د حافظو څخه د شفاهي ادب بېلابېلې برخې سینه پر سینه له یوه نسل څخه بل نسل ته رانقلېږي.

زموږ د ژبې په شفاهي ادب کې نکلونه او بیا د نکلونو په سر کې د ملي هینداري نوم تر بل هر اثر ډېر مشهور او د څېړونکو او ویونکو له خوا ډېر تقدیر سوی دئ. د ملي هینداري دوه لومړي ټوکونه له نن څخه تقریباً پنځه شپېته کاله مخکې خپاره سوي دي، په دغه شپېته کلن اوږده جریان کې د ملي هینداري کتاب تر بل هر کتاب زیات چاپ سوی دئ، چې د چاپ زیاتوب یې له بده مرغه د کتاب اصل ته زیان هم رسولی دئ، ځکه دغه چاپونه د پښتونخوا په بېلابېلو برخو کې تر سره سوي او هري سیمي د کتاب لهجه، اصطلاحات او نارې د خپلې لهجې تابع ګرځولي دي، چې په دې کار سره زموږ د شفاهي ادب د دغه غوره نمونې رنګ هم پیکه سوی او په ښکاره ډول د دغه ملي او نړیوال اثر په متن کې مداخله سوې.

علامه رشاد خپرندویه ټولنې د دغه اثر د بیا چاپېدو له پاره ښه

د سريزې پر ځای

پښتو ژبه د فولکلوريکو ادبياتو له مخې د نورو خپلوانو او ورڅرمه ژبو په پرتله بډايه ده او د شفاهي ادب يوه درنه زېرمه لري. د دې بډايۍ څنګ ته دغه تريخ واقعيت پروت دئ، چې شفاهي ادبيات په وروسته پاته ټولنو کې، په هغو ټولنو کې چې د ليک لوست له نعمته بې برخې وي، ډېره وده کوي. پښتانه له بده مرغه د مدنيت او ترقۍ له کاروان څخه وروسته پاته ساتل سوي دي، له سواده محروم ساتل سوي دي، له ښارو څخه ليري په ژوند کولو باندې قانع ساتل سوي دي، او تر ټولو يې بيا د خواشينۍ خبره دا ده، چې همدغه وروسته پاته والى بيا د دوى په خير او ښېګڼو کې ور ته حساب سوى دئ. د ډېرو پښتنو ژوند له کليو او بانډو سره تړلى راغلى دئ. کليوالي ژوند او کليوالي مناسبات د فولکلور په ايجاد او وده کې مرستندوى واقع کېږي. ښاري مناسبات او ژوند د فولکلوريکو ادبياتو د ودې له پاره تر زياتې اندازې برابر محيط نه وي.

نکلونه د فولکلوريکو ادبياتو يوه غوره برخه ده او په ټولنه کې يې د رواج عنعنه تر پښتني چاپېريال دباندې هم خپره ده. د نړۍ زياترو اولسونو پخپل فولکلور کې ور ته ځاى ور کړى دئ. نکل د ادبي آثارو د تقسيم بندۍ په وخت کې د هغو ادبياتو په لړ کې راوړل کېږي، چې په بې سواده پرګنو اړه لري. ځکه نو د نکلو ژبه، جمله بندي، اصطلاحګاني او لغتونه زياتره په هغه ژبه اړه لري، چې د نالوستو پرګنو په منځ کې ويله کېږي. نکلونه زياتره د ساتېرې د يوې وسيلې په توګه عموميت لري، خو د هغو په محتوى کې داسې سايکالوجيک اغېز سته، چې پر ساتېرې سربېره په نورو مواردو کې هم کار ځنې اخيستل کېږي. ميندې خپل ماشومان د نکلو په ويلو باندې بيده کوي او پر ځينو نکلو باندې د اخلاقي نورمونو د ښوولو او عبرت

ډېره موده وړاندي هڅي پيل کړې او دا يې پټيلې وه، چې د دغه اثر هغه امانت شکل چې په لومړي ځل د افغانستان د مشهور او تکړه فلکلوريست استاد محمد گل نوري (۱۳۵۲ ش مړ) په همت راټول سوي مواد دوباره خپل ولس ته د يوه امانت په توگه وسپاري، د هر راز لاسوهني او مداخلې څخه يې يو ژغورلی او اصلي شکل ترتيب او د چاپ په گېڼه سمبال کړي.

موږ تر خپله وسه په دې باب کار وکړ، او د ملي هينداري د درو واړو ټوکونو له لومړيو چاپونو څخه مو اصلي متن رانقل او درې واړه ټوکه مو په يوه ټوک کي ترتيب کړه، موږ باور ولرو، چې د ملي هينداري دغه وروستی شکل به تر نورو ټولو چاپونو بشپړ او د هر راز لاسوهني څخه خلاص وي او زموږ راتلونکي څېړونکي به د پښتو شفاهي ادب د يوې خورا غوره نمونې په توگه کار ورڅخه واخلي.

په درنښت

علامه رشاد خپرندويه ټولنه

کندهار

اخيستلو گټه بنا وي.

تر کومه ځايه چي ما د پښتنو نکلونه اورېدلي يا لوستلي دي، ځيني يې د پښتنو د خپلي ټولني او چاپېريال محصول وي، ځيني يې بيا له نورو کلتورو څخه راغلي نکلونه وي، خو پښتني عناصرو هم لار ورته موندلې وي او ځيني نور يې بيا له نورو کلتورو څخه راغلي وي خو ډېر لاس يې نه وي خوړلی او پر خپل حال پاته وي. په نکلونو کي د محتوی او شکل تغير هغه وخت زيات پېښېږي، چي له سينو څخه د کاغذ مخ ته رانقل سي. په تېره بيا که ناقل يې د خپل مسئوليت په حدودو باندي سم پوه نه وي. موږ پوهيږو، چي ځيني نکلونه په يوه مشخصه جغرافيايي اورشو اړه لري. نو که يې ثبت د همدې اورشو د اوسېدونکي پر لاس وسي، د مسخه کېدو امکان يې ورسره محدودېږي خو که تر دې اورشو وتلی يو څوک يې د ثبت کار ته ليځي راوغوړي، نو يې په شکل و محتوی کي د بدلون امکانات ډېر سته.

د پښتني ټولني نکلچي د شاعر، انځورگر، لوبغاړي، سندرغاړي په شان د هنر د لاري د لاروي په مقوله کي ځای موندلای سي. زه لادا هم ويلای سم په هغو نکلچيانو کي، چي ما يې د نکلو د اورېدو موقع موندلې ده، يو نيم داسي کسان هم ول، چي د خو هنرونو څښتنان به ول. ښه آواز به يې و، ښه ايکټر به و، ډېر دراک او روانشناس به و. کله چي به يې په اورېدونکو کي له نکل سره د دلچسپی کمزوري وليدله، په يوه خورا ماهرانه شيرغلت به يې بل نکل شروع کړ او د اورېدونکو پاملرنه به يې ځانته وراړوله. نکلچي به پر نورو کمالو سربېره د افادې مهارتونه هم درلودل. د ده الفاظ، کلمات، د لاسو، سترگو او خولې حرکات، د آواز زيروبم او نور حرکتونه و تمثيلونه به له داسي هنريت څخه برخمن ول، چي اورېدونکی به يې د سترگو په رپ کي له کيسې سره سم د نکل د ماجرا يوه برخه وگرځاوه. اورېدونکي به سمدلاسه د نکل په اتلانو کي له يوه سره خواخوږي (سيمپاتي) پيدا کړه په بري او ښه ورځ به يې خوشاله او په ناکامي به يې خوابدی کېدی...

زه چي د پښتو نکلو د ثبت کار ته گورم، نو تر ټولو لومړی راته "ملي هينداره" مخي ته راځي. يو علت به يې ښايي دا وي، چي زما سترگي واردواره د نکلو په همدې کتاب باندي روښانه سوي دي. له دې کتاب سره

مي د ور کتوب ډېري خوږې خاطرې تړلي دي. خو خبره يوازي پر همدې ځای نه درېږي، کله چي مي په نسبي ډول د نکلو د نورو کتابو د لوستلو موقع موندلې ده او بيا مي د هغو د ثبت کار له ملي هينداري سره پر تله کړی دئ، راته ثابته سوې ده، چي "ملي هينداره" د پښتو نکلو د کتابو په سر کي راځي او پر ځنګ مې په دې خبره هم سر ښه پوره خلاص سوی دئ، چي د ملي هيندارې مقبوليت د هغې د راټولوونکي، ارواښاد محمد ګل نوري (۱۳۵۲ش مړ) له شخصيت او اهليت سره تړلی دئ. د ارواښاد محمدانور نوميالي(۱۳۸۵ ش) دا خبره ډېره پر ځای ده، چي ويلې يې دي:

"موږ بايد د نېکو تاريخي تصادفاتو احسان ومنو، چي د دې فولکلوريک نکلو ثبت د ژبپوهني د کوم ډاکټر په پچه ونه ختی ځکه په داسي بېګانه سبک به يې ليکلي وای او داسي ناوړه املايي او انشايي لاسوهني به يې پکښې کړي وای، چي خلک به يې له خپلي ژبي څخه بېزاره کړي وای او د فولکلور په څېړنو کي به يې د تصنع له درکه ډېر مشکلات پيدا کړي وای" (وګ: د امير کروړ ياد، ۴۸۲مخ، ۱۳۶۴ ش، کابل).

نوري څوک و؟ او بريالیتوب يې په څه کي و؟

د نوري پلار ونيکه د کندهار ښار په جنوب ختيځ کي د منارې د کلي اوسېدونکي ول. د منارې کلي د ميا نورمحمد صاحب نورزي د اوسېدني او بيا په هغه ځای کي د ښخېدني له اسيته د "منارې" په نامه باندي مشهور سوی دئ. ميانورمحمد صاحب د نوري نيکه و. پلار يې عبدالواحد صاحبزاده نومېدی. ده خپل تخلص هم د همدې نيکه د نامه په ارتباط ټاکلی و. نوري د خپل وخت علوم لوستي وه او کله چي په کندهار کي د ادبي انجمن تاسيس سو (۱۳۱۱ش) نوري يې له لومړنيو همکارانو او غړو څخه و. کله چي د طلوع افغان د چلولو چاري د علامه عبدالحي حبيبي(۱۲۸۹ - ۱۳۶۳ ش مړ) پر غاړه ولوېدلې نو د نوموړي علامه په نوښت د اخبار خپروني ټولي په پښتو ژبه سوې. د پښتو ژبي د پرمختيا په معاصر تاريخ کي د طلوع افغان پښتو کېدل يوه ستره پېښه ده. د دې اخبار فاضل چلوونکي د خپل وخت اکاډميکي ژبني اړتياوي په ژوره توګه تشخيص

کړي وي او د دغه اکاډمیک بهیر په وظایفو کي یې فولکلور هم له یاده نه وایستلی. د دې چاري د سر ته رسولو له پاره یې پر ارواښاد نوري باندي لاس کښېښود او چي رشتیا سي خوراغوره انتخاب و. نوري خپل ټول ژوند پښتو ته وقف کړ. فولکلور یې راغونډ کړ (نکلونه، محاورې، اصطلاحات، متلونه، ...) او د خپل مثمر ژوند په اوږدو کي یې دا لاندي آثار ولیکل (د دغه لیست په لیکلو کي "د مینو ستاینه" رسالې (د ۱۳۶۳ش چاپ څخه استفاده سوې ده):

- ملي هنداره (۳ټوکه)، چاپ ۱۳۱۸ - ۱۳۲۵ - ۱۳۵۲ ش
- لیک ښوونکی
- پښتو اصطلاحات او محاورې
- ملي سندري
- متلونه
- پښتو قاموس دوه ټوکه (ښاغلی ډاکټر پالوال وايي، چي دغه قاموس د ښاغلي نوري په نامه نه سو خپور. وګ: پښتو چاپي آثار ۲۶۳مخ).
- د پوهني د تدریسي پروګرام له پاره
- طبیعي پوهني (ژباړه)
- دینیات (ژباړه)
- مدني اخلاق (ژباړه)
- مدني معلومات (ژباړه)
- رحمت اللعالمین (له عربي څخه ژباړه)

ناچاپ آثار:

- ملي بدلي
- ملي دود
- پښتو آهنګونه
- خوږ باندار
- د خوشحال خان حل اللغات

- د خوشحال خان منتخبات
- د عبدالقادر خان منتخبات
- د احمدشاه بابا منتخبات
- پښتو یاد
- د مینو رساله
- د احد غزا
- د یارلس نکلونه
- د نوري دیوان
- زوړ کندهار
- د شینخالو نارې
- دواویا ډیالوګه او ډرامې
- د سنګلیچی، واخي، اشکاشمي او منجي قاموس پښتو معادل

او نور آثار چي له بده مرغه د مړیني په شپو کي یې له مقاماتو څخه د زړه ماتېدو تر اغېزې لاندي له منځه یووړل.

کله چي د کندهار ادبي انجمن د کابل له ادبي انجمن سره یو ځای سو (د ښاغلي هاتف صاحب په نظر د دې دوو انجمنو په یو ځای کېدو کي د وخت د حکومت هدف دا و، چي منورین په کابل کي تر خپل نظر لاندي وساتي) او ورپسې پښتو ټولنه جوړه سوه (۱۳۱۶ ش)، اروا ښاد نوري د پښتو ټولني غړی سو. خو تر ډېرو کلونو زیار او زحمت وروسته له دغي پښتني ټولني څخه په خوږین زړه راووت. نه چا د مرستي لاس ورکړ او نه یې چا د آثارو قدر وکړ. حتی د تقاعد قانوني حق یې هم ځني وتروښاوه او نوري یې د مرګ پر وخت د ختو مزدوری ته اړ کړ. نه یې چا پر مړینه اوښکي توی کړې او نه یې چا پر مزار غونډې جوړې کړې. د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ له ریاست څخه زما هیله دا ده چي د نوري مزار جوړ کړي او له زلمیو څخه مي هیله دا ده، چي د نوري پر مزار باندي د ادبي غونډو او مشاعرو رسم جاري کړي او پسي ویې پالي.

د نوري مرحوم د ژوند طرز د یوه کلیوالي پښتانه و. ژبه یې هماغه د

د نورو چاپو په تمه دي[1]".

په یوه ولس کې په دغونه مقبولیت د یوه کتاب منل دا ثابتوي، چې دا په حقه سره ملي هینداره ده، او ټولو هغو ملي نوامیسو ته درناوی پکښې سوی دئ، چې د پښتانه ولس په قاموس کې رانغاړلي دي، خو په هیواد کې دننه د دغسې یوه مغتنم اثر د ژر نه چاپېدو له کبله دغه کتاب تر هیواد دباندې په پېښور او کوټه کې څو څو واري چاپ سو. دغو چاپونو پخپل ځان کې د ملي هینداري اصلي رنګ پیکه کړ، او ښاغلو چاپوونکو یې هغه اصالت تر پښو لاندې کړ، چې د ملي هینداري په لومړي چاپ کې ور په برخه و، د کتاب په متن کې د تغیراتو کچه دې مرحلې ته ورسېده، چې یو ځل د کتاب د مؤلف نوم د محمد ګل نوري پر ځای محمد کامل نوري چاپ سو، په دې باب اروا ښاد عطایي داسې لیکي:

"باید په خواشیني ووایو، چې پښتو ټولنه په دې برخه کې دونه بې علاقې وه چې د (ملي هینداره) دوه ټوکه چې د ده په نامه وه په پېښور کې د ده بې اجازې څو واره چاپ سوه او حتی لیکوال یې په جګ سر ژوندی و، خو نوم یې هم غلط سو یعنی د محمد ګل پر ځای محمد کامل ور ولوېدی دا چې په متن کې یې نوري څه مداخلې سوي دي هغه لا بله خبره ده خو دغه زموږ د ملي ادب پالونکي او ساتونکي موسسې په دوو تورو هم د دغې غلطۍ یادونه ونه کړه[2]".

د دغه ډول جفاوو لړۍ له ډېره وخته د اروا ښاد استاد نوري سره راپیل سوې وه، چې ځینو یې آثار پر خپل نامه چاپ او ځینو یې د دوی له زیار او زحمت څخه داسې استفاده وکړه، چې د دوی ټول زیار او زحمت یې په اوبو کې لاهو کړ، او دا یې هم نه سوه پر پېرزو چې د دوی په زیار پر لیکل سوي،

---

[1] د همدې اثر "د سریزې پر ځای" لیکنه، (ز) مخ، چې ښاغلي استاد محمد معصوم هوتک زما په غوښتنه د ملي هینداري د نوي چاپ له پاره لیکلی دئ او د دې تر څنګ یې د ملي هینداري د نوي چاپ له پاره ډېري په زړه پوري مشورې هم راکړي دي، (م. روهیال).

[2] ملي هینداره، دریم ټوک، ۱۳۵۲ ش، د اروا ښاد نوري د پېژندني (ق) مخ.

اولس ژبه وه. د اولس اصطلاحات او وراشې ورمعلومې وې، په پوهېدلو کې يې ستونزه نه درلوده او پخپله يې هم کارولې. د مثال په توګه، دی پوهېدی چي "روږه مست" څه معنا لري؟ ځکه يې په ثبت کي غلطي نه ده کړې. د ملي هنداري د (۱۳۶۴ش) چاپ ترتيبوونکی چي په دې اصطلاح نه پوهېدی، هغه يې (ړوړمست) ثبت کړې ده (وګ :د فتح خان برېښي نکل-۵ مخ). نوري ته په نکل کي د "شپانه" اصطلاح او وظيفه معلومه وه، چي نکلچي ته بايد د مرستندوی په توګه "ښه، ښه" ووايي. د "امير کروړ ياد" کتاب ترتيبوونکي ته چي دا عنعنه او اصطلاح ورمعلومه نه وه، هغه يې د مقالې د ليکوال د ليکني پر خلاف "شانه" په نظر ورغلې او همداسي يې ثبت کړې ده (۴۷۹مخ). دې تېروتنی "د پښتو نثر اته سوه کاله" کتاب (۱۰۸مخ)ته هم لار موندلې ده. نوري مرحوم د دغسي غلطيو سړی نه و. ځکه ده پخپله په وارو وارو د نکلچيانو په باندارو کي له خپلو کليوالو سره يو ځای ګډون کړی و[1].

د نوري ژبه له خپل کليوالي کلتور څخه بېګانه سوې نه وه، ځکه نو د نکلچي د ژبي او کلتور په پوهېدلو کي يې ستونزه نه درلوده. ښوونځي ليدلي پښتانه او د چا خبره متخصصين له دغه راز کلتور څخه ورو ورو ليري سوي وي، پر ژبه باندي يې د نورو کلتورو سيوري لوېدلي وي. د فولکلور په ثبت کي له سواغېزو څخه ځان نه سي خوندي ساتلای.

نوري په "ملي هينداره" کي د "عذر" تر نامه لاندي ويلي دي :

له اميانو څه ليکلي ما قصې دي

د مينو ښې خوږې ناري پکښې دي

---

[1] د امير کروړ ياد "نومي کتاب په (۴۷۴مخ) کي له محلي اصطلاحاتو سره نابلدی د مقالې د ليکوال له "آ! بي بي لايکي" څخه "ابی ابی لايکي" جوړه کړې ده. د کندهار په محيط کی پر نجونو باندي "بي بي لايکه" نوم زيات اېښول کېږي او د کوچنيانو د لوبو په دغه سندره کي يوې نجلی خپله هم لوبه ملګرې د "آ! بي بي لايکي" پنامه مخاطب کړې ده.

یو څو خبري

ملي هینداره د ارواښاد استاد محمدګل نوري (۱۳۵۲ ش مړ) په تألیفاتو او آثارو کې د لر او بر پښتنو تر منځ د خورا پراخ شهرت څخه برخمنه ده، د دې شهرت انګازې تر لیرو تللي او بهرنیو لیکوالو یې هم پر خوند او مزه باندي ژبې ټکولي دي، ارواښاد نوري د خپلو نورو ډېرو ګټورو آثارو تر څنګ د پښتو د ملي نکلونو په ثبت هغه مهال لاس پوري کړی و، چي د وخت په یوازیني او فرهنګي ټولنه (پښتو ټولنه) کي د پښتو ژبي د بېلابېلو اړخونو پر راغونډولو کار کېدی، د پښتو ژبي د بډاینې له پاره د ارواښاد نوري زیار او زحمت تر لمر روښانه دئ او د پښتو ژبي د شفاهي ادب په برخه کې تر بل هر چا زیات کار کړی دئ. زه د ملي هینداري د ارزښت او څرنګوالي په باب هیڅ نه وایم، فقط د دغه ګټور کتاب د اوسني چاپ د ضرورت او د پخوانیو ځینو چاپونو پر توپیرونو باندي یو څو خبري کوم، چي دغو توپیرونو ته ښاغلي استاد محمد معصوم هوتک هم پخپله لیکنه کي اشارې کړي دي:

د ملي هینداري لومړی ټوک په ۱۳۱۸ ش کال د پښتو ټولني له خوا خپور سو، په سر کي د (لومړی خبري) تر سرلیک لاندي د مؤلف یوه لنډه یادونه راغلې، او دا کتاب یې د خپلو آثارو دوهم چاپي اثر بللی دئ. د ملي هینداري په لومړي ټوک کي اووه نکلونه راغلي، چي د فتح خان بړېڅي، ښادي او بیبو، مرد او نامرد، زبزبانه شاپېری، موسی جان او ولیجان، مومن خان او شېرینو او جلات خان او شمایلي نکلونه پکښې شامل دي.

د دې سلسلې دوهم ټوک لومړی وار په کابل مجله کي په پرله پسې توګه خپور سو، چي ورپسې په کتابي بڼه په ۱۳۲۵ ش کال خپور سو،

نه زيادت او نه کمبود مي پکښې کړی
د هم هغه نقلچي د خولې جملې دي

دی د خپلي دغي ادعا په باب په بشپړه توګه صادق دئ. ده د ننني ادعا لرونکو ماهرانو په توګه ځان ته دا حق نه و ورکړی، چي د کومي اولسي وراشې، لغت او اصطلاح په باب دي په جرئتمندی سره د "غلط" حکم صادر کړي. ده ته د خپل نکلچي (انفارمينټ) انتخاب او وينګ مهم و او هغهٔ څه يې ثبتول، چي اولس يې پخپله ورځنۍ محاوره کي کارول. دا کار زه اکاډميک ديانت بولم او نوري همدا ديانت درلود. تاسي وينئ چي د همدې ديانت نتيجه ده چي د "ملی هينداري" د کتاب په خطاطی باندي د خطاطانو اوږې کړوپي او په چاپولو باندې مطبعې ستړي سوې خو لوستونکي يې ستړي نه سول او د نورو چاپو په تمه دي.

د نوري پاک روح دي ښادوي

محمد معصوم هوتک
۲۸ اپريل ۲۰۰۸ع

لومړی خبري يې لوی استاد علامه حبيبي د يوې يادوني په ډول کړي، چي ورپسې د ملي هينداري متن پيلېږي، په دوهم ټوک کي هم اووه نکلونه راغلي، چي د ملا عباس او ګل بشرې، ظريف خانۍ او مابۍ، خشکيار او شاترينې، قطب خان او نازو، دلي او شهو، آدم خان او درخانۍ او قلندر جان او ميرا جان نکلونه پکښې شامل دي.

د دې سلسلې دريم ټوک تر نسبتاً اوږده ځنډ وروسته په ۱۳۵۲ ش کال له کندهاره خپور سو، دا مهال اروانباد نوري په کندهار کي ډېري د غريبۍ شپې او ورځي سبا کولې، چي وروسته د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د لوی مدير اروانباد کانديد اکاډميسين محمدابراهيم عطايي (۱۳۸۰ ش مړ) په ځانګړې پاملرنه د کندهار په دولتي مطبعه کي د مصحح په توګه په کار وګمارل سو، چي د دې تر څنګ يې د اروانباد نوري د ملي هينداري دريم ټوک هم د احمدشاه بابا د کتاب چاپولو مؤسسې له خوا ورخپور کړ. اروانباد عطايي د دريم چاپ له پاره د نوري صاحب په غوښتنه يوه مقدمه او د اروانباد نوري لنډه پېژندنه هم ليکلې، چي د ملي هينداري پر ارزښت، د پښتو په شفاهي ادبياتو کي د دغي هينداري پر ځلا، د اروانباد استاد نوري د ژوندانه پر وروستيو بېوزليو او د هغه سره د وخت د حکومت او پښتو ټولني پر بې غوريو رڼا اچولې ده.

د ملي هينداري په دريم ټوک کي د خانان، شاتر حسن، انار ژړان او سېب خندان، د باچا زوی، مالداره او سپی، عليبېګ او شاپاڼۍ، لمبولال يا نيمبولال، دوه وروڼه په يوه رنګ، ککرۍ، شرمښ او سره بزه، د سوداګر زامن يا درې هوښياران وروڼه، حلاله مزدوري، مسګر او نجار، ګيدړه او پړانګ، خمرۍ، د زعفرانو سوداګر او سپېر کونډه او پيل تر سر ليکونو لاندي شپاړس نکلونه راغلي دي.

د اروانباد نوري ملي هينداره په ولس کي دونه مقبوله وه، چي په اړه يې ښاغلی استاد محمدمعصوم هوتک ليکي :

"د (ملي هينداري) د کتاب په خطاطۍ باندي د خطاطانو اوږې کږوپي او په چاپولو باندې مطبعې ستړي سوې خو لوستونکي يې ستړي نه سول او

راټول سوي او ترتيب سوي کتاب دي د دوی نوم هم وليکل سي، هغه کتابچه چي ښاغلي استاد نوري په ۱۳۲۷ ش کال کي خپل ټول آثار، مقالې او ترجمې پکښې ياداښت کړي دي، ما ته يې يوه کاپي د هغه د زوی ښاغلي نورالهادي نوري له خوا راکول سوه، استاد نوري د دغو جفاوو يادونه پخپله پکښې کړې او هغه کتابونه يې په ګوته کړي دي، چي په ليکلو او ترتيبولو کي يې دوی خولې توی کړي خو نومونه د نورو ښاغلو پر ليکلي دي[۳].

د ارواښاد نوري په ملي هينداره کي د ډېرو نورو مداخلو تر څنګ يوه تر ټولو لويه مداخله دا وه، چي د ملي هينداري د لومړي چاپ څخه وروسته په نورو ټولو چاپونو کي، حتی د (۱۳۶۴ ش کال) په چاپ کي هم چي په کابل کي تر سره سو او د ترتيب کار يې ښاغلي بسم الله ولسپال تر سره کړ، يو بسته نکل غورځول سوی دئ. د ملي هينداري د دوهم ټوک وروستی نکل د قلندر جان[۴] او ميراجان[۵] په نامه دئ. ټولو هغو ښاغلو چي نوموړی نکل يې له ملي هينداري څخه غورځولی دا نه ده روښانه کړې چي ولي؟ او دا کار يې د څه مقصد له پاره کړی؟

د ملي هينداري اوسنی چاپي متن د لومړي چاپ څخه ترتيب سوی دئ، ما له ډېره وخته غوښتل چي ملي هينداره په داسي ډول چاپ ته آماده کړم، چي بايد د ارواښاد نوري ټول امانتونه پکښې ساتلي وي، د دې کار له پاره مي تقريباً څلور کاله مخکي په کار شروع وکړه، او هغه مهال مي د ملي هينداري د لومړيو چاپونو په پيدا کولو پسې لېږې راونغښتې، خو له بده مرغه د ملي هينداري له لومړيو چاپونو څخه د کرک هګۍ جوړي سوي وې،

---

[۳] زه د ارواښاد استاد نوري د مشر زوی ښاغلي نورالهادي نوري څخه مننه کوم، چي د ارواښاد استاد نوري عکسونه او د دوی د ياداښت د کتابچې کاپي يې راکړه.

[۴] قلندر اپرېدی د پښتو ژبي يو نازکخياله او حزين شاعر دئ، چي په پښتو کي يې ډېره د سوزه ډکه شاعري کړېده، ديوان يې د ښاغلي سرمحقق زلمي هيوادمل په سريزه او تعليقاتو په ۱۳۵۶ ش کال کي پښتو ټولني خپور کړ.

[۵] ميرا د قلندر مرشد دئ، چي سوانح او د کلام نمونه يې په لومړي ځل لوی استاد علامه حبيبي د پښتانه شعراء د لومړي ټوک په ۲۵۳ مخ کي راوړېده.

ملي هينداره

لومړی ټوک

لومړۍ خبري

د سړي په خټه کي اخښلې ده، چي تل وس کوي چي د شيانو په حقيقت ځان پوه او خبر کي، او همدغه د حقيقت پلټنه د علومو او افسانو او د مدني او بشري د نورو سلو موضوعاتو د پيدا کېدو سبب ګرزېدلې ده، چي هره يوه يې لويه ګټه او ښېګڼه لري، يو له دغه شيانو څخه همدغه افسانې دي چي د وګړو د تمدن د لومړي سره څخه تر اوسه پوري د هر توکم او هري ټولۍ په نېز يو لوړ ځاى او حيثيت لري، ځکه چي همدغه افسانه جوړول خامخا يو سبب لري، نو د دې افسانو د جوړولو سبب همدغه د قوم او اجتماع د ژوندون حالات او مقتضيات دي، چي وګړي يې دې ته اړ کړي دي، چي د خپل قوم او ټبر له حالاتو او مقتضياتو سره سم يوه افسانه جوړه کي، او په همدغه افسانه کي د خپل محيط حالات او مقتضيات وښيي، نو هر څونه چي يوه افسانه معقوله او جذابه وي هغونه د هغه قوم د لوړوالي استازې بلل کېږي. د افسانې ماهيت او څرنګه والى د جامعې پر معنوي او روحي عواملو پر ماهيت باندي دليل ګڼل کېږي.

مثلاً : په غرني ملکو او ملتو کي داسي افسانې مينډلي کېږي، چي د زړه ورتوب او دلاورۍ او بېړي او ډار او غرور څخه ډکي وي، او د هواري مځکي افسانې د عشق او بېلتون او بې وفايۍ وي، او د تودو ملکو او ځنګلو لرونکو ملتو افسانې د شکايت، ګيلې او مرورتوب وي، نو له همدغه لامله همدغه افسانې د وګړو پېژندنکو (پوکلور) يو لوى مهم غړى بلل کېږي.

په دې پورته بيان کي شک نسته، ځکه تاسي وګورئ او همدغه افسانې ولولئ، تاسي به بله نتيجه ځني وانه خلئ پرته له همدغه د پښتنو د خصوصياتو څخه چي خاص په دوى پوري اړه لري، لکه عشق، مينه، ورور ګلوي، زړه ورتوب، توره، توريالیتوب، جنګياليتوب، ننګياليتوب،

دینداري، ناموس داري، وسیله رحمي، زړه سوی، ډوډۍ ماري، وفاداري او پر وطن ځان قربانول او نور ... ځکه چي د افغانستان پاکه خاوره له همدغو جګو جګو غرو، سپینو دښتو او ګڼو ځنګلو څخه جوړه سوې ده. هم تودې خواوې لري هم سړې او په همدغه پاکه خاوره کي همدغه تأثیر پروت دئ چي زموږ د سپېڅلو وګړو د پورتنیو مزایاوو سبب ګرزېدلي دي او دوی همدغه خپلي مزایاوي پخپلو افسانو کي څرګندي کړي او ښوولي دي.

څرنګه چي زموږ د تېرو مینانو او جنګیالیو ننګیالیو افسانې په زړو او خولو کي د عنعنې پر ډول پاته دي چاپ سوي نه دي او که ځیني چاپ سوي وي هم ځینو کتاب خرڅوونکو شعراوو ته ویلي او شعراوو یې یو کښښ اروېدلی دئ، نوره قصه یې د ځانه په نظم کړې او د خپل نظم تابع یې ګرزولې ده. له همدې لامله ما تر خپله وسه پوري په غونډولو کي د دې افسانو هاند کړی او زیار کښلی دئ، چي دا دئ د المتوکل علی الله په رونه دوره کي چاپ او نشر سوې او هم دا مې د تألیف دوهم لمبر دئ، زیات پر دې د الله تعالی څخه د ځلمي ټولواک ډېر عمر او د ملت لوړتیا او و ځان ته د ملي ژبي په خدمت کي مرسته غواړم، چي نوري ملي افسانې هم راغونډې کم او دوهمه پلا چاپ او نشر سي.

محمد ګل نوري نورزی
د قندهار د منارې د میا صاحب لمسی

فتح خان بړېڅی

یو باچا و، د دې باچا نوم اسلم خان او په ختېه بړېڅی و، پایتخت یې کلابس (قلعه بست) و، چې د کندهار د ښار د لمر لوېدو خوا ته تقریباً څلوېښت کروه بیر ته دئ. د دې باچا یو وزیر و[1]، کارونه د خدای دي نه باچا زوی درلود، نه وزیر.

یوه ورځ یوه ملنګ د باچا د حرم سرای په دروازه کي هل کړه، چي خیر راوړئ. د باچا مایني کور وویل، چي ویش اور دي در وسي، په تاسي ډېرو ملنګیانو په یوه کي دونه تأثیر نسته، چي خدای باچا ته یو زوی ور کي او د ورځي نو شل دروازې ته روږه مست ولاړ وي.

مینځه راغله ملنګ ته یې وویل چي بي بي داسي وایي ... ملنګ وویل، چي بي بي ولې؟ خدای به یې آسانه کي، دغه زما لکړه واخله باغ ته ورسه دغه لکړه د منو وني ته ور وغورځوه هر څو منې چي راولوېدې راټولي یې که را یې وړه چي زه یې در دم کم.

مینځي لکړه راواخیستله راغله باغ ته د منو وني ته یې لکړه ور وغورځوله، شپېته داني منې راولوېدې، مینځي منې راټولي کړې را یې وړې ملنګ ته یې ور کړې، ملنګ ور دم کړې نو یې ور ته وویل چي ور یې وړه بي بي ته یې ور که، ور ته ووایه یوه ته او باچا وخورئ او دانوري چي زړه دي دئ هغه چا ته یې ور که، خدای به و ټولو ته زامن ور کي.

مینځي را واخیستلې بي بي ته یې راوړې چي ملنګ داسي وویل ... د بي بي هم یقین پر راغی، یوه منه دې او باچا سره وخوړه، او یوه یې مینځي ته

---

[1] ځیني وایي چي وزیر نه و، ځکه چي په هغه وخت کي قومي حکومت و، بلکي د ده مشاور او مجلسي او ورتېر و.

ورکړه چې دا هم د باچا سريته ده او نوري يې د خپلې عملې و ماندينو ته ورکړې، چې هره يوه دي يوه ماښام د خپل مېړه سره وخوري، دغه نورو ښځو هم منې واخيستلې هري يوې ماښام د خپل مېړه سره يوه دانه منه وخوړه، د وزير ماينه دمخه تر دې لا برالبه وه، دا منه چې يې وخوړله غبرګه برالبه سوه. و، و، و[2]، عمر دئ تېرېږي چې نه مياشتي نه ساعته نه ګړيه تېر سوه، الله تعالى ټولو ته زامن ورکړه، په دغه سهار شپېته نارې وسوې، د وزير ماينه غبرګه لنګه سوه، يو زوی او يوه لور يې وزېږول، د زوی نوم يې پردل خان کښېښو او د لور نوم يې بي بي رابيا کښېښووه، او د باچا دوه زامن پيدا سوه د اصلي ماينې د زوی نوم يې (فتح خان) کښېښو او د مينځې د زوی نوم يې (کرم خان) کښېښو[3].

څه سر دي ګرځوم دستي يې بي بي رابيا و فتح خان ته په نکاح ورکړه، ښادي او خوشحالي ده، دا ښادي او نکاح چې تېره سوه باچا حکم وکی، چې د دغو ټولو هلکانو ښه تربيت او حفاظت کوئ. خو ټوله د خانانو زامن دي په استراحت دي، چې لږ څه غټ سوه، فتح خان او کرم خان او دا نور اته پنځوس (۵۸) هلکان ټول سره همزولي دي، يو ځای سبق وايي په يوه سلا سبق ته ځي او په يوه سلا رخصتېږي، او ټول يو ځای ډوډۍ خوري يو ځای لاسونه مينځي، ها ها خو ټوله غټ سوله، بچه مرده زلميان سوله، مينځه چې لاسونه ور پرې مينځي اول د فتح خان لاس مينځي بيا د کرم خان او بيا د نورو يارانو دا، او که موچنې ور ته سموي هم لومړی د فتح خان بيا د کرم خان او بيا د پردل خان او بيا د نورو يارانو دا.

خير هلکان ټوله همزولي دي پر يوه هاړ دي ټوله په يوه سلا ګرځي لکه ورونه يو تر بله سره ګران دي، يو ورځ فتح خان و پردل خان و کرمی[4]

---

[2] و و و بمعنی بود، بود، بود.

[3] څوک وايي چې کرم خان د فتح خان مخصوص مريی و او د ده همزولی و، د حبشي زوی و، ورور يې نه و، مګر دا غلطه ده د فتح خان ورور و.

[4] کرمی د فتح خان ياد سوی مېرېزی ورور دئ، چې کرم خان نومېږی، د فتح خان د نازه او د ډېر استعمال څخه کرمی سوی دئ.

او نور یاران یې دباندي په ښکار راوتلي دي خپل سات تېروي، که ګوري د مازدیګر وخت دئ ښځو د ولې څخه منګي ډک کړي دي او خپلو کورو ته یې وړي، یو وار د کرمي ورته پام سو، ویل یې فتح خانه راسئ چي د دې ښځو منګي په ګټو ور مات کو، چي پر دوی دا اوبه څڅګه بهېږي، سیل به یې وکو.

فتح خان ویل ښه دئ، بس دستي ټولو هلکانو ګټي ډبري واخیستې کړپ کړپ د ښځو منګي یې ور مات کړه او به یې توی سوې، ښځي لندې خیشتې سوې، په دا سبا ښځي راغلې پر اسلم خان باچا یې عرض وکی، چي فتح خان داسي کار کړی دئ.

باچا ورته وویل چي زما دغه یو زوی دئ، زه څه نه سم ورته ویلای، تاسي به ژي جوړ کی چي په لوټو او ګټو نه ماتېږي نو په اوبه پکښې راوړئ، نو بله ورځ ښځو بیا ژي د اوبو ډک کړي دي را اخیستی یې دي، کور ته راځي بیا د فتح خان ډله پر پېښه سوه بیا کرمی ورته وایي چي فتح خانه راسه، چي دغه ژي یې په غشیو او لېندو ور سوري کو، چي دا اوبه څڅګه داری وهي، بیا دوی غشي ورته ونیول ژي یې ور سوري کړه، ښځي لندې سوې، ښځو بیا پر باچا عرض وکی، باچا فکر یووړی چي د دې چاره یې څه، خو دغه یو زوی یې و، هیڅ یې نه سوای ورته ویلای، وروسته یې هغه مینځه چي دوی ته یې ډوډۍ وروړه راویې غوښتله، باچا ورته ویل چي ته چي لاسونه مینځې اول د چا لاس مینځې؟

دې ورته وویل اول د فتح خان. باچا ورته وویل چي نن د فتح خان لاسونه اول مه ور مینځه. ښایي چي په دې باندي د ده عبرت سي او پوه به سي چي پلار مي خبر سوی دئ، بیا به د ښځو منګي نه ورماتوي، مینځه چي راغله په دغه ورځ یې د فتح خان لاسونه اول وار نه ورپرېوله، د پر دل خان لاسونه یې ور پرېوله، د فتح خان فکر ډېر بد سو سر یې کښته وځړاوه، ډېر خوابدی سو، کرم خان ورته وویل :

فتح خانه په دې پوهېږې؟ دا خو د ورکي جواب دئ، چي یعني پلار دي وایي چي راځخه ورک سه. فتح خان ورته ویل چي پای مو څه؟ کرمي ورته ویل چي پای دي دغه دئ چي ځني ولاړ سه، مه پاتېږه سبا به په خوله

در ته ووايي ټوله همزولي به راباندي خاندي.
د فتح خان زړه ته نه لوېده د خپل زړه د تسلی له پاره ماښام پلار ته ور رهي سو، چي زه علم راولم چي رشتيا ده که نه؟ فتح خان چي پلار تـه سلام ور واچاوه پلار يې سلام بيا نه کی، وروسته و تخت ته ور پورتـه سو، غوښت يې چي د پلار پر اړخ کښېني، پلار ځای نه ورکاوه، نو وروستـه د فتح خـان و زړه ته ولوېده چي دا خبره چي کرمي وکړه رشتيا ده.
نو په دا سهار فتح خـان هـم دستي حکـم وکی چي ډېر پاخـه سراجان چي ښـه ځينـان جـوړوي رايې ولئ چي ځينان راجوړ کي. خـو سراجان يې راوستل ور ته ويې ويل، چي شپېته ښه ځينان راجوړ کئ او نور د آس سامان پـه همدغـه هفتـه کي لـه تاسي څخـه غـواړم. سراجانو هـم پـه دغـه هفتـه کي شپېته ځينان، شپېته ملونه او نور سامان ور برابر کی، را يې ووړ بيا فتح خان حکم وکی چي ورسئ د کمند څخه شپېته داسي آسان راولئ چي خاوري يې پر شا ور ودوړوې او دغه آس شا ورېږدوي هغـه خـاوري تـوی سي، يعني چي بېسده ښه مست آسان وي.
دغه آسان يې دستي راوستل، فتح خان پر خپلو يارانو بږغ وکی چي پـه نيمه شپه کوچ دئ، تر دې مابين يې بي بي رابيا ته سړی ور ولېږی چي فتح خان ځي راځه ! سړی چي راغی بي بي رابيا د کلا پر سر ولاړه ده، سړي نـاره پر وکړه :
که کوتري د کلا پر سر کوتري
فتح خان وايي يا مي خوريې يا راووزه دروازه که دړي وړي
چي يعني فتح خـان وايي زه ځم کـه راسره ځې خـو ښـه کـه نـه وي زه ولاړم، خو دې جنه جنه کړه، سړی بير ته راغی چي هغې جنه جنه کول، زړه يې لکه چي نه غوښت، ده ويل ښه دئ چي ماښام ځو د دې پر کلا به ورسو را رهي بې کو.
لنډه دا چي نيمه شپه سوله، دننه په ښار کي نغاره وډنګېدله چي کـوچ، د فتح خان پلار اسلم خان چي دا نغاره واورېده پوښتنه يې وکړه، چي دا څـه نقل دئ، چا ور ته وويل چي فتح خان ځي، پلار يې دغسي راوغورځېدی چي دا يو زوی مي دئ ولي ځي او څه سوي دي؟ څو چي راغی که ګوري آسان يې

ټوله ځين کړي ولاړ دي، شپېته سره زلميان د ګامه ولاړ دي و سپرېدو ته ګوري.

پلار چي يې دا حال وليد ناره يې وکړه :

څه کي څه کي دا هوډي فتح خان څه کي

پر نيمه شپه يې نغارې وډنګولې، لويه خدايه خان پر کوم لوري واته کي

خو فتح خان ته يې وويل څه کوې؟ زويه څه سوي دي؟ چيري ځې؟ ده ورته وويل چي څه مي کوې؟ ما او خپل کار سره پرېښوده، وروسته فتح خان د ګيلې پر ډول پر پلار دا ناره وکړه :

ما سلام در واچاوه را بيا دي نه کی

چي پر تخت در و ختم ځای دي رانه کی

پلار يې په جواب کي ناره پر وکړه :

په يوه لاس کي مي جام په بل کلام دئ

اسلم خان خو مي پر تېر ويل پښېمان دئ

چي يعني زه پر هغه پښېمان يم، چي سلام مي در بيانه کی او و تخت ته مي پرې نه ښوولې، او يا مي مينځي ته څه خبري کړي وې، خو پلار چي يې هر څه زارئ ورته وکړې چي مه کوه زويه مه ځه، خو فتح خان نه پاتېدی.

آبس فتح خان او نور ټول ياران يې راسپاره سوه، تر دې مابين يې مور خبره سوه، چي فتح خان ولاړ. مور يې راغله، د کلابس دروازه يې ورته ونيوله، چي زوی مي راڅخه تېر نه سي، زه به يې د آس تر ملو ونيسم.

فتح خان خبر سو، چي مور دي راغلې ده په پلانۍ دروازه کي ولاړه ده نه دي پرېږدي، د (کلابس دوې دروازې وې)، فتح خان پر بله دروازه ځني ووت، چي مور يې خبره سوه چي فتح خان پر بله دروازه ووت، نو يې ناره وکړه :

که دوې دي لويه خدايه کلابس دروازې دوې دي

پر دا يوه مي فتح وزي پر دا بله يې د مور، مور سوي نارې دي

مور يې دالته پاته سوله، فتح خان دوی د پر دل خان او د بي بي رابيا کلا ته راغله "چي و دغي کلا ته (مختر) کلا وايي، چي د کلابس څخه څلور

کروه د شمال شرق و خوا ته ده"، دلته د فتح خان پلار څو کسه غټ غټ د بریڅو سپین ږیري د مختر کلا ته ورولېږل چې تاسي ورسئ پر مرکه سئ چې ګونډي راوګرځي.

سپین ږیري چې راغله فتح خان ته یې نصیحت وکی، چې مه کوه د پلار یو زوی یې چې ته هم ولاړ سې نو دا ملک و چا ته پرېږدې؟ یه نه به ځې ! خو هر څه نصیحت چې یې ورته وکی (پښتون و) فتح خان ورته وویل چې هیڅکله نه پاتېږم ځم، سپین ږیرو وویل ښه دئ چې ځې نو د مکې شریفي و خوا ته ولاړ سه، ده ویل هري خوا ته چې ولاړم، ولاړم، مګر نیت مي و هند ته دئ.

سپین ږیري بیرته راغله د فتح خان مور و پلار ته یې ویل چې نه پاتېدی. مور چې یې دا خبره وارورېدله نو یې ناره وکړه :

که او رګډ کړې د بریڅو په سپین ږیرو

مرور یې پخلا نه کی لا د لاسه ورښیي، ورښیي یاغي ملکونه

لنډه دا چې فتح خان راغی پر بي بي رابیا یې ناره وکړه :

که پوځي دا رابیا خولګی مي پوځي

فتح ځي د هند و لور ته، دغه ګل رابیا مي ځي که دلې اوسي

رابیا چې دا ناره وارورېده نو دې پر فتح خان ناره وکړه :

که ځوړاندي د کرنګ ورځي ځوړاندي

فتح چې ځي د هند و لور ته، دغه ګل رابیا مي ځي تر تا د وړاندي

چې یعني زه هم درسره ځم، چې ته ځې نو زه څنګه پاته سم؟ فتح خان سپور سو، دلته د فتح خان مور پسې راورسېده، پر بي بي رابیا یې ناره وکړه:

که بلبلي رابیاژېړي بلبلي

فتح ځي د هند و لور ته په جلو یې لګوه دواړه منګولي

رابیا ور حمله کړه د فتح خان د آس جلو یې په دواړو لاسو ټینګ ونیو، چې مه ځه!

د فتح خان لږ څه زړه نری سو، غوښت یې چې کښته سي او پاته سي، د میني ناز دئ اغېزه یې پر وکړه، کرمي چې فتح خان ولید چې پاتېږي، نو یې ناره پر وکړه:

که تاک دئ د هندوستان په سر کي تاک دئ
فتح ځي نه راستونېږي، اچولی يې د بي بي رابيا طلاق دئ

چي يعني تا خو طلاق اچولی دئ، څنګه به پاتېږې؟
فتح خان فکر وکی چي ښه وايي، خو بيرته پر آس سم سو ږغ يې وکی چي سپاره سئ. ټوله ياران پر آسانو سپاره سوه، بي بي رابيا فتح خان تر شا سپره کړه، دلته بيا د رابيا مور ناره پر وکړه :

فتح خانه لاس پر خپل زړګوټي کښېږده
که رابيا درسره ځي پردل راپرېږده

خو فتح خان په چرت کي سو، چي څه وکم؟
کرمي بيا فکر وکی چي پردل خان پرې نه ږدي، ځکه چي دغه هغه غښتلی سړی دئ، نو يې ناره پر وکړه :

لاس مي پر خپل زړګي دئ ايښی هم بې کښېږدم
دا پردل که ناوکی ده زه بې پرېږدم

چي يعني که پردل خان نجلۍ ده خو زه به يې پرېږدم، مګر زموږ هغه توريالی ملا تړلی وروز دئ، دی څنګه پاته سي؟ دلته پردل خان ته غيرت ودرېده، پر کرمي يې ناره وکړه :

که اوتر کړم نن دا ستا ناري اوتر کړم
د دې لور به پاته نه سم، مګر خدای پر مصري توره برابر کړم

فتح خان وويل چي زه يې هم نه پرېږدم، آبس فتح خان او نور ياران يې را رهي سول، خو ناوخته دئ د مختر د کلا څخه لږ څه بيرته يو باغ دئ، دلته يې واړول، چي شپه تېره سي سهار به ځو، خو دغه شپه تېره سوه، سهار وختي د رابيا همزولي راټولي سوي دي، چي درځئ چي ورسو دغه اوستری ديد خو د رابيا سره وکو، خو اويا اتيا ښځي دي، ښې ښې پېغلاني دي چي ستر ګي نه پر رونېږي، دا دئ سهار وختي په باغ راکښېوتې، بي بي رابيا ته راغلې سره کښېنستې، يو ګړی يې مجلس سره وکی وروسته بي بي رابيا ورته وويل، چي ورسئ يو ګړی په باغ کي وګرځئ خپل سيل و اتڼونه وکئ.
دوی هم راولاړي سوې خپل سيل و اتڼونه کوي شاوخوا ګرځي، فتح خان کرمی راوغوښت، کرمي ته يې وويل چي ته ورسه د باغ پر دېواله

کښېنه تر هغو پوري ګوره پام کوه، چي دې نجونو ته ږغ ونه کې په نشه کي يې ور ونه خېژې، څو دوی خپل سات تېر کي، هر وخت که کورو ته تلې نو پر ما ږغ وکه، کرمي ويل ښه دئ.

کرمي راغی د باغ پر دېواله کښېنوست، نجونو چي اتڼ واچاوه، بازی کوي، کرمی ورته ګوري، خوند يې ور کی خو د توانه يې ووتله نور څه يې نه سوای کولای دستي راغی پر فتح خان يې ناره وکړه:

سر د سره پلنګه هسک کړه فتح خانه
لو يه خدايه سيلاني بلبلي والوتې د باغ

بس فتح خان پر خپلو يارانو ږغ وکی چي درځئ، يوه يوه نجلی چي خوښه مو سوله د آس تر شا يې سپره کئ. دستي ټولو يارانو نه پنځوس پېغلي نجوني خوښي کړې، هر يوه، يوه يوه تر شا پسې سپره کړه، که په رضا وه که په زور.

فتح خان و رابيا هم پر آس سپاره سوه، د دغه ځايه ټوله ياران راکوچ سوه ولاړه. و اسلم خان ته حال ورغی خلکو عرض پر وکی چي فتح خان داسي کار وکی، زموږ نجوني سيلاني ورغلي وې ټوله يې بوتلې. باچا وويل چي زما په واک نه کښېوزي زما يو زوی و راڅخه ولاړ هر څه چي مي وکړه نه پاتېدی نو څه وکم، اوس هم هغه ټوله پېغلاني وې خپل مېړونه يې پيدا کړه او تاسي هر يو د خپلي لور يا خور زما څخه پوره ولور واخلئ زياته نو څه غواړئ[٥].

فتح خان دوی را رهي سوه، هله هله هله تر مازيګره يې مزل راوکی بيا يې يو چيري پر دښت واړول، فتح خان کرمي ته وويل چي ته نن شپه دلته يوه سانګه جګه که سهار چي دا سانګه پر هره خوانړېدلې وه پر هغه خوا به ځو.

کرمي راغی يوه لښته يې پيدا کړه را يې وړه يو ګوښه ځای يې سانګه

---

[٥] ځيني خلک وايي دا چي ښځي يې ويلي دا محض ملحقات دي، که نه وي فتح خان يوازي خپله بي بي رابيا ورسره بوتله، نوري ښځي يې نه دي بېولي، او خپلو يارانو ته يې په هندوستان کي ښځي ورکړي دي او هم دا صحيح ده.

جګه کړه، خو ماخستن سو ټوله ستړي وه بیده سوه، کرمی پر نیمه شپه راویښ سو راغی و سانګي ته، که ګوري سانګه د مکې شریفي و خوا ته کږه او نړېدلې ده، کرمي سانګه د هندوستان پر خوا کږه کړه، بلکي قصداً یې ونړوله، نو راغی صبح صادق دئ پر فتح خان یې ناره وکړه :

سر د سره[٦] پلنګه هسک کړه فتح خانه

یو مي سانګه د هندوستان پر لور کږه ده

فتح خان چرت یووړی، بیا یې نه وکی کرمي بیا ناره پر وکړه :

سر د سره پلنګه هسک کړه فتح خانه

یاغي سوي هندوستان رعیت ملکونه

فتح خان راپورته سو، سهار وختي دئ لمونځونه یې وکړه که ګوري سانګه د هندوستان پر لور کږه ده، فتح خان وویل کړه د خدای دي یارانو درځئ مخ پر هندوستان باندي کوچ دئ، ټوله یاران یې تیار سوه مخ د هندوستان پر خوا را رهي سوه، هله هله هله تر مازیګره یې مزل وکی دا دئ یو چیري یې و یوه کښت ته نژدې واړول، شپېته سره آسان یې ایله کړه، ځینان یې واخیستله و کښتو ته یې وشړل، چي ماړه سي، د دې کلي خلک ټول په اتفاق وه، ډېر ښه اتفاق یې و، دستي یې آسان ګرد راټول کړه بیر ته یې ورته راوستل، په خپلو کښتو کي یې نه پرېښووله، فتح خان وویل چي د آسانو د ایله کېدو ځخه زما مقصد دا و، چي ما د دې خلکو اتفاق او بې اتفاقي معلوموله، مقصد مي د دوی د کښتو پوول نه وو، ځکه چي موږ باید داسي ځای ته ولاړ سو چي مخلوق یې بې اتفاقه وي، او د دوی له بې اتفاقۍ ځخه موږ پوره نتیجه او ګټه واخلو، موږ باید تل په اتفاق یو، ټوله یاران خپل ځانونه یو تن وبولو او بې اتفاقي ډېره بد شی ده.

خیر سهار بیا راکوچ سوه، هله هله هله ګرده ورځ یې مزل وکی ماپښین قضا مازیګر غټ یې بیا په یوه کلي کي واړول، بیا یې آسان ایله کړه چي څر وکي، دا کلی هم په اتفاق و، بیا یې آسان ټوله غوټه ورته راوستل، څوک یې په خپله مځکه او کښت کي نه پرېږدي.

---

[٦] وایي د فتح خان پلنګ د چندنو و او سور و.

خیر سهار بیا راکوچ سوه دا دئ د هند په علاقه کې یې په یوه کلي کې واړول، آسان یې ایله کړل د دې کلي خلک بې اتفاقه او بلرغو عالم دئ، یو یې آس د خپله کښته وباسي د هغه بل په کښت کې یې ایله کي، آبل یې د آ بل و کښت ته وشړي، خیر آسان یې ماړه سوه، بیر ته یې آسان راوستل فتح خان و کرمي و پردل خان ته وویل چې زموږ ځای هم دا دئ، دلې به اوسو ټولو یارانو یې ورسره خوښه کړه، چې هو کې دا کلی بې اتفاقه دئ اتفاق نه لري، نو زموږ همدغه ځای وړ دئ، ځو چې قوه پیدا کوو. په دغه کلي[7] کې یوه ټینګه کلا وه، خورا جګ جګ دېوالونه یې وه، ډېره محکمه وه، یوه دروازه یې وه دا هم تړلې وه، خورا یې محکمه ټمبه کړې وه، لوی لوی غټ تیران یې ورته درولي وه. فتح خان وویل چې دا کلا به په څه چم خلاصه کو، چې موږ پکښې واوسو، کرمي وویل چې زه به ورسم ور بږغ به کم دروازه به راخلاصه کي، که یې نه راخلاصوله نو بیا به ګورو، فتح خان ویل ښه دئ.

کرمی راغی دروازه یې ور پوري وهله، دروازه نه خلاصېده، کرمي ته غیرت ورغی چې زه د فتح خان ورور او نوکر یم نو زه بیر ته څنګه ورځم چې دروازه نه خلاصېده نو یې ناره وکړه :

دروازه ژر رابڼیا[8] کړئ ګواریانو

اوربه بل کم د ګوارو د ګوارو پر سرونه

چې یعني اور به دربانديبل کم، که نه وي دروازه راخلاصه کئ، ګوارو چې دا ناره واورېده د بېري یې دروازې ته بل تیر ټمبه کي، ښې محکمه کړه چې دا څه بلا ده، خو کرمی ورته ولاړ دئ، دروازه نه ور خلاصوي، فتح خان پر پردل خان بږغ وکی چې ته ورسه د کرمي حال راوړه، کرمی خوشي یو ورګډی سړی دئ یو اور به یې لټولی وي، ډېر وخندېدی، پردل خان چې راغی که ګوري کرمی و دروازې ته ولاړ دئ، ورسره بږغ یې دئ، نو پردل ناره پر وکړه :

---

[7] دا کلی د ګواریانو دئ، د هندوستان په مغل کوټ کې، او ګواریان یوه طایفه ده په مغلو کې.

[8] بڼیا : خلاصول، دروازې ته چوله ورکول.

دروازه ژر رابېنيا کړه ګواريه
اور خو به بل کو د ګوجريو[۹] پر سرونه

چي پر ګوجرو به اور بل کو يا به کلا ته اور ور واچوو، دوی د بېري بله ټمبه ورته کښېښووه، دا پلا بيا بېخي وبېرېدل چي دا څه بلاوي دي او څه کوي؟ خير، خو کرمی و پردل خان و دروازې ته ولاړ دي دروازه څوک نه ور خلاصوي، فتح خان فکر وکی چي دا څونه وځنډېدل، پخپله پسي را رهي سو، چي راغی ويل کرميه ولي ورته ولاړ يې دروازه در خلاصوي که يه؟

کرمي ويل يه نه يې راخلاصوي.

فتح خان ورته وويل چي تا څه ورته ويلي دي؟ بږغ دي ورکړی دئ که يه؟ کرمي ويل هو بږغ مي ورکړی دئ ما داسي ورته وويل هغه خپل سوال و جواب يې ورته ووايه. وروسته فتح خان پخپله دروازې ته ورتېر سو، پر ګوارو يې بږغ وکی:

دروازه ژر رابېنيا کړه ګواريه
مسافر يو بې ولاته خاصګي ټټوان[۱۰] مو ټپ دي دربېدلي

خو ګواريانو دروازه نه کړه ور خلاصه، ګوارو خپل تر خپله سره وويل چي ودئ يو دوه کسه پر کلا وخېژوو، چي وګوري چي دا څنګه خلک دي؟

ګوار چي پر کلا راوختل چي کښته يې وکتل فتح خان يې وليدی، چي برېتونه يې د ليري څر کېدل او تر غوږو تېر وه، فتح خان د دې خوا بږغ پر وکی:

دروازه ژر کئ راخلاصه ګواريانو
راپسې د زرغونو زرغونو توتيانو سيل دئ

چي يعني دروازه راخلاصه کئ که نه وي يرغل مو دروړو، په زور يې خلاصوو.

هغه دوه کسه ګواريان په تاخت راکښته سوه، ورته وې ويل چي داسي شېر برېتی ولاړ دئ، چي د سړي روح ځني قبض کېږي، نه يم خبر چي

---

[۹] ګوجريو قوم دئ.

[۱۰] ټټوان: آسان. يعني لم غوټه د جنګ آسان، يو يې ټټو بولي.

باچا دئ که نور څو ک، دوباره يې دروازه ور خلاصه کړه، فتح خان سره له نه پنځوسو يارانو و کلا ته ورننوتل، هر يوه جلا جلا يوازي کوټه ونيوله، پلنګونه يې پکښې کښېښوول، چي ډوډۍ يې وخوړله، ټوله سره پر ځای سوه، آخر ته فتح خان چرت وواهه، چي موږ خو دا ځای ټاکلی دئ چي نه به ځو، اوس يې د دې پای څه، فکرجن سو.

آخود[11] و آخر ته يې و رابيا ته وويل چي ته ورسه و کرمي ته ووايه چي فتح خان دي بولي، رابيا راغله و کرمي ته يې وويل چي راسه فتح خان دي غواړي.

کرمی راغی سلام يې وکی کښېنستی، فتح خان ويل چي کرميه موږ خو دا ځای ټاکلی دئ چي نه به ځو اوس يې څنګه کوې؟

کرمي ورته وويل چي زه نه پوهېږم ته به يې پخپله بند تړې.

فتح خان کرمي ته وويل چي ته ورسه ګرده ياران راټول که، چي سلا ورسره وکو، کرمی ولاړی پردل خان د فتح خان اخښی او نور ياران يې ټوله راوستله، فتح خان و يارانو ته وويل چي دا به څنګه سي؟ دا زموږ نيت او دا ګواريان (مغول) څنګه به يې کوو؟

ټولو يارانو يې وويل چي خوښه ستا ده، هر ډول چي يې کوې زموږ درسره خوښه ده، آبس فتح خان ورته وويل چي بانې او چم خم نه دئ په کار، سهار ورته وواياست چي د کلا څخه ټوله ګواريان ووزي، که نه وي بيا مو ګيله د ځانه ده.

خو شپه تېره سوه سهار سو کرمی راغی ګواريانو ته يې وويل چي تاسي به چټک نن د کلا څخه وزئ، کلا را ايله کئ، ګواريان هم ناعلاجه سوه کلا يې ور ايله کړه. ټوله ووتل پر يو دښت يې واړول، فتح خان دوی په کلا کي پاته سول. ګواريان سره راټول سوله راغله پر شمس الدين باچا يې عرض وکی، چي داسي يو شېربرېتی ځوان دئ او نور ډېر توريالي ځوانان هم ورسره دي موږ يې د کلا څخه په زور وايستلو کلا يې راڅخه ونيوله، دوی

---

[11] آخود ، آبس، نو آخر، بس چي دئ، بس و غيره اکثره د جملې په اول کي د تکيه کلام پر ډول مستعمل سوي دي.

پکښې واړول.

باچا فکر یوو، وروسته یې معلومات وکی، وپوهېدی چې هغه داسي غښتلي او تر سر تېر توریالي ځوانان دي چې په هیڅ بند نه دي، نو باچا فکر وکی چې د دې ځخه به یوه لو شخړه جوړه سي، نو یې ګواریانو ته وویل چې پرې یې بېږدئ مسافر دي، حق لري تاسي ته به بل ځای درکم، ګواریان یې راضي کړه، بل ځای یې ورکی، ګواریانو ته یې وویل چې تاسي به د دوی ډوډۍ کوئ، پخلا کوئ به یې. څو شپې باد ګواریانو د فتح خان دوی ډوډۍ وکړه، به روځ یې فتح خان دوی ډوډۍ وکړه، سره خوشحاله سوله.

یوه ورځ کرمي و ګواریانو ته ویل چې ستاسي څخه د کاله څو محصول او غم اخلي؟ ګواریانو ویل دوه دوه زره روپۍ د کاله غم راڅخه اخلي، کرمي ویل د دې پلا چې سپاهیان راسي، محصول اخلي ما خبر کئ، زه به مو ځني خلاص کم، دوی ویل ښه دئ.

بله ورځ و فتح خان ته همدغو ګواریانو وویل چې زموږ او د دغه بل کلي سره بدي ده، هغه مو هم سکه تربرونه دي، که ته دونه راسره وکې چې موږ او دغه کلی سره جوړ کې، چې بیا بد نه راسره کوي، ډېر به ښه سي، موږ به تر ابده ستا خدمتګاره یو. فتح خان ویل ښه دئ. دستي یې پر یارانو ږغ وکی آسان یې ځین کړه دا دئ و دې بل کلي ته راورسېدل، د کلي سپیانو پر را الا کړه ورته غاپي، کرم خان ناره پر وکړه :

سپي درتم کړئ ګواریانو لویه خدایه

پردې لاري د فتح سپاهیان تېرېږي

نو خود ګواریان راغله سپي یې وشړل، چې دا مېړونه دي ډېر عزت یې وکی د هر یوه څخه یې جلا جلا آس ونیو، ټوله شپېته سره یاران کښته سوه، ګواریانو ډوډۍ ورته راوړه، ډوډۍ چې یې وخوړه فتح خان ورته وویل چې زموږ به یو ناز اخلئ.

ګواریانو ویل پر غبر ګو لېمو ! هر څه چې وایاست موږ یې منو، فتح خان ورته وویل چې ستاسي او د دې کلي خو سره بدي ده، نو موږ ټوله په مرکه راغلي یو، تاسي به دوباره بیا بد نه سره کوئ، دوی ورسره قبوله کړه ویل یې ښه دئ.

وروسته فتح خان دوی را رخصت سول، کرمي فکر وکی چي که دغه ګواریان پر خپل قول ودرېده خو ښه او که ونه درېده بیا یې بد ورسره وکړه نو په موږ کي څه پاته سول، یه د دې خلکو عمري چاره په کار ده. نو خود کرمي د فتح خان په غلا د بېسدۍ دارو پیدا کړه بیر ته راغی و دې ګوارو ته یې وویل چي موږ او تاسي مجلس سره ونه کی، راسئ چي یو د مسافرۍ چلم سره ډک کو، وې څکوو، خو کرمي چلم ور ډک کی دا دارو یې پکښې واچول، لنډه دا چي ټولو ګواریانو چلم وڅکاوه، ټوله بېسده سوه.

کرمی پر راولاړ سو ټوله یې مړه کړه، وروسته په فتح خان دوی پسې راغی، نو یې پر فتح خان ناره وکړه :

ما یو داسي تړون وکی، لویه خدایه

لویه خدایه د قیامت تر ورځي پوري

چي یعني ما ټوله مړه کړه، ټوله ځني بېغمه سول. کرمي و ګواریو ته وویل چي ما داسي تړون وکی چي تر قیامته پوري ځني بېغمه سواست.

د فتح خان فکر خراب سو، مګر کرمي ته یې څه نه سوای ویلای، ډېر پر ګران و، ویل باره دغسي کار مه کوه. کرمي ویل له دې جهته مي مړه کړه چي ما ویل دوی به پر خپله وعده ونه درېږي، زموږ آب به کم کي.

خیر د هغه کلي ګواریان چي پاته وه، ولاړه پر شمس الدین باچا یې عرض وکی، چي داسي نکل دئ. باچا فکر وکی چي خبره او شخړه ډېرېږي نو یې خبره پټه واچوله و فتح خان ته یې خط راولیږی چي دغه شاوخوا مځکي یې ستا او محصول او غم هم در ایله دئ، خو دغسي باره مه کوه. "فتح خان ډېر باوجدانه سړی و، په ډېر شر نه و خوشحاله"، خو هیڅ جواب یې ورنه کی.

بله ورځ محصلان و ګواریو ته راغله غم ځني غواړي، ګواریان راغله کرمی یې خبر کی چي راسه هغه دي سپاهیان راغلي دي، څه جواب یې کوې؟

کرمی راغی توره یې راواخیستله درې کسه سپاهیان دي، دوه یې ځني مړه کړه، د یوه یې ژبه ور پرې کړه، نو یې ایله کی، هغه سپاهي ولاړی و شمس الدین باچا ته یې ګرهار دئ، خو څه نه سي ویلای، باچا یې په ژبه هم

نه پوهېږي چي څه وايي څه سوي دي.

لنډه دا چي نور درې کسه سپاهيان يې و ګواريو ته د غم له پاره راولېږله، سپاهيان چي راغله، ګوار و بيا کرمی پسې خبر کی، کرمي بيا توره را واخيستله دوه يې ځني مړه کړه، يو په تاخت ځان ځني خلاص کی راغی پر باچا يې ناره وکړه:

دوري يو داسي باچا ناست دئ لويه خدايه
شمس الدين يې د نوکر پر ځای ولاړ دئ

باچا اريانی واخيست چي دا څه نکل دئ، سپاهي دا کيفيت او هغه دمخه حال ټوله ورته ووايه، خو باچا فکر يووړی، هيڅ څر ک نه سي تر ايستلای، ږغ يې ونه کی چي پر کراره به يې چاره کوم.

دلته فتح خان خبر سو چي کرمي داسي کار بيا کړی دئ، کرمی يې راوغوښت ناره يې پر وکړه:

کرميه چي غم نه وي ته غم راوړې
کرميه پر لم غوټه سپرو واوړې

خو کرمي ته يې ډېر نصيحت وکی چي بله پلا داسي مه کوه.

بله ورځ د باچا خزانه تېرېږي، سره او سپين زر پر کچرو بار دي، ګوار راغله کرم خان يې خبر کی چي د باچا خزانه ده تېرېږي. کرمي د فتح خان په پټه توره راواخيسته راغی د خزانې پر کاروان يې ناره وکړه:

دا کاروان د شمس الدين په طلا بار دئ
دغه ټول د بړېخانو بړېخانو کوکی ښکار دئ

بيا کاروانيانو په جواب کي پر کرمي ناره وکړه:

دا کاروان چي د شمس الدين په طلا بار دئ
دغه ټول د بړېخانو بړېخانو خون بها ده

خو کرمي توره پسي رالښته کړه، هغه کسان چي د خزانې سره وه، مړه يې کړه چا ځني الا کړه، کرمي کچري راوستې ټوله يې زغم (۱۲) کړې، هغه

---

(۱۲) زغم – تم کول، پټول.

کسان چې د کرمې څخه یې الا[۱۳] کړي وه ورغله باچا ته یې عرض وکی، چې کچري او خزانه یې راڅخه وګرځوله، او زموږ ټوله سپاهیان یې مړه کړه، خورا بده ورځ ده. شمس الدین باچا دستي د شپې پوځ جوړ کی، ورته راوایې ستاوه، په دغه شپه پر دغه د فتح خان پر کلا یې شاوخوا سپیني خېمې ونجتلې، سهار سو، بي بي رابیا په مکڼ[۱۴]، کي شاوخوا ګوري، چي نابېره یې سترګي پر دې خېمو وموښتې، فکر یې وکی چي دا خو د پاچهی د جنګ سامان دئ او هم دي د شمس الدین باچا، دستي د بام څخه راکښته سوه راغله پر فتح خان یې ناره وکړه :

سر د سره پلنګه هسک کړه
نن څه نجتي د شمس الدین کافر[۱۵] خېمې دي

فتح خان چي راکښېنوست راغلی د خپلو یارانو سره یې سلا وکړه چي څنګه یې کوئ؟ تاسي جنګ کوئ که یه؟ ټولو وویل چي موږ جنګ ورسره کوو، فتح خان هم حال ورکی چي شمس الدینه د جنګ ځای معلوم که.

خیر د جنګ ځای یې سره وټاکی فتح خان سره د نه پنځوسو یارانو و جنګ ته جوړ سوه، په ډېر شوق شپېته ځوانان د بسته لښکر په جنګ ور وواته، په جنګ ورکښېوتل د سپینو تورو خرپی دئ، فتح خان برېتونه تاو کړه جنګ او دا تورو خوند ورکی، ناره یې وکړه :

چي پر ډال پتري وهي نامت یې جنګ دئ
راپسي د زرغونو، زرغونو توتیانو سیل دئ

هله هله دوولس ورځي یې پرله پسې جنګ وکی.

آخر ته د شمس الدین لښکر ستړی سو، باچا حال و فتح خان ته وکی چي موږ او تاسي ستړي سولو، دا څلور شپې یې زموږ و ستاسي مهلت، بیا به

---

[۱۳] الا کړه : دوید.

[۱۴] مکڼ : دربچه.

[۱۵] ځیني خلک شمس الدین پاچا وایي او ځیني چي درد یې ورته راسي شمس الدین کافر وایي.

جنګ کوو. فتح خان هم ورسره خوښه کړه.

آخود په دغه شپه ماښام کور ته راغله، رابیا ګوري چي بری یې راوړی که ماتې، فتح خان دوی چي ورننوتل رابیا پوښتنه ځني وکړه، چي بری مو راوړی که ماتې؟ فتح خان ناره وکړه:

رابیا تور دي لونګین سپین دي رخسار دئ
د شپېتو برېښو ډغ پر هندوستان دئ[16]

چي یعني شپېته سره ژوندي یو، بری دئ.

خو څه سر دي ګرځوم پنځمه روځ بیا فتح خان سره له نورو یارانو و جنګ ته راووتل، کری روځ یې جنګ وکی آخر ته د پردل خان پر لاس د یوه دښمن توره برابره سوه په اوږه کي یې لاس ځني پرې کی، خو تر ماښامه یې جنګ وکی، هر څو چي یې دښمنان وژلي وه، وژلي به یې وي، خو ماښام کور ته راغله، رابیا چي ورته وکتل د پردل خان یو لاس دئ، نو یې پر فتح خان ناره وکړه:

که یکرنګ دي د فتح خان سپاهیان یرنګ دي
دا پردل لالا مي ولي خدایه ولي په یو څنګ دئ

لنډه دا چي شپه تېره سوه، سهار بیا جنګ ته ټوله وواته، ګرده ورځ یې جنګ وکی، داسي د خرپ توري یې ووهلې چي د شمس الدین پر لښکر یې اوربل کی، مګر پردل خان په یوه لاس و ضعیف سوی هم و خو بیا ټپي سو، پردل خان کرمي په شا پوري ټینګ وتاړه آس یې په ځان پسي شاتوری تناو کی، ماښام کور ته راغله، رابیا چي د خپل ورور آس ولید، نو یې ناره وکړه:

خدای دي خیر کي فتح خانه کرم خانه
د پردل نیلی کوتل رامعلومېږي

خیر ماښام دئ پردل خان یې کښته کی، ټوله کښته سول یو ګړی چي وسو، پردل خان په عذاب سو، خو لنډه دا چي په دغه شپه شهید سو (خدای دې وبخښي). سهار بي بي رابیا وویل چي زه خپل مړی دباندي نه ښخوم، د

---

[16] نقلچیان په دې نقل کي دا ناره تر هري نارې وروسته د کسر پر ډول کوي.

دښمن ملک دئ دلې يې کور پر خپل پلنګ ايږدم، دوی هم ورسره خوښه کړه. نو يې د پردل خان نس څيري کی، شيان يې ځني وکښله پاک يې پريوی، نس يې د لونګو ورډک کی پر خپل پلنګ يې کښېښو، شال يې پر وغوړاوه، دلته شمس الدين باچا فکر وکی چي څه به کوم لښکر يې پايماله کی، خو منصبداران يې راټول کړه چي د دې پای يې څه؟

دوی ورته وويل چي بله چاره نه لرې بېله دې چي ته مرکه ورواستوه، چي راسه صلح راسره وکه، هر څه چي غواړئ او هر څه شرط چي لرئ زه يې قبلوم، هر کله چي دوی ټوله راغله دستي به يې موږ لاسونه د ټولو وتړو، ځکه فتح خان داسي سړی دئ چي هسي برېتونه يې څوک ويني غړي يې ښويږي، زهره يې چوي. "وايي چي رښتيا چي د فتح خان داسي غټ لکه د زمري شک شک برېتونه وه چي په هسي ليدو يې د سړي زړه لوېدی، او د وامه ښځه به يې نفس خوت"، له همدې لامله ده خپل برېتونه د سرو زرو په شپېلی کي اچولي وه، بل وخت به يې شپېلی نه ځني کښله، څو د جنګ ميدان ته ور ګډ سو نو به يې شپېلی ځني وکښله برېتونه به يې تاو کړه، نو په ميدان به ور ګډ سو. شمس الدين باچا مرکه ورته راوساتوله، چي زما درسره قسم دئ راسئ چي سوله سره وکو، هر څه چي غواړئ زه به يې درکوم.

مرکه چي راغله دا يې ورته وويله فتح خان ويل ښه دئ، تاسي ورځئ موږ به سبا درسو، مرکه ولاړه. کرمي وفتح خان ته وويل چي زمانه ده خوښه، زه سلا نه درکوم.

فتح خان ويل يه زه ورځم، کرمي ويل ښه دئ چي ورځې نو ياران راسره ووېشه، نيمي ته درسره بوزه، نيمي دي دلې زما سره وي. فتح خان ويل ښه دئ.

ياران يې سره ووېشل فتح خان سره له خپلو ملګرو ور رهي سو، چي فتح خان رهي کېده کرمي ناره پر وکړه :

فتح خانه باور مه کړه، د مغول په کلامونه
د مغول اول کلام پسې تيپونه

فتح خان سره له خپلو ملګرو راغلی، باچا ورته وويل چي که رښتيا

سولي ته راغلي ياست، نو د جنګ اسباب کښېږدئ. فتح خان دوی د جنګ اسباب کښېښووه، چي نژدې راغله باچا دستي پر سپاهيانو حکم وکی او ناره يې وکړه:

لاس يې وتړئ ځوانانو نوکرانو
فتح خان د پاچهانو ګنهکار دئ

سپاهيان پر راوغورځېدله، د ټولو لاسونه يې وتړل دلته فتح خان ناره وکړه:

کرم خانه چي تا ويل هغه بيا وسوه
سره مغول خو مي د لاس پر لګېده سوه

هلته کرم خان هوښياري کړې وه، سم په فتح خان دوی پسې سره له نورو ملګرو راوتلی و، چي په دښمن باور نسته، دلته چي راورسېدی که ګوري چي د فتح خان دوی لاسونه يې ور تړلي دي نو يې پر مغولو ناره وکړه :

اوس به جوړ کړم د مغولو پر سر ځلي
چي تړلي يې فتح خان نازک لاسونه

خو ټولو په مغولو پسي توري لښتي کړې، داسي چړ يې په ګډ کړی چي ګرده يې مړه کړه او هغه چي په ځغاسته يې ځان خلاصولای سو په تاخت ځني ولاړه، کرم خان د خپلو يارانو لاسونه ور خلاص کړه، کور ته سره را رهي سوله، راغله ماښام فتح خان وويل چي اوس يې نو نه پسي پرېږدو، څو يا ګرده مړه نه سو يا پوره بری يو نه سو، ځکه چي دا منافقان دي داسي بې وفايي يې وکړه، پر قول و قسم و نه درېدل.

لنډه دا چي پس له دغه هره ورځ و جنګ ته ورتله، جنګ يې کاوه او يو يو به د دوی شخه ټپي کېدی، هغه به يې کور ته راوړی (وايي چي په جنګ کي د فتح خان د يارانو شخه يو نه دئ مړ، هره ورځ به يو يو ټپي کېدی هغه به يې کور ته راوړی کور به مړ سو، نو به يې نس ور څيري کی د لونګو او نورو جاذبه شيانو به يې ور ډک کی نو به يې پر خپل شخصي پلنګ کښېښو، شال به يې پر وغوړاوه، هغه به وچ سو نه به ورستېدی).

لنډه دا چي ټوله په دغه ډول شهيدان سوله، يو فتح خان او کرم خان او

څو کسه نور پاته سول، فتح خان ماښام و کرم خان ته وویل چي سبا به داسي د خرپ جنګ کوو چي یا مړه سو یا سوبه او بری یوسو.

سهار چي د جنګ میدان ته راغله، فتح خان شپیلۍ د برېتو څخه وکښلې، برېتونه یې تاو کړه، نو یې توري پسي لښتي کړې، د څو کسو مغولو سرونه یې پرې کړه، مګر مغول بېخي ډېر وه نه تمامېده نو فتح خان ناره پر وکړه :

هندوستان مي د مچیو ګرېیني دئ

هر څو چي یې وهم نه تمامېږي، د شپېتو برېڅو ورځ په ورځ کمی دئ

لنډه دا چي هره ورځ یو یو کمېدی څو ټوله شهیدان سوه، پر هم هغه ډول یې پر خپلو پلنګو کښېښووله، یوازي فتح خان او کرم خان پاته سوه.

په دې بله ورځ یوازي فتح خان و کرمی و جنګ ته راووتل، جنګ ته یې پیل وکی، خو مغول پر ډېر سوه پر کرم خان راټول سوه، کرم خان یې وواهه زخمي او ټپي یې کی، کرم خان چي یې وواهه ده ناره وکړه :

که وخورئ دا د سر کسي مو وخورئ

که ما مړ کی دا زما بادار ژوندی دئ

چي یعني که مو زه وهلم بادار مي ژوندی دئ، په سرو به مو مځکه ډکه کي، خو دی ولوېدی دلته فتح خان ناره پر وکړه :

آفرین کې پر دا هسي نوکر باندي

ځان یې واچاوه د دې بادار د وړاندي

خو فتح خان په یوه سر د توري زور ورښکاره کی، چي کرم خان راڅخه پاته نه سي، خو مغول یې د توري په زور سره تیت و پرک کړه کرم خان یې په شا پسي وتاړه کور ته یې راوړی، خو کرم خان هم شهید سو، پر هغه ډول یې پر خپل پالنګ کښېښو. ماښام دی و رابیا ناست دي، خو بیده سوه، سهار فتح خان ستړی دئ بیده دئ، پر بي بي رابیا باندي پښتني جوش او د ملیت جذبې غلبه وکړه، نو یې پر فتح خان ناره وکړه :

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه

رابیا ګلي پنده ورته کړه سپره سوه

یعني یاران خو ټوله مړه سوه، نو موږ څه کوو چي ژوندي یو درڅه

جنګ ته زه هم درسره ځم، فتح خان چرت یوړ، رابیا بله ناره پر وکړه :

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه

رابیا ګلي پنده ورته کړه سپره سوه

یعني زه دا یم ولاړم اوس نو زه جنګ کوم راځه راپسې.

فتح خان دستي ملا وتړله توره یې راواخیستله، رابیا فکر وکی چي فتح خان یوازي دئ، دا دي څه بد کار وکی چي جنګ ته یې یوازي ور وباسم، خو پښېمانه سوه ناره یې پر وکړه :

زه عورته ملامته لویه خدایه

و جلو ته دي ولاړه یم روی داره

چي یعني یوازي یې، مه ځه بیا فتح خان ناره پر وکړه

که تتي د ګواریو سانګي تتي

یا مي خوریې یا مي موریې، ځو یې نه کړم پر دا سپینه سینه پڅي خو را رهي سو، تر یو ځایه چي راغی بیا یې ناره پر رابیا وکړه :

که ښه که رابیا نجل که له ما ښه که

دا جنګي زغره دي مخي لره راوړي

رابیا فکر وکی چي ځي نه پاتېږي، نو یې ناره پر وکړه :

فتح مي یار، پردل مي ورور دئ

ځوک چي داسي یاران وخوري هغه نجل که ښایسته وي مخ یې تور دئ

رابیا ویل په ماکي نو څه پاته سول، د شپېتو بېخو ځخه یو نه سو راپاته.

خیر! خو فتح لکه زمری یوازي د جنګ میدان ته راغلی، د جوشه یې ناره وکړه:

یو که بوټي هندوستان مي بوټي بوټي

په سپیتانه کي خلاص نه سي اوس راواړوه د سپینو چړو موټي

فتح خان دوې ورځي پر له پسې یوازي جنګ وکی، ډېر یې مړه کړه ماښام کور ته راغی، بله ورځ بیا جنګ ته ووت، یوازي دئ، د سپینو تورو خرپی دئ، فتح خان ته د بېکسۍ او یوازیتوب ارمان ودرېدی، نو یې ناره وکړه:

PROPERTY OF ACKU 13892

زموږ مرګ په سپینو تورو لویه خدایه
اسلم خان بابا مي ولي ناخبر دئ

دی خو په جنګ کي دئ، بي بي رابیا په کلا کي ده، فکر وهي چي دا وار به فتح فتح وکي که به یې ونه کي، نو یې ناره وکړه:

د فتح کرنګه نال به دي زرین کم
که دي دا وار فتح راوی، زما امېل به ستا د غاړي لونګین کم

فتح خان ماښام کور ته راغی، بي بي رابیا ولاړه سوه شاوخوا پر وګرځېده خپل امېل یې د غاړي څخه وکیښ، د فتح د نیلي په غاړه کي یې واچاوه، خو شپه تېره سوه سهار و فتح خان ته وطن ور په یاد سو، نو یې ناره وکړه:

که پاخه دي لویه خدایه د کندهار انار پاخه دي
اسلم خان بابا دې خوري پر ما ترخه دي

سهار بیا فتح خان جنګ ته ورووت، ستړی هم و خو تر غرمې یې جنګ وکی، د ماپښین و خوا ته تپې سو، خو دښمن یې په ځان نه کی پوه، مخ یې د کور پر خوا راونیو، کور ته چي راورسېدی، د کلا په منځ کي غوځار سو، په وینو کي لژند دئ، یو ګړی باد یې روح د خدای په رضا وسپاره، شهید سو.

(خدای دې وبخښي)

رابیا راغله د ده نس یې هم څیري کی پاک یې پرېوی د لونګو او نورو خوشبویۍ یې ور ډک کی پر خپل پلنګ یې کښېښو، د خپل سر شال یې پر وغوړاوه.

نو یې شمس الدین ته حال ور واستاوه، چي راسه اوس نو نارینه زمریان مو ټوله شهیدان سوه، موږ کونډي او یتیمان پاته سوو.

شمس الدین باچا راغی چي کلا ته ورننووت، ورغی هر یو یې پر پلنګ لکه نر زمری بیده ولید، ډېر افسوس یې وکی، چي د فتح خان پلنګ ته راغی شال یې څني پورته کی، که ګوري په مړني د سړي روح څني الوزي، برېتونه یې د سرو زرو په شپېلۍ کي نیولي دي، ډېر یې خوښ سو، نو یې د افسوس پر ډول ناره وکړه:

فتح برېت دي د سرو زرو په شپېلۍ کي
ته لايق د مرګي نه وې فتح خانه ته لايق وې د ډيلي د پاچهۍ

وروسته يې بي بي رابيا ته هغه وطن چي مغل کوټ يا امان کوټ ورته وايي ورو باخښه، دلته بي بي رابيا ناره وکړه :

مغول کوټ به چا ورکړی و يتيمانو ته
دغه هم د فتح خان د توري چوټ دئ

شمس الدين باچا ولاړ، بي بي رابيا هلته خپل شهيدان ټوله ښخ کړه، هديره يې پر جوړه کړه او د دوی نجوني او هلکان يې يو د بله په نکاح ورکړه، خپل ژوندون يې کاوه و بس !

تبصره :

(۱) تر هري نارې وروسته دا نارې خلک کوي :

رابيا تور دي لونګين سپين دي رخسار دئ
د شپېتو برېخو بړغ پر هندوستان دئ

دا تر يوې نارې وروسته وايي او دا تر بلي نارې وروسته وايي :

د خدای شپې ورځي به وي ياران به نه ويد کندهار بازار به وي سودا به نه وي

(۲) خلک دا نکل خورا په شرنګ کوي، نارې يې خورا اوږدې دي، مثلاً وايي:

که دوې دي دوې دي د کلابس کلابس دروازې دوې دي
پر يوه مي فتح وزي پر دې بله يې د مور خدايه د مور سوي نارې دي

يا :

که دوې ای دي لويه خدايه کلابس، هوی هوی هوی يو که دوې دي کلابس، کلابس دروازې دوې دي، پر يوه، ها مي فتح وزي، هوی هوی، هوی پر دا بله يې د مور خدا د مور سوي نارې دي.

بيا وايي :

رابيا تور دي لونګين لونګين سپين دي رخسار دئ، هوی هوی هوی
د شپېتو برېخو بړغ، خدايه بړغ پر هندوستان دئ

د نارو په منځ، په آخر کي وای وای – هوی هوی هوی يا وی وی د وزن او نغمې له پاره ورزياتوي.

ښادي او بيبو

ته وا ښه !

چي وه دوه ورونه وه، د يوه نوم ولي محمد او د بل دا علي محمد و، چي په کندهار کي د بکوا د دل آرام د تلخک په کلي کي اوسېده. د ولي محمد يو زوی و، چي نوم يې "ښادي خان" و، او د علي محمد يوه لور وه، چي "بيبو" نومېده.

ښادي خان او بيبو دواړه کوچني دي، يو ځای سره ګرځي، يو ځای لکه دوه ښه ګلان بازئ سره کوي، د دوی دواړو يو د بله په همدغه کوچنيوالي په زړو کي مينه سره پيدا سوه، او دواړه خورا ښايسته وه.

څه سر دي ګرځوم هله هله څو دواړه ښه لوی سوه. يوه روځ ښادي او بيبو دواړه په کونډوکو پسې ځنګله ته تللي دي، په ځنګله کي کونډوکي ټولوي، غرمه ده، پر بيبو باندي خوله راغلې ده، پر مخ يې لکه سپيني مرغلري دانه دانه خولې بهېږي، ښادي خان چي ورته وکتل ميني غلبه پر وکړه، دمخه يې هم د ميني اور په زړه کي و، دې کتلو يې هغه مخنی اور په زړه کي بل کی، خو د ميني اور دئ، د توانه يې ووتله د خولې جلو يې سست سو.

ښادي خان : بيبو جاني ! دا ستا سپينه مرغلره خولګی به يو وار نه کې را؟ چي زړه مي ستا د ميني په اور تور تلب وسو.

بيبو : لالکه ! زما خوله، بلکي ټوله ځان دي تر تا جار سي، مګر زه تا ته يوه خبره کوم که خوانه بدوې.

ښادي : ووايه څه وايې؟

بيبو : دا خو په اکثرو ښتنو کي تل وي چي کاکا خپله لور و وراره ته ورکوي، ته ماښام کاکا ته ووايه چي بيبو ما ته راوغواړه، نو ما به کاکا د پلار

ځخه در وغواړي، ستا مابنه به سم، هره شپه به زما خولګۍ اخلې، څوک به بد او تهمت نه راباندي وايي.

ښادي : اې بيبو جاني ! ستا تر دغه پاک زړه جار سم، دونه اوږدې مودې مه ايږده، زما اوس ستا د ميني ځخه زړه چوي، "آه ويې ژړل"، ته د سبا کارونه پرېږده خدای خبر سبا مړه يو که ژوندي؟ که مي اوس يو واري په سپينه خولګۍ موړ کې ډېر به ښه سي.

بيبو : ښادي جانه! ته خو ښه وايې زما زړه هم ستا د ميني په اور کباب دئ، مګر دا دوولس کاله زه او ته جوړه سره ګرځېدو، يو ځای کښېنستو، يو ځای ولاړېدو، نه تا خوله غوښته او نه ما څه ويل او د ټولو خلکو په زياته بيا د کاکا دوی په سترګو کي لکه خور او ورور داسي ايسو، او اوس موږ داسي بد کار په پټه وکو، خامخا به اوستري ته رسوا سو، مور او پلار به مو را خبر سي، راځخه بېزاره به سي او په مرګ به مو خوښ سي، نو ښه دا ده چي ته صبر وکې، زه خوله نه درکومه او ناره يې پر وکړه:

چي دا ښادي هلک و ما يې تل اودې ځړې
اوس چي دا ښادي را لوی سو اوس له ما غواړي خولګۍ

ښادي چي دا خبره واروېده، اوه يې کړه د بيبو د ميني د اور دودېې تر ککرۍ وخوت د ځانه سره يې ری وواهه، چي ما خو خوله ځني وغوښته را خو يې نه کړه نه بايده چي دا ورسي او مور و پلار ته ووايي، زه به شرمنده سم، تر دې شرمندګۍ نو دا ښه ده چي د وطنه ورک سم، او پر دغه مخ ولاړ سم، بس ځني رهي سو.

بيبو : ښادي جانه ! تر تا جار سم، دخيره چيري ځې؟ خوابدی سوې؟

ښادي : زه نو ځم زما ځخه دا وطن پاته دئ.

بيبو : ښادي جانه ! مه کوه مه ځه ! "ښادي خان يې تر لاس ونيو".

ښادي : يه ! ځم نه پاتېږم.

بيبو : ښادي جانه ! ته زما خبري ته غوږ ونيسه، زه به اوس خوله درکم، مګر سبا به مو رنګ بد سي، خدای د کراري مل دئ زه خو ستا يم، ته راځه چي کور ته سره ولاړ سو دستي په ماښام ته کاکا ته ووايې ما به در وغواړي، او پلار مي هم درکوي.

ښادي : بيبو جاني ! دا دونه عمر ما ستا ناز وړی، او ستا د رضا څخه نه يم وتلی او تـانـن زمـا د زړه مـراد نـه واخيسـت، خـوله دي نـه کـړه را، او زمـا د توانه وتلې ده په زړه مي اور لګېږي، زياته صبر نه سم کولای، ښه دا ده چي د وطنه ورک سم، ګوندي څه د مسافرۍ او جلاوطنۍ خوارۍ رابانـدي تېـري سي او په همدغو زحمتو مي د زړه لمبه څه سړه سي.

بيبـو : ښادي دغسي مـه کـوه (خـو دا ورتـه ګـډه ده)، ښادي خـان لاس ځني کش کی، لاس يې د بيبو د لاسه وکښی او ځني رهي سو، مخ يې ورتـه راواړاوه چي زه اصفهان تـه ځـم، زياتـه يې څـه ونـه ويـل، خـو د ځنګلـه چي راووت مخ پر کوی دز[1] باندي رهي سو او دغه غره ته نژدې يو کلی دئ چي دلارام ورته وايي. ښادي خان دې کلي ته راغی په دې کلي کي يوه لويه لار تېرېږي، په دغه لار کي يوه کاروان اړولي دي.

ښادي خـان کـاروان تـه راغـی د کـاروان څښـتن تـه يې سلام واچاوه، کاروان باشي وعليک ورته ووايه د دغه کاروان باشي نوم تاج محمد خان و.

تاج محمد خان : سړيه نوم دي څه دئ؟

ښادي : ښادي.

تاج محمد خان : چيري ځې او په څه کار پسې يې؟ د کم ځای يې؟

ښادي جان : زه د بکوا يم او په نوکري پسي ګرځم. "ښادي جان خو ډېر ښه زلمی و د تاج محمد خوښ سو".

تـاج محمـد خـان : ښـه دئ زه بـه دي نـوکر کـم، راځـه زمـا سـره، زه د هندوستان يم، او اصفهان ته ځم، مال مي بار کړی دئ، خورا ښه به درسره کوم.

ښادي جان : ډېر ښه دئ، زه به دي هم ښه خدمت کوم.

خـو لنـډه دا چي ښـادي جـان د سوداګر سره و اصفهان تـه رهي سو، "دوی نو پرېږده چي اصفهان ته ځي"، بيبو پسي راواخله.

ښادي خـان چي د بيبو څخه ولاړ، بيبو پـر هغـه ځـای پرمخي غوځاره سوه، يو ګړی پرته وه، خو راپورته سوه، "هر څونه چي يې ژړلي وي ژړلي به

---

[1] کوی دز يو لوی غر دئ د خاشرود د رود لمر لوېدو خوا ته.

يې وي"، شاوخوا يې وكتله ښادي جان نه و، ناچاره سوه را ولاړه سوه مخ د كور پر خوا را رهي سوه، خو تر څو غونډيو راواوښته، بېلتون زور پر وكى تر شا يې وكتل ناره يې وكړه :

خدايه د دې پوټې په آخوا دا بل پوټې په دې خوا زما او د ښادي وه سره ناسته – سپينه
خولګۍ يې له ما غوښته ور مي نكړه، زما ارمان سوې د ښادي او ستريه خواسته

خو هر څه چي پورته كښته سوه، ښادي جان يې ونه ليد، ناچاره سوه كور ته راغله، پر مخ يې د بېلتون خاوري پرتې وې، ښه يې تكه ژړه ده، شونډان يې وچ كلك دي. مور يې پوښتنه ځني وكړه چي بيبو جاني ولي دي داسي مخ سپېره او ښه دي الوتې ده؟

بيبو ناره پر وكړه :

ادې موري څه به درته وايم، زما مرګ په سنګرېزو درته روا دئ، ښادي جان مي
خولګۍ غوښته ور مي نه كړه، زما موري دى مي ولاړ و اصفهان ته

مور : بيبو جاني ! ښادي جان څنګه ولاړ؟ ته ښه بيان وكه؟

بيبو : زه او ښادي جان سهار ځنګله ته تللي وو، چي غرمه سوه ښادي جان راته وويل چي زړه مي ستا د ميني څخه چوي توان مي ورک دئ، كه يو وار ته دغه ستا خولګۍ راكې، زه به ستا تر ابده پوري مريى يم.

"ادې جاني ! زما دي خوله د لحد د خاورو ډكه سي !" ما خوله ور نه كړه او بد مي ورته وويل، دى مرور سو، وې ويل چي زما څخه نو دا وطن پاته دئ، و اصفهان ته ځم، خو ما بيا ډېري زارۍ ورته وكړې، دى نه پاتېدى راڅخه رهي سو. "اوه، آه څه وكم؟ زما عمر يې په دار كى، عشق دئ نه پتېږي"، پر مور يې ناره وكړه :

موركۍ ورسه بابک خبر كه زړه مي ډوبېږي او ر الګېږي
ښادي جان ورک سو نه راستنېږي چي ښادي نه وي دلته ژوند هيڅ نه دئ بيبو ته

مور يې راغله پلار او اكا او نور خپلوان يې خبر كړه، چي ښادي ولاړى ورک سو، او بيبو بېسده پرته ده نژدې ده چي زړه يې وچوي، خو دا نكل يې ټوله ورته وكى چي داسي ... داسي ...

پلار او اكا چي يې راغله، كه ګوري بيبو تكه ژړه ښه الوتې لاس و پښه پرته ده، "د پلار يوه لور وه، زړه يې پر تور دود سو"، دستي يې سرې شاوخوا

ولېږل چي ګوندي نژدې يې يو ځاى څرک معلوم کي، "د دوى په خيال کي دا و چي دلې به يو ځاى وي"، سړي چي هر څه پسي وګرځېده پيدا يې نه کى.

د بيبو چي هيله د ښادي خان څخه وختله، دغسي سر ګومه پرېوتله، لکه ژړبت تنه يې سته، ږغ يې نسته.

په دغه بله ورځ يو سړى راغى وې ويل چي ښادي خان ما وليدى د بکوا د دښت پر لو لار د کريکنښ سره رهي سوى و تلى. بيبو چي دا خبره واروېدله ناره يې وکړه :

د بيبو د اريانيه د کريکنښ د خوشاليه

که به ناز د بيبو اخلې په دنيا کي کريکنښ مه کې د روزى

دا ناره يې وکړه بير ته هغسي بېسده پرېوتله.

د مور و د پلار دغه يوه لور ده، هغه هم بېسده پر ته ده هيڅ ږغ و ږوغ نه کوي، روځ په روځ يې ځان ويلېږي، تکه ژړه او تار و نار سوله، مور و پلار يې خورا ورسره اوګاره دي، خو هيڅ چاره يې نه کېږي.

يوه روځ يې مور راغله د بيبو و سر ته کښېنستله، ږغ يې پر وکى چي بيبوګلي ! سر راپور ته که، ته ورسه وګوره، د دلارام پر لار يو لوى کاروان تېرېږي چي ښادي ورسره سته که نسته؟

بيبو چي دا خبره واروېده دغسي راپور ته سوه، ژر را ولاړه سوله راغله د دلارام د لاري سره پر يو لو غونډۍ کښېنستله، يو لوى کاروان تېرېږي، دا ور ته ګوري څو ټوله کاروان تېر سو، ښادي خان نه و ورسره، نه يې وليد، دلته لا بېلتون زور پر وکى نو يې ناره وکړه، "څه به يې ويلي وي وابه يې روې"[۲] :

کاروانونه د بکوا پر دښت تېرېږي - کاروانونه د بکوا پر دښت تېرېږي

ښادي جان ورسره نسته، په دا نور کاروان مي مينه نه ماتېږي

زما ارمان ښادي مي بايلو

---

[۲] دا په نقلچيانو کي قانون دئ چي نکل کوي يو له سامعانو څخه شپانه کي چي يعني دا شپانه و نکل چي ته ښه ښه او هو هو لري، هر کله چي نقلچي د نکل ناره کوي، شپانه ور ته وايي څه به يې ويلي وي؟ نقلچي وايي، وابه يې روې.

نو هغه و، چي بير ته کور ته راغله، هغسي بېسده پرېوته، هيڅ بږغ نه کوي نه د چا سره خبري کوي. "څه سر دي ګرځوم" په دې منځ کي ډېر کلونه تېر سوه، د ښادي جان هيڅ درک و خرک نه معلومېږي.

يوه ورځ د اصفهان څخه ښادي جان يو خط وليکی د يوه سړي په لاس يې و خپل پلار ته راولېږی. سړي خط راوړ د ښادي پلار ته يې ورکی. د ښادي پلار راغی پر بيبو يې زېری وکی چي "زېری مي درباندي د ښادي خط راغی"، بيبو دغسي راوغورځېده، يو نوی روح په ننووت، ورته وې ويل چي کمه دئ؟ پلار يې خط د جيب څخه راوکيښ، خلاص يې کی د خط په سر کي يې دا ناره ليکلې وه:

کاغذه ورسه پر بيبو مي سلام وايه، په صورت روغ يم په زړه بيمار يم
بيبو ستا د بې نيازيه، د بې نيازی دا ژړی ښادي بندي د اصفهان دئ

نور يې نو خپل پلار، اکا او نورو خواخوږو ته سلام ليکلی و، او د خط په اوستري کي ليکلي وه، چي اوس ما خورا ډېري روپی ګټلي دي، پخپله سوداګر يم، د يوه ښار څخه و بل ښار ته مال وړم او راوړم او ځای مي په اصفهان کي دئ او بل دا چي زما څخه هيله وشلوئ، زه بيا نه در ځم او که بابا دونه وکي چي يو واري راسي او زما ځای ووينی او زه دی ووينم ډېر به ښه سي.

د ښادي خان پلار هم دستي ولاړ سو، د خپل سفر کاروبار يې سم کی، ډېر خوشحاله دئ، په دې ترڅ کي چي د ښادي پلار رهي کېدی بيبو کاغذ وليکی راي‌ې وړ د ښادي جان پر پلار يې ناره وکړه:

کاکا چي ځې کاغذ مي يوسه، ښادي له يې وروړه ورته وايه
بيبو پرته ده تر زړه يې ځاځي، ستا د بېلتون ويني زما ارمان سوې

نو هغه و چي بيبو ډېره بېتابه وه، دغسي کورنځی[۳] يې پر ميدان وهلې چي دغه کاغذ مي يوسه، يا ما هم در سره بوزه. خو د ښادي پلار و بيبو ته د زړه ډاډ ورکی چي زه خامخا په هر ډول چي وي ښادي خان راولم نه يې پرېږدم.

---

[۳] د ډېره غمه تپېدل او په ژړا پر مځکه ګرځېدل.

بيبو يې پر آرامه کړه، د ښادي پلار رهي سو، هله هله څو روځي وروسته و اصفهان ته راورسېدی، پوښتنه پر پوښتنه يې د ښادي جان د ځای څر ک وايست، راغی يوه ښه ماڼي يې وليدله، يو سړی يې په درګاه کي ولاړ دئ، پوښتنه يې ځني وکړه چي د ښادي خان ځای چيري دئ؟

سړی : ته څوک يې او څه کوې؟

د ښادي پلار : زه د ښادي خان پلار يم، د بکوا څخه په ده پسې راغلی يم، سړی ورغی پر ښادي خان يې زېری وکی چي پلار دي راغلی!

ښادي خان دستي د ماڼۍ څخه راکښته سو، رااووت چي پلار يې وليد دغسي په پښو کي ور پرېووت، پلار راپورته کی په غېږ پوري يې ونيو، نو يې يو ګړی سره وژړل وژړل ...

"هر څونه چي يې ژړلي وه، هغونه به يې ژړلي وي".

وروسته ښادي خان پلار تر لاس ونيو و ماڼۍ ته يې وخېژاوه، و خپل ځای ته يې وروست، سره کښېنستل د جوړ او روغ پوښتنه يې وکړه. يو څو ورځي چي تېري سوې، پلار يې د سفر د ستړيا څخه هوسا سو، نو يوه روځ د ښادي خان پلار و ښادي خان ته وويل چي : زويه ښادي جانه ! درځه چي خپل کور او خپل وطن ته سره ولاړ سو، خامخا دوست او دښمن لرو، راباندي خاندي به چي زوی او پلار دواړه د بې ننګۍ څخه د خپل وطنه ور ک سوه، نو يه دا ښه کار نه دئ چي دلې اوسو.

ښادي جان : بابا جانه ! زړه مي نه غواړي چي زه ولاړ سم.

پلار : ولي زويکه!

ښادي جان : بابا جانه ! زه د کاکا څخه ډېر شرمېږم، نه سم پر مخ ورتلای.

پلار : زويه ! ستا کاکا خو ستا د بېلتون څخه لېونی دئ، که ور نه سې نو خامخا به دی درپسې راسي.

ښادي : بابا صاحب ! تا ته څه نه سم ويلای، مګر ناچاره يم چي در ته ووايم.

پلار : ووايه زويه ! مه شرمېږه چي هر څه ته وايې چي زما او د کاکا په وس وسي وبه يې کو.

ښادي جان : زه وطن او کور ته نه سم درسره تلای، ځکه چي په کور کي زما ښادي ښادي نسته، تا ته هم معلومه ده چي زه ولي د کوره راورک یم.

پلار : ښادي جانه! ما ته معلومه ده چي ته پر بیبو د کوره څخه ورک یې، مګر بیبو جانه خو د وخته لا کاکا و تا ته درکړې ده او بیبو هم ستا د غمه لېونۍ ده، نو که ته نه سې ور، خامخا به مړه سي.

ښادي جان چي دا خبره واروېده د ډېري خوشحالۍ باغ باغ سو، لکه ګل سره وغوړېدی، وې ویل چي بابا ښه دئ.

آخود، ښادي جان دوه ښه آسان رانیول، د سفر څوری یې برابر کی، په دا بله روځ مخ پر دلارام را رهي سول، پر یوه آس ښادي سپور سو، پر یوه آس یې پلار سپور سو، چي د اصفهان څخه راووتل پر ښادي جان د بیبو میني غلبه وکړه، ناره یې وکړه :

نن مي د یار پر لور سفر دئ–نن مي د یار پر لور سفر دئ

خدایه که لنډ کې دا د بکوا "وی" دا د بکوا اوږده مزلونه

"څه سر دي ګرځوم"، هله هله مزل پر مزل مزل پر مزل دا دي و فراه ته راورسېده، دلته د ښادي خان بادار تاج محمد خان سوداګر د هندوستان د خوا را رهي سوی دئ، په فراه کي په مخه سره ورغله یو ځای یې شپه سوه.

چي سهار سو تاج محمد خان و ښادي جان ته وویل چي زما د یو نیم لکو روپو سندونه کور پاته سوي دي، ته به چابک د دغه مخه هندوستان ته ځې هغه سندونه به زموږ د کوره راوړې او بیا به بله پلا و خپل کور ته څو شپې ولاړ سې. ښادي خان ویل ښه دئ.

خو دستي ښادي خان د پلار څخه رادمخه سو، پلار یې ورته وویل چي پر دغه مخ یواري کور ته ورسه چي هغه خپلوان او مور ووینې بیا به بیر ته رهي سې، سندونه به راوړې.

ښادي خان ویل ښه دئ، ته به کرار کرار پسي راځې زه نو ولاړم، خو خپل آس یې پونده کی په یوه تاخت ماپښین ته کور ته راغی، نو د کور په دروازه کي ودرېدی، ور بږغ یې کړه چي دا د چا کور دئ؟

نو د بيبو مور ورته راووته وې ويل چي دا د ښادي خان کور دئ.

"د بيبو مور ښادي خان نه پېژني ځکه چي په دې مابين کي ډېر عمر تېر سوی دئ، او ښادي خان يې پېژني".

د بيبو مور : سړيه ! ته څوک يې؟ د کومه راځې؟

ښادي : زه مسافر يم، او خورا د ليري ځای څخه راځم، ډېر ستړی يم که څوک وي چي يو چلم راته راوړي چي وې څکوم.

"د بيبو د مور څه شک په رسېږي په زړه کي وايي چي د دې مسافر رنګ خو دغسي دئ لکه د ښادي خان".

د بيبو مور کور ته ننوته، بيبو پر ته ده، بل څوک نسته پر بيبو يې ږغ وکی، چي بيبو جاني ! بيبو جاني !

کښېنه په دروازه کي يو ښه ځوان مسافر دئ، پر آس سپور دئ، خوار ستړی دئ، او رنګ يې کټ مټ لکه د ښادي خان داسي دئ. يو چلم غواړي که يواري دا چلم ور ډک کې، ثواب به دي سي، ځکه چي دی هم دغسي مسافر جلا وطنه دئ لکه ښادي خان.

بيبو چي دا ږغ واروېدی، دغسي لکه هوسۍ راوغورځېده دستي يې چلم واخيست ښه يې تازه کی او ښه يې ډک کی، سر کول[۴] يې راواخيست راغله نغري ته چي اور پر کښېږدي، خو ګوتي يې نازکي دي چي سکروټه واخلي ګوتي يې وسوځل سي بير ته ځني ولوېږي.

خو اوستري ته يې د ښادي د ميني تر اور پوري دا اور هيڅ نه وباله، سکروټي ته يې ور امله کړه.

"څه د ښادي د ميني اور و، څه دا اور و".

خو ګوتي يې وسوځلې "اله وی" يې کړه، چي اوه ګوتي مي وسوځلې، ښادي خان په دروازه کي دغه د دې "اله وی" او اوه ږغ واروېده، نو يې ناره پر وکړه :

که ورو ځي بيبو جانه په څه شان په کرشمو ځي
د يوه ښادي له پاره بخملي ګوتي سيځي پر چلم اور ږدي

---

[۴] سرخانه چلم.

بیبو چي دا ناره وار وېده وپوهېده چي خدای رو ښادي جان دئ خو د ډېري خوشحالۍ په سرای کي پرله وڅرخېده.

"د ښادي جان رغ نه و بلکي د بیبو جاني د زړه مهلم و، چي د بیبو پر زړه ولګېدی"، د هغه ځایه یې پر ښادي جان ناره وکړه :

چلم به ډک کړم د لونګو، دا ژړی پېزوان به پاس پر چلم کښېږدم

نو به یوسم دا چلم او سپینه خوله به د ښادي و مخ ته کښېږدم

خو چلم یې چابک لکه د هوا کوتره راواخیست ښادي جان ته یې راوړ، په همدغه دروازه کي ښادي او بیبو دواړه لکه نل او پیروتی سره لاس تر غاړه سول.

دواړو یو ګړی سره وژړل وژړل وروسته کور ته سره ننواته، په کور کي خوشحالي سوه، د اختر ورځ ده.

څه سر دي ګرځوم سره کښېنستل، پوښتنه ګروېږنه یې سره وکړه، ماښام سو ښادي خان خوشحاله دئ چي بیبو خو یې راکړې ده، اوس به یې راولي، اوس به یې راولي، ګوري بیبو نه راغله، نه چا ور ته راوسته.

"د ښادي په زړه کي دغسي سوی لاس ګرځي" چي ولي بیبو نه راغله زړه یې ډېر بد سو بیا یې رهی وواهه، چي دا لومړی شپه ده ګوندي سبا ماښام به یې راولي، خو په هر ډول چي وي بیده سو.

لنډه دا چي سبا سو پلار یې هم راورسېدی، "د ښادي د یوې خوا د هغه سندو تلوار دئ، بادار یې ډېر ښه ورسره کړی دي، چي خوابدی نه سي او د بلي خوا یې دلته زړه ګرو دئ، زړه یې نه ځي".

بیا ماښام سو ډوډۍ یې وخوړله، هم هغسي په هیله ناست دئ چي نن شپه خو به بیبو جانه راولي.

"بیبو جانه چیري ده ! دید یې په اوو کوټو کي نه کېږي، کاکا یې نه ورپرېږدي او نه یې ورښکاره کوي، خو بیا یې شپه په یوه چم تېره کړه"، چي هر ډول شپه پر تېره سوې وي هغسي به پر تېره سوې وه، چي سهار سو و پلار ته یې وویل چي بابا !

تا خو ویل چي کاکا دي بیبو در کړې ده، زه دي داسي خطا ایستم ! یه ! اوس نو ځم، بیا به تر مرګه پوري زما دید ونه کې.

پلار : ژویکه! ته خوا مه بدوه، اوس به یې در وغواړم، او کاکا دي هم ویلي دي چې زما لور د ښادي خان ده.

ښادي : باباجانه ! بس، دا وار مي نه سې خطا ایستلای. که تاسي راغوښتای خو دمخه به مو راغوښتې وای. اوس نو ځم نه پاتېږم.

مور : ښادي جانه ستا تر سترګو دي وګرځم. ته پاته سه، په هر چم چې وي بيبو جانه در غواړو.

ښادي : يه ! ادې نه پاتېږم ځم !

خو ښادي جان ورغی خپل آس يې ځين کی، مور و پلار يې ډېري زاری و جګی او بلغاکي ورته وکړې چې پاته سه مه ځه خو ښادي ویل : يه، ځم.

هغه وچې مور يې ورغله بيبو يې خبره کړه چې ښادي ځي نه پاتېږي زموږ په قول نه کوي ته راسه ورته ووايه ښايي چې ستا په ویلو پاته سي، بيبو چې دا خبره واورېده پر ککری يې اور بل سو دغسي يې را الا کړه، چې دا رارسېده ښادي جان پر آس پښه واړول سپور سو، نو يې پر بيبو ناره وکړه:

يو آس مي زين ملا مي تړلې – يو آس مي زين ملا مي تړلې
بيبو راووزه چې دا ژړی ښادي مي ځي وی د هند ولات ته

نو بيبو راغله آس يې تر جلو ټينګ ونيو، ورته وې ژړله چې پاته سه، ده ویل نه پاتېږم ځم.

بيبو : ښادي جانه ! مه کوه دغسي پاته سه، مه ځه هر څه چې ته وایې زه يې قبلوم، که دي زما خوله په کار ده خو اوس به يې درکم.

ښادي : يه ! بيبو جاني ! دا د بې ننګی ژوندون زه نه کوم. دلته ستا مينه اور دئ چې ما سوځي تر دې دغه ښه دئ چې سترګي مي الونيا وي نو بيبو لاس ور وغځاوه په غاړه کي يې ور واچاوه، دی هم باندي راکوز سو په غاړه کي يې لاس ور واچاوه، وې ژړل نو بيبو ناره پر وکړه :

ښادي جان ګرځوم نه پاته کېږي – ښادي جان ګرځوم نه پاته کېږي
سپينه خولګی که ورکوم، ښايسته ښادي مي هم نه راضي کېږي

خو بيا بيبو ډېري زاری ورته وکړې چې مه کوه مه ځه، ښادي ورته

ویل چي نه پاتېږم، ځم.

نو بیا پر ښادي جان بیبو ناره وکړه:

یو د ختهو یو د ختهو ځلی جوړ که ښادي جانه مخ و ما ته شا و تا ته

هر وخت چي را په یاد سې، چي ستا مینه کم په ماته

نو ښادي یو د ختهو ځلی ورته جوړ کی[۵]، دی ځني رخصت سو مخ د هندوستان پر خوا رهي سو.

بیبو څه کوي؟ هان!

بیبو جانه به څنګه وي؟ اوه!

د بیبو په زړه به یو الله خبر وي، چي عمر یې څنګه تېر اوه؟

ښادي خان چي د بیبو څخه رهي سو پر بیبو جاني ملک سور اور سو خوب و خوراک ځني پاته سو، بیر ته هم هغسي یې ښه ژړه، شونډان یې وچ کلک سوه، د چا سره یې خبري نه کولې، مګر دونه قدر و چي د ښادي جان مینه یې په هغه د ختهو په ځلي ماتوله، او هر سهار به یې زیارت کاوه، ښادي جان څه سو؟ هان!

ښادي چي د دغه ځایه را رهي سو هله هله برابر راغی کوټي "کویټه" ته د کوټي په ښار کي د تاج محمد خان د ورور بازمحمد خان کور دئ، د دې بازمحمد کره راغی. بازمحمد روغبړ ورسره وکی نو یې پوښتنه ځني وکړه چي څنګه راغلې؟

ښادي خان: د تاج محمد خان په سندو پسي چي کور ځني پاته سوي دي.

---

[۵] ځیني وایي چي ښادي خان ځلی جوړ نه کی، دغسي ځني ولاړ او ډېر وګړي وایي چي د ځان غوندي یو د ختهو ځلی یې ور جوړ کی، نو ځني ولاړ.

او زما په خیال هم دا ده چي د ختهو ځلی یې ورته جوړ کړی دئ، ځکه چي د دې بیت څخه د شاعر هم معلومېږي چي ویلي یې دي:-

ډېر ارمان ما ویلي - یار دي دلې شو و ګلي

جوړ کړه بیبو ښادي ځلي - ځي په کاروان راسه راسه، الخ

(تولوونکی)

بازمحمد خان : ډېر ښه یو څو ورځې زموږ کره پاتـه سه، ستړیا به واچوې بیا به سندونه واخلې ولاړ به سې.

ښادي خان : یه، صاحبه ! سلامت اوسې زه ځم تاج محمد خان ویل ژر به یې راوړې.

بازمحمد خان : یه، خامخا به پاتېږې، نه دي پرېږدم چې ولاړ سې، لنډه دا چې ښادي جان یې وګرځاوه.

د دې باز محمد خان یوه پېغله لور وه نوم یې (شېرینه) و، یو وخت ښادي جان یوازي په سراچه کي ناست دئ، څونې یې پر مخ ایله کړې دي ږمنځوي یې، فکر یې نسته، یو وار نابېره شېرین جانه ور ننوتله، کالي یې ټولوله، د دې خیال دا و چې څوک نسته.

ښادي خان لکه د لمر وړانګه چې په خونه کي رالوېدلې وي ناست و.

شېرین جانې چې داسې ورتـه وکتل کـه ګوري یو زلمی لکـه څراغ ناست دئ، شېرین جانې زړه پر بایلو، پر مینه سوله.

ښېرین جانه : ښادي جانه ! زما خو ستا د مینې څخه د زړه ولې غوټې پرې سوې، څه کوې؟

ښادي جان : شېرین جانې ! ستا تر دغه خوږو خبرو جار سم. ستا پر خبرو مې د بیبو جانې مابت راځي، مګر ته او هغه؟

شېرین جانه : ګله ! ستا تر دغه غټو سترګو جار سم، زما پای یې څه؟ زه خو تا نه پرېږدم زما زړه خو اوس ستا د تورو څونو په الغه کښېووت. "آه" (اوه) زه بې تا ژوندون کولای سم؟ ډېر ګران دئ.

ښادي جان : شېرین جانې ! دا خبرې مه کوه تا په دنیا کي لیدلي دي چې دوه مین دي په دیدن سره ماړه سوي وي؟

شېرین جانه : ته دا خبري پرېږده، دنیا دم همي دم ده، څنګه؟ هان !

ښادي جان : شېرین جانې ! زه خو ستاسې نمک خور یم، او تـه مې دیني خور یې، زه مسافر سړی یم، یوه ورځ به ذلې یم یا به نه یم زما او ستا؟

شېرین جانه : زما خو هم ستا د مینې په اور زړه سوځل کېږي، توان مي نسته نو زما پای یې څه؟

ښادي جان : شېرین جانې ! کـه تـه ښه کوې، ورځـه ووزه، اوس بـه

ځوک راباندې راسي نوم به مو ناحقه بد سي.

شېرين جانه: ښادي جانه! زما خو د واکه وتلې ده، چې دلته اوس زما د مينې پر اور ته څه سړې اوبه توی نه کې نه کېږي.

ښادي جان: شېرين جانې! مه کوه دا ډېر بې مناسبه کار دئ.

شېرين جانه: ښادي ګله! زما زړه نه صبرېږي، زما د واکه څخه تېره ده، هر څه چې پېښېږي نه در څخه ځم.

ښادي جان فکر وکی چې دا نجلۍ مې اوس دستې رسوا کوي، نه مې پرېږدي نو يې ورته وويل: شېرين جانې! ته اوس ورځه ولاړه سه، ماښام چې ټوله بيده سي نو زه به د کلا تر دېواله در واوړم، نو به سره يو ځاى سو.

شېرين جانې ورته ويل ښه دئ، زه به واښکې در وځړوم ته به پر راوخېژې.

ښادي خان ورته ويل چې ډېر ښه دئ.

هغه وچې شېرين جانه ځني ووتله، ماښام چې باز محمد خان کور ته راغلی ښادي ورته وويل: بازمحمد خانه! ما رخصت که چې ولاړ سم، او تاج محمد خان به هم زما و خوا ته ډېر ګوري، چې زه يې سندونه ور ورسوم، او چې خپل کور هم ډېر کارونه لرم.

بازمحمد خان: ډېر ښه دئ! زه به سبا د لالا کره ولاړ سم، هغه سندونه به د لالا د کوره راووړم نو به دې رخصت کم.

ښادي: بازمحمد خانه زه هم درسره ځم.

د ښادي جان غرض دا و، چې د شېرين جانې څخه يې ځان خلاصاوه.

بازمحمد خان: يه! زه يوازې ښه دئ چې ولاړ سم د لالا زامن په کور کې يو څه ستر کوي، بيا خوابدي نه سي.

لنډه دا چې سهار وختې بازمحمد خان سپور سو، د لالا کره ولاړ، ښادي خان فکر وکی چې يوازې پاته سوم! بازمحمد خان هم ولاړ، اوس به بيا شېرينه راووزي. خو دی په دغه فکر کې وچې شېرين جانه راغله ښه ډوډۍ يې تياره کړې وه (هان! د مين خواړه دي، نو ته وا څنګه به وه؟)، ډوډۍ يې راوړه ښادي خان ته يې کښېښوول، نو يې ورته وويل:

ښادي خانه! برايې خو نه راغلې، بې قوله سوې، ولې؟

ښادي خان : شېرين جانې ! زه بې قوله سوی نه یم، خو بازمحمد خان دلې و، نن شپه به ګورو.

شېرين جانه : يه ! اوس څوک نسته، ته دا ډوډۍ ژر وخوره نو به د خپل زړه اور سره سوړ کو.

ښادي جان : ډېر ښه دئ. خو مګر ما اودس نه دئ تازه کړی او نه مي لمونځ کړی دئ، ته دالته کښېنه ډوډۍ پټه که زه به يو وار مسجد ته ورسم لمونځ به وکم بيا به ژر راسم.

شېرين جانه : ډېر ښه دئ.

ښادي جان څنې راووت، ولاړی ولې ته اودس يې تازه کی، راغی مسجد ته دوه رکعته نفل يې وکړه لاس يې پورته کی چي خدايه ! زما په زړه کي خو يوازي د بيبو جاني مينه ده، د بل چا مينه خو نه پکښې ځايېږي. د دې بلا څخه مي ژر خلاص کې، نو هلته په مسجد کي پسي پرېوتی.

شېرين جانه هلته ناسته ده، ګوري، چي اوس به راسي اوس به راسي، رانه غی اوستري ته يې د توانه ووته، د کلا و بام ته وخته شاوخوا يې وکتل ښادي جان يې ونه ليد، د ځان سره يې وويل چي هغه خدای خبر پر کومه تللی وي، خو هيله يې څني وخته، دالته پر بام کښېنسته سر يې وغوړاوه، پرې يې ولی بيا يې د توانه ووته، راولاړه سوه د کلا د بام تر دېواله لاندي يې وکتله "مسجد په کلا پوري او د کلا او د مسجد دېوال يو و".

ښادي جان د دېوال و ګيرو ته پروت دئ، شېرين جاني وليد، ږغ يې نه سوای ورکولای، چي څوک به يې واروي. نو يې د خپلو کوڅيو اوبه يو دوه درې څاڅکي پر مخ ور وڅڅولې، ښادي جان ورته وکتل شېرينه پر بام ولاړه ده، خو هيڅ ری يې نه پکښې وواهه. خو ښادي جان ورته ګوري، د شېرين جاني بيا يو کاغذ په لاس کي دئ، کتوي يې غواړي چي پر ښادي يې راوغورځوي.

ښادي جان ناره پر وکړه :

پر بام ولاړي نجوني چي کاغذ په ګوتو نغاړي
زړه مي يو دئ بيبو وړی، دا بالا مېرمني څه د ښادي غواړي

شېرين جاني فکر وکی چي دا سړی دي ناحقه زهير کی، معلومه دا ده

چي د ده زړه بيبو وړی دئ، په ما سر نه کښته کوي او نه ياري راسره کوي، زياته يې غرض په ونه کی پرې يې ښود.

ښادي خان ګرده ورځ په مسجد کي تېره کړه، ماښام ته بازمحمد خان راغی د ښادي خان پوښتنه يې وکړ د چي ښادي خان چيري دئ؟ ښځو ورته وويل چي هلک مو پسي واستاوه په مسجد کي و، و هلک ته يې ويلي وه چي زه ناجوړه يم، ډوډۍ نه خورم، نو موږ هم زياتي سره په ونه ګرځاوه.

نو بازمحمد مسجد ته پسي ورغی ورته وې ويل :

ښادي خانه ! ولي دي غرمه ډوډۍ نه ده خوړلې؟

ښادي خان : چي ته ولاړې زما دستي پر زړه درد سو، په سراچه کي مي توان نه سوای کولای نو راغلم مسجد ته دلته پرېوتم او اوس خاشکي ښه سوم.

نو هغه و چي بازمحمد خان دی کور ته بوت، ماښام شپه تېره سوه سهار وختي يې سندونه ورکړه رخصت يې کی.

ښادي خان د کوټي څخه را رهي سو، هله هله څو و ګرش ته راورسېدی، شپه يې تېره کړه.

"د خدای کارونه دي" په دغه شپه يې تبه سوه، يوه بله شپه هم دالته پروت و، په دريمه ورځ ناچاره سو را رهي سو خو تبه يې زياته سوله ناجوړی زور پر وکی، خو هله هله د زړه په زور يې دغه لنډه مځکه په لس ورځي پرې کړه، څو د نس په خوږو دلارام ته ورسېدی، دلته نو د حرکته ولوېدی پر آس يې ځان نه سوای تکيه کولای، د آس څخه کښته سو شاوخوا يې وکتل هيڅوک نسته، ګرمي هم ده د پښو د ترپه ولوېدی، دالته يوه زړه کنډواله وه و دې کنډوالې ته په زحمت ننووت، آس يې هم وړی تږی دالته ورته وتاړه، لنډه دا چي بې خدايه هيڅوک نه دي په خبر، درې شپې درې روځي په دغه کنډواله کي پروت و.

څلورمه ورځ نابېره يو سړی و دې کنډوالې ته راغی، ښادي خان چي دا سړی وليد، ناره يې پر وکړه :

اصفهان نصف جهان دئ – اصفهان نصف جهان دئ

لويه خدايه تلخک هم (وی) بتې بېبان دئ

پر بيبو مي سلام وايه چي ژړی ښادي جان پروت پر دلارام دئ

دا سړی هم د تلخک و، ښادي خان ډېري زاری ورته وکړې چي که دي یو وار بیبو راخبره کړه او یو واري خدای زما او د دې اوسترۍ دیدن سره وکي، ډېر به ښه سي او که خدای کول تا ته به هم الله تعالی جنت درکي. دې سړي ورته وویل چي پر غبرګو لېمو.

"اوس نو ښادي د مرګ و سګلیو ته نژدې دئ".

آبس ! سړی په یوه تاخت راغی، د ښادي خان کره پر بیبو یې ناره وکړه :

که ګمبته دلارام پر سر ګمبته – ښادي جان مي پکښې پروت
لو یه خدایه سپینه خوله یې د لحد د ګرزو ډکه

"اوه ! څه د غم ناره وه، خوله دي ماته سه !" بیبو جاني دا ږغ واروېدی، تر ککرۍ یې شین دود وختی (اه) یې کړه ! پرله وګرځېده دغسي یوازي مخ د دلارام پر خوا یې راالا کړه، هله هله هله په یوه تراټ راغله وهغي خرابې ته، دا چي راورسېده په ده کي لا څه نفس و، دا چي په خرابه ورننوته، ږغ یې پر وکی ! زما مینه! داسي په سپېرو خاورو کي پروت یې.

اوه ! زه دي تر تا دود سم.

زما مینه ستا تر دغه تورو سترګو وګرځم، څنګه یې؟

"بیبو جانه پر ښادي جان باندي شاوخوا ګرځي، کوربل او کورنځی وهي"، چي د بیبو او د ښادي جان پلار او مور پر راروسېده، د ښادي جان نفس و غاړي ته راغی، بیبو جان ته یې وویل :

بیبو جاني ! دا اوسترۍ دید دئ. یو وار خو دي خوله راکه !

بیبو جاني خوله پر خوله ورکښېښووه، د ښادي خان د دې پر خوله نفس والووت.

(انالله و انا الیه راجعون)

خدای دې وبخښي. د بیبو په زړه به یو خدای خبر وي. زیاته یې څه کوې. لنډه دا چي بیبو پخپله په سترګو کي ګوتي ور نیولي لاس و پښې یې ور سم کړه او دا نور خپلوان او اکا یې ټوله باندي راټول دي. بیبو خپل پلار و مور او دا نورو ته وویل چي زه پر تاسي یو ناز کوم، که یې اخلئ.

دوی ورته وویل چي پر غبرګو لېمو ووایه څه وایې؟

دې ورته وويل چي تاسي فقط نيم ګړی د دې کنډوالې څخه ووزئ، چي زه يوازي د ښادي خان ديد وکم، اوس خو دی هم مړ دئ، څه پروا خو نه لري، بيا به يې ښخ کو.

دوی وويل چي شل کرته !

آبس دوی چي ووتل بيبو جانه راغله خپله خوله يې د ښادي جان پر خوله کښېښووله پوړنی يې پر ځان هوار کی سمه دمه وغځېده، اوه يې کړه خپل روح يې د ښادي جان په خيرات الله تعالی ته وسپاره.

لنډه دا چي يو ګړی وسو د بيبو مور راغله، پر بيبو يې بږغ وکی چي پورته سه کښېنه، د مړو څخه څه نه حاصلېږي. بيبو بږغ ونه کی بيا يې بږغ پر وکی چي پورته سه ! د مړو څخه څه غواړې؟

دې بيا بږغ ونه کی. مور يې ور تېره سوه، پوړنی يې ځني کش کی، کې کتل د کيها بيا بيبو مړه ده، دغسي يې بغاري کړې يو غم يې دوه سوه، خو کار تر کار تېر و، په لندو غوښو اور نه لګېږي، کارونه د خدای دي هيڅ نه کېده، آخر ته يې دواړو ته په هغه ګومبته کي غسل و کفن ورکی دواړه يې په هغه کنډواله کي يو ځای ښخ کړه، نوې ګومبته يې باندي جوړه کړه.

"اوس هم دواړه يو ځای په هغه ګومبته کي پراته دي، د دوو مينو زيارت دئ، خلک ورځي زيارت يې کوي".

پاک خدای دي دوی او مور واړه مسلمانان وبخښي، آمېن.

مرد او نامرد

یو سړی و پر لاري پر یوه خوا پلي رهي سوی و، بل سړی پر آس سپور و، هم پر دغه لار په دې سړي پسې راورسېدی، پلي پوښتنه څني وکړه چي ته څوک يې؟

سپاره ورته وویل چي زه "مرد" یم.

بیا سپاره ورته وویل چي ته څوک يې؟

پلي ویل چي ته مرد يې، زه "نامرد" یم.

خیر ! خو ویل ښه دئ، پر لاري سره ملګري دي، مرد ورته وویل :

وروره ! راسه پر دې آس ته یو ګړی سپور سه، ته ستړی سوی يې، زه به پلي درسره ځم ولي چي سره ملګري یو، ځای هم لیري دئ، او حق د ملګرۍ هم دغسي دئ.

نامرد ویل ښه دئ.

مرد کښته سو، نامرد سپور سو، مرد پلي ورسره ځي.

خیر ! تر یوه حده چي سره ولاړه، نامرد فکر وکی چي آس خو چابک دئ، راسه څني ويې ځغلوه نه دي سي لاندي کولای.

بس، نامرد آس پونده کی، ویل مرده ! د خدای په امان، مرد چي هر څه ورته وکړه چي مه کوه زما آس مه بیایه، (خو هغه نامرد چم ورسره وکی)، غوږ يې نه پر ونیوی، آس يې څني بوت. مرد صبر وکی نور يې هیڅ ونه ویل، خو وخت د مازیګر دئ، سپین کپی دښت (بیابان) دئ، آباتي، کورونه، وداني نژدې نسته، وریځ ده باران اوري، اریانی واخیستی، دوباره ناچاره سو راغی یوه غره ته چي دلته به په ګاره کي شپه تېره کم، چي مردار خواره مي ونه خوري، سهار به ځم که خدای کول.

خیر ! غره ته راغی لمر ولوېدی، ماښام سو، یو اوږد غار يې پیدا کی په

دې ننووت، د غار په پای کې کښېنوست، یو ګړی چې وسو که ګوري زمري غړومب وهل په دې غرا ورننوتی، د غار په خوله کې یې سر پر ځپړو کښېښو، پرېوتی.

بل ګړی چې وسو، شرمښ راغی، بیا یوه ګیدړه راغله، دا درې سره په دې غار کې سره اندیوالان دي، خیر خو درې سره پرېوتل، (مرد د بېري دم ناست دئ)، دا ګیدړه و زمري ته وایي چې زمری لالا ! چیري یې تمامه ورځ نه معلومېږې؟

زمري ورته وویل چې هو دغه پلانۍ ډبره وینې؟ د هغې ډبري سره دوه خومه بتکۍ ښخي دي، زه چې سهار ورسم تر ماښامه پوري باندي لغړم، په خوشحاله یم طبیعت مي راسته دئ، و شي ته مي فکر نسته.

"مرد هغه ډبره نښاني کړه، لیکن د بېري یو ځر دئ"، بیا ګیدړي و شرمښ ته وویل چې ته ولي داسي ډنګر یې؟ سره له دې چې داسي چټک یې په تا څه سوي دي؟

شرمښ ورته وویل چې اې ګیدو انا ! څه درته ووایم دلته په دغه شېله کي دوه درې زره پسونه دي، چاغ چاغ، یو داسي کافر سپی غټ، خدل ورسره دئ چې زه ستر ګي وښکاره کم دی مي پسي راواخلي، خو لاندي مي کي، خورا مي ومروړي، د دغه سپي د لاسه زه ورځ نه لرم.

ګیدړي ورته وویل چې هو ولچې ما هم لیدلی دئ، دغه خورا خروړوی کوټه دئ، او د دغه سپي سترګي او د دې وني پاڼي (چې د غار په غوله کي شنه ده)، دا چې سره ګډ سي د لېونیانو دوا ده، یعني لېونی پر سد کېږي.

بیا ګیدړي وویل چې زه هم داسي ډنګره یم، زما سبب دا دئ چې په پلاني چمن کي یوه مږه ده، شل داني روپۍ لري، هره ورځ چې زه چمن ته ورسم، دا مږه دا روپۍ یوه یوه د غاره څخه راباسي، او هري یوې ته جلا جلا پورته پورته غورځي، ځو شل سره راوباسي بیا نو بازۍ ورته کوي. زه چې سهار ورسم د دې مږي سیل کوم، کوم، ځو راباندي ماښام سي، ګاهي وږې، ګاهي مږه سم نه چاغېږم.

خیر خو آرام سوه، بیده سوه ... مرد دا ټوله خبري واورېدې، چې شپه

تېره سوه سهار سو، دوی درې سره د غاره راووتل، مرد شکر وکیښ، د ځان سره یې چرت وواهه چې دا حیوانان بې څه نه دي، او درواغ نه وایي، د دې ونې څخه یې پاڼي پرې کړې، راغی اول وهغه چمن ته که ګوري هغه مړه ده، د غاره څخه یې یو وار یوه روپۍ راوایستله، خوشحالي یې ورته وکړه، مرد ورته کتل. آخر ته مرد ورته پټ سو، دې مړي شل سره روپۍ د غاره څخه راوایستې، خپلي بازۍ ورته کوي. یو وار مرد ور الا کړه مړه وارخطا سوه، خو په دغه حال کي یې یوه روپۍ ځني حمله کړه په غار ننوتله، پاته نونس روپۍ دې مرد راواخیستلې، راغی برابر هغه شېلې لره یو شپانه پسونه پیایي، هغه سپی ورته پروت دئ، مرد ورته وویل چې آشپانه ! دا سپی نه خرڅوې؟

شپانه ورته ویل چې دغه زما دوه درې زره رمه ټوله په دې سپي خوندي ده، نو زه یې څنګه خرڅ کم؟

مرد ویل چې دغه دي نونس روپۍ واخله سپی راکه، و خاوند ته وا چې سپی مردار سو. ته یې پر څه یې؟

شپانه هم نونس روپۍ غنیمت وبللې ویل ښه دئ، خیر ! خو روپۍ یې ځني واخیستې، سپی یې ټینګ وتاړه په لاس یې ورکی.

بیا مرد ورته وویل چې راسه مړ یې که. شپانه هم د شپنۍ په کوتک (ډانګ) یو ډانګ پر دا سر وواهه، سپی مړ سو، مرد یې دستي د سترګو اوبه وکښلې د هغې ونې د پاڼو سره یې ګډي کړې، ګولۍ یې ځني جوړي کړې، سپی یې هورې پرېښو، نو رارهي سو، هله هله دا دئ یوه ښار ته ورسېدی، په دې ښار کي که ګوري سیدان او ملایان او نور ښه خلک سپاهیانو سره راکوټرم کړي دي، ټوله داسي خوابدي دي چې څه درته ووایم؟ مرد راغی پوښتنه یې ځني وکړه چې دا ولي خوابدي یاست؟ او څه نکل دئ؟ ها !

دوی ویل څه مو کوې؟ څه کاکا پر خپله تړه، لار دي وهه !

دی ورته ټینګ سو، ویل یه تاسي راته ووایاست. آخر ته یې نکل ورته وکی چې د دې ښار د باچا یوه لور ده، هغه دا ډېر عمر کېږي، چې لېونۍ سوې ده، په خونه کي یې اچولې ده په ځنځیرو یې ټینګه تړلې ده، او

هر څه دواوي او غمخوري چې يې په وکړه خونه سوه جوړه نو اوس يې پر موږ حکم کړی دئ چې يا به خامخا دا زما لور راجوړوئ، او يا ټول وژنم. اوس اريانی اخيستي يو دا د عمر لېونی د چا د لاسه کېږي چې جوړه يې کي؟

مرد ورته ويل چې دا خو اسانه خبره ده، وار مه خطا کوئ، ما باچا ته ورولئ دا زه جوړوم، زما د لاسه پوره ده.

ليکن زما کالي بيخي سره ټکر ټکر دي، تاسي ما ته يو څه ښوی کالي رابرابر کی، چې د باچا حضور دئ، ښه دئ چې لږ څه خواپاکی ورسم.

ملايان ټوله خوشحاله سوله، چا چپنه ورکړه چا موچني ورکړې چا لنګوټه، چا کوټ ورکی خو څه سر دي ګرځوم دا مرد يې په ښه جامه کي باچا ته ورووست، مرد ور دمخه سو، ويل صاحبه! زما د لاسه پوره ده، زه د الله په اميد او حکم ستا لور جوړوم.

باچا ويل ښه دئ، حکم يې وکی چې بوېې زئ زما لور ته يې ورولئ.

دې مرد يوه کوزه اوبه او يوه لکړه ورسره واخيسته، را رهي سو، راغی د باچا د لور خوني ته که ګوري د باچا لور يې ټينګه تړلې ده، په لاسو کي يې الچکان دي، په پښو کي يې ځنځيران دي، په غاړه کي يې هم ځنځير دئ، داسي لېونی ده چې هيڅوک ځان ته نه پرېږدي، او په خپل ځان خولې لګوي.

مرد راغی ډېر يې زړه پر وسو خو مينځياني يې سره وايستلې، يوازي دی او د باچا لور سره پاته سوله، مرد يو ګړی سر ورته پټ کی، خو سر يې راپورته کی شاوخوا يې وکتله څوک نسته، دروازه يې ټينګه وتړله راولاړ سو د باچا د لور په خوله کي يې لرګی ورکی يوه دانه هغه ګولۍ يې ورکړه، د دې خوا يې کوزه ورپورته کړه، دا خو يې په تېره کړه، يو ګړی وسو د باچا لور لږ څه ښه سوله، بيا يې بله ګولۍ په دغه چم ورکړه، دا چې يې تېره کړه يو وار د باچا لور پر سد سوه، ناره يې کړه چې آمينځي! دا پردی سړی څه کوي چې راسره ناست دئ؟ او د خدای پار دئ را مو ولي تړلې يم؟ دا پردی

لونډه مو ولي راسره اچولی دئ؟ د باچا د لور د خوني ځخه مرد راووتی پلار ته یې راغی چي ورسه لور دي پر سد سوه، څوک محرمان ور ولېږه چي د بنده یې خلاصه کي.

باچا ډېر خوشحاله سو، پخپله لور ته راغی لور یې خلاصه کړه، دستي یې په هغه ټپو دواوي وکړلې حمامونه یې په وکړه، وچه کلکه جوړه سوه، باچا مرد راوغوښت ویل آسړیه ! زما خو د دې لور ځخه امید ختلی و، خدای جوړه کړه سبب یې ته سوې دا لور ما و تا ته بخښلې ده.

مرد هم ویل زما قبوله ده، بیا نو باچا ته مرد وویل چي زه مسکین یم، ته ما ته څه روپۍ راکه چي زه یوه کلا په جوړه کم، نو به نه زما طبیعت خراب وي نه ستا د لور ! باچا ویل ښه دئ، حکم یې وکی چي دوې غاتري په روپو بار کئ. مرد خزانې ته راغی روپۍ یې بار کړې، سره له څو کسو، برابر یې راوړې پر هغه ځای چي زمري خزانه ښوولې وه پر هغه ځای یې واچولې، دستي یې لیکه کش کړه مزدوران یې ور واچوله، شاوخوا یې پر دغه ځای کلا راوګرځوله.

یوه ورځ دغه مرد بازار ته راغی مزدوران د ختو له پاره بیایي، که ګوري هغه نامرد یې ولیدی چي د مزدورانو په جم کي ولاړ دئ، مرد وپېژاند نامرد یې نه پېژني، مرد ور ته وایي ځوانه مزدوري نه کوې؟ دی وایي ولي یې نه کوم.

خو دا نامرد یې د نورو مزدورانو په ډله کي ختو ته راوستی، دې مرد و خپل اشپز ته وویل چي دغه سړي ته چي هر وخت ډوډۍ غواړي ور کوئ به یې او تر دې نورو مزدورانو به هم زیاته مزدوري ور کوئ. یوه ورځ نامرد پوښتنه ځني وکړه چي اې سړیه ته داسي ښه راسره کوې او ته ځان راوښیه ته څوک یې؟

مرد ور ته ویل چي ځوانه زه هغه مرد یم چي په پلاني وخت، پلاني ځای زه او ته سره ملګري و، تا ویل ته څوک یې ما ویل زه مرد یم او تا ویل چي زه نامرد یم، او زما ځخه دي آس بوتی، نو اوس زه هغه مرد یم هغسي تر پایه مړانه درسره کوم، اوس کرار کښېنه خوره و چښه حساب مه منه.

نامرد تعجب یووړی ویل دا څنګه خدای در کړه؟

مرد خپل تېر سوی کیفیت سر تر پایه ورته بیان کی، چي یعني داسي ستا څخه پاته سوم داسي و پلاني غره ته ورغلم په پلانۍ ګاره کي داسي زمري و ګیدړه او شرمښ او داسي و داسي، څنګه و څنګه او ... نامرد ویل ښه دئ.

بله ورځ نامرد راغی اشپز ته وایي ژر سه ماته ډوډۍ راکه. هغه وایي خو اومه ده. دی وایي په زه یې غواړم، خیر ! خو اشپز ته مرد هم ویلي وه چي هر وخت دی ډوډۍ غواړي ته به یې ورکوې.

اشپز هم وختي ډوډۍ ورکړه، نامرد ډوډۍ وخوړله خو د روه را رهي سو، هغه غره، هغې ګاري لره راغی، په هغه غار ننوتی، په پای کې کښېنستی، (مقصد یې دا دئ چي زه به هم ورسم په هغه غار کي به کښېنم، زه به هم داسي سم لکه دی)، ماښام سو، بیا هغه زمری، ګیدړه او شرمښ درې سره راغله پرېوتله، دا ګیدړه وایي:

زمري لالا نه یمه خبره دمخه داسي چاغ وې او اوس ډنګر سوی یې، چي ناجوړه یې که څه سبب دئ؟

زمري ورته ویل چي دا څو عمر کېږي هغه خزانه چي ما لیدلې وه، پر هغه ځای کار کېږي، کلا یې پر جوړه کړې ده، زه نه سم ورتلای، طبیعت مي خراب دئ نو ځکه داسي ډنګر یم، شی مي و خوا ته نه کېږي.

بیا ګیدړي و شرمښ ته مخ راواړاوه چي ته څنګه چاغ سوی یې؟

شرمښ ورته ویل چي د هغې شپې راهیسي چي تا پوښتنه راڅخه وکړه، چي ولي ډنګر یې په دې بل سهار چي هغې شپلې ته ورغلم هغه پخواني کوټه سپې نه و، په رمه ور ګډ سولم، څو پسونه مي سره ځیري کړل، اوس هره ورځ ورځم خپل ښکار کومه، خو نور سپي هم سته هغه چي راسي هغه هم سره ومرووړم، سره زخمیان یې کم زه پر غښتلی یم، نو خود چاغ سولم.

بیا ګیدړي وویل: زه هم د هغې ورځي راهیسي په هغه بل سهار هغه چمن ته ورغلم هغه مږه ټنډه پر ته وه، یوه دانه روپي ورته پر ته وه، نوري نه وې، هغه مږه مړه سوې وه اوس زه په خپل ښکار پسې ولاړه سم، او نس ښه

موږ کم، داسي چاغه سوي یم.

یو واري زمري سر راپورته کی چي دا کار بې انسانه نه وي، په هغه شپه چي موږ خبري کولې لکه چي یو سړی دلته راته پټ و.

ګیدړي ته وګوره چي اوس خو څوک نسته؟

ګیدړه چي په غار کي شاوخوا وګرځېده نامرد یې پیدا کی، ویل زمری لالا ! دا دئ راکش یې کی، زمري دستي څیري کی، نامرد یې مړ کی و بس.

(دا وه د مردۍ او نامردۍ نتیجه)

زبزبانه شاپېرۍ

چې و یو باچا و، دې باچا زوی نه درلود فقط یوه لور یې درلوده، چې خورا پر ګرانه وه، دا لور یې لو سوه، د ښځې تر ځایه ورسېده، یو وخت یې پلار ورته وویل چې لورې، ته خو اوس لو سوې یې، که دې مېړه ته هوا کېږي خو هغه دئ ته یې په خپله خوښ که، چې زه دې په حلاله نکاح ورکم.

دې ورته وویل چې مېړه خو یوه پیکړه ده، زه مېړه نه کوم، ستا سره کراره کښېنم، پلار یې وویل ښه دئ. پلار یې تر ښار دباندې یو ښه ګل باغ ور جوړ کی، د ښار د مامورینو لوڼې د دې همزولې سیلانیانې نجونې یې ورسره کړې د باچا لور په دغه باغ کې ځای ونیو، دالته عیش و عشرت کوي.

یوه ورځ تر یوه ونه لاندې دغه د باچا لور پرته ده، که ګوري په دې ونه کې یو توتې او یوه مینا راغله کښېنسته، دې مینا خپل رېز شروع کی، خپل رېز کوي، توتې یې سیل کوي. توتې یو وار خپل وزر په مشوکه وګروی، دستې بېسده سو، مینا هم خپل رېز پرېښو خو توتې ته اریانۍ واخیستله، یو ګړی چې وسو توتې بیرته پر سد سو، مینا پوښتنه ځنې وکړه، چې ولې بېسده سوې؟

توتې ورته ویل چې زما وزر د زبزبانې شاپېرۍ په غوړو ککړ سوی و، چې ما ځان وګراوه هغه بوی یې زه بېسده کړم او هر وخت چې زه خپل وزر بوی کم بېسده کېږم، دا خبرې یې سره وکړې دواړه والوته.

د باچا لور دا خبرې واورېدې خو داغسې راپورته سوه، چې د دې زبزبانې شاپېرۍ غوړي به څنګه وي. راغله پلار ته یې وویل چې ما ته به د زبزبانې شاپېرۍ غوړي را پیدا کوې، او هر چا چې درته راوړه هغه زما مېړه دئ. باچا هم دستې حکم وکی، خلک یې پسې ولېږله چې د زبزبانې غوړي

راوړي. هر سړی وس کوي چې ګوندي زه يې پيدا کم، چې د باچالور وګټم، د باچا د وزير زوی هم را رهي سو، د وزير زوی يو دښت پسې اخيستی دئ، په هر ځای کي په هر کارېز کي ګوري خو راغی د يوه غره لمني ته، يو خورا ښايسته ګوروان (غوبه) خپل ګورم پيايي، د دې ګوروان ورته فکر سو، ويل سړيه ! څه کوې چې داسي ګرځې؟ د وزير زوی ورته وويل چې داسي نکل دئ، باچا حکم کړی دئ، څنګه و څنګه ...

دې ګوروان ورته وويل چې ته د وزير زوی يې دونه خواري پر ځان ولي تېروې؟ دولت دي ډېر دئ د باچا تر لور به ښايسته وکې، څه ولاړ سه کور ته کرار کښېنه، ته د زبزباني ځای بې مانه سې پيدا کولای.

د وزير زوی هم ستړی سوی و، راغی کور ته باچا ته يې وويل چې هلته يو ګوروان و هغه داسي ويل چې ... باچا ګوروان راوغوښت ويل ښه ګوروانه! ته د زبزباني ځای پيدا کولای سې؟ ده وويل هو ! باچا وويل په څو مياشتي؟ ده ويل په شپږ مياشتي. باچا هم ورسره خوښه کړه خوشحاله سو. ګوروان را رهي سو، ګوروان ته هم نه وه معلومه چې زبزبانه چيري ده، خو الستي رهي سو، ګورم يې پرېښو هله هله مزل پر مزل، دا دئ يو بل ښار ته راورسېدی، په دې ښار کي د يوه سپين ږيري چميار[1] مزدور سو، دا ګوروان خورا ښايسته و.

د چميار دوکان داسي په چل کي سو، چې په يوه مياشت کي چميار موړ سو. د دې موچي سره يې شپږ مياشتي تېري کړلې، د دې موچي يوه ښايسته لور ده، يوه ورځ دې ګوروان فکر وکی چې خدای دي خوار که وطن درڅخه پاته سو، تا شپږ مياشتي دلې تېري کړې نو که ورغلم باچا به مي مړ کي او زبزبانه خو ما ته هم نه ده معلومه، دوباره يې وژړل، دې موچي و مايني ته وويل چې راسه دا لور به دې هلک ته ورکو، مايني يې ورته وويل ښه دئ لور يې ور کړه، يو وخت د دې نجلۍ مور ورته وويل چې ورسه د دغه هلک په سر کي ور وګوره، نجلۍ هم راغله د ګوروان په سر کي ګوري، ګوروان ژاړي، دې موچي وليدی، ويل هلکه ولي ژاړې؟

---

[1] چميار : موچي، پينه دوز.

هلک ورته وویل چي دا شپږ میاشتي ما درسره تېري کړې او تا هیڅ یوه پوښتنه هم ونه کړه، چي ته و کوم ځای ته ځې، څنګه راغلی يې؟

موچي ویل دا ده اوس پوښتنه درڅخه کوم، څنګه راغلی يې؟

ګوروان دا خپل ټېر بیان ورته وکی چي داسي د زبزباني د سر په غوړو پسې باچا رالېږلی یم.

موچي ورته وویل :

زویه ! موږ دېبان یو، د انسان په بڼه سوي یو، دلته خپله ګذاره کوو او زه په خپله د دوو سوو کالو یم، د دیارلسو کالومزلو علاقه مي د دې بیابان پر پی ده، ما خو د زبزباني شاپېرۍ نوم نه دئ اروېدلی، تا دي خدای نه خوابدی کوي راځه هلته تر ما بل یو مشر ورور دئ چي د هغه هم د دیارلسو کالو مزلو مځکه پر پی ده، ګوندي هغه ته معلومه وي، ګوروان ویل ښه دئ. دې موچي دېب پر څټ کښېناوه ویل سترګي پټي که ! ده هم سترګي پټي کړې که یې کتل په بله دنیا کي ناست دئ، دوباره دې موچي دېب په کاغذ کي سلام و دعا او د ده ډېر سپارښت پر ور ولیکی، چي ډېر ښه به ته ورسره کوې، ولي چي زه د آدم زادو په وطن کي یم، دا مي د آدم زادي زوی دئ نو يې دا خط په لاس ورکی لار ولیکه يې ور وښووله ایله یې کی، موچي بیر ته ځني را رخصت سو.

ګوروان را رهي سو، هله هله مزل یې وکی خو دا دئ د هغه دېب ځای ته راورسېدی، د روه یې کاغذ دېب ته ورکی دېب چي کاغذ وکوت خورا تعظیم او روغبړ یې ورسره وکی، نو یې پوښتنه ځني وکړه چي ته څنګه راغلې؟

ده ورته ویل چي پر زبزباني شاپېرۍ مین یم، که دي یوه لار ولیکه په لاس راکړه.

دېب ویل چي زه د درو سوو کالو یم او د دیارلسو کالو مزلو مځکه مي په تصرف کي ده، ما د زبزباني نوم نه دئ اورېدلی، ته درځه چي زموږ یو بل مشر ورور دئ چي هورې ورسو، بیا دواړه دې بل ته راغله، هغه یې عزت وکی دې دېب ویل چي زه د پنځو سوو کالو یم، زه یې هم نه پېژنم، درځه زموږ تر ټولو مشر ورور دئ ګوندي هغه ته معلومه وي، ولي هغه د کوه قاف

په پردو کي اوسي، بيا دواړه را رهي سوه راغله د دې مشر دېب ځاى ته، دا هلک يې يوازي ايله کى لار يې ور وښووله کاغذ يې ور کى، دى راغى دېب ته ودرېدى، سلام يې وکى کاغذ يې دېب ته ور کى، دېب چي کاغذ وکوت، د ده يې ډېر عـزت وکـى، چي ډوډۍ يـا يې نور څه مېوه وخوړله، آخر تـه ګوروان ور ته وويل چي ما ته زبزبانه شاپېرۍ راوښيه.

دېب ويل چي زه خو زبزبانه نه پېژنم، زه د شپږو سوو کالو يم ما يې نوم نـه دئ اروېدلى او د دغـه غـره تـر آخـوا د شاپېريانو پـاچهي ده، دوى پـر موږ غښتلي دي زه نه سم ور اوښتلاى وزر مي سوځي، زه به دي تش تـر غـره ور واړوم نـو بـه زه د غـره پـر سـر درتـه کښېنم ځـار بـه کـوم کـه کومـه سـختي درباندي راغله که زما په وسه وه، خو کومک به درسره وکم، ګوروان ويل ښه دئ.

بس دېب تر لاندي سو په چاچو غاړه کي يې واخيست تر غره يې ور واړاوه.

دېب د غره پر سر ور ته کښېنستي.

ګوروان را رهي سو، سپين کپى دښت دئ لکه ارغوى هله هله دا دئ يـوې کـلا تـه راورسېدى، داسي کـلا وه چي سر يې بېخي اسمان تـه رسېدلى دئ، ښويه ښالاکه ولاړه ده، چي هيڅ قابو د ورننوتو نسته او نه لار لري نه دروازه لري، نه يې سر و پاى معلومېږي.

ګوروان را رهي سو چي ګوندي لار يې پيدا کي خو نه يې سواى پيدا کولاى، نه يې لار وه آخر ته يو کوچنى د مېږيانو غار دئ په دېوالـه کي و دې غار تـه وجوړېدى چي سوری يې کي، خو په ډېر زحمت يې پـه څو روځـو دېوال سورى کى چي ورننوت که ګوري چي يو باغ دئ، چي پـه خوب چـا نـه دئ ليدلى، چـرت يـووى خو را رهي سو. دا دئ راغلى د يوه حوض پـر غـاړه يوه سپين سرې ښځه ناسته ده، سلام يې ور واچوى هغې چي ور تـه وکتل انسان دئ، ويل څوک يې؟ ده ويل تـه څوک يې؟ دې ښځي ويـل زه انسانه يم. ده ويل څنګه دلته راغلې يې.

دې ښځي ور ته وژړل چي زه شاپېريانو د زانګو څخه د مور و پلار څخه راوړې يم نه يمه خبره چي زما وطن چيري دئ؟ او زه انسانه يم دلې دا ډېر

عمر کېږي چي اوسم، يوه لور لرم چي لور مي ګل خندانه شاپېرۍ ده د باچا وزيره ده او مېړه مي مړ دئ، دا زما لور که راغله تا به راځخه مړ کي ته داسي ښه ځوان يې اوس يې نو وخت دئ د درباره ځخه راځي، ته يو چيري پټ سه، چي دا ولاړه بيا به نو د زړه حال ښه سره ووايو، ګوروان ويل ښه دئ نو پټ سو.

"دلته چي ګوروان هغه دېب تر غره وراړاوه نو يې يوه خولۍ ور کړه چي دغه خولۍ پر سر کې نو به دي هيڅوک نه ويني، نه دېب نه شاپېرۍ". د ګوروان ځخه هغه خولۍ ورځخه وه نو چي د ګل خنداني د راتګ وخت نژدې سو، دې ګوروان الا کړه يو ګوښه ځاى يې خولۍ پر سر کړه هيچا نه ليدى کښېنستى، يو ګړى چي وسو ګل خندانه راغله تخت يې نورو دېبانو را اخيستى دئ چي تخت يې کښېښو، دستي يې وويل په قهر سره : "بوى د ادم بوى نور کله بوى نه ونن د نوي ادم بوى".

مور يې وويله چي لوري غير له ما ځخه بل انسان دلته راتلاى سي؟ يوه زه آدم زاده يم اختيار لرې ! بل آدم خو نسته.

ګل خنداني هم برغ ونه کی خو کښېنستله شپه يې تېره کړله، "دغه باغ يوازي د ګل خنداني د مور دئ او ګل خندانه هم يوه جمعه او بله جمعه و مور ته راځي"، په دې بل سهار بير ته ولاړه. ګوروان بير ته راغى د سپين سري سره کښېنستى نو يې پوښتنه ځني وکړه چي دا ستا لور د چا وزيره ده؟ او پاچهي يې چيري ده؟ او دا لور دي مېړه لري که يه، که يې نه لري نو ولي مېړه نه کوي؟

دې سپين سري ورته وويل چي دا وطن د شاپېريانو دئ، د باچا نوم يې زبزبانه ده او لور مي مېړه نه لري. ده ورته وويل چي ته ورته ووايه چي ولي مېړه نه کوي؟ او که يې مېړه کاوه نو به يې ما ته را رضا کې، ولي چي ته هم يوه آدم زاده يې او زه هم، دې ويل ډېر ښه دئ.

بله جمعه چي ګل خندانه راغله، دې مور يې ورته وژړل چي اې لوري ! زه خو سپين سرې سوم، تر څو به ژوندۍ يم، يه، نو ته به خامخا مېړه کوې، چي زه به خوشحاله سم، که مړه سم ارمان نه لرم.

دې لور يې وويل چي پر ما يو دېب مين دئ چي په پلاني شپله کي د

اوښ پر ړول دئ، هر چا که هغه مړ کی هغه زما مېړه دئ، او بل دا چې تر دغه واله چې په دې باغ کې تېره سوې ده، درې واره به غورځې، که يې دا دوه شرطه پر ځای کړه هغه مې مېړه دئ.

مور يې ورته وويل چې دا اوښ په څه چم نيول کېږي؟

دې وويل چې دغه زما دسمال نه وي، هيڅوک يې نه سي نيولای.

خير ! خو په شپه کې يې مور د دې څخه دسمال غلا کی، دا چې سهار راکښېنستله، اوس نو ځې خپلي ټوکرې ته چې وکتل دسمال يې نسته، هر څه طلب چې يې وکی، خو مور يې ويل لوري بل واخله هغه خدای خبر چيري وي، ګل خنداني هم پرېښو ولاړه.

دې مور يې دسمال راواخيستی و دې ګوروان ته يې ور کی، چې دغه دسمال واخله وربه سې اوښ ته به يې وښوروې، دا اوښ خو به مړ کې او تر دې واله به څنګه غورځې؟ ده ويل هغه چم زما زده دئ.

خير خو دا هفته تېره سوه، د جمعې په شپه بيا ګل خندانه راغله، دا ګوروان دمخه لا ولاړی په هغه شېله کې يې اوښ په دې دسمال ونيوی، اوښ چې پر را الا کړه چې دا آدم زاد څه کوي. ده دا دسمال ورته وښوراوه پر اوښ يې بوی ومښت چې دا خو د ګل خنداني دئ، راغی په خپله ورته خې سو، دی پر سپور سو، راغی رايې وستی د ګل خنداني دمخه يې د اوښ سر په توره غوټ پرې کی، ګل خندانه تعجب يووړه ... چې دا څنګه سړی دئ، او دا اوښ يې څنګه مړ کی، نو ګل خنداني ويل :

شاباس ! که دې دا يو شرط پر ځای کی، نو زه هم تا مېړه کوم !!!

ګوروان د روه راغی په دې باغ کې يوه خورا لويه واله بهېږي چې هيڅوک نه سي تر غورځېدلای، ويل زه تر غورځم دا شرط هم پر ځای کوم نو ده به د ليري څخه تاو راوکيښ، چې ولي ته به رانژدې سو، نو په يوه ترخ کې به يې هغه خولۍ پر سر کړه "شاپېريانو به نه ليدی"، ده به الا کړه د دې ولې پر پله به و دې بلې غاړې ته راغی جګ به ودرېدی، خولۍ به يې د سره ايسته کړله، ټولو به وليدی، د دوی په خيال کې به ورغله چې تر واله وغورځېدی خو دواړه شرطونه يې پر ځای کړه. ګل خنداني هم په خپله رضا د مور په مصلحت دی مېړه کی، د واده شپه يې تېره سوه هر رنګه چې وه، څو دا

ګوروان یې د مور سره وي، ګل خندانه یوه جمعه بله جمعه راځي، خیر خو څو هفتې تېرې سوې، ګل خندانه یې د ځان سره د بېري نه سي بېولای وایي چي بیا به زبزبانه دواړه مړه کي.

بله روځ چي ګل خندانه تله، نو دې ګوروان هغه خپله خولۍ پر سر کړله، د دې تخت چي دېبانو په هوا کاوه، دی هم د ګل خنداني سره پر تخت سپور سو، دا تخت په هوا سو، دا دېبان وایي: بې بې دا تخت ولي داسي دروند دئ؟ دا وایي نه یم خبره. خیر خو دا دې راورسېدله د زبزباني دربار ته! "دې ګل خنداني دمخه و ګوروان ته ویلي وه چي زبزبانه هېڅوک نه سي لیدلای، او نه څوک ورتلای سي، لیکن دا او یوه بله شاپېرۍ یوه جمعه او بله جمعه په پلاني حوض کي لمبېږي، دوی دواړې په ډول د سپینو کوترو کېږي، نو دغه حوض ته ځي، که دي په دغه حالت کي چمبه پر صافه سوه ښه تر ښه که نه وي دا خبره مشکله ده چي ته به د زبزباني د سر غوړي وړې".

د دې ګوروان خپله خولۍ پر سر ده هېڅوک یې نه ویني خپل سیل و تماشې کوي، له دوی سره خواړه خوري، لیکن زبزباني ته نه سي رسېدلای. د جمعې شپه چي راغله نو دوې کوتري راغلې په حوض کي لمبېږي، ګوروان سم پسې راغلی، چي دوی کالي او پرجامې[2] وکښلې دواړي اوبو ته ولوېدلې، دی راغی پر کالو یې کښېنستی، خولۍ یې د سر څخه ایسته کړله، زبزباني او دې بلي چي ورته وکتل چرت یو وړې چي دا څه نکل دئ.

آخر ته یې قهر ورته وکی چي زموږ د کالو څخه ایسته سه! او که نه سوې ایسته مړ به دي کو! موږ خو داسي شاپېریاني یو، پاچهاني یو، دی ورته ټینګ سو وایي نه ایسته کېږم، آخر ته یې جوړي قسمیاني کړې چي زموږ کالي او پرجامې راکه چي ته څه وایې موږ به هغه کوو.

ده ویل ښه دئ کالي یې ورکړه هغو کالي واغوسته ولاړې، دربار ته، ده ته یې وویل راځه راپسې، دی چي راغی پسې زبزباني وویل غواړه څه

---

[2] پرجامه د شاپېریانو هغې مخصوصې جامې ته وایي چي هر کله دوی د انسان په بڼه کېږي، نو یې اغوندي او په الوزي او که یې دا پرجامې نه وي اغوستي نه سي الوتلای.

غواړې؟ ده وويل زه تا غواړم ! زېزباني خو قسم کړی و، ناچاره سوه ويل ښه دئ، زېزباني نکاح ورسره وتړله، آخر تـه يې دی پر تخت کښېناوه خپل حکومت کوي، زېزبانه و ګل خندانه يې دواړي وکړلې يو څو عمر چي وسو دی وايي زه ځم وطن ته زه خو داسي باچا يم داسي لښکر لرم څنګه و څنګه ...

زېزباني ويل ښه دئ چي ته ځې پر خدای مو سپارلی يې. نو زېزباني يوه سرنده ورکړه ويل هر چيري چي دا سرنده ووهې زه به سره د لښکره در حاضره سم. دا يې راواخيسته بيا راغی د ګل خنداني او مور څخه يې رخصت واخيستی ګل خنداني هم يوه داسي سارنګی ورکړه ويل چي هر وخت ما غواړې دا سرنده وږغوه زه به دستي در حاضره سم.

دا يې هم ځني راواخيسته را رهي سو، هغه غره لره راغی که ګوري هغه دېب لا د غره پر سر ناست دئ، چي دی يې وليدی را په هوا سو دی يې يو دم تر غره راواړاوه، بير تـه يې خپل ځای تـه راوستی، دې ګوروان دستي هغه سارنګی ووهله، يو ګړی چي وسو زېزبانه او ګل خندانه سره د لښکره په هوا راغلې، خپل څوري يې را اخيستي دي راغلي ودرېدې ويل خدمت. ده ويل خدمت دا دئ چي تاسي چي دا پسونه يا نور حيوانان حلالوئ دا لري و کولمې و سر و پښې يې مه غورځوئ يو ځای يې کښېږدئ. دوی هم ګرده ټول سره ايښوول، خير شپه تېره سوه سهار سو وختي يې ټوله رخصت کړله، شاپېرياني سره د لښکره ولاړې، دی و دېب ته وايي :

کاکاجانه ! خوره يې دا ګرده مي ستاله پاره راغوښتي دي، تـه دا دونه عمر پر غره وږی تږی ناست وې اوس نو تن موړ که، دېب هم ورتـه سيخ سو ګرده يې وخوړله.

بله روځ ګوروان وايي کاکا جانه ! زه خو ځم، دې دېب فکر وکی چي حکمت خو په دې سرينډو کي دئ، راسه دا سرينډې ځني واخله، کـه يې نـه راکولې نو به يې مړ کم. ولي هره روځ بـه دغسي استراحت راباندي وي، دوباره يې ورته وويل چي اې زويه ! تانو د شاپېريانو د وطنه و ما تـه څه شي راوړل؟ دغه سرينډي ما ته راکه !

ګوروان فکر وکی کـه يې نه کم ور وژني مي، دستي يې وويل ها کاکا

جانه ! دا سرینديږ یې ستا، دېب خوشحاله سو.
دی رهي سو، چي یو څه ځکل ولاړ ی، بیر ته ورته راوګرځېدی ویل اې کاکاجانه چي زه کور ته ورسم مور و پلار به راته وایي چي تا ته کاکا څه درکړه؟ زه به څه ورته وایم؟
دېب ویل تا دي خدای نه خوابدی کوي دوباره یې یو سوټی، یو ځنځیر، یوه مسئله ورکړه نو یې ورته ویل چي په دې سوټي کي دا حکمت دئ چي ورته ووایې چي "دی سوټیه دئ مه یې سر ګوره مې پښې" او چي پر ځنځیر حکم وکې چي تړه یې ځنځیره دستي چي هر رنګه دېب وي ټینګ یې تړي او سوټی یې وهي څو ته ورته وابس یا یې مړ کي او دا مسئله د حضرت سلېمان پیغمبر ده چي دوه رکعته نفل وکې او پر دې مسئله کښېنې ورته وایه مسئلې ! پلاني ځای ته مي بوزه، په حکمت د خدای به دي هورې ورسوي، او هر څو کسه چي پر کښېني هغونه لوېږي". ده هم ځني راواخیستله را رهي سو، تر یوه ځایه چي راغی فکر یې وکی چي اول راسه دا سوټی و ځنځیر پر ده وآزکلوه، یا به دېب مړ کي خپل سرینديږ به واخلم یا به زه هم دلته پسې مړ سم، دا ژوندون نو څه کوم. راغی پر ځنځیر یې حکم وکی، چي ونیسه تړه یې ! ځنځیر پر دېب راوپېچل سو دېب یې ټینګ وتاړه، پر سوټي یې امر وکی چي دی سوټیه دئ مه یې سر ګوره مې پښې، سوټی هم پر دېب باندي پخپله پور ته کېږي، ډب، ډب دېب یې دالته مړ کی، ګوروان خپلي سارنګی و سوټی او ځنځیر و مسئله یې راواخیسته، دوه رکعته نفل یې وکړله، پر مسئله راسپور سو دا دئ تر دې بل دېبه پوري راورسېدی. دې دېب یې ډېر عزت وکی خو د دې دېب سره یې عیناً هغسي رفتار وکی، څو دې دېب هم یو دسمال ورکی ویل چي په دې دسمال کي دا حکمت دئ چي هر څه شیان چي پکښې ایږدې ډکېده نه لري. خو آخر ته یې دا هم په داغه چم مړ کی. بیا یې دغه خپل شیان راواخیسته را رهي سو، څو دریم دېب ته راغی، د دې سره یې هم هغسي معامله وکړه، دې دېب هیڅ نه وه ورکړي دا ټوله شیان یې راواخیستله دوه رکعته نفل یې وکړه پر مسئله سپور سو، څو هغه خپل ښار ته راورسېدی، د هغه سپین ږیري موچي دېب کره نه ورغی هغه یې پرېښو.

دلته په ښار کي چوک چکه سوه چي د باچا زوم راغلی دئ، دغه ګوروان د ښار دباندي په هغه چمن کي چي ګورم یې پووی دېره سو، خپلي سریندې یې ووهلې څو هغه زبزبانه و ګل خندانه سره د لښکره یو ګړی وروسته راغلې، ویل خدمت ! ده ویل نور خدمت نسته، خو زبزباني ته یې دوه بوتله ورکړه چي دغه ستا د کوڅیو غوړي راوباسه، هغې هم بوتلان ځني واخیستل، یوه کوڅی یې پکښي ونښتېځله، بوتلان یې ور ډک کړل، څو ګوروان یې د خوشبویی څخه بې سده سو، "د دې زبزباني د کوڅیو د غوړو داسي خوشبويي وه چي هر چا ته چي به دا بوی ور ورسېدی، هغه به د روه بې سده سو، نو تر هغو به بېسده و څو یې په سرمو پوري دغه غوړي نه وي ور موښلي، تر هغو نه پر سد کېدی"، دوباره یې شاپېرياني بیر ته رخصت کړې، هغه ولاړې نو دې ګوروان دا خپل اسباب د سریندې و سوټي او ... یې پټ ښخ کړله، سهار را رهي سو هغه بوتلان یې راواخیسته، خلکو و باچا ته حال ور وړی چي زوم دي راغی. باچا یې هم عزت وکی په ډېر درب و دروب یې کور ته بوت، په سبب د دې بوتلو یو وار دروازه وان بې سده سو، نو به ده پزه ور غوړه کړه هغه به بیر ته پر سد سو.

څو باچا ته نژدې سو باچا بې سده سو، خو باچا هم پر سد سو، پر باچا ډېر ګران سو آخر ته د ده لور ته حال ورغی چي پلانکي سړي د زبزباني د سر غوړي راوړي دي او ته پلار هغه ته ورکړې یې، دې و پلار ته حال ور واستاوه چي زما بوتل راواستوه، باچا و دې ګوروان ته هم وویل چي ځه ولاړ سه حرم سرای ته، خپل کور دي دئ. ګوروان هم کور ته راغی، باچا هم پسې راغی نکاح یې ور وتړله، باچا بیر ته ولاړی.

دې د باچا لور په نیمه شپه ورته وویل چي چابک غور ځه ځه، ستا پلار د ګوروان وغیم، زه د باچا لور او ته ګوروان، زه به نو اوس تا ته ناسته یم؟ "خو ده ته یې خورا بد ښکنځل وکړه د کوره یې په تاخت راوایستی !"، ګوروان ډېري زاری ورته وکړلې چي مه کوه ارمان به وکې، ما په مسخره دا د زبزباني د سر غوړي نه دي راوړي.

خو دې ورته ویل چي یه ! ځه !

ګوروان هم راووتی هیچا ته یې رغ ونه کی پر خپله تړه ولاړی، "په

بازار کي چک چکه سوله چي د باچا زوم ولاړ"، دا خبره تر باچا پوري ورسېدله چي زوم دي ولاړی خوابدی سو، د باچا هم طبیعت خته سو هغه د وزیر زوی یې بیر ته راوغوښتی چي ځه ورسه زما زوم به بیر ته راولې. اول هم تا راوستلی دئ اوس به یې هم ته راولې، د وزیر زوی هم ناعلاجه سو پر آس سپور سو پسې را رهي سو، هله هله په ګوروان پسې ورسېدی ویل چیري ځې؟ هغه ورته ویل چي ته راسه دا زما په لاس کي څه شي دي؟ د وزیر زوی چي رانژدې سو، هغه ګوتمی چي یې د زبزباني شاپېری څخه اخیستې وه هغه یې ورښکاره کړله ویل دا ګوره څو قیمت به لري، ده ویل د دې قیمت په دنیا کي پاچهان نه لري. ویل وینې نو راځه چي شاپېریاني در وغواړم ته به د دې پاچهانو څخه څه حاصل کې.

د وزیر زوی هم ورسره را رهي سو، څو دواړه هغه چمن ته راغله، چي پخوا به ګوروان غوایي پکښې پوول، بس هغه خپل شیان چي یې ښخ کړي وه راویې کښله، دوه رکعته نفل لمونځ یې وکی دواړه پر هغه مسئله راسپاره سوه، "هغه خپل آس د وزیر زوی و یو چا ته ورکی"، پر دې مسئله یې حکم وکی چي موږ برابر داسي ځای ته بوزه چي شاوخوا دریاب او اوبه وي، سپاره سوه. مسئله په قدرت د الله تعالی را په هوا سوه، هله هله څو یې داسي د دریاب یوې جزیرې ته راوستله چي شاوخوا اوبه دي، کښته سوله، یوه خېمه یې ودروله ګوروان خپلي سرېندې راواخیستې ویې درنګولې، یو ګړی چي وسو په هوا یوه ګل خندانه ده یوه زبزبانه ده دواړي راغلې، ورته حاضري سولې ویل خدمت! ده ویل خدمت دغه دئ چي کښېنئ دستي یې ګل خندانه طلاقه کړله، د وزیر زوی ته یې ورکړله او زبزبانه ده ته کښېنستله، ماښام سو هر یوه خپلي بازی د شاپېریانو سره شروع کړلې، تر نیمو شپو یې خپلي بازی وکړلې، خو آخر ته دوی دواړه بېسده سوه.

دې زبزباني و ګل خنداني ته وویل چي راسه سبا سهار به خپل ځانونه خورا ډېر ښایسته سره جوړ کو، خپلي پر جامې به واغوندو نو به رقص ورته وکو که داسي وه چي باچازاده ګان وه نو به نه سي بېسده، هغه دئ ورسره به یو او که نه وه خوشي یو ګوروانان وه نو به بېسده سي خود به یې دغه شیان په دریاب کي وغورځوو، پر خپله لار به ځو، د دې غمه به ځانونه خلاص کو.

ګل خنداني ویل شه دئ.

سهار سولمر راوخوت دواړو خپلي پرجامې واغوستلې ځانونه یې شه جوړ کړه چي ورته کتل کېږي نه، خود رقص یې شروع کی، رخص و خواندن یې وکی، وکی، څو ګوروان د روه ښسده سو، د وزیر زوی هم ښسده سو، لیکن داسي نه و ښسده لکه ګوروان.

شاپېریاني راولاړي سوې، ګرده شیان یې چابک و دریاب ته وروغورځول اما یوه خولۍ او دسمال یې هېر سوه، هغه یې و دریاب ته ور وانه چوله، نو دوی دواړي پُر سو، والوتې ولاړې خپل وطن ته.

ګوروان و د وزیر زوی چي پر سد راغله که ګوري هیڅ نسته، نه شاپېریاني سته نه هغه د دوی اسباب فقط یوه خولۍ و دسمال ورته پاته دي، اریانۍ واخیستل چي دا څه نکل پېښ سو، د وزیر د زوی ډېره خوابده سوه ویل ولي خدای دي خوار که، د وطن و د ځایه دي راورک کړلم، دا دي په څه غضب اخته کړلم؟ ګوروان ویل خوا مه بدوه، د خدای تقدیر و که نه وای خو هغسي مېله دي وکړله او په خپله دي هم ولیده چي د شاپېریانو باچا دلې راغی اوس نو توکل پر خدای دئ هر څه چي پېښه سوه هغه به وسي.

خیر خو راغله په دې جزیره کي ګرځي، "خدای دئ" یوه لو تخته یې پیدا کړه، پر دې تخته سره راسپاره سوله په دریاب کي یې واچوله ګاهي یې باد دوري کي ګاهي یې دوري کي، "خو خدای خدای لري" یو وار یې باد راسته سو راوې وهله څو د دریاب غاړي ته په ډېر زحمت راورسېدله، په یوه چم د چمو د تختې راکښته سوله.

د دې دریاب پر غاړه یو بل ګوروان ګورم پیایي، دوی یې ولیدله دوباره یې دواړه سره را رهي کړله، پوښتنه یې ځني وکړله چي تاسي څوک یاست؟ خو په ژبه نه سره پوهېږي، اخر ته دې نوي ګوروان فکر وکی چي راسه کور ته یې بوزه شه دئ په اوسابه یې، ګاهي ګاهي به ګورم درسره پیایي، تر لاس یې ونیوله کور ته یې راوستله، و مور ته وایي :

ادې ما دا دئ دوه وروڼه پیدا کړه، زما سره به دوباره ګورم پیایي سات به مو ورسره تېر وي، مور یې ویل شه دئ ! خیر خو ډوډۍ موډۍ یې ورکړله، ماړه سوله کرار کرار په ژبه پوه سوله، دواړه هره ورځ ورسره ځي،

ګورم پیایي. دې د وزیر زوی او خپل ملګري ګوروان فکر وکی چي څو تر څو به موږ دلته ګورم پیایو، بله ورځ دواړه راوتښتېدله، و یوه بل ښار ته راغله، خورا ډېر وږي دي، هغه ګوتمۍ چي د ګوروان په لاس کي وه د وزیر زوی ته یې ویل چي راسه دا ګوتمۍ به خرڅه کو. نو یې څه کوو، ده هم ویل ښه دئ. دواړه سره راغله و یوه صراف ته چي یو غټ سېټ هندو دئ ودرېدله وایي آسېټه ! دا ګوتمۍ نه رانیسې؟ سېټ چي ګوتمۍ وکتله وایي زه خو د دې ګوتمۍ قیمت نه لرم، نه دا غیر له باچا څخه بل څوک رانیولای سي. دوی ویل هو موږ هم پوهېږو چي خورا قیمت بها ده، خو اوس ورته اړ یو موږ په وطن کي خورا ډېري لږو، که ولاړو نوري به په ګوته کو، هغه سېټ ویل ښه دئ په څو ده، ګوروان ویل چي اول به دوه غوري وریجي و غوښي راته راوړې، او بل به دوه ښه ښه آسان راولې، او دریم به یو یو خورجین سرې طلاوي راکوې او یوه یوه جوړه به ښه اعلی دریشۍ راکوې.

سېټ خوشحاله سو، دستي یې وریجي غوښي او نور شیان ور برابر کړل، دوی هم دریشۍ وکړلې ځانونه یې ساټ باټ کړل پر ډوډۍ کښېنستله، دې سېټ دستي الا کړه باچا ته یې دا ګوتمۍ یووړه چي زه به ګټه پر وکم او باچا به ما ته انعام راکي. سېټ چي باچا ته راغی ګوتمۍ یې وربښکاره کړله، باچا چي ګوتمۍ ولیدله، دستي یې سېټ ونیوی چي دا ګوتمۍ دي د څه وه، هغه ورته وویل چي داسي دوه کسان وه، پر ما یې خرڅه کړه، په دونه روپو یې راکړه، باچا ګوتمۍ په زوره ځني واخیستله، پیره یې ورسره کړله چي ورسره هغه دواړه کسان راولئ. سېټ او پیره چي سره راغله دوی دواړه پر ډوډۍ ناست دي، پیره جګه ورته ودرېدله، پیرې چي ولیدله دوی ښسده دریشۍ کړي دي، پیره ورته وایي چي راځئ باچا غوښتي یاست. ګوروان په درد ورته وویل چي څه وده چي موږ ډوډۍ وخورو پخپله د باچا سلام ته ورځو تاسي ته حاجت نسته.

پیره هم وبېرېدله چي دا لکه چي د یوه وطن باچا زاده ګان یا پاچهان دي، خو بیر ته باچا ته ولاړل عرض یې وکی چي ستا قربان سم هغه باچا زاده ګان وه، ډوډۍ یې خوړله ویل چي ډوډۍ موږ وخورو پخپله درځو تاسي ته حاجت نسته. دوی چي ډوډۍ وخوړله د روه را رهي سوله پر آسانو سپاره

سوه، دا ګوروان د دې وزير زوی ته وايي چې ته خو راخبر يې چې زه ګوروان يم، د پاچهانو مجلسونه مې ډېر نه دي کړي او نه مې داسې خبرې زده دي او تا ته معلومه ده، نو دلته به سوال و جواب ته کوې که بير ته و ما ته خدای د شاپېريانو پاچهي راکړه نو بيا خوله زما ده. ويل ښه دئ دا دي دواړه دربار ته راغله، باچا چې ور ته وکتل ويل بېشکه باچا زاده ګان دي خو باچا يې عزت وکی سوال و جواب ټوله د وزير زوی ورسره کوي، باچا پوښتنه ځني وکړه چې دا ګوتمۍ مو د څه وه، د وزير زوی وخندل ګوروان هم وخندل "ګوروان د وزير زوی ته ګوري هر رنګه چې دی کوی هغسي ګوروان هم کوي"، د وزير زوی ويل صاحبه ! موږ د پلاني ښار يو، داسي په ښکار راوتلي و، لار راڅخه غلطه سوله، دا دئ قسمت دلته راوستلو موږ سره بې خرڅه سولو، نو خود مو دا ګوتمۍ خرڅه کړله، موږ په خپل کور کي خورا ډېري لرو.

باچا فکر وکی چې دا د څنګه زوره ور دولت خاوندان دي، ور ته کتل يې د دې ګوروان د وزير تر زوی ښه رنګ و، دستي يې وويل چې تاسي به زما سره دوستي کوئ زما يوه لور ده دا يې د ده "يعني د ګوروان"، ګوروان وايي يه صاحبه! زه يې نه کوم ما بيا د وزير و زوی ته بخښلې ده، د باچا يقين سو چې دا بېشکه شاه زاده او دا يې د وزير زوی دئ.

باچا لور د وزير زوی ته ور کړه خو خوشحالي سوه، واده دئ، د واده درب و دروب تېر سو، د وزير زوی خپلي ګردني کوي، کور و کهول سوله، خپلي ميلې او عيشونه کوي يو څو عمر چې تېر سو ، د وزير زوی ورځ په ورځ تک ژړ کېږي، رنګ يې خرابېږي دا ګوروان وايي ولې؟ وروره اوس به لا چاغېدلای وړيا ښځه خدای در کړه، عيش و عشرت دي ډېر دئ، څه در کېږي؟ ژر کوه د زړه حال راته ووايه.

ده ور ته ويل چې اې وروره نه يم خبر، دا هر څو عمر چې تېر سوی دئ او ماښام زه د دې سره پرېوتلی يم، ما ګوتي نه دي ور وړي، نه مي بازی ورسره کړي دي، نه مي ارمان ختلی دئ. ماښام چې سره پرېوزو دا اسم راباندي ووايي زه بېسده سم بيا نه يم په خبر چې دا څه سي خو زه تر سهاره بيده يم، سهار چې لمر راوخېژي زه ويښ سم دا هم ناسته وي، زياتي نه يم

خبر، بړغ نه سم کولای چې داسې دئ یا داسې دئ.
ګوروان ویل تا ولې دمخه بړغ نه کاوه، درڅه چې نن شپه یې درک در معلوم کم. دواړه ماښام کور تـه راغلـه، ګوروان خپلـه خـولۍ پـر سر کـړه هیڅوک یـې نـه وینې خـو چې ماخستن سو دې بغره پـر سر کـړه د کوره راووتلـه، را رهي سوله، چابکـه چابکـه ځي هلـه هلـه څو راغلـه د دې غونډۍ څخه یو غټ حبشي تور دېب دئ چې شونډان یې لکـه د زاړه غوایي، مخ یې لکه ماښام، غوږونه یې ترازوګان، تـور کرغیړن لکـه تـور کارګـه، نوکان یې لکه د ایږ، سترګي یې لکه د بم نو څه وواېم خو یو بدرنګه بد ډوله بد شکله و ...

دا دېب پر راوغور ځېدی، چې ولې څونه وځنډېدې؟ یو څو چپلاخې یې ووهله، خو دې ښځي عجز و زارۍ ورته کولې چې نن مې وبخښه مېړه مې نه بیدېدی مېلمانه هم وه.
خیـر خـو دا ښځه د دې حبشي پـه څټ کـې سپره سوله ګوروان خـو څوک نه ویني ور په هوا سو د دې باچا د لور په څټ کې سپور سو، دېب وایي نن ولې داسې درنه یې حمل داره سوې خونه یې ځنې؟
دې ویـل یـه زه هـم داسې درنـه یـم لکـه زما پـه څـټ کې چې بل څوک سپور وي، خیر خو دغه خبرې سره کوي په غونډۍ کې یو غار دئ په دې غار یې ننه ایستله، ځي، ځي، ځي، ولاړه په دې مځکه کې یو لوی ښار معلوم سو، بل ځای دئ بل ښار دئ، "دا هم د شاپېریانو پاچهي ده، شاپېرۍ یې باچا ده"، دېب برابر راغلی د باچا په مخ کې دا یې کښته کړله، "دا دېب د دې شاپېرۍ باچـا مریـی دئ، د دې ښځي اشنای دئ"، خیـر ! خـو سره کښته سوله، ګوروان هم یوې ګوښې ته د خوني ودرېدی یو ګړی چې وسو سازنده راغله ساز سو سوبت سو د دې ګوروان ځای تنګ سو د خوني و سرتاخ تـه وخوت په دې سر تاخ کې یو رباب پروت دئ "د دې ګوروان دمخه لا رباب زده و"، شاپېریانو چې ساز وکی او دا د باچا لور هم رقص وکی، بیا شاپېریانو وکی، آخر تـه ده رباب هورې په سر تاخ کې سُر کی داسې رباب یې وواهه چې ټوله شاپېریانې یې پـر رخص راوستلې، او تعجب اخیستې دي چې دا رباب څنګه پخپله وهل کېږي؟

خير خو بېقيدي ده يو وار يوه ډله راغله رقص يې دې رباب تـه وکـی، دې ډلي يوه غټه دانه لعل لکه انار دا يې ور وغورځوله، دا ولاړه نوري راغلې دې وهم رقص وکی وکی دې بيا لکه سېب دونه غټ زمرد ور وغورځاوه، بله ډله راغله رقص يې وکی په دې کي د دې شاپېرۍ باچا لور هم ده، د غاړي امېل يې ور وغورځاوه.

(د دوی خيال دا دئ چي دلته به پراته وي "ولي خو دوی څه نه ليده" سهار به يې واخلو، وچ رباب نو دا شيان څه کوي)، نو دوی چي به دا شيان ور وغورځول ده به دستي په جېب کي واچول پټ به يې کړل.

خير ! خو يو ګړی چي وسو دا د باچا لور و دې دېب ته وايي چي ورسه و دې اشنای تـه دي يـو څـه انګـور راوړه، چـي د انګـورو مېلـه وکـي. دېب هـم ولاړی يوه بېسده پلنډه انګور يې راوړله، چي په ميدان کي يې کښېښووله ګوروان هغه خپل دسمال ورتـه هوار کی، ټوله يې پکښې واخيستله، د باچا لور وايي :

ملا دي ماته سه ! دا ځونډ نکي انګور دي راوړي وه، خو يوه نـه سوه پـه مړه، ولاړ سه نور راوړه. دېب بيا ولاړی بيا يې تر هغه لو پلنډه راوړله دا هم ګوروان ځني پټه کړله، څو د شاپېرۍ د باچا لور و دېب تـه خشکه وکړه چي ملا دي ماته سه دا يوه اشنايه دي لا په انګورو نه کړه مړه، دېب فکرجن سو.

"څه سر دي ګرځوم" مجلس ختم سو، دېب بيا دغه ښځه په څټ کي سپره کړه، دا ګوروان بيا د دې په څټ کي سپور سو، خو هغه انګور و شيان هم ورځخه دي تر غونډۍ يې را وايستله نو يې ايله کړه چي ځه په مخه دي ښه !

دا ښځه را رهي سوه خو سهار په خړه لا کور ته راغله، ګوروان هم سم په پسې دئ هغه د وزير زوی لا بيده دئ. ګوروان خپلي خوني تـه ولاړ، خولۍ يې د سره څخه ايسته کړله پرېوتی، دا هم ولاړه د مېړه سره پرېوتله، چي سهار لمر راوخوت ګوروان د وزير پر زوی برغ وکی چي وروره کښېنه !

هغه راويښ سو مخ يې پرېولی نو يې ګوښه کی چي ما خو د دې ښځي درک معلوم کی، يو ګړی چي وسي ما ته به راناري کې چي آ پلانکيه ! ورسه انګـور راوړه، چـي زه او بي بي يې سره وخـورو. زه بـه انګـورو راوړم تـه بـه يې

چختاړ کې، وا ولاړ سه نور راوړه ! زه به نور راوړم، هغه به هغه چختاړ کې ځو په آخر کي مي دوې درې چېلاخي وواهه وا ولاړ سه نور راوړه، زه به نور ښه انګور راوړم هغه به سره وخوري نور زياتي ږغ مه کوه، که دې درته وويل چي دا څه نکل دئ وا دا مي مزدور دئ.

لنډه دا چي د وزير زوی هم داغسي چم وکی. ده هم انګور راوړله، دې ښځي وپېژندل چي په دې وخت کي خو انګور نسته، دا خو د هغه دېب انګور دي، خو انګور يې سره وخوړل هيڅ ږغ يې ونه کی، ځو ما ښام سو ماخستن سو.

بيا دا ښځه ولاړه هورې يې دا قصه وکړله چي داسي نکل و. هغو شاپېريانو چي امېل، ياقوت و زمرد و هغه سر تاخ ته غورځولي وه هغه چې وکتل هغه هم نسته، فکر يې وکی چي بو حکمت دئ، او دا کار د انسان دئ، سهار وختي شاپېری حکم وکی چي پوځ دي تيار سي، درځئ چي يا به زموږ غلا راکوي يا به باچا غل په لاس راکوي.

دا ښځه سهار وختي کور ته راغله، لمر چي راوخوت نو قاصد باچا ته راغی ورته وې ويل چي يا زموږ مال يا مو غل په لاس راکه ! که نه وي پايماله مو کړې، باچا د ښار دباندي وکتل وطن ټوله شنو خېمو نيولی و، باچا وارخطا سو ولي په حقيقت نه دئ خبر چي څنګه نکل دئ. ګوروان پر راتېر سو چي باچا صاحب ! هيڅ مه وارخطا کېږه، که خدای کول زه به يې يوازي دفع وکم، ته مي سيل کوه.

ګوروان راسپور سو برابر د شاپېريانو د باچا دربار ته راغی ور تېر سو، د آس مختبيله يې د دې د خېمې پر فرش ټکوهله، برابر راغی د دې پر زنګانه کښېنستی، ويل وايه څه وايې؟

دې ويل چي زما دونه شيان چي خورا قيمت بها دي ورک دي، غواړم يې.

ده ورته ويل چي هغه خو ما غلا کړي دي، غل زه يم.

دې ورته ويل : غل ته يې.

ده ويل : هو !

هغه نخښي يې ټوله اينه پر بينه ورته وويلې. دغه شاپېری په تعجب

کي سوله نو یې ورته وویل چي ما تر اوسه مېړه نه دئ کړی یاره شاباس دئ ستا پر حکمت او دلاوري ! ته زما مېړه یې ! ده هم ویل ښه دئ.

خیر ! خو خېمې یې ونړولې پر هغه مخ بیر ته ولاړه، د دوی و ښار ته یې د وزیر زوی هم ورسره بوتی یو څو عمر یې عیش و عشرت وکی، یو وخت دا گوروان و دې ماینې ته وایي چي ته به دغه ستا په پاچهي کي داسي شی نه لرې چي اوبه سره وچوي، دې ویل چي ولچي زما د نیکه د وختو، چي و هغه ته د سلېمان پیغمبر د وختو لاس ته رسېدلې یوه لکړه سته، چي اوبو ته یې ونیسې اوبه لار وکوي، دا لکړه یې څني راواخیستله برابر راغی هغه دریاب ته چي هغه د ده شیان زبزباني شاپېرۍ ورغورځولي وه، هورې یې لکړه اوبو ته ونیوله اوبو هم لاره ورکړه، دی ورغی هغه خپل شیان یې ټوله راواخیستله بیر ته راغی. یوه ورځ ټوله سره ناست دي دباندي په هوا خوري راوتلي دي، خپل سیل و تماشا کوي، ټوله لښکر هم ورسره دئ، د هري خوا څخه سره گډ دي خو آخر ته دا گوروان د خپلي ماینې د څنگه ناست دئ دا شاپېرۍ ده ته وایي چي داسي زړه ور به وي چي تا زما د څنگه ولاړ کي؟ یعني زما خورا زوره وره پاچهي ده، تر ما به بله زوره وره پاچهي وي؟

گوروان ویل هو ! سیل یې کوه یو وار یې هغه خپلي سارنگۍ راواخیستلې وې وهلې، یو گړی چي وسو لکه اوریځ په هوا د زبزباني او گل خنداني لښکر او پوځ راغله، دغه د دې پوځ ټوله پکښې ورک سو.

دا شاپېرۍ اریانۍ واخیستله، زبزبانه چي کښېنستله دی یې د دې د څنگه راولاړ کی د خپله څنگه سره یې کښېناوه، ده ورته ویل چي څنگه صحیح دئ که یه؟ هغې ویل بېشکه.

گل خنداني د وزیر زوی د خپله څنگه سره کښېناوه، دې شاپېرۍ حکم وکی چي زما لښکر دي راټول سي. گوروان د زبزباني پر لښکر حکم وکی چي راټول کئ د دې لښکر هر چیري چي وي رایې ولئ. دوی یې یو یو پیدا کاوه گرد یې راټول کی.

دې گوروان ویل د وزیر زویه ! درځه اول سر ستا پر خسر چي د دې علاج یو وار ور وکو بیا به زما پر خسر ور کوچ سو. د وزیر زوی ویل ښه دئ. اول یې هغه باچا چي د وزیر د زوی خسر و راوغوښت، باچا راغی نو یې هغه

حبشي هم راووست، باچا ته یې دا تېر سرګذشت و خپل کیفیت او د ده د لور آشنایي ټوله بیان کړه، باچا ویل زما یې ګناه څه؟ زه خو نه وم په خبر ګوروان د باچالور راوغوښتله، د دې حبشي سره یې دواړه یو ځای په دار کړله.

باچا یې بیر ته رخصت کی بیانو پر هغه خپل خسر راکوچ سوله، دی او د وزیر زوی بیا پر دې مسئله راسپاره سوه نور لښکر په هوا دئ څو راغله هغه خپل ښار ته، د ښار دباندې یې په هغه چمن کې چې ده به ګورم پووی واړول، هلته راتا سوله، شپه تېره سوله سهار وختي یې یو غټ دېب ښار ته واستاوه چې ورسه باچا او کورنۍ یې ټوله راوله او پام کوه چې په انسانانو غرض ونه کې، نوره مېوه که دي خوړه اجازه ده.

دېب را رهي سو خورا وړی سوی دئ په ښار چې ننووت په دکان کې چې څه د خوراک شیان وه هغه یې ټوله وخوړله څو تر درباره راورسېدی راغی باچا یې سره له ټولي کورنۍ او وزیره بوتله، باچا چې یې ګوروان ته راوست لړزې اخیستی دئ چې دا څه نکل دئ خوب وینم که څه؟

ګوروان ویل ښه باچا! زه هغه پلانی ګوروان یم چې تا د زبزباني د سر په غوړو پسي ولېږلم، دغه زبزبانه ده او دغه ګل خندانه ده زه یې باچا یم. بیا یې د باچالور راحاضره کړه ویل ښه! دغه ستالور ده چې و ما ته یې پوچ او رد وویل، زه یې د کوره وشړلم او ما څوني خوارۍ وکښلې تاسي داسي وکړل.

باچا ویل ستا خبره صحیح ده مګر ما خو به بد نه وي درسره کړي زه خو به وعده خلافه سوی نه یم، ده ویل یه! نو ویل زما یې څه ګناه؟ ګوروان ویل ته معاف یې، پر هغه دېب یې حکم وکی چې دغه د باچالور وخوره، دېب هم ورحمله کړه یوه ګوله یې کړه، دا هم ولاړه و فنا ته رخصت سوله. ګوروان ویل وزیره دغه دي زوی دغه مې مابنه ورکړې ده، چې د شاپېرۍ باچا (زبزبانه) وزیره ده، اوس نو اې د وزیر زویه اختیار لرې زما سره ځې او که پاتېږې د خپل پلار سره؟

د وزیر زوی ویل یه زه د خپل مور او پلار سره پاتېږم، دی او ګل خندانه سره له نوکرانو یې دلته پرېښووله ګوروان د وزیر زوی ته وویل چې

د ګل خنداني هر وخت د خپل وطن هوا وسوه، هوښ کوه چي منع يې نه کې !
را ايله کوې به يې ... دی ځني را رخصت سو سره له ټوله لښکره هغه بله
شاپيرۍ يې هم بو تله برابر د زبزباني شاپيرۍ و وطن ته ولاړه، هورې يې
خپله پاچهي کوله، خپل عمر يې په عيش تېر اوه، د هغه ځای سو او بس !
(کيسۍ پور ته ولاړه زه کور ته راغلم)

موسی جان او ولیجان

ته وا ښه !

په پخوا وختو کي يو باچا و، د دې باچا نوم سهيلي و، څلوېښت ماينې يې درلودې.

د دغه باچا په وختو کي دوه ورونه وه چي د يوه نوم فېروز و د بل نوم نوروز و، د دې فېروز اوه لونې او د نوروز اوه زامن وه، دوى دواړو سوداګري کوله، خورا ماړه او دولتمن وه، خورا ډېره دنيا يې درلوده.

يو وخت فېروز او نوروز دواړه په سوداګري ولاړل، دوى چي تله د دواړو ماينې حمل داري وې، دوى پر لاري سره ووېل چي : هر يوه ته چي خداى زوى ورکى او هغه بل ته يې لور ورکړه دغه لور به يې د دې بل د زوى وي. دوى نو پرېږده ! خير بله ورځ سهيلي باچا په خپله بنګله کي ولاړ دئ، دوربين يې اچولى دئ شاوخوا ګوري خپلي تماشې کوي، کارونه د خداى دي يو وار يې نابيره د دې فېروز و کور ته دوربين برابر سو، د فېروز يوه داسي ښايسته لور ده چي ګل پر موښلي، په غاړه کي يې اوبه ښکارېږي، نازک نري شونډان، توري بادامي غټې سترګي، يو سپين بشر دئ چي څه درته ووايم. دا هم پر بام ناسته ده سر يې غوړولى دئ ږمونځوي يې، تر دې نورو شپېږو خوندو دا کشره ده، نوم يې (ببی) ده، څوک وايي نوم يې (شاه بيبنه) وه، دا سهيلي وليدله د روه پر مين سو، د توانه يې ووتله طاقت يې نه کېږي، خو هغه کور او ماله يې نښاني کړه، د بامه راکښته سو، دستي يې خلک ور ولېږل چي تاسي ورسئ دا د چا کور دئ، د چا لور ده، څوک ده؟

سړي راغله څرک يې وايستى، بير ته باچا ته راغله ورته وې ويل چي دا ښځه د فېروز لور ده.

نو يې دستي مرکه ورته راولېږل، خلک چي راغلل د فېروز دروازه يې

ور وړکوله، هغو ورته ویل چي څو ک یاست؟ دوی ورته وویل چي موږ د باچا مرکه یو، باچا پر ببۍ مین سوی دئ درڅخه غواړي یې، دا نقل یې ورته وکی ...

ښځو ورته وویل چي نارینه مو پر کور نسته او پلار یې هم په سوداګري تللی دئ، تاسي دونه صبر وکئ چي پلار یې راسي.

مرکه چیان بیرته راغله باچا ته یې دا حال ووایه، باچا هم زورنه سوای پر کولای پرې یې ښووله، که څه هم ډېر بې توانه و خو پر ځان یې ترړوله دا یې مناسبه نه ګڼله چي په زوره یې وغواړي.

خیر ! یوه موده چي تېره سوه فېروز او نوروز د سوداګرۍ څخه راغله. سهېلي په خبر سو دستي یې فېروز هوري ور وغوښت ډېر دار و مدار یې ورسره وکی، آخر ته یې ورته وویل چي :

دغه ستا کشره لور ببۍ نامې به ماته راکوې !

فېروز ورته وویل چي زه ګوره ته ګوره ! زه مسکین سړی یم، ته باچا یې، زما و ستا سره څه دي، یه ! نه یې درکوم.

سهېلي ډېري زارۍ ورته وکړې خو فېروز یې نه ورکوي، آخر ته سهېلي ورته وویل چي ښه دئ نه یې راکوې، نو تا به هم مړ کم، لور به دي هم په زوره راولم، فېروز فکر وکی چي د باچا سره خو هیڅ نه کېږي، هم به تا مړ کي او هم به دي لور بوزي، آخر ته ناچاره سو ویل ښه دئ درکوم یې.

بله ورځ سهېلي بیا مرکه ور واستوله، ببۍ یې ورکړه، په ډېر عزت یې واده کړه، هر رنګه واده چي و، و به ! و فېروز ته یې ډېره دنیا ورکړه نهایتي یې خوشاله کی، ببۍ یې کور ته راوستله، تر څلوېښتو ماینو یې غوره کړه او تر ټولو پر ګرانه ده، خورا عزت یې کوي. ببۍ هم د باچا په حق کي خورا راسته ده چي باچا د دباندي څخه راسي، دا یې د روه پر مخ دسمال ور تېر کي، موزې او موچني یې ور پاکي کي. "دوی دالته پرېږده عشق دي کوي"

نوروز او فېروز بیا په سوداګري ولاړه، خو د هغې خوا چي راتله خورا ډېره دنیا یې پیدا کړه، د ماینو یې هم د حمل موده نه میاشتي نه ورځي نه ګړیه پوره سوي دي، د دې فېروز بیا لور وزېږېدله، د نوروز زوی پیدا سو. د فېروز د لور نوم یې (ګلمکۍ) کښېښو او د نوروز د زوی نوم یې (موسی

جان) کنېښېښو، دستي يې د ګلمکۍ او د موسی جان نکاح سره وتړله.

خير ! عمر دئ تېرېږي يوولس دوولس کاله په دې منځ کي تېر سوله، موسی جان او ګلمکۍ د وړو کوالي څخه سره مين دي، يو ګړی يې توان نه سره کېږي، مګر زړونه يې بېغمه دي چي په حلاله نکاح يې سره ورکړي يو نن يا سبا به مو سره واده کي.

کارونه د خدای دي فېروز مړ سو، فېروز خو زوی نه درلود، نو د موسی جان مور و نوروز ته وويل چي ورسه دا نجلۍ ځني راولاړه که سبا به يوه بده و بېرانه پيښه سي.

نوروز د ګلمکۍ کره ورغلی چي زموږ ښځه په لاس راکه، ګلمکۍ خو په کوچنيوالي پلار زما و زوی ته راکړېده، او فېروز هم دغسي وصيت کړی دئ، د ګلمکۍ خوندو او مور يې ورته وويل چي يه ! د مړه خبر په مړه پسي ولاړه، که تاسي و موږ ته پوره ولور راکوئ خو ښه که نه وي نه سره رسېږي، دوی ناعلاجه سوه څه ولور يې ورکی څه يې پاته سو، وې ويل چي هر وخت دي دغه نور ولور راکی نو به يې واده کئ.

د موسی جان ټوله ورونه سوداګري کوي، دی هيڅ نه کوي، يوه خاشه پر بله نه ايږدي، په دې مابين کي نوروز هم مړ سو.

دا موسی جان ورسره په تکليف سو، ورونو ته يې وويل چي ما ته وېش راکئ ورونو يې فکر وکي چي موسی جان تر موږ ټولو کشر دئ، کوچنی هلک دئ، مبادا سبا به يې يوه بده و بېرانه د لاسه ختلې وي ټول به پوري حيران يو، نو ورته ويل يې چي ښه دئ وېش درکوو، خو وېش يې ورکی، موسی جان جلا سو د ګلمکۍ د ميني اور يې په زړه کي بل دئ، مګر د پښتني غير ته څخه څه نه وايي، موسی جان ډېر ښه ځلمی او سخي سړی و. موسی جان هره شپه ساز و صحبت کوي، مجلس وي ورونه يې هم څه نه ورته وايي، خو موسی جان په پنځه شپې کي هغه د پلار ګټلې ګرده سره وبازله، الپي الا سو، هغه ياران چي د ده سره به يې ډوډۍ خوړله او عيشونه به يې کوله هغه ټوله ځني بېزاره سول.

يوه ورځ د موسی جان مور و زوی ته وويل چي ورسه خپله ماينه دي راواده که، دی چي راغی هغو ورته وويل چي ورسه روپۍ راوړه، ده روپۍ نه

درلودې، هغو ښځه په لاس نه ورکوله، موسی جان ته غیرت ودرېدی دا یې مناسبه نه ګڼله چې په زوره د ښځو څخه ګلمکۍ راوباسي او بل یې سهېلي زوم او اخښی دئ زه یوازې یو یم، نو یې فکر وکی چې ګورم به، خو طبیعت یې خټه دئ، چې دا څنګه چل پېښ سو. نو یې دا مناسبه وګڼله چې د دې وطن څخه ورک سم، نو را رهي سو، هله هله هله راغی مزل پر مزل تر خپل وطن راووت یوې بلې علاقې ته ورغلی ډېر ورځ دئ د یوې کلا دمخه سره څو کسه بازۍ کوي مجلس دئ، دی راغی سلام یې ور واچاوه، هغو ستړې مسې ورته وکړه، زیاته یې چرت نه پکښې وواهه، موسی جان ورته وویل چې ځوانانو زه مزدوري کوم، خلکو چې د ده و رنګ ته وکتل په نظر یې یو شازاده ورغی، ولي د ده ډېره ښه سکه وه، نازک بدن یې و، فکر یې وکی چې دا سړی مزدوري نه سي کولای، نو یې ورته وویل چې یه ! نه ته مزدوري کولای سې او نه موږ مزدوري در کوو.

خیر ! د غیرته یې ږغ ونه کی هیڅ یې ونه ویل، د دغه ځای څخه را رهي سو خو دغسي ورځ تېرې یوې بلې کلا ته راغلی، بیا یو څو کسه سره ناست دي بیا ده ورته وویل چې زه مزدوري کوم، هغو هم فکر وکی چې ګوروان نه لرو، ګوروان به یې کو، ګورم به پیایي، ورته ویې ویل که ګوروانی کوې خو ښه دئ، زموږ ګوروان هم وتلی دئ، موسی جان ویل ښه دئ، آبس کلي هم ګورم په لاس ورکی، خپل ګورم پیایي، هره ورځ یې یوه چمن ته بیایي، راولي یې ماښام ټوکان ټولوي، خو فکر یې ډېر بد او طبیعت یې خټه دئ.

بله ورځ یې یوه بل چمن ته ګورم بوت، که ګوري په دې چمن کي یوه د خاشو کوډل ولاړه ده په دې کوډل کي یو ملنګ ناست دئ یو رباب ورته ځړېږي.

موسی جان ورته راغی سلام یې ور واچاوه، ملنګ ستړې مسې ورته وکړه، ویل ځوانه د کم ځایه راځې؟ ده ورته وویل چې زه د دې کلي نوی ګوروان سوی یم، خورا خپه یم که یو ګړی دغه رباب راته ووهې ! ملنګ هم رباب راواخیستی سُر یې کی، داسي رباب یې وواهه چې توبه ! د دې موسی جان او د ملنګ سره اشنایي سوه، موسی جان هره ورځ دغه چمن ته بوده

راولي بيايي يې، دی و ملنګ خپل رباب سره وهي، آخر ته موسی جان هم رباب زده کی سات يې سره تېر دئ، "دوی نو دالته پرېږده".

يو ولي جان نومېږي، د وليجان يو څه مځکه وه د يوه سړي سره يې پر دغه مځکه دعوه وه څو دغه دعوه تر سهېلي پوري ورسېده، دا سړی ډېر دولتمن و، د باچا سره هم تيار و، شاوخوا يې رشوت وبازه څو سهېلي پر وليجان حکم وکی چي ملامت يې، که څه هم باچا په خبر و، چي حق د وليجان په جانب دئ.

د وليجان خورا طبيعت خراب سو ويل خير ! زه به هم خپل واري ته ګورم کور ته ولاړ.

هلته د سهېلي د ماينو اوقات تريخ سو، باچا هيڅ کاته نه ورته کوي، يوازي د ببی سره خپت دئ.

دې ماينو يې سلا سره وکړه چي راسئ د دې يو بندوبس وکو، خپل بند يې سره وتاړه چي ببی به بوزو داسي به په وکو داسي . . .

آخر ته يې ببی ته وويل چي دا دونه عمر وسو په دې څلورو دېوالو کي د بند بندۍ ناسته يې، صورت دي وخوړل سو اوه يې کړه.

دې ورته ويل نو څه وکم؟

دوی ويل د باچا څخه رخصت راواخله د پسرلي وخت دئ تازه هوا ده، ګلان غوړېدلي دي، شين دښت دئ، موږ به لا هم يوه مېله درسره وکو، ګوندي ستا د رويه لا موږ هم پرېږدي.

ببی ورته وويل چي باچا ته پر څه ډول ووايم؟

دې بنو يې ورته وويل چي چم يې داسي دئ، چي نن سهېلي د درباره څخه راسي ته بالکل چرت مه پکښې وهه او مه ور ولاړېږه، مه يې سلام کوه، بلکي د لاسه لا شا ور وګرځوه. تندی تريو ونيسه. خود به دی پوښتنه درڅخه وکي چي ولي داسي خوابدې ناسته يې؟ ته به ورته ووايي چي دا د پسرلي وخت دئ، تازه هوا نوي ګلان، د بلبلو نارې، په شنو باغو کي د اوبو شرهار، او سره ګلان، وطن ټوله ګل ګلزار دئ او ته تل مدام تللی يې خپلي مېلې او تماشې کوې، چکرونه و ګښت وهې موږ مسکيناني، بېوزلي، عاجزي د بند بندي تمامي عمر په دې څلورو دېوالو کي ناستي يو، هيڅ ځای مونه

دئ لیدلی نو خود به خپه ناسته یم. ته هیڅ زړه سوی نه لرې چې د دې خوارانو خو هم دغسې زړه دئ لکه زموږ چې هوا کېږي د دوی به هم داسې هوا کېږي. نو که یې تا ته یوازې رخصت در کی، خود به ته ورته ووایې چې و دې بنو ته مې هم رخصت ورکه چې سات مو سره تېر وي.

دې ببۍ ویل ښه دئ!

په دې سهار چې باچا ولاړ مانښام چې بیر ته د دربار څخه راغی، دې ببۍ هیڅ خیال نه پکښې وواهه، نه یې سلام ور واچاوه، د خوني په دروازه کې ناسته ده شا یې ور وګرځوله.

د باچا خورا طبیعت خته سو، چې دا ولې نن هیچا زما تعظیم ونه کی، خو دغسې ولاړ دئ، د ببۍ څخه یې پوښتنه وکړه چې چا جنګ درسره کړی دئ؟ چا ښکنځل درته کړي دي ولې داسې جوته ناسته یې؟

دې ورته وویل چې ولې به جوته ناسته نه یم، دا د پسرلي موسم دئ، دا ښه هوا څنګه و څنګه خو هغه تقریر یې ورته وکی، باچا یې په حال خبر کی.

باچا وویل خدای دې نه کوي څنګه به زه تا خپه کوم زر کر ته خو ولاړه سه! خیر خو د هغو نورو څلوېښتو مېنو رخصت یې هم څني واخیستی.

په دې سبا باچا دمخه خواجه ګان وایستل په یوه لوی دښت د غره په لمن کې یې خېمې ودرولې، خواجه ګان یې شاوخوا پر ګوښو ودرول چې هوښ کوئ هیڅوک مه پرېږدئ، خواجه ګانو هم شاوخوا بندرونه ونیول، د باچا څلوېښت مېنې دي یوه شابېښه (ببۍ) ده راغلې په دښت کې په خېمو ننوتلې کښېنستلې، خپل عیش او عشرت کوي، بازۍ کوي پوړني یې غورځولي دي.

هغه ولي جان چې سهېلي پر مځکه ملامت کړی و په ښکار راوتلی دئ، هوسۍ یې پسې را اخیستې ده، هوسۍ د باچا د مېنو د خېمو و خوا ته الا کړه، چې ده آس پسې ور وځغلاوه خواجه ګانو منع کی، ویل دوري مه څه د سهېلي حرم راوتلی دئ حکم نسته.

ولیجان چې په خبر سو، وخت یې غنیمت وګاڼه چې څنګه ښه موقع خدای په لاس راکړه، آبس آس یې راپڼده کی د خواجه ګانو څخه په زور راتېر سو راغی برابر د ښځو خېمې ته د ښځو پوړني پر سر نسته، دی جګ

ورته ودرېدی، خو هغو (یوی یوی) سیده کی، ولیجان پکښې کتل کتل دا ببی یې تر ټولو خوښه کړله، (ځکه دا تر ټولو ښایسته وه)، آس یې ورته راتېر کی توره یې پسي راوکښله ببی ته یې ویل چي ژر کوه سپربړه، که نه وي اوس به دي سر غوڅ پرې کم، هغه هم خواره چټکه تر شا پسي سپره سوه، څو خواجه ګانو کونه سره ښوروله ولیجان ببی یووړه.

خواجه ګانو فکر وکی چي د سهېلي هغه ګرانه ماینه یې بوتله، که موږ ورغلو یو به ژوندی نه پرېږدي، خو دا هم پر هغه مخ وتښتېدل.

ښځي که څه هم نهایتي خوشحاله سولې، لیکن اوس د سهېلي څخه بېربېږي چي ببی تاسي وژلې ده یا مو څه کړه؟ موږ به څه جواب وایو؟

آخر ته (ښځي دي مکرونه یې ډېر زده دي)، دا پلمه یې سره جوړه کړه چي موږ کور ته ورسو ټوله به سره ژاړو، باچا چي راسي دی به وایي ولې ژاړئ؟ موږ به وایو چي افسوز دئ هغه ستانېکی او د ببی بې شرمي ! چي موږ سهار دښت ته ولاړو دې د مخه لا د یوه ځوانه سره قول کړی و، دمخه یې لکه چي تار ورسره اچولی و، چي موږ په بازیو اخته سولو یو ځوان پر آس سپور توره کښلې په زوره تر خواجه ګانو راتېر سو، راغی دا یې دستي تر شا سپره کړه ولاړه، تا ته یې هم ښکنځل وکړه، موږ ته یې هم پوچ وویل. دا بانه یې جوړه کړله ماښام ښځي کور ته راغلې، په کلا کي څوک نسته د سهېلي هم زړه فارغ دئ، هلته په دربار کي ناست دئ، وایي چي کور څوک نسته نو څه کوم چي ورځم. خو ماخستن کور ته راغی که ګوري د ماینو یې سنګهار دئ، یوه هلته ناسته ده ساندي وایي یوه دلته ناسته ده ساندي وایي، دوباره سهېلي شاوخوا وکتله ببی نسته نو پوښتنه یې ځني وکړه چي ولې ژاړئ؟ او ببی چیري ده؟ دې ماینو یې دا تېر نقل ورته وکی چي داسي یار یې درلود، څنګه او خواجه ګان د بېري وتښتېدل ببی ولاړه.

د سهېلې نهایتي ډېر طبیعت خټه سو، زړه یې خورا تنګ سو، خو څه یې ونه ویل ولاړ پرېووت، خو تر سهاره لټ پر لټ کېږي، ښوري د خوابدی خوب نه ورځي چي یوه خو مي ښایسته ماینه ولاړه او بل څونه بدنامي ده.

سهار چي دربار ته راغی د باچا ښه پر بله اوښتې ده، مخ یې تک سور دئ عملې یې پوښتنه ځني وکړه چي صاحب ! ستا قربان سم ولې دي

طبیعت خراب دئ؟ څه درپېښ سوي دي؟
سهېلي دا تېره کیسه ورته وکړه، چي : ببۍ ورکه ده.
دي عملي یې ورته ویل دا آسانه امر دئ، فکر مه خرابوه، هغه به هم خدای پیدا کي او بله به تر هغې ښایسته ښځه وغواړې! خو باچا ته یې د زړه ډاډ ورکی. دستي یې شاوخوا سړي پسي ولېږله چي ګوندي کم څرک یې پیدا کي.
دلته د ګلمکۍ خپلوانو فکر وکی چي ببۍ خو څني ورکه سوه، او دا ګلمکۍ خو مېړه لري، باچا دئ که یې یو واري وویل چي زه ګلمکۍ غواړم، نو موږ به څه کوو، د لاسه مو څه نه ورسره کېږي، نو یې ګلمکۍ په زېرزمیني کي واچوله، دا انګروزه یې ګډه کړه چي ګلمکۍ ناجوړه ده، دوې درې ورځي چي تېري سوې نو یې یو پنډ تیر لکه سړی په سپین کفن کي وپېچی یو څو ښځي یې پر راټولي کړې ژاړي، یوار چټک چوکه سوله چي ګلمکۍ ناجوړه وه، مړه سوله.
خیر ! جنازه یې جوړه سوله دا تیر یې یووړی په قبر کي یې ښخ کی، د ګلمکۍ پاټا یې واخیستله.
هغه سړي چي په ببۍ پسي تللي وه، ببۍ یې پیدا نه کړه، دې وزیرانو یې ورته وویل چي بله ښځه به در وغواړو، یو چا وویل چي د ده وړه ګلمکۍ ده، د ببۍ خور، سهېلي ویل چپ که هغه خوارکۍ خو لا دوخته مړه ده، یوه زړه ګوبیره بوډۍ ده راغله و باچا ته وایي چي ستاسي اختلاف دئ، زه به د ګلمکۍ حال درته راوړم اما هو ما ته به ډېري روپۍ راکوې. ګلمکۍ ما ته معلومه ده، باچا ډېر خوشحاله سو خورا ډېري روپۍ یې ورکړې، دې بوډۍ ته یې درک معلوم و، برابر راغله د هغې زېرزمینۍ د خولې سره کښېنستله، سر یې پټ کی په زوره زوره په کوکارو ژاړي، د ګلمکۍ پکښې فکر سو.
دوباره یې تر دربچې وکتل زړه یې پر وسو ویل آبوډۍ ! ولي داسي ژاړې خیر دئ؟ بوډۍ د مکر پاڼي راپورته کړې ویل آ زویه ! څه درته ووایم په پخوا وختو کي زه لا کوچنۍ وم، پلار مي بېسده خان و، زه تل مدام لالا ګانو پر اوږو ګرځولم، چي لږ څه غټو کي سولم نو یې دوی مینځاني راته مقرري کړې چي زما خدمت یې کاوه، بیا چي لو سولم نو یې و پلاني خان ته

ور کړلم، په څه درب و دروب یې واده کړلم، بیا الله تعالی زامن راکړه، "یو واري شنه د ژړا ولاړه سي ځان د مځکي ووهي سر وشکوي"، ټوله زامن مي مړه سوه، مېړه مي مړ سو، دنیا مي دربدره سوه، اوس پر یوه ګوله ډوډۍ قدرت نه لرم، پکر ته اړه سوم پکر کوم. یوه لور لرم د هغې خوا اختر راغی لور مي کالي غواړي هر ګړی راته ژاړي، زه پیسه نه لرم او نه جامه لرم، اوس اریانې اخیستې یم نه پوهېږم چي خدایه ! څه وکم.

د دې ګلمکۍ ډېر زړه پر وسو، دوباره یې خپل اغوستې یوه جوړه کالي ورکړه چي دغه دي لور ته یې یوسه.

بوډۍ کالي راواخیستله برابر یې و سهېلي ته په وچ تاخت راوړه، دا ټېر نقل یې او د دې نخښي یې ټوله ورته وویلې چي نه ده مړه دغه یې کالي دي.

باچا د ګلمکۍ خپلوان راوغوښتله ویل دا ښځه مو ولي پټه کړې ده؟ دوی هغه نقل ورته وکی چي دا خو مېړه لري، مېړه یې هم ورک دئ، موږ فکر وکی چي د مېړه ښځه ده سبا به سهېلي په زوره بېولې وي، هم به زموږ غاړي بندي وي هم به د ده، نو خود مو پټه کړله.

سهېلي ورته وویل چي خدای خبر هغه مړ وي که چیري وي، که بالفرض راغی زه به ښه ښځه ور وغواړم.

خپلوانو یې ورته وویل چي ته باچا یې څه مو د لاسه نه درسره کېږي، په ګلمکۍ موږ کار نه لرو ورسه هر څه چي یې کوې خپله خوښینه دي ده رضا یې که.

سهېلي پخپله د ګلمکۍ کره راغی، ګلمکۍ ته یې ویل چي ته مخ راښکاره که چي ودي ګورم، "د دې صفت خو دمخه لا ورته سوی و، چي تر بېۍ دا ښایسته ده"، دې ګلمکۍ فکر وکی چي زوره ور دئ هیڅ نه ورسره کېږي، او زما مېړه هم ژوندی دئ نو زه څنګه مخ تور کم، دوباره یې ورته وویل چي ډېر ښه دئ، ته شپېته ګزه دار جګ که پر سر یې درې کټوري د سرو زرو ور کښېږده، هر چا چي دغه درې کټوري په غشو راواچول نو زه به تا مېړه کم (په دې کي یې مقصد دا و چي ګوندي په دې ترخ کي موسی جان پیدا سي)، خیر ! دې سهېلي هم شپېته ګزه دار جګ کی، درې د سرو

زرو کټوري يې پر سر ور کښېښوول، نو يې د وطن ښکاريان راټول کړل حکم يې وکی چې هر چا که دغه کټوري راواچول دونه روپۍ يې انعام دئ، اوس نو هر څوک راځي ولي يې، ځان پر ګوري.

"د وليجان د بيبۍ څخه زوی پيدا سو، خلکو زېرې پر وکی، يو ګړی چې وسو بيا سړو زېری پر وکی چې هغه ستا ماديانه هم لنګه سوله، نر کرنګی يې وزېږاوه، وليجان خوشحاله سو د زوی نوم يې ميرولي کښېښو او د بهاڼ نوم يې پړانګی کښېښو، نو يې وويل چې دا پړانګی د ميرولي دئ، چې دواړه سره لوی سي نو به ميرولي پر سپرېږي"، سهېلي فکر وکي چې هيڅوک دا کټوري نه سي را اچولای، زه به تر څو پوري دا د غم شپې تېرومه ويې ويل چې ګلمکۍ به په زوره راولو، يوه ښځه ده ولي دا دونه تکليف پر ځان تېروو، دوباره يې جوپان او سړي ور ولېږله چې ورسئ رايې ولئ.

ګلمکۍ چې خبره سوله چې نه کېږي، بيايي مي، نو يې يوه خورا تېره چاړه ورسره واخيستله، خلک راغله ګلمکۍ يې په زوره په جوپان کي يووړه ور يې وستله د باچا په حرمسرای کي يې کښېنوله کړله، چې ماښام سو سهېلي راغی چې خوني ته ور ننوت ور نژدې سو، ګلمکۍ مخ ځني پټ کی، سهېلي ور تېر سو، ګلمکۍ وژړله ويل مه کوه مه راتېرېږه، زه بل مېړه لرم، موسی جان نومېږي، ته يواري دغه موسی جان پيدا که رايې وله يا يې مړ که يا مي په طلاقه که يا دغه کټوري په غشي راواچوه، تر هغه ساعته زما ديد پر تا حرام دئ، يواري يې چاړه راوکښله و خپل لرمانه ته يې ونيوله، ويل که راتېر سوې زه ځان په دغه چاړه وهم، او که مي پر تا لاس بر سو، تا وهم، زما په ژوند والله که لاس راوړې مګر زه مړه سولم يا دي بله چاره ونه کړه.

سهېلي فکر وکی چې اوس يې پای څه؟ موسی جان نه پيدا کېږي، او که پيدا سي په لاس نه راځي، خير خو ناعلاجه سو په موسی جان پسي يې خلک ولېږل، و کټوريو ته يې هم ښکاريان وفرمايل.

"يو ملنګ دئ را رهي سوی دئ، دا دئ هغه چمن ته چې موسی جان ګورم پکښې پيايي راغی، ورغی هغې کوډلي ته موسی جان ستړې مسې ورسره وکړه دوباره يې پوښتنه ځني وکړه چې سړيه ! د کمه راځې؟ ده ور ته وويل چې د سهېلي د ښاره راځم، موسی جان وويل ګلمکۍ جوړه وه؟

ملنګ ویل چې هغه خو سهیلي په زوره بېولې وه، دا نقل یې ټوله ورته وکی، باره ملنګ پر خپله ټره ولاړ".

موسی جان خورا ډېر خوابدی سو، خو رباب یې راواخیست سُر یې کی داسي یې وواهه چې هغه خپل اندیوال فقیر ګوته په غاښ ورته ونیوله. فقیر دغه رباب موسی جان ته ور وباخښه، وروسته موسی جان ویل فقیره ! د دې پای یې څه؟ فقیر ورته ویل چې دا د بل چا د لاسه نه کېږي، په ارنایي کي ولیجان نومېږي، په اصل ترین دئ، چې خورا یو زبده بهادر، غښتلی او توریالی او ډېر وفاداره ځوان دئ، که هغه څه درسره وکړه خو ښه، که نه وي د لاسه دي څه نه ده پوره.

موسی جان ګورم پرېښو، رباب یې و څنګ ته واچاوه، د فقیر څخه یې دعا او رخصت راواخیست را رهي سو، هله هله دا دئ ارنایي ته راغی، برابر پر پوښتنه د ولیجان مهمانخانې ته ورغی، د ولیجان سره یې روغبړ وکی، ډوډۍ چې یې وخوړله ولیجان ورته وایي چې ځوانه ته خو یو ګړی دغه ستا رباب راته ووهه چې لږ څه مي طبیعت خټه دئ، چې طبیعت مي لږ څه ښه سي بیا به پوښتنه سره کوو.

موسی جان هم رباب د کڅوړي څخه راویوست سُر یې کی داسي رباب یې ورته وواهه چې ټوله داسي منګ ورته ولاړل، خیر خلک چې سره ولاړه ولیجان پر رباب او د ده پر ځوانۍ عاشق سو، ویل سړیه ! ته به نه ځې ! هر څه چې غواړې زه یې در کوم او اوس نو پوښتنه درڅخه کوم چې څنګه راغلی یې؟

موسی جان ورته وویل چې زما نوم موسی جان دئ او د ګلمکۍ نقل یې ورته وکی، "دې ولیجان ته خو بیۍ ټوله نقلونه سر تر پایه کړي وه" یو وار یې سره وپېژندل ولیجان ویل چې هغه بیۍ نامې خو زما څخه ده، موسی جان یې کور ته بوت، د اکالور یې هم خپه وه سره ویې لیده خورا خوشاله سوله، روغبړ او پوښتنه یې سره وکړه، اوس نو سره اخښیان سول، خورا سره ګران دي لاس د ورورۍ یې سره ورکی، د ولیجان یو آس و چې نوم یې اتم پر ایښی و، دا یې و موسی جان ته ورو باخښه او یوه جوړه یې غشي ولینده ورکړه ولیجان ورته وویل چې خدای به یې اسانه کي، خدای د کراري مل دئ، واري ته به ګورو خوا مه بدوه، موسی جان و ولیجان هره ورځ ښکار ته

ځي او راځي خورا يې سات سره تېر دئ.

يوه ورځ دوی په ښکار تللي دي، دې سهېلي د دوی ځر ک وايستی چي موسی جان او ولیجان نومېږي، ډېر ګنده پهلوانان او ښکاريان دي چا ورته وويل چي دا کتوري ببله دوی څخه بل څوک نه سي را اچولای، نو خود اووه کسه سپاهيان يې ور ولېږل چي ورسئ موسی جان او ولیجان راولئ، که په رضانه راتله په زوره يې راولئ، سپاهيان هم را رهي سول ويل دا دوه کسه دي څه لحاظ يې کوو، چي ورسو د روه به يې زند و بند وتړو راکش به يې کو.

خير ! دا سپاره چي راغله د وليجان د کلا دمخه ودرېدله، ميرولی د ولیجان زوی کوچنی هلک دئ، په بجلو او بازيو اخته دئ، دا سپاره چي يې وليدله راغی سلام يې واچاوه ورته ويې ويل تاسي کښته سئ په مهمانخانه کي کښېنئ، ډوډۍ به وخورئ هر څه چي وي خدای به يې اسانه کي، خو سپاهيان خورا پېشرو وهي نه کښته کېږي.

تر دې مابين موسی جان و ولیجان راورسېده، د ليري څخه يې دا سپاره وليده چي ولاړ دي، وليجان و موسی جان ته وويل چي ميرولي لکه چي د دې مېلمنو عزت نه دئ کړی چي ولاړ دي، ولیجان قسم واخيست که يې د مېلمنو عزت نه وکړی که يې بې مرګه پرېږدم. چي رانژدې سول که يې کتل ميرولی زارۍ ورته کوي چي کښته سئ! دوی نه کښته کېږي، وليجان چي خپل زوی وليد ډېر ځني خوشاله سو، ويل آفرين ښکه زما زوی يې، پښتون يې، دوی چي ښځي رانژدې سول که ګوري اووه کسه سپاهيان دي، "د دې وليجان يوه خور وه تانو نومېږي دا پر بام ولاړه ده، ګوري چي کله به دوی راسي موسی جان تانو وليدله چي پر بام ولاړه ده، وپوهېدی چي يو څه ټکه سته، نو موسی پر تانو باندي ناره وکړه،(څه بې ويلي وي.)، (هر څه چي وي وابه يې روې) :

که پوځي د تانو خولګۍ مي پوځي

ما په خدای قسم درکړی -تانو خوري دا راغلي سپاره څوک دي

تانو چي دا واروېده د بام د خوا يې ناره پر وکړه چي پوه سي :

موسی جانه تا په خدای کړم بزه ګاره

په هغه خدای زما قسم دئ -دا راغلي سپاره د سهېلي دي

د موسی جان خو دمخه لا زړه خوړین و، یو توپک یې درلود چې نوم یې همدم پر ایښی و، چې د سهیلي نوم یې وارویدی دستي یې سترګي چپه سولې توپک یې ورته کښېښو پایې یې په مځکه ونجتلې او روبکري یې پر ووهله، ټک یو یې ځني وویشت، دې د سهیلي سپرو فکر وکی چې اوس به ګر ده دالته قتل کي، نو یې پر موسی جان ناره وکړه :

که همدم دئ موسی جان توپک همدم دئ

تې پایې د مځکي کاږه، زموږ په سپین قرآن له تا سره قسم دئ

موسی جان و دې ته غوږ نه ونیوی خو ورته سنګر سو، شپږ تنه یې ځني وویشته، یو سپاهي په تاخت ځني ولاړی سهیلي ته ورغلی ساه یې لنډه لنډه کېږي، داغسي سالنډی په دربار ورننووت، دا کیسه یې ورته وکړه چې هغه داسي خلک دي چې توبه، ته یې نه سې راوستلای، ببې هم هلته وه.

د باچا ډېر طبیعت خراب سو چې تا خو به پټ راته ویلي وای، په عام دربار کي داسي خبر څوک نه کوي، خو مغزی په وځړېدی چې ددې پای یې څه؟ مجلسیانو یې ورته وویل چې د زور یاري خونه کېږي، فایده نه کوي، یه ! ته قرآن شریف مهر که ور ویې لېږه ګوندي راسي بیا هر څه چې په کوې.

سهیلي هم قرآن شریف مهر کی، د سیدانو او ملایانو په لاس یې ور کی ور ویې لېږی ورته ویې ویل چې ورسئ رضا یې کئ رایې ولئ.

دا مر که چې راغله موسی جان او ولیجان د کلا دمخه پر دېواله اګی کتار کړي دي یو یې د یوه سره په غشي ولي او بل ېې د بله سره یوه یوه اګی ولي، خپله سترګه پخوي، دې سیدانو د ولیجان او موسی جان په غېږ کي قرآن شریف ور واچاوه، هغو قرآن شریف واخیست مچ یې کی نو یې ورته وویل چې څه نقل دئ؟ څه دي؟ دوی د سهیلي او د ګلمکی بیان سر تر پایه ورته وکی خیر خو ډېر عزت یې وکی سیدان یې رخصت کړه چې ښه دئ سبا به موږ پسې درسو.

سیدان چې ولاړه دوی دواړه کور ته راغله چې سلا سره وکي، چې ورسو که یه، د ولیجان خور تانو ورته وویل چې یه مه ځئ، ولي چې دښمن دئ "د دښمن دا اول کلام پسې تیفونه"، د دښمن په قرآن او قسم باور نسته، څوک دي باور نه په کوي، هر څه دلایل چې تانو او نورو ورته وویل دوی نه

پاتېده ویل یې مور خو، ځکه چي دا به بیا یولوی پېغور راپاته سي او بلکي زمور و نسل ته به خلک پېغور ورکوي چي هغه مو پلرونه وه چي د سهېلي د لاسه به کور د ښځو تر پلو لاندي پټېده، او چپ له دې د باچا سره هم څه نه کېږي، چي سبا به یې په کلا کي د ښځو دمخه لاسونه راتړلي وي او کشوي به مو، و مور ته ګاز راجوړ کی سبا ځو، خو کاروبار یې جوړ کی بیده سوه، دغه تانو تمامه شپه ویښه ده خوب نه ورځي نه بیدېږي، وایي که بیده سوم بیا به یې نه ووینم خو په دغه چرت کي ده پرېشانۍ یووړه، بیده سوه. خوب ویني چي "زما د لاسه ښځه یو باهو مات سي"، خو راویښه سوه چي خدای دي فضل کوي سهار وختي ولیجان آس راتېر کی، چي ځو به ځینوي یې د آس ششنی دئ تانو وارو پدی دوباره یې ناره پر وکړه :

ولیجانه برایي مي خوب لیدلی

چي په لاس مي دوه باهو وي - دغه یو له بله وموښلي یو مات سي

چي یعني ما خو دا خوب ولیدی مه ځئ یوه واکیه او ډکه به در پېښه سي، خیر ! خو دوی چي راوتله د ښځو سره ژړا سوله، کوځې ته چي راووتله، ولیجان و موسی جان ته آس ورکی چي دا یو ګړی تکیه که چي زه ورسم دغه ښځي دلاسا کم، ولیجان کور ته راننوت خو یو ګړی وځنډېدی هلته و ښځو ته نصیحت او دلاسایي ورکوي چي مه ژاړئ خدای مهربانه دئ بیر ته به راسو، موسی چان په دروازه کي ودرېدی، ناره یې وکړه :

ولیجانه دا د ښځو په قول نه سې

ولیجانه ژر راووزه - د کړوسو به مو پېغور سي

چي یعني پاته نه سې، ولیجان هم دستي د کور څخه راووت پر آسانو سپاره سول، تانو پسي راووتله ناره یې پر وکړه :

ولیجانه مخ راستون که زما جانه په دیدن دي مړه نه سوم

ورځئ ورځئ په مخ مو ښه سه - ولیجانه غائبانه سپاره مو مله سه

تانو فکر وکي چي د موسی جان خوابده نه سي، چي ګوره دی خور لري زه څوک نه لرم نو پر ده یې هم ناره وکړه :

که توره د موسی قبا ده توره

د دار مځکي له چي ورسې - د دار لاندي مځکه ګوره

چي يعني تر دار لاندي يې څانه وي کيندلی پکښې ونه لوېږې پام کوه، بيا يې بله ناره پر وکړه :

موسی جانه چي په پښو دي کج موزې دي
د دښمن خواړه ونه خورې – وا په خوله مو د ايام فرضي روژې دي

يعني کـه يې ډوډۍ درکوله ورتـه ووايـه چي زمـوږ روژه ده هوښ کـوه چي ويې نه خورې نه بايده دښمن دئ چي زهر يې نه وي پکښي اچولي.

خير ! خو د کوره څخه رارخصت سوله را رهي سوله، خپله وسله يې پـوره تـر غشـي ولينـدۍ پـوري راواخيسـتله، هلـه هلـه هلـه دا دي ښـار تـه راورسېده، هغـه د مرکې خلـک چي پـه دوی پسي راغلي وه باچا تـه ورغلـه "چي ګوندي انعام راکي يانور څه"، حال يې ور وړی چي دا دي موسی جان او وليجـان مـو راوستله، سهېلي خوشحاله سو د دوی مخـي تـه راولاړ سو پـر آس سپور سو، خـو هغـه هـم راغلـه پـه دربار ور ننوتـل، موسی جـان و وليجـان فکر وکی چي اوس به مو بېځايه دواړه دالته خـپ و چـپ کـي مړه بـه مـو کـي، په راسه چي د سهېلي رموز معلوم کونو وليجان ناره پر وکړه :

که ورو[1] که د نيلي واګي[2] را ورو که
که په زړه څه لرې – سهېليه په نري رموز مو پوه که

سهېلي فکر وکی چي دوی لکه چي ببرېږي، اوس بـه پـه سـم دربـار کـي فساد جوړ سي، نو سهېلي ناره پر وکړه :

که را ورو که موسی جان نيلی را ورو که
چي نيلی دوه قدمه اخلي – دا دريم دي د سهېل پر لېمو که

خير ! خو زړه يې سره وموښت نژدې راغله نوکرانو آسان څني ونيول دوی يې پر چوکيو کښېنوله، پس له روغبړه او ډوډۍ خوړلو، د سهېلي د کور د څنګـه يو د ده مخصوص باغ و، و دې باغ تـه سره ولاړه چکـر وهـي، ليکن سهېلي يـې نـه پېژني چي کـم يـو موسی جـان او کـم يـو وليجـان دئ، پـه دې تـرخ کـي ګلمکـۍ خبره سوله، چـي موسی جـان او وليجـان راغلـي دي، دسـتي پـر بـام وختلـه کـه

---

[1] ورو که : يعني سستي يې که.
[2] واګي : جلو، ملونه.

ګوري دواړه يې وليدله، موسی جان يې وپېژاند ګلمکۍ ناره پر وکړه :

سهيليه ستا په باغ کي سپاهيان څوک دي
يو موسی دئ بل ولي دئ – موسی څونې غوړي کړي توکي[۳]

سهيلي هم وپېژندل، او د ګلمکۍ ميني په زړه نو يو الله خبر دئ، آه ! خو مازيګر سو شپه تېره سوله سهار راغله د دار ميدان ته، شپېته ګزه دار جګ ولاړ دئ، په سر کي يې درې د سرو زرو کټوري ور ايښي دي، وليجان کښېنوست.

سهيلي ډولچيان ورته راوغوښتله ساز ورته کوي، موسی جان غشی و لينده راواخيستله پر آس سپور سو، راغی و دار ته، مخلوق د خدای راوتلي دي سيل کوي چي دا دونه عمر چا ونه ويشتل اوس دا څنګه ځوانان دي، چي کټوري را اچوي. موسی جان غشي و لينده په ګرت کي ورته سم کړه "ټاک سو"، په اوله پلا يې يو کټوری راواچاوه، بيا يې بل کټوری د لاندي راواچاوه، "تر دې مابين د ښار د ښکاريانو زړه درد وکی چي دا دونه عمر يې ځانونه پر ستړي کړي وه، ليکن هيچا ونه ويشتله نو يې لاس پورته کی، د موسی جان په حق کي ښرا کوي، دې موسی جان فکر وکی چي دا لکه چي و ما ته دعا کوي، ده هم لاس پورته کی امين امين لري"، چي پاتا[۴] خلاصه سوله، موسی جان و دې دريم کټوري ته غشی سم کی خو چي راکش يې کی بلا يې پر غشي سوله، غشی يې په موټه کي غوټ مات سو، موسی جان راغی پر وليجان يې ناره وکړه :

وليجانه ! د ترينانو په سروزو کي
دغه دوه واري مي وکړه – پر دريم مي غشی مات سو په قبضه کي

وليجان پر موسی جان ناره وکړه :

که ګيلې کي موسی جان ورور مي ګيلې کي
دغه زما غشی در واخله – د سرو زرو يې کاني[۵] نظر يې نه کي

---

[۳] توکي توکي : يعني ګلوله ګلوله.

[۴] په لومړي چاپ کي پاتا ليکلې ده، شايد دا طباعتي غلطي وي او اصل يې دعا وي. (م. روهيال)

[۵] کاني : بيلک

موسی جان د ولي جان غشي راواخیستی راغی دغه بل کټوری یې راواچوی. یو واري چکچکه سوله، نغاره وډنګېدله، هشت و مشت سو، سهېلي ډېر خوشحاله سو، ګلمکۍ یې هم پر بام سیل کوي.

موسی جان و ولیجان باچا ته وویل چي اوس نو موږ رخصت که ځو، هغه دي کټوري هغه یې ته کار دي وسو، سهېلي هر څه خړی پوړی ورته وکړې چي پاته سئ، خو دوی نه پاته کېدله، سهېلي هم رخصت کړله.

دلته ګلمکۍ خبره سوله چي دوی ولاړل، دستي یې مخي ته سړی راولېږی، چي ورسه ورته ووایه چي مه ځئ، ګلمکۍ مو غواړي، د ګلمکۍ مېلمانه یاست.

سړی راغی ورته ویې ویل چي ګلمکۍ مو غواړي، مه ځئ وایي زما مېلمانه یاست.

موسی جان خورا ډېر خوشحاله سو، لیکن ولیجان هوښیار سړی و، و موسی جان ته یې وویل چي د دې واري یې پرېږده، بل وار به یې بیا ګورو، چي یو وار خپل بندبست ورته ټینګ کو، دغسي خو یې نه پرېږدو، که یې اوس پرېږدې ښه به وي، د دې واري خطر راپېښېږي، زیاتي اختیار لرې.

"موسی جان خو عاشق و، د توانه یې وتلې وه"، ویل یه زه پاتېږم نه ځم!

خیر خو ولیجان هم ناچاره سو پاته سو، دواړه پټ د ګلمکۍ کره راغلل مېلمانه سوله، دې ګلمکۍ یوه ګوښه تنها خونه ور وټاکله پټ یې پکښي کښېنول چي سهېلي او بل څوک خبر نه سي، ډوډۍ او خواړه پخپله ور پخوي، "ځکه چي دا په هیڅ باور نه لري دا خو پوهېږي چي سهېلي د دوی په مرګ پسې دئ، هر کله چي په هر چم یې چمبه پر صافه سي وژني یې"، ماښام سو، د ګلمکۍ د توانه څخه ووتله نو یې یوه مینځه ور ولېږله چي ته ورسه ویې ګوره چي کوم یو ښایسته دئ! مینځه چي راغله ولي جان د څراغ و خوا ته ناست دئ، واردواره یې ولیجان ولیدی، خورا یې خوښ سو، راغله پر ګلمکۍ یې ناره وکړه :

موسی جان تور ګردی سړی دئ
ولیجان برېتونه یو تر بله تېر دي شین زمری دئ

ګلمکۍ ته درد ورغی چي زه څوک غواړم ته د چا صفت راته کوې؟ بله مینځه یې ور ولېږله، دا مینځه هوښیاره وه چي راغله دوی یې وکتله بیر ته راغله پر ګلمکۍ یې ناره وکړه :

بي بي جاني ولي ژړ د مرکو دئ

ګلمکۍ یې موسی ستا د غېږي وړ دئ

چي یعني موسی جان ښایسته او ستا د غېږي وړ دئ.

ګلمکۍ خورا ځني خوشحاله سوله، زړه یې ځني ښه سو په دې مینځي یې هم اعتبار وسو، ور ته ویې ویل چي ډوډۍ به هم ته ور وړې ! مینځې ویل ښه دئ.

خیر ! خو دغه مینځه ډوډۍ ور وړي، لیکن ګلمکۍ ډېر ټینګار پر کوي چي هوښ کوه چي چا ته دا ډوډۍ او غوري ښکاره نه کې، که هر چا درڅخه لیدلي وه، بې مرګه به دې پرې نه ږدم، ډېر پام کوه !

سهېلي وغوښته چي اوس ورسم دوی خو ولاړه، یو سړی ورته راغی چي دوی نه دي تللي دواړه د ګلمکۍ کره دي ! د سهېلي خورا طبیعت خراب سو، چي دا څه معنی زما دا دونه عمر وسو هیڅ مي لاس ته نه راغله نه مي د ګلمکۍ مخ ولید نه نور څه او دوی دواړه هغه دي د ګلمکۍ کره ناست دي، او دواړه زما دښمنان دي، "د لاسه یې هم څه نه کېږي ځني بېرېږي"، خو دا خپله عمله یې راوغوښته ورته ویې ویل چي د دې علاج یې څه؟ که اوس هلته ورځو او نیسو یې وژنو یې ګلمکۍ هم ځان ورسره وژني، او دوی هم غښتلي ښکاري پهلوانان دي خامخا نام بدي او لوی فسات پېښېږي، او که نه نو پای یې څه؟ دا کټوري چي دوی د دار د سره څخه راواچول نو ګلمکۍ لکه چي دوی و خپل ځان ته وګټله، او ګلمکۍ هم په دوی رضا ده، دا هسي یوه بانه ده چي کړې یې وه، اوس یې څنګه کوئ؟

مجلسیانو یې پر دې رایه ورکړه چي ته یوه بوډۍ پیدا که چي ډېره مکاره وي، چي په کراره یې دالته په زهرو علاج وکي مړه یې کي، ته ډېر شور مه لټوه.

سهېلي په بوډۍ پسي و ګرځېدی آخر ته یې یوه داسي شیطانه مکاره بوډۍ پیدا کړه چي د دواړو د مرګ ذمه یې واخیسته او که دواړه نه وي یو

خو به خامخا وژني، سهيلي هم ډېري روپۍ ور کړلې خوشحاله يې کړله.

دا بوډۍ راغله د دوی معلومات يې وکړ، چي چيري دي او څوک ډوډۍ ورو ړي. چي دا حال يې ځان ته معلوم کی چي داسي مينځه ډوډۍ پټه ور وړي چا ته يې نه ښکاره کوي، نو راغله يو خورا زوره ور زهر يې پيدا کړه، دا زهر يې خورا ميده کړله ويې چوڼله نو يې د نوکانو او اوريو په منځ کي تخته کړله، نو راغله د مينځي د ډوډۍ د وړلو په لار کي کښېنستله، ماښام سو ګلمکۍ بيا ډوډۍ پخه کړله پخپل لاس يې غوري جوړ کی د مينځي په لاس يې ور کی، نو يې ډېر ټينګار پر وکی چي هوښ کوه چا ته يې ښکاره نه کې، مينځي ويل ښه دئ.

مجمه يې پر سر راواخيستله راووتله و سراچې ته په لاره کي بوډۍ ناسته ده، په زوره زوره ژاړي، مينځه چي پر راغله بوډۍ په پښو کي ور ولوېده او په پښو کي يې ور ورغښتله، پښې يې ور مچ کړې، شنه د ژړا ولاړه، مينځه وايي ولي ژاړې؟ بوډۍ وايي چي اې زويه ! دا شل کاله کېږي چي زما يو زوی دئ د باچا پر لور عاشق دئ، راځخه ورک دئ هوري ورته پروت دئ، چي آيا څه حال به يې وي؟ نن سهار خبره سولم چي دلته د دوو مينو خواږه پخېږي او مينه يې پخپله ورپخوي ور لېږي يې، نو را رهي سولم، "په دې ترخ کي يو واري بغاري کي"، چي دا د دوو مينو خواږه وګورم چي څنګه دي؟ او هغه زما چيچي ته به هم دغسي خواږه ورپخوي که يه؟

مينځي درد پر وکی ويل چي څه ورکه سه ! اوس به بي بي خبره سي دواړي به دلته مړې کي، هغه وايي چي هوښ کوه چي بل چا ته يې ښکاره نه کې، څوک يې درځخه ونه ويني.

بوډۍ لاسونه ور ښکاره کړه په هوا يې ګوتي خلاص کړي ورته ونيولې چي ها ! په لاسو کي مي هيڅ نسته، يو وار يې راښکاره که چي زه يې وګورم، چي زړه مي لږ څه په ښه سي.

خو وروسته تر ډېرو زاريو يې د غوري څخه پلو پورته کی، چي د پلو پورته کېده وه د دې د نوکانو څخه بيا د زهرو دوړېده وه، مينځه نه وپوهېده، بوډۍ کافري بيا وژړل اوه يې کړه د غوري پلو يې ايله کی پر خپله تړه ولاړه. مينځي هغه غوری راوړي د وليجان و موسی جان په مخ کي يې

کښېښنو. ولیجان ډېر هوښیار سړی و، څه شک یې په ورسېدی، و موسی جان ته یې وویل چې دا خواړه مه خوره، په دې کې زهر دي، موسی جان ویل عجبه ده ګلمکۍ یې په خپل لاس راپخوي د دې د لاس خواړه دي ته وا مه یې خوره.

تر دې مابین یوه سپۍ ولاړه ده، و دې ته یې یوه ګوله واچوله، د موسی جان د توانه ووتله خو یوه ګوله یې جوړه کړه چې اوس یې به یې خوړله ولیجان د ده لاس وواهه ګوله یې ځني واچوله، ولیجان د موسی جان دمخه لا یوه ګوله اخیستې وه خوړلې یې وه، نو ځکه یې د ده لاس وواهه ویل یې چې ما خو وخوړه که مړ سم، خو میرولي غوندي زوی تر شالرم، که دی مړ سو خو ولاړه راغله هیڅوک تر شانه لري، وروڼه یې دونه مړونه ،نه دي. زما کسات به میرولي واخلي، د ده کسات به څوک واخلي؟

بوډۍ شاوخوا څارو ده ګوري چې څه کېږي، هغه سپۍ دستي مړه سوله، دلته ولیجان بېسده سو، بوډۍ چې دا حال ولیدی دستي یې سهېلي ته حال ورووړی چې یو خو مي در مړ کی زیاتي نه یمه خبره چې کم یو دئ.

مینځي چې دا حال ولید اریانۍ واخیستله چې یا خدایه زما خو نو هم اجل پوره سو، نو یې ناره وکړه :

لویه خدایه اوس به څنګه ځم تر کوره

دغه ژړ ولیجان پروت دئ – دغه تور موسی جان ګرځي لور د لوره

دننه په حرم سرای کې ګلمکۍ دا ناره واروېدله، داغسي یې را الا کړه چې ولچې یو پسات پېښ سوی دئ، چې راغله مینځي دا حال ورته ووایه چې داسي یې وکتل ولیجان یې ولید چې پروت دئ، پر موسی جان یې ناره وکړه :

موسی جانه دا پر سر دي لونګۍ توره

چې د ورور په خوله دي نه کړه – په تمام ترین دي ولیدم سر توره

چې یعني که ولیجان مړ سو نو تا به هم مړ کي، خو یوازي سوې نو خود سر توره سولم، ولیجان پر ګلمکۍ ناره وکړه :

یو که ټک سو د مکو د کوښو ټک سو

ستا د لوري خواړه راغله – دا خواړه زموږ اجل سو

ګلمکۍ ناره پر وکړه :

که ابتر سو نن زما عقل ابتر سو

ستا په ډېرو دښمنانو زما د مینځې په لاس باور سو

د ولیجان بڼه پر بله واوښتله، د ډېره غیر ته څخه یې ځان ټینګ کړی دئ، وایي چې زه تیار یم تاسي یو ګړی خپل مجلس و دیدن سره وکی، خوا مه بدوئ مطلب یې دا دئ چې دوی دوه عاشقان دي چې یو ګړی سره کښېني هم غنیمت دئ، خو نه کېدله آخر ته ولیجان ناره وکړه :

که ټک سو تر تالو لاندي مي ټک سو

ما د دې ځایه در واخلئ – دا زړګی مي د کوټلو وینو ډک سو

بیا یې ورته وویل چې تاسي بېغمه کښېنئ زه تیار یم، خیر ! خو ډېر په عذاب سو وخت د صبح کاذب دئ بیا ولیجان ناره وکړه :

که سرې سوې د آسمان کنارې سرې سوې

موسی پښه اخله سپرېږه – چې پر زړه مي د مرګي خولې خپرې سوې

ګلمکۍ وژړل چې دا څه پسات وسو، ولیجان چې دا ژړا واورېدله نو په دغه بېسدي کي یې د ګلمکۍ د زړه ډاډ ورکی ناره یې وکړه :

ګل مکیه ته ورځه اوس دلې اوسه

که موږ دوه پر دنیا وو – ګلمکیه د دې ځایه به دي یوسو

خو لنډه دا چې موسی جان راپورته سو دستي یې آسان ځین کړل، ولیجان ورته وویل چې وروره ! دښمنان مو ډېر دي، نو که سهېلي زموږ په حال خبر سوی وي، تا به یوازي وګني تا به هم مړ کي. یه ! ته داسي وکه چې ما یوازي پر آس ټینګ وتړه، چې نه غوځارېږم او زما غشي ولینده په غاړه راوځړوه نو که بالفرض په مخ کي دښمنانو لار راته نیولې وه، زه به جګ پر آس سپور یم که مي د لاسه کېده خو څو واري به پر وکم، ته به خپل واری پر کوې او که نه ګوندي وبېرېږي. موسی جان هم دی پر آس ټینګ وتاړه نو را رهي سوه، مخ د کور پر خوا، بوډۍ پټه ولاړه ده ګوري، ګلمکۍ ورته ولاړه ده ژاړي، ناره یې پر وکړه :

خوري وخورې دا د توري سترګو کسي

دا ولي و موسی جان د بڼ توتیان دي، دا به څوک په دامو نیسي

بوړی راغله سهېلي چي يې خبر کی، دستي يې سپاره د دوی په مخ کي کښېنول چي يو خو مړ دئ دا يو به تاسي مړ کئ، چي ژوندی در څخه ولاړ نه سي. موسی جان و وليجان چي را رهي سوه سهار وختي لا خړه ده که ګوري په لار کي يې سپاره وليدل، وليجان وپېژندله چي دا دښمنان دي، ليکن و موسی جان ته يې برغ ونه کی وايي نه بايده چي وارخطا نه سي، خو په دغه حال کي يې د موسی جان په نيهامه يو دوه غشي ايله کړه، هغه به په سړي کي وموښتله، موسی جان ته به يې ويله چي زه څان اټکلومه چي څنګه يمه؟

خو لنډه دا چي هغه سړي چي راغله، وليجان پر موسی جان ناره وکړه:

موسی جانه! چي ما ويل هغه بيا وسوه

دغه زما غشی در واخله – په ګډېږه بېره مه کړه

چي يعني ما د مخه در ته وويل چي مه کوه درځه، دا وار دي وي ګلمکی پرېږده بيا به يې پر کراره اټکلوو، تا ويل يه زه پاتېږم، اوس نو زه خو مړ سوم يعني بې مرګه نه پاتېږم، ته پام کوه!

موسی جان هم داسي دلاورانه جنګ ته پيل وکی چي ټوله يې په څان پوري اريان کړه، څوک يې مړه کړه، څوک ځني وتښتېدله، تيت و پرک يې کړله، دې سپاهيانو سره وويل چي سهېلي موږ خطا ايستلو، ده ويل چي يو سړی دئ دا خو دواړه دا دي جنګ کوي جګ جوړ دئ، لنډه دا چي ټوله ولاړه وتښتېدله، موسی جان او وليجان بيا سره رارهي سوله، هله هله دا دئ لمر څرک راورسېدله خپلي کلا ته نژدې سوله، وليجان ډېر په عذاب دئ خو چي غوږ يې ونيوی دننه په کلا کي درب و دروب دئ، سازونه و درېې دي، هشت و مشت دئ، وليجان و موسی جان ته وويل چي ما دلې کښته که کور ته مي مه ور وله، چي دوی خپل هوس وکي او په ښادي کي غم ور ونه لوېږي.

"دا ښادي ميرولي جوړه کړېده، چي پلار دوی يې ولاړه دی هم ولاړ د يوه خان لور يې په زوره راوستلې ده نو ګوا واده يې دئ".

وليجان و موسی جان ته وويل چي کور ته به ورسې فقط يوازي د ميرولي مور (شاييبنه) راخبره که، هوښ کوه بل څوک مه خبروه!

موسی جان هم د روه راغی کلا ته د ولیجان ماینه یې پټه خبره کړه، چي راسه ولیجان دي غواړي، هغه هم پټه راغله څوک یې نه کړه خبر، خو چي ولیجان ته نژدې راغله بېسده پروت دئ، په ژړا یې دا ناره پر وکړه :

ولیجانه ! سر راپورته که د خاب

خبره نه یم چي زهر چا در کړي دینه

ولیجان هم سترګي راروني کړلې پر ببۍ یې ناره وکړه :

راسه راسه زما میني په غم شریکي

زهر یوې بوډۍ وګی راکړه — په تندي کي مي نوشته د ازل ټکي

خو چي یو ګړی سره کښېناسته ولیجان بیر ته دا رخصت کړه، چي ولاړه سه، مبادا دا نور خبر نه سي، په ښادي کي غم ور ونه لوېږي.

ببۍ چي کور ته راغله ډېر یې فکر خراب دئ، توان یې نه کېږي، ګاهي په خونه ننوزي کله بیر ته دباندي راووزي، په خونه چي ننوزي وژاړي چي دباندي راووزي سترګي توري کي، وایي نه بایده څوک راونه پوهېږي چي دغه نن یې په ښادي کي غم ورپېښ نه سي، پر خپل زړه زور تېروي، بڼ نه کوي.

د میرولي په دې خپله مور کي فکر سو، چي دا څه کوي، داغسي وزي و ننوزي، چي ننوزي ژاړي چي راووزي سترګي پاکي کي نو یې پر مور ناره وکړه :

که لولیه د فېروز لوري لولیه

چي دننه سې ژړا کې — چي راووزې سترګي توري کې نریه

چي یعني ته څه کوې، چي وزې ننوزې، یو واري وژاړې بیا سترګي پاکي کې؟ دې مور یې هر څه بانې ور ته وکړې چي پر سر مي درد دئ، هیڅ نه دي پېښ سوي خو میرولي ور ته ویل چي، "خدای یو مالګي تروې" که دي پرېږدم څو چي رشتیا راته ونه وایې.

مور یې مجبوره سوله آخر ته یې دا نقل ور ته وکی، چي داسي پېښه سوېده، خو چي دوی راووتله تانو په خبره سوله راغله پر موسی جان یې ناره وکړه :

موسی وروره ! چي پر مخ دي سپېرکی ګرز دئ

دا ولي ورورکی خو مي مړ دئ که ژوندی دئ

خیر خو تانو او نور ټوله خبر سوله، ښادي پاته سوله، ښځي او نور ټول غمجن سوله، ګرده سره راغله ولي جان ته کښېنستله په غم او په ژړا دي، ولیجان چي سترګي را روني کړلې، میرولي یې ولیدی نو پر میرولي یې ناره وکړه:

میرولیه! پر سر سمه کړه بګړیه
یو مي ساری د سهېل واخله موسی جان لره بل راوړه ګلمکیه

دا وصیت یې و زوی ته وکی چي د سهېل څخه زما ساری واخله او د موسی جان له پاره ګلمکۍ راوله، پس له دې میرولي ناره پر وکړه:

بابا پلاره! دا وصیت به دي خوار نه کم
یو به دي ساری سهېل واخلم–بابا پلاره بل به هڅه او ساری وکم

چي یعني ستا د هر هڅه په عوض به یو ساری واخلم.

دلته ولیجان سختي وکړه، خدای وژلی و، مړ سو. "خدای دې وبخښي"، زیاته سوال و جواب یې نه سره وکی، نو ولیجان ته یې دالته غسل و کفن ورکی او دالته یې پر هغه ځای ښخ کی! راغله سره کور ته پاتا یې واخیسته، د پاتا درې ورځي چي تېري سولې د پاتا څخه خلاص سوله، دستي میرولي و موسی جان ته سیخ سو چي ژر کوه درځه! چي د سهېلي سره جنګ وکو.

موسی جان ورته وایي چي مه کوه اوس لا ته کوچنی یې، پاخه هڅه ته نه یې رسېدلی چي یو کال تېر سي نو به ته هم لږ څه زوره ور سې، "خیر خو په دې مابین کي دوې درې میاشتي تېري سولې، د غم د خوا هم لږ څه پر کراره سوله"، بیا یوه ورځ میرولي وایي چي کاکاجانه! درځه چي څو زیاتي نه ګورم یا به زه هم ځان پسې مړ کم یا به د پلار کسات څني واخلم، دستي ورغی آس یې ځین کی، غشی و لیندۍ یې راواخیستله هغه خپل پړانګی آس یې را رهي کی، موسی جان هم ناچاره سو خو دواړو خپل سامان پوره ورسره راواخیست رخصت یې د ښځو څخه واخیست را رهي سوله، دا دي راغله راورسېدله، "دې ګلمکۍ دا ګرده عمر سهېلي په نن او سبا خطا ایستی چي ګوندي د موسی جان او ولیجان څه درک معلوم سي، آخر ته یې صبر سو، چي اوس نو نه کېږي لکه چي مړ دئ، نو یې خود د اړ تیا څخه حال

وسهېلي ته ورکې چې اوس مې نو واده که، نو په دغه شپه يې د ګلمکۍ د واده بنا کړې ده"، دې ميرولي و موسی جان ته ويل چې زه به په ښار ور ګډ سم، ته به دباندي هيڅ شی ژوندی نه پرېږدې، که انسان وي که حيوان وي سر يې وهه، زه به وس کوم حرم سرای ته به هڅه کوم ور به سم ګلمکۍ به پيدا کم راوبه يې باسم، هغه ويل ښه دئ.

آبس ! موسی جان د ښار دباندي توره وکښله چې په مخه ورځي هغه وژني، څو خلک سره وتښتېدله تر باچا حال ورغی چې بيا وليجان او موسی جان راغلي دي، مخلوق يې تباه کې، باچا سره وارخطا سو، چې دا لکه چې وليجان بير ته جوړ سوی دئ، چې پوځ ور وباسي، هغه څوک وتښتي څوک څه سي، خو سهېلي پخپله راووت د ښار دباندي په جنګ اخته سو، موسی جان په يوه سر جنګ کوي، ميرولي ته ميدان چغالي پاته سو، راغی يوه بوډۍ يې په کوڅه کي پيدا کړه، ويل آ بوډۍ ! زه به روپۍ درکم ته به د ګلمکۍ کور راوښيې، بوډۍ ويل يه، زه خپلي ډېري روپۍ لرم، ما ته سهېلي ډېري روپۍ راکړي دي، ميرولي پوښتنه څني وکړه چې کم خدمت دي کړی دئ؟ بوډۍ ويل چې ما دلته يو وليجان نامی و هغه مې په زهرو مړ کی، ما ته يې خورا ډېره دنيا راکړه، نو زه روپۍ څه کوم، ميرولي چې دا واورېده ناره يې پر وکړه :

بوډوکۍ يې زما دي داسي پلار وژلی
تر هغو به دي پرې نه ږدم - څو سر باندي دي جوړ نه کمه څلی

خير خو توره يې ورسره لښته کړله، د بوډۍ سر يې غوځ ور پرې کی. بيا راهي سو بله بوډۍ يې پيدا کړه، د دې بوډۍ څخه يې لار وليکه وپوښتله د حرم سرای لار يې ور وښووله، دی هم راغی په حرم سرای ورننوتی، توره يې کش کړله چې څوک په مخه ورتله سر يې څني پرې کاوه. په حرم سرای کي يوه بله سپين سرې ده چې ميرولي پېژني پر ميرولي يې ناره وکړه :

ميروليه زويه ! ولي فهم نه کړې
ماندينې دي کړې بې ستره - ميروليه ته د خدايه وهم نه کړې

ميرولي پر دې حمله وکړه چې ته چيري ما ته نصيحت کوې، سر يې

غوځ ځني پرې کي، ميرولي ګلمکۍ پيدا کړه د آس تر شا يې راسپره کړه د سراى ځخه را ووتله، ګلمکۍ يې په دوړه د ښاره ځخه را وايستله، که ګوري موسى جان په يوه کله جنګ کوي، ميرولي چي وليدى دغسي يې آس وځغلاوه ګلمکۍ يې بوتله پر يوه غونډۍ يې کښېنوله، بير ته دستي راغى توره يې وکښله د جنګ په ميدان ور ګډ سو، د سهېلي لښکرو فکر وکى چي دمخه يو سړى و چاره يې نه کېدله اوس چي دوه سوه نو چيري به يې مات کو؟

په دې مابين کي ميرولي و موسى جان ته ستر ګه ووهله چي ځه ! ګلمکۍ هغه ده ناسته ده ورسه بيايه يې، موسى جان هم سټړى سوى و خو د جنګ د ميدان ځخه ووت راغى ګلمکۍ يې تر شا سپره کړه، "يا شاى ولات"، مخ د کور پر خوا را رهي سو، ميرولي يوازي لکه زمرى جنګ کوي، دلته سهېل ګلمکۍ وليدله چي هغه ده بويې تله، او خبر هم ور ته راغى، نو وارخطا سو ناره يې وکړه :

لويه خدايه ! د سهېلي ورا يې مسخره کړه
چي ګلمکۍ يې پر رادار نيلي سپره کړه

ګلمکۍ چي دا واورېده، دې ناره پر وکړه :

که توزن دئ دا سهېل دووس توزن دئ
چي موسى جان پر دنيا وينه - سهېليه پر ما بل مېړه حرام دئ

ميرولي خپل جنګ کوي موسى جان او ګلمکۍ سره را رهي سوله، پر هغه هديره راغله چي وليجان يې پکښي ښخ کړى و، په دې هديره کي شنختي او نور کاڼي جګ جګ ولاړ دي، ګلمکۍ ور ته وګوري وخاندي، موسى جان ور ته وکتل ناره يې پر وکړه:

ګلمکۍ يې خوله دي ويره کې وخاندې
دغه مي ولي ورور دئ - کاڼي بوټې کوټه کړي دي پر باندې

موسى جان وژړل، د آس ځخه دواړه راکښته سوله، يو کړى دالته سره تکيه سوله، ګلمکۍ ناره وکړه :

که چاک سو نن زما په زړه کي چاک سو
دا خو دي داسي ورور خوړلى - موسى جانه دغه ټول صورت مي بې واک سو

دوی دواړه دالته په هدیره کي سره ناست دي، د ولیجان و قبر ته ژاړي دعا کوي، د مازیګر بهېر دئ، میرولي د سهېلي لښکر مات کړی دئ خورا قتل یې په ایستلی دئ، "میرولي نه و، یو زمری و"، پر لار را رهي سوی دئ څه ګورمونه او رمې چي په مخه ورغلي هغه یې ټوله پسني راواخیستله، برابر یې د خپل پلار هدیرې ته راوستل، که ګوري موسی جان و ګلمکۍ لا دالته سره ناست دي، میرولي چي ولیدل ناره یې پر وکړه :

موسی جانه ! چي پر سر دي لنګۍ توره

موسی پښه اخله سپرېږه – اوس د ګور د مړو پرېږده مجلسونه

یعني څه ! ګلمکۍ تر مزله (کور ته) ورسوه، ته څه کوې چي دلې ناست یې؟ د ګلمکۍ په خیال کي ورغله چي دا میرولي لکه چي سهېلي پسي را اخیستی دئ، چي اوس موږ ته وایي چي کور ته ولاړ سئ.

میرولي پوه سو، چي د ګلمکۍ طبیعت خراب سو، نو میرولي د دې د زړه له پاره ناره پر وکړه :

که غورځي د تورې زړګی مي غورځي

و سهېل ته به دي ور نه کم – ګلمکۍ ځو میرولي پر دنیا ګرځي

خیر خو موسی جان ګلمکۍ بوتله کلا ته یې ننه ایستله، د ګلمکۍ خور (ببۍ) خورا خوشحاله سوله روغبړ یې سره وکی، موسی جان بیر ته هدیرې ته راغی که ګوري میرولي بیا په غویو او پسو چړاو ګډ کړی دئ، عام خلک راغي غوښي یې وړي، د ولیجان قبر یې خالص د حیواناتو په ښکرو پټ کی، دا خیرات چي خلاص سو دواړه کور ته راغله، میرولي د پلار وصیت پر ځای کي کرار سره کښېنستل، خپل عیش کوي.

څو ورځي باد، د دې موسی جان په خونه کي د هوسۍ سرونه ځړېږي، ګلمکۍ و موسی جان ته ویل چي دا سرونه څنګه ښه توري ستر ګي لري، څنګه ښه ایسي دا د څه شي سرونه دي؟ دا چي ژوندي وای نو به ښه و.

موسی جان ورته ویل دا د هغه وخت د هوسیو سرونه دي چي ولیجان ژوندی و، او زه و دی به په ښکار سره ولاړو، نو به مو دغه هوسۍ ویشتې، دا سرونه د هغو دي، ګلمکۍ ویل ته خو یوه دانه ژوندۍ راوله چي زه سات په تېروم، پر موسی جان ډېره ګرانه وه ناز یې پر مځکه نه اچاوه، بس د روه یې

خپل غشي و لينده و توبره و غاړي ته واچول، را رهي سو، دښت ته راووت هغه لار يې راواخيستله چي ده و وليجان به ښكار پر كاوه، موسى جان چي به پر هغه ځاى راغى چي ده و وليجان به ښكار پر كړى و، يا به يې ناسته پر كړې وه، يو وار به وليجان ور په ياد سو، شين به د ژړا ولاړ، څو چي له دغه غمه او ژړا لېوني سو، خو پر دښتو ګرځي نه ښكار كولاى سي او نه كور ته راتلاى سي.

يوه ورځ يې يوه هوسۍ وليده پر دښت ګرځېدله، ده چي ور ته وكتله ګلمكۍ يې ور په ياد سوله، نو يې ناره وكړه :

لو يه خدايه ! پر دامان ګرځي هوسيه

نور صورت يې د هوسۍ دئ-لويه خدايه دغه سترګې د ګلمكيه

د موسى جان څخه نوره ور كه سوه، يو شپانه يې پيدا كى د دې شپانه سره يې انډيوالي واچوله، لېوني ور ته ګرځي، د ورځي پر دې خزه ولاړ ژاړي، دلته ولاړ ژاړي، "دى نو هورې پر ېږده چي ژاړي".

دلته سهېل فكر وكى چي دا وليجان بير ته جوړ سوى دئ، كه بل څوك ؟ او دا سړى خو تر وليجان چالاک دئ، نو يې يوه بوډۍ پيدا كړه ور ته ويل يې چي ولاړه سه درک يې معلوم كه، دا سړى څوک و، او موسى جان دوى چيري دي؟

بوډۍ يې خوشحاله كړه، بيا يې لكړه راواخيستله پر ملا كړو په كړو په كېږي دا ده راغله د وليجان دوى د كلا و دېواله ته كښېنستله، په زوره زوره ژاړي. دننه په كلا كي ښځو د دې ژړا او فرياد او بلغاكي واورېدې، دغه بوډۍ بيا ګلمكۍ ور وغوښتله زړه يې پر وسو، بوډۍ ورغله داغسي د ګلمكۍ په پښو كي ور غوځاره سوله، ويل د خداى پار دئ يو زوى مي درلود پر ګرد ده دنيا مي بل هيڅوک نه درلوده، هغه يو زوى مي سهېل باچا په زوره راڅخه بوتى اوس څوک وايي وژلى يې دئ څوک وايي بندي دئ، څوک وايي ځنګه دئ؟ څوک وايي ځنګه؟ خو ما چي هر څه چرت وواهه غير له خداى او بې وليجان او موسى جان څخه په بل چا يې سر نه سره ورځي، اوس مي خاص د خداى په هيله و دوى ته پناه راوړې ده، چي ګوندي دوى مي په داد ورسېږي.

دې ګلمكۍ سادې پټاني ور ته وژړل چي وليجان خو مړ دئ، او موسى

جان دا څو عمر کېږي چي لېوني دئ پر کور باندي نسته.

بوډۍ چي دا واورېده يو لو ناره يې وکړه، اوه يې کړه چي څه پسات راوسو، خو په زړه کي خورا خوشحاله سوله. ويې ويل خدای زه اسي پيدا کړې يم. خو دستي يې د خدای په اماني واخيستله، د کلا څخه راووتله برابره سهېلي ته راغلله ورته ويې ويل چي کور يې هيڅوک نسته ميدان چغالي دئ، مه درګوره، وليجان مړ دئ موسی جان لېوني سوی دئ.

سهېلي هم دستي سپاره سره ټول کړه په دې سهار وختي را رهي سول دلته ميرولي په خبر سو، ده هم د خپل جنګ اسباب راواخيستی پر آس سپور سو، راووتی د جنګ په ميدان کي لکه زمری ګرځي، د بېري هيڅوک و جنګ ته نه سي ورته راپر مخ کېدای، ځکه هر چا ته معلوم و، ويل يې چي بيا خدای خبر چي ژوندي به ځني ځو.

دې سهېلي بړغ وکی چي څوک به ټنډه(٦) واخلي او جنګ ته به ورسي؟ هيچا بړغ ونه کی.

يو سړی و، چي (آزادی) نومېدی، د ميرولي د ترور زوی دئ، دې ويل چي زه جنګ ته ورځم! باچا هم ويل ودي ګورم، ښه دئ ورسه!

آزادی وجنګ ته راغلی، ميرولي چي ورته وکتله چي ته خو مي د ترور زوی يې جنګ مه راسره کوه، دا ړنه ده که نه وي مړ به دي کم، خو آزادي يې خبره نه واورېده خو حملې يې پر کولې، ميرولي يې په سپر د ځان څخه توره ګرځوي او حمله نه پر کوي.

خير! ټوله ورځ يې په دغه چم سره تېره کړه، مابښام چي کور ته راغی خورا ستړی هلاک دئ، و مور ته يې دا کيسه وکړله، چي نن تمامه ورځ د ترور زوی د لاسه دغه ډول ستړی يم، جنګ يې راسره کاوه، که د خپلوۍ لحاظ نه وای ما به يې د وخته لا سر غوڅ پرې کړی وای.

مور چي يې دا واورېده نو يې پر ميرولي ناره وکړه:

مکړه ميره زويه ګنده مه کړه

چي ستا په مخ درځي – که زما زوی وي صرفه مه کړه

---

(٦) ټنډه = ونډه يا هغه پيسې چي د يوه خدمت په مقابل کي يې واخلي.

يعني هر څوک چې په مخه درځي که دي خپل وي که بل څوک وهه يې وژنه يې، ميرولي چې سبا جنګ ته راووت بيا آزادي جنګ ته راغی، ميرولي هم توره ورسره لښته کړه خو د ده څخه چپه سوله د آس پر اربوزه يې وموښتله د آس شونډان يې غوڅ ور پرې کړه، "آس يې داسي ايسي لکه چې خاندي"، آزادي فکر وکی چې دا وار دي وژني مخامخ يې الا کړه برابر ښار ته ولاړ، ميرولي سم په پسې دئ، ميرولي د سراي په دوروازه کي پسي ورسېدی توره يې ورسره لښته کړه وې واهه، په دغه دروازه کي يې سر غوڅ ځني پرې کی.

دلته د ميرولي ترور راووتله چې داسي يې وکتله زوی يې مړ دئ نو يې پر ميرولي ناره وکړه:

ميروليه زويه تلي دي درنې سه

په دروازه کي دي دربی دئ – ميروليه دروازې درپوري سرې سه

ميرولي دغه ترور هم پسي مړه کړه، خو چې په مخه ورځي هغه وژني، خو هر څو چې يې مړه کړه هغه يې مړه کړه، ماښام سو بېرته کور ته راغی.

سهېل وويل چې د دې د چاره يې څه؟ يوه سړي ورته وويل چې په لار کي سپرغی[7] ورته پرې که پر سر يې خاشې او خاوري ور واچوه، سهار چې دی ناخبره وي پر آس به سپور وي، چې راسي درب پکښې وبه لوېږي، موږ بې ژوندی ونيسو.

د سهېل هم خوښه سوله، دستي يې سړي امر کړه چې په لار کي درې ژوري کندي پرې کړلې، پر سر يې خاشې او خاوري ور واچولې.

سهار بيا د جنګ نغاره وډنګېدله ميرولي پړانګی ځين کی را رهي سو، دا پړانګی داسي هوښيار او مست دئ چې په يوه يوه ټوپ تر دې کندو او سپرغو غورځي، خو تر دې کندو او سپرغو راتېر سو راغی د جنګ ميدان ته بيا يې تر ماښامه جنګ وکی، فتح يې په نصيب سوه، ماښام تر کندو راتېر سو په خيريت کور ته راغی.

په دې بله ورځ يې مور ورته وويل چې دا پړانګی ستړی سو، دغه د

---

[7] سپرغه = کنده، څاه.

پلار (نیلی) دي بوزه، پړانګې کورنګې دئ چي مات نه سي، ده ورته وویل چي دی جای بنده دئ یو پسات راپېښ نه سي، دې ویل ته یې نن بوزه چي څه کوي؟ ده هم پړانګې پرېښو، نیلی یې را رهي کی چي پر کندو راغی لکه برېښنا داسي تر وغور ځېدی، تمامه ورځ یې داسي جنګ وکی چي خوری یې پر وایشولې، څرنګه چي دا نیلی جای بنده و د ماښام خوا ته چي را رهي سو راغی تر دوو سپرغو راوغورځېدی په دریمه سپرغه کي یې د شا پښې ولاړې پکښې ولوېدی، د میرولي پر تشي د ځین دمخه بوڅکی برابر سو، تشي یې سوری سو نس یې ځیري سو، کُلمې یې راووتلې، خو آس د زوره وغورځېدی د کندي څخه راوخوت میرولي خپله لنګوټه خلاصه کړه کُلمې یې بیر ته په نس کي واچولې په لنګوټه یې ټینګ نس وتاړه په یوه زحمت د کندي څخه راووت آس دمخه دئ دی پیاده په پسې دئ، د کور پر خوا را رهي سو.

"مور به یې هره ورځ تر هغو پر بام ناسته وه، څو چي میرولي به بیر ته د جنګ څخه راتی"، نو پر همهغه عادت یې مور پر بام ناسته ده لار یې ګوري، یو وار یې میرولي ولید چي پیاده کرار کرار راځي، آس دمخه دئ، مور یې وپوهېده چي لکه چي زخمي سوی دئ که څه؟ چي نژدې راغی مور یې ناره پر وکړه:

لویه خدایه! نن مي کم کاڼی پر کور دئ
میرولي زوی مي دمخه لویه خدایه نیلی آس مي په پسې دئ

بیا یې بله ناره پر وکړه:

میرولیه په کوڅه کي پیاده نه تلې
نازولی نیلی ولي کوتل[8] بیایې د دښمن د لاسه څرنګه پیاده سوې

د دې خوا میرولي ناره پر وکړه:

ادې موري د پړانګي څخه دي ګیلې کړې
نیلی تر دوو کندو راتېر سو — پر دریمه یې زما غوټې ګُلمې پرې کړې

مور یې دستي د بامه څخه راکښته سوه، خو میرولي یې کور ته بوت

---

[8] کوتل = هغه آس چي څوک پر سپور نه وي او په سرې پسي ځي.

پرې يې ايستي اوس موسی جان پر کور نسته، دوی د وهمه په چا اعتبار نه کوي چې خبر يې کي، وايي مبادا چې سهېل به خبر کي چې ميرولي د کاره لوېدلی دئ.

د دې ميرولي ترور چې خورا ډېره قابله ښځه وه، دستي يې د ده ټپ پاک پرېولی، غټ غټ ښانګور مېږيان يې ونيول رايې وړه، د ټپ خوله يې سره نژدې کړه، نو يې د مېږي خوله په ور ولګوله، مېږي چې خوله ټينګه کړله، دې به مېږی پر منځ غوټ په غچي پرې کی، د مېږي سر به پوري پاته سو، د ټپ خوله به سره ورغله، د ميرولي ټپ يې په دغه چم ور وګانډه، نو يې ورته وويل چې ته به دا شل ورځي پر اړخ نه اوړې.

دلته د موسی جان نور اووه ورونه دي، دا سره راټول سوه، سهېلي ته راغله "چې يعني موږ ته به انعام هم راکي او د شره به هم په امان سو".

خو عرض يې پر وکی چې راسه ګلمکی بوزه ! سهېلي پوښتنه ځني وکړه چې تاسي څوک ياست؟دوی ورته ويل چې موږ د موسی جان ورونه يو.

سهېلي فکر وکی چې موږ د يوه موسی جان څخه په عذاب و دا خو اووه نور موسی جانه پيدا سوه. دوی بيا ورته وويل چې موږ د موسی جان ورونه يو، موسی جان لېونی دئ نسته او ميرولي ناجوړه دئ د کار نه دئ، موږ ستا دوستان يو. خو سهېلي نه منل بېرېېدی چې مبادا يو ټنډه (ټولنه) به يې راته کړې وي، ورونه وګوره د خپل وررو بدخواهي او بدنامي د ناموس وګوره.

دستي يې حکم پر وکی چې د اوو سرو غوړونه ور پرې کئ ! ويې شړئ د دربار څخه يې وباسئ !

دستي سر جلات غوړونه ور پرې کړه، په ډېره بې عزتي يې د درباره څخه راوايستل، د باچا د موسی جان د وروڼو په قول اعتبار ونه سو، خو په زړه کي يې شک پيدا سو چې ته خو يې درک معلوم که.

يوه بله بوډۍ يې پيدا کړه چې ته ورسه وګوره چې موسی جان او ميرولي چيري دي؟ بوډۍ راغله پخپل مکر سره يې معلومات وکړ، بير ته ولاړه سهېلي ته يې وويل چې موسی جان نسته لېونی سوی دئ او ميرولي ټپي سوی ناجوړه پروت دئ. سهېلي چې خبر سو، دستي يې د شپې د

وليجان پر کلا کوچ راوکی، چي سهار سو ښځي پر بام وختلې که ګوري شاوخوا خيمي نجتي دي، داغسي يې سره وويل چي دا خو سهېلي راغلی دئ، او د ميرولي تپ هم نه دئ لا جوړ سوی، درې ورځي يې لا ستا، يه ! راسئ چي ميرولي نه کو خبر ډېر به ښه وي، هر څه که سهېلي غوښته ور به يې کو، د ټولو داغه سلا سوه.

خود سهېلي ته يې خبر ورکی چي پام کوه په کلا به نه راننوزې، خپل مطلب وايه چي په لاس يې درکو.

دې سهېلي د تانو د ښايست صفت اورېدلی و، ولي تانو نهايتي ښايسته وه، او سهېلي يې هم خورا ډېر امته دار و، ليکن زړه يې منبل کېدی خو ديد يې نه ور حاصلېدی، خود سهېلي ورته وويل چي تانو دي مخ راښکاره کي، تانو هم ناچاره وه ځکه يې پلو د مخه ايسته کی، مخ يې سهېلي ته ښکاره کی. سهېلي چي ورته وکتل ښه ترا پر عاشق سو.

آخر ته يې وويل چي ګلمکۍ په لاس راکئ، تانو ورته وويل چي مه کوه هغه زما ورېنداره ده، د هغې په عوض کي ما بوزه، هغه مه بيايه. د سهېلي هم زړه وغوښت چي ښه دئ، ليکن د ده سره يو ډم (ډولچي) و، ده فکر وکی چي ګلمکۍ پاته سوله نو يې پر سهېل ناره وکړه :

سهېليه ! تانو سره ده مکۍ سپينه

تانو سره کوټلې زر ده، مکۍ لاړ د مرغلرو ده يقينه

يعني چي ګلمکۍ سپينه ده، تانو سره ده، ګلمکۍ مه پرېږده، يو واري سهېلي هم ټينګ سو، چي زه ګلمکۍ غواړم. خير ! خو مجبوره يې کړله، ګلمکۍ يې په ژړا په لاس ورکړه. ګلمکۍ ته خو د سهېلي زړه ډک و، لځي پښې يې د آس سره په وچ تاخت ځغلوي، د کلا پر بام د ميرولي يوه کوچنۍ خور وه ولاړه ده پسي ګوري، دې چي دا ګلمکۍ وليدله زړه يې درد وکی، دغسي يې را الا کړه، راغله د ميرولي په خونه ور ننوتله پر ميرولي يې ناره وکړه:

که درنه ده د کلا خونه درنه ده

ګلمکۍ پلي ځکوينه–ميروليه پر تا څه بلا پرته ده

ميرولي ستر ګي روني کړلې چي څه نقل دئ، دې کوچنۍ خور يې دا

کیسه ورته وکړله، چي سهیلي ته تانو مخ ور ښکاره کی او ګلمکۍ یې هم لڅي پښې بوتله. اوس نو د میرولي ټپ جوړ دئ فقط دوې ورځې لا غواړي. خو د توانه یې ووتله د غیرته څخه راپورته سو چي واخ ! زما ښځي دښمن یوورې. زما په کلا کي دښمن را توی سوی و ! یه زمانو هم ژوند غیم ! دا بې غیرتي او دا ژوند نه قبلوم، دستي راپورته سو پر نس او ټپ یې رښکۍ وپیچلې، پړانګی یې ځین کی نو یې پر مور ناره وکړه :

ادې موري ! حق را خپل که آن مي تمام دئ

زه خو ځم د جنګ پر لوري د ناویانو ټولی پاته پر میدان ده

چي یعني پلار مي مړ سو، موسی جان ورک سو، اوس نو زه ځم خدای خبر چي بیا به ژوندی راځم. تاسي نو یوازي په کور کي پاته یاست ! را رخصت سو تر کلا راووت سهیلي پیاده ګلمکۍ تر شا پسي ځغلوي، دې چي تر شا وکتله چي د کلا دمخه دوړه پورته سوله، د دې زړه خوشحاله سو، نو یې ناره وکړه :

که دوړه د کلا پر درګاه دوړه

ما د خدای تر خدایي جار کې – میرولي و پړانګی راولې په دوړه

بله ناره یې پسي وکړه :

که لوټه د میدان په سر کي لوټه

که به خواست د مکۍ اخلې – میرولي و پړانګی راولې لم غوټه

سهیلي چي تر شا وکتله چي دا ګلمکۍ څه ناري کوي، که ګوري تر شا یې دوړي دي، څوک پسي راځغلي، فکر یې وکی چي زه خو یې خطا ایستلم دا یې لکه چي چم راته کړی و، خو هغه دئ میرولی راغلی، داغسي یې ګلمکۍ تر وزر ونیوله پر آس یې سپره کړه، لار یې چپه کړله ولاړی په یوه مانده کي یې خېمه ونجتله، میرولي ناجوړه و چابک یې آس نه سوای وهلای، خو راغی لار و بدرو ځني ورک سوه، چي دوی چیري ولاړه، د یوه مانده غاړه یې را اخیستې ده خورا ستړی هلاک دئ، دوباره یې ناره وکړه :

لویه خدایه ! یو مانده ډک دئ په درګو

خدایه دونه عمر راکې – چي سهیل و مکۍ ووینم په سترګو

د دوی خېمه هم دالته نژدې ولاړه وه، سهیل چي دا ناره واروېده فکر

يې وکې چې دا دئ درپسې راغی، څوک هم نسته مړ يې کړلې، يه کونه کاږه ځه ! خو ګلمکۍ يې دالته پرېښووله مخامخ تراټ، يا شاهي ولات ولاړ.

ميرولي چې راغی ګلمکۍ يې وليدله سهېل نسته، مانده ته ور شوه سو، ګلمکۍ ته يې وويل چې زما تر شا سپره سه، دې ورته وويل چې يه ! ته ناجوړه يې بيا به په عذاب سې، زه بيرته پياده درسره ځم. ميرولي ورته وويل چې يه سپره سه، ميرولي چې رکيب ور خالي کی "د ښځي ذات دئ"، چې ورپورته کېدله يو واري وځړېدله د ميرولي وشا ته يې ور حمله کړه، د ميرولي د ټپ څخه د مېړيانو خولې وختلې ټپ يې سره وشلېدی، دغسې يې ګُلمې را ايله سولې د آس د لاندې راولوېدی، نفس يې وخوت مړ سو، "خدای دې داغسې زمريان مړونه ټوله وبخښي".

ګلمکۍ يو ګړی وژړل، بيا يې فکر وکې چې دا خو هم مړ سو، وليجان هم مړ سو، موسی جان لېونی او ژوندی ورک سو، هيڅوک نه سوه راپاته، اوس به نو سهېلي ته د ناعلاجۍ ځان ور وسپارم.

نو يې ميرولي د مانده څخه راوکيښ، سهېلي لا نه دئ نيهام سوی نو يې وسهېلي ته ناره وکړه :

که ولاړ د سهېلي خېمه ولاړه

سپيه مه تښته را درومه –د ميرولي ساه مې د ځين پر کوپۍ ولاړه

نو يې د ميرولي پښه پورته په هوا ونيوله چې دا دئ ميرولي مړ دئ، راسه بو مې زه، سهېلي فکر وکی چې دا لکه چې ګلمکۍ مړ کی، خوشحاله سو راغی ګلمکۍ يې د آس تر شا سپره کړه رايې وستله خپل کور ته، ميرولي يې هورې په خاورو کې پټ کی (ګلمکۍ و سهېل نو دالته پرېږده چې خپل سات تېروي، موسی جان پسې راواخله)، موسی په غره کې د ورځې ښکار کوي، که يې يو څه وويشتله هغه راوړي ماښام يې د شپانه سره وخوري، کله به يې پر هغه ځای چې ده و وليجان به ناسته پر کړې وه ژړله، خو تيار لېونی دئ ګرځي.

يوه ورځ رهي سو په ښکار ولاړ، يو نر کښ[9] يې وويشت ليکن ځني

---

[9] نر کښ = د غره اوز ګړی.

ورک سو، موسی جان پسي ګرځي شپانه وليدی پر موسی جان يې ناره وکړه:

موسی جانه ! د ببري په شاني توره

هغه نرکښ چي تا ويشتلی د چندڼ و بېخ ته ګوره موسی جانه

موسی جان پسي رهي سو، چي پيدا يې کي که ګوري يو کبلی په غره کي په مخه ورغی، موسی جان غوښت چي دا کبلی وولي غشی ولينده يې ورته سم کړه هغه کبلی خدای تعالی پر خبرو راووست، ورته وې ويل چي اې مسکينه ته به زما د غوښو څخه څه وخورې ! ولاړ سه چي ښايسته مينه ګلمکۍ او ميرولي دي څه سول؟

د موسی جان ګلمکۍ او کور په ياد سوه بير ته راوګرځېدی راغی، پر شپانه يې ناره وکړه :

په وچ غره کي يو کبلی راته ګويان سو

ويل ته به څه خورې زما د غوښو –موسی جانه ګلمکۍ کورګی دي وران سو

دستي يې د شپانه څخه رخصت راواخيست، برابر کور ته راغی، د کلا په دروازه کي چي ور ننوتی د ميرولي مايني ناره پر وکړه :

اې خسره کاکا ته ښه يې که غولی[10]

زړه زما په اور کباب سو ، نه به وکم ميرولي غوندي همزولی

چي يعني ميرولي خو مړ سو، خير "خو هر څه ژړاوي چي يې سره کړي وې کړي به يې وي"، په دې ټولو نقلو يې موسی جان خبر کی چي دا ګرده شيطانت ستا ورونو ولټاوه.

موسی جان شپه تېره کړه سهار سو، زړه يې خورانری سوی دئ، د کلا څخه راووَت اوه سره ورونه يې د کلا و مخ ته ناست دي، غوبړونه يې پرې دي، موسی جان چي وليدل د زړه د جوش څخه يې ناره پر وکړه :

لويه خدايه د موسی جان دي اووه ورونه

که به خواست د موسی اخلې –د آسمان د لور پر واچوې تندرونه

يعني خدايه تکه پر واچوې، د عاشق خواست دئ قبول سو اووه سره

---

[10] غولی =صحن، حويلي.

وروته يې دالته ځای پر ځای مړه سوه.

بیر ته موسی جان کور ته ولاړ، آس یې ځین کی چي ځم، د کور ښځو که هر څو ډېري زاری ورته وکړې چي مه ځه، دی نه پاتېدی. چي دا اوس بې غیرتي ده چي کور کښېنم، خو را رهي سو پر لاري راځي راغی یو ځای که ګوري یو بزګر دئ پر توک کښلي یوم پر غاړه اوبه لګوي. موسی جان راولاړ سو فکر یې وکی چي اوس چیري ځې، خپل اس یې دالته حلال کی مرغانو ته یې په خیرات کي پرېښو. غښی ولینده یې هم وغورځول، بزګر د ځان سره وویل چي دا وګوره ! څنګه لېوني سړی دئ چي خپل آس یې حلال کی او اسباب یې وغورځاوه، موسی جان راغی د ولې بند یې چپه کی اوبه یې ایله کړې، بزګر ورته وویل چي ولي؟ دا خو بیا یوازي نه تړلي کېږي، موسی جان ناره پر وکړه :

شابزګره ! اوبه ولاړې پر ورخونه
هغه به یې تړي شابزګره ! چي تر شا لري مړونه

موسی جان ورته وویل چي دا مي تا ته جواب درکی، یعني ته که نر یې یوازي به یې وتړې، زما هم دغسي مړونه وه هغه مړه سول نو خود مي آس حلال کی غښی ولینده مي وغورځوله خو راغی د بزګره سره یې بیر ته بند وتاړه.

د موسی جان د آس نالونه د سرو زرو وه، بزګر راغی دا نالونه د آس د سوو څخه کاږي، موسی جان چي ورته وکتل داغسي یې ور الا کړه چي زما د ګران آس نالونه کاږې، پښې دې خوږ کړې، خو چي راورسېدی بزګر یې پور ته کی د مځکي یې وویشت پر هغه ځای یې مړ کی، بیا را رهي سو پر لاري یو کوچنی پک هلک دئ چي د دې هلک نوم هم موسی جان و پر دې یې ناره وکړه :

شاپوکیه چي کوچني مرغومي پیایې
دغه سل روپۍ به درکم شاپوکیه زما سلام پر مکې وایه
پک ته درد ورغی چي ولي مي پک بولې، زه هم موسی نومېږم :
که ته موسی یې زه هم موسی نومېږم
نه دي سل روپۍ کوم —نه دي سلام تر ګلمکیه رسوم

د دې پک څخه تېر سو راغی یو ډنډ دئ نجوني پکښې لمبېږي، موسی جان چي پر راورسېدی دستي د ښځو پر کالو کښېنوست، ښځو هر څه زاری ورته وکړې چي زموږ کالي راکه ! دی یې نه ورکوي، په آخر کي موسی جان ورته وویل چي سبا به ګلمکۍ خبروئ او راولئ به یې، ښځو ویل ښه دئ، خو قسمیاني یې کړلې وروسته یې کالي ور کړه، کالي یې واغوستل راوختلې ولاړې.

په دې ښځو کي یوه پکه ښځه وه، دا په پټه ورغله سهېلي یې خبر کی چي موسی جان راغلی دئ دا نقل یې ورته وکی، دې نورو ښځو ګلمکۍ خبره کړه.

سهېلي فکر وکی چي بیا خبره خرابه نه سي، یه ! راسه چم ورسره وکه، موسی جان خو پر ګلمکۍ عاشق دئ لنډه دا چي سهېلي د ګلمکۍ کالي واغوستله د دې پوړنی یې پر سر کی، خنجر و پیشکوزه یې ورسره واخیستله چي یعني موسی به د ګلمکۍ خیال راباندي وکي زه به یې د روه په خنجر ووهم، سهېلي چي را رهي سو د ګلمکۍ د لاسه نور هیڅ نه کېدله پر بام وختته ناره یې پر موسی جان وکړه :

موسی جانه چي دا د کښې درځي سهېلی دئ

موسٰی جانه خطا نه وزې دا پر سر یې سور سالو دا د مکۍ دئ

موسی جان په خپلو خولو کي ډوب دئ نه یې وارېده، خو چي داسي یې وکتله کټ مټ هغه ګلمکۍ ده مخ یې پټ دئ، "سهېلي هم هغه کالي اغوستي وه چي موسی جان ور کړي وه"، دې موسی جان چي ورته وکتل ده چي ویل ګلمکۍ ده داغسي یې ور الا کړه غېږ یې پر راوګرځوله، موسی جان و سهېلي غېږ په غېږ سول موسی جان چي ځان سره ښوراوه سهېلي په نسٔ کي په خنجر وواهه، موسی جان په دغه حال کي په توده وینه کي و، سهېلي یې پورته کی ویې ویشتی د مځکي، د سهېلي پر ځګر کښېنستی باندي سپور سو نو یې ناره پر وکړه :

رب دي وچ که سهېلیه غونډه منډه

اوس به دي پخپله چاړه مړ کم ګلمکۍ به کم پره تورو پیکیو کونډه

یعني زه خو دي خلاص کړلم بې مرګه نه پاتېږم نو تا ولي وژنم

ګلمکۍ به بیا کونډه سي دا خبره یې وکړه د سهېلي د سینې څخه غوځار سو نفس یې وخوت مړ سو، "خدای دې وبخښي".
سهېلي کور ته راغی، ګلمکۍ یې خبره کړه چي موسی جان خو مي مړ کی، اوس خو نو بل څوک نه سو در پاته، یه اوس نو خپل آن ومنه.
ګلمکۍ و سهېلي ته وویل چي هو کې ! اوس دي نو خاص وګټلم، خپل عیش درسره کوم، لیکن دا دونه خواري دي وکښلې، دا یوه خبره لا زما د زړه له پاره پر ځای که، چي پر موسی جان به یو ښه زیارت جوړوې، ځکه چي موسی جان خو مي یو د اکا زوی هم دئ، او بل په مسافري کي په ارمان سره مړ سو.
سهېل ویل ښه دئ !
سهېل دستي حکم وکی چي ښه زیارت پر موسی جان جوړ کي، په څو ورځو کي یې پر موسی جان ښه زیارت جوړ کی، سهېل راغی و ګلمکۍ ته یې وویل چي اوس خو مي ښه زیارت پر جوړ کی، اوس به نو خوشحاله یې.
ګلمکۍ ورته ویل چي هو، مګر دا یو عرض لا لرم چي موسی جان مي دا پلا ژوندی ونه لید، او دا نوی ښه زیارت دي هم باندي جوړ کی، یو وار مي د ده زیارت لره ور وله چي زیارت یې وکم، بیا به نو هغه دئ زه و ته یو، بل څوک نه سو راپاته کرار به سره کښېنو.
سهېل ویل ښه دئ !
سهار یې ګلمکۍ را رهي کړه، سهېل، ګلمکۍ سره له څو کسو نوکرانو د موسی جان زیارت لره راغله، ګلمکۍ چي په زیارت ور ننوتله، آه یې کړه د موسی جان پر قبر غوځاره سوله، دعا یې وکړله چي الهي ! زیاته ژوند نه غواړم ! د ګلمکۍ نفس پر هغه ځای وختی، مړه سوله، "خدای دې وبخښي"، دا یې هم هلته ښخه کړله.
سهېلي اریانۍ واخیستی چي دا څه پسات راوسو؟ د ده د نوکرانو څخه یوه ناره پر کړه :

لو یه خدایه په سهېلي دوه پساته وسوه
یو یې سپینه مکو ولاړه لو یه خدایه بل یې خون د لاسه وسو

سهېل ته درد ورغی پر خپل نوکر یې ناره وکړه :

اې سړیه ته پر څه یې زه پر څه یم
چې موسی جان و مکۍ ولاړه - اې سړیه دا یم تا پسې لېږم

چې یعني زما څه حال دئ ته لا پر زړه مالګي راتویوې، خو دا یې هم وواهه دالته یې مړ کی، خو د سهېلي ډېر فکر بد دئ کور ته راغی کښېنستی چرت وهي چې اوس نو څه وکم؟

آبس ! یو څه د غم شپې یې تېرې کړلې یوه ورځ یې چرت وواهه چې د ولیجان پر کور خو هیڅوک نه سوه پاته، راسه دې تانو ته مرکه وکه، دا د زمري کورنۍ ده، ګوندي خدای یو داسې بهادر زوی ځنې راکي، "او بل خو پر هغې هم مین سوی و"، مرکه یې ور ولېږله، مرکه چې راغله تانو ته یې دا بیان وکی، تانو هم هوښیاره وه دوهمه خبره یې هیڅ پکښې ونه کړه، ځکه چې دې فکر وکي چې هیڅوک نر ګاړی مو په کور کې نه سو راپاته، اوس خو مو د لاسه هیڅ نه ورسره کېږي، دستي یې مرکې ته وویل چې ډېر ښه دئ ! سهېلي ته ووایاست چې دریمه ورځ زموږ و ستاسي سره وعده ده، دریمه ورځ به راسي درب و دروب مه جوړوه په پټه خوله به خپله نکاح سره وتړو، مرکه چیان بیر ته ولاړه، راغله و سهېل ته یې دا بیان وکی چې تانو ډېره خوشحاله سوله ویل یې چې دریمه ورځ دې سهېل راسي.

دلته دې تانو په دې درې ورځې کې د کور و ټولو ښځو ته توري او سپرونه په لاس ورکړه د جنګ تعلیم یې په شروع کی او ټوله ښځې یې خبري کړلې چې سهېل راسي هوښ کوئ چې ژوندی درڅخه ولاړ نه سي. زموږ نارینه یې ټوله مړه کړه اوس یې و موږ ته ننګلي دي او په سپیتانه او چم به یې هم نه وژنو، چې بیا مو نوم بد نه سي، یه ! هر څه چې ما کول هغه به تاسي کوئ ! ښځو ویل ښه دئ ! یوه تانو ده، یوه دولیجان ماینه ده، یوه د میرولي ماینه ده، دوې درې یې مینځیاني دي، د دې پنځو شپږو ښځو سلا یوه سوله.

دریمه ورځ سهېلي ښه ځان تیار کړی دئ د پاچهۍ جامې یې اغوستي دي، څو کسه معتبرین ورسره دي دا دئ مازیګر د تانو کره راغی کښېنته سو، هغو یې هم ښه عزت وکی، ماښام سو، ډوډۍ یې وخوړله سهېلي حرم سرای ته ننوتی چې اوس نو تانو ته ورځي، تانو هم مخې ته ورغله سهېلي یې

راوستی په خونه کي يې کښېناوه، تانو دباندي راووتله، توره و سپر يې راوړه، د سهېل دمخه يې کښېښووله، تانو ويل دغه دي توره دغه دي سپر! زما وراره او ورونه دي وژلي دي اوس نو زما وار دئ، يا به دي مړ کم يا به مي مړه کې! وروسته يې نو ناره پر وکړه:

سهېليه توره اخله را ولاړېږه! سهېليه د ښځي خيال را باندي مه کړه!
سهېليه ښځه نه يم مه شرمېږه

خير! خو سهېلي چي هر څه زاری ورته وکړې، هغې نه منلې، سهېلی هم ناچاره سو چي وژني مي، ده هم توره وسپر واخيستله خو جنګ يې سره ومښلاوه، د تانو او د سهېلي سره جنګ سو، هغه نوري هم دوې درې ښځي پر راوغور ځېدلې، هله هله هله سره جنګ جنګ، څو تانو سهېلي تر وار تېر کی، توره يې ورسره لښته کړه سهېلي يې پر منځ دوه خياره کی، مړ يې کی، ښځو نو کی نو کی کی، غوښي و هډوکي يې په جوال کي واچوله دباندي يې را وايستله پر هغو نورو مېلمنو ملګرو يې کوټی او يو يو ټکر ور وغورځاوه، نو تانو ناره پر وکړه:

سردارانو تاسي ويښ ياست که بيده ياست؟
سر راپورته کئ د خوبه – سهېلي خو مو اوس خوري د لحد خاوري

سردارانو چي سر راپورته کی، که ګوري د سهېل ککری په ميدان کي پرته ده، سردارانو فکر وکی چي باچا يې وژلی دئ موږ به نو چيري پرېږدي، خو دوی چي کونه ښورول ښځي په ورګډي سولې، جنګ جنګ جنګ! څه سر دي ګرځوم خو هغه سړي چي د سهېلي سره راغلي وه، څه يې مړه کړه چا الا کړه ولاړه، څوک دالته وه په زاريو يې ځان خلاص کی، وروسته تانو په دغو خلکو کي يو غريب سړی و، دا سړی يې مېړه کی پر حکومت يې کښېناوه سره بېغمه سوله، بس!

(کيسی ولاړه پورته زه راغلم کور ته)

د موسٰی جان د نقل د نارو وزم:

د ناري په لومړي سر کي (اويه لا) وايي او د ناري لومړی مسری خامخا دوه واره غبر ګېږي، او بيا په هر ځای کي عندالموقع "وی" يا "ای"، "وی وا"، "خو"

ورسره ویل کېږي، او تر هري ناري وروسته دا مسرۍ وايي :

(چي هر چیري دوه مین وي، وا، دیدن خو دي وسي)

مثلاً :

"او یه‌لا" که‌پوڅي د تانو ، "وی وا" خولګۍ خو مي پوڅي، "ای" که‌پوڅي د تانو "وی وای"، خولګۍ خو مي پوڅي

"ای" ما په‌خدای قسم درکړی، تانو خوري په‌درګاه "وی وا" کي سپاره څوک دي

اصله ناره خو دا ده :

که‌پوڅي د تانو خولګۍ مي پوڅي

ما په‌خدای قسم درکړی تانو خوري په‌درګاه کي سپاره څوک دي

دغه نوري د قوسینو کلمې خاص د وزم له پاره ورسره ویل کېږي.

مثلاً، یا دا :

"او یه‌لا" موسیٰ جانه‌تا په‌خدای "وی وا" کرم‌بزګاره "آی" موسیٰ جانه‌تا په‌خدای "وی وا" کرم‌بزه‌ګاره "آی" موسیٰ وروره‌په‌درګاه کي دا سپاره "وی وا" د سهېلي دي

ځیني خلک د دوهمي مسرۍ لومړۍ برخه هم دوه واره وايي، لکه پورته دا برخه د دوهمي مسرۍ :

په‌درګاه کي دا سپاره د سهېلي دي

چي دوه واره ویله کېږي.

مومن خان او شېرينو

دوه ورونه وه، دغه مشر ورور يې د قوم مشر و او اووه زامن يې درلوده، د مشر زوی نوم يې (زبردست) و، هغه کشر ورور يې نه زوی او نه لور درلوده، د دې ورونو مايني دواړې برالبې سوې، دغه مشر و کشر ورور ته وويل چې که ستا لور وزېږېده او زما زوی نو ستا لور به زما و زوی ته راکوې، او که زما کره لور وسوه او ستا کره زوی پيدا سو، زه ستا زوی ته لور درکوم، کشر وويل ښه دئ.

کارونه د خدای دي چې نه مياشتي نه ساعته تېر سوه خدای و کشر ته زوی ورکی او د مشر لور وزېږېده، کشر ورور د خپل زوی نوم (مومن خان) کښېښو، او مشر د خپلي لور نوم (شېرينو) کښېښوه، مشر ورور هم دستي خپله لور و خپل وراره يعني مومن خان ته ورکړه. و، و، و، مومن خان او شېرينو ښه غټ سوه، په همدغه کوچنيوالي يې په زړو کي د ميني اور يو د بله سره پيدا سو، سره مين سوه.

ځو عمر باد دواړه ورونه مړه سوه، د مشر ورور اووه زامن پاته سوه، د دې زامنو يې سره جګړه سوه، يوه ويل زه د پلار پر ځای کښېنم بل ويل زه، خو لنډه دا چې سره بې اتفاقه سوه پر مشر تابه نه سره جوړېدله، ولس ور ته وويل موږ غرض او اړه نه درلرو، تاسي ټوله پر موږ توپير نه لرئ هر يو چي مشر کېږي زموږ قبول ياست.

مومن خان هم دعوه وکړه چي مشر توب دمخه ستاسي د پلار و زما پلار يې کشر و اوس مشر توب زه غواړم، خو مومن خان ډېر مهربان، وسيله ناکه سړی و، د ولس سره يې خورا ښه کوله، نيم ولس پر ده ودرېدی چي زموږ مشر او خان مومن خان دئ، وروسته سوله پر دې وسوه، چي د نيم ولس مشر يې مومن خان او د نيم ولس مشر دي په دوی کي هر يو چي

کېږي ودي سي، په دغه ورونو کي زبردست مشر سو.

څو ورځي وروسته د مومن خان مور و مومن خان ته وويل چي تربرونه دي خوابدي سوه، ته مرکه ور ولېږه خپله مابينه شېرينو ځني راولاړه که، راواده يې که، سبا به باندي پښېمانه سي.

نو خود مومن خان مرکه ور ولېږله چي ورسئ چي دا ښځه خو کاکا ما ته راکړې ده، چي اوس يې ورونه راکوي او که څه وايي، "شېرينو او مومن خان خو د پلار په ژوند لا سره مين وه، نو مومن خان تر دغي ورځي پوري د پښتني غيرت له لامله خپله مينه پټه ساتلې وه او د شېرينو هم دغه رنګه زړه پوره او صبر يې کړی و، بڼ يې نه کاوه". مرکه چي راغله و زبردست خان ته چي دا خور دي و مومن خان ته پلار ورکړې ده، اوس نو لو ده ور واده يې که.

زبردست خان وويل چي زه هيڅکله خپله خور نه ورکوم او نه زما پلار ورکړې ده، چي پر هغه راغلي ياست پر هغه ځئ.

مرکې ورته وويل چي مه کوه، دا ښه کار نه دئ، زموږ مخ مه ماتوه، په هر څه چي ته خپله خور ورکوې موږ يې قبلوو، "ځرنګه چي د پښتنو دا خوی دئ چي مرکه ورته راغله څو يې وس کېږي مخ يې نه ماتوي"، نو ځکه زبردست خان وويل چي اول خو يې نه ورکوم، که بيا هم تاسي ټينګ ياست نو ښه دئ، زما د پلار د پهلواني سپر يو من په تول پاته سوی دئ، په دغه سپر دي دوولس سپره يعني دوولس منه بتکۍ ما ته راکي نو به يې ورکم، که نه وي هيڅ.

مرکې وويل چي پور ته کئ لاسونه، دعا وکئ قبوله مو ده، زبردست خان اريان سو چي دا څنګه کار وسو، ما خو يوه بانه ورته کوله، چي مومن خان خو دونه بتکۍ نه لري او مرکې قبوله کړه، د دې پای يې څه؟ خو ناچاره سو پښتون و د خپله قوله نه ګرځېدی ويل ښه دئ مرکه يې رخصت کړه، مرکه راغله مومن خان پوښتنه ځني وکړه چي ومو غوښته؟ دوی ويل هو! مومن خان ويل ښه دئ! مرکې وويل چي دا پوښتنه دي نه وکړه چي څنګه مو وغوښته؟ مومن خان ويل په څو مو وغوښتله، مرکې ويل په دوولس سپره يعني په دوولس منه بتکۍ مو وغوښتله، مومن خان چي دا خبره واورېده نو يې ناره وکړه:

درځئ درځئ چې سره ځونه
د شېرينو ولور مې غواړې په بارونه

چې يعني زبر دست خان پښه راته نيسي، پلار يې لور وړيا راکړې ده او دی يې نه راکوي، دوولس منه بتکۍ غواړي دا يوه بانه راته کوي، د ده نوم زبردست دئ پخپل نامه غولېدلی دئ زما سره زبردستي کوي، نو زه خو دونه بتکۍ نه لرم چې ور يې کم، نو خود زما څخه دا وطن پاته دئ، خپل تربرونه دي، جنګ مناسب نه دئ چې ورسره ويې کم، ښه دا ده چې هندوستان ته ولاړ سم، او دا وطن و دوی ته پرېږدم.

نو يې د سفر موزې راوغوښتلې چې زما د سفر موزې او نور سامان رابرابر کئ چې ځم. دلته شېرينو خبره سوه، چې مين دي هندوستان ته ځي، ځرنګه چې دې پر مومن خان زړه بايللی و او دی يې روح ګاڼه، نو يې د توانه ووته د مځکي سر ځني ورک سو، د ورونو په غلا يې تور پوړنی پر سر کی، پټه راووتله په يوه تراټ راغله مومن خان لا نه دئ وتلی، نو يې ناره پر وکړه:

تا د سفر موزې په پښو کړې
د ژړو ګلو باغ پر چا سپارې مينه

چې يعني ما و چا ته پرېږدې؟ مومن خان په جواب کي ناره پر وکړه:

ما د سفر موزې په پښو کړې
د ژړو ګلو باغ پر خدای سپارم مينه

شېرينو ورته وويل چې ته ولي ځې، څه سوي دي؟ ده ورته وويل چې ستا ولور په منو بتکۍ غواړي، نو زه دونه بتکۍ نه لرم، نو شېرينو ناره پر وکړه:

د هندوستان و لور ته مه ځه
د شېرينو ولور له ما واخله مينه

مومن جان په جواب کي ناره پر وکړه:

د هندوستان و لور ته ځمه
د شېرينو ولور په خپل لاسو ګټمه

شېرينو فکر وکی چې په دې نارو او خبرو راونه ګرځېدی، نو راسه يوه

بله خبره، چې د پښتون نه ده خوښه ورته وېې که، ګوندي راوګرځي نو يې ناره پر وکړه :

د هندوستان و لور ته مه ځه

د هندوستان نجوني لولې بند به دي کينه

چې يعني د هندوستان نجوني ګرده بازينګري دي تا به هم وغولوي باندي مين به سې، بازينګر به دي کي، تربرونه به درباندي خاندي، ټول پښتانه به بد درباندي وايي، نو مومن جان په جواب کي ناره پر وکړه :

د هندوستان و لور ته ځمه

د هندوستان نجوني زما خوندي مندي دينه

چې يعني مانه سي غولولای او نه مي بازينګر کولای سي، زه پښتون يم، پښتون هيڅکله ننګ د لاسه نه باسي، نو خپل پر آس راسپور سو، د شېرينو څخه رهي سو، نو شېرينو تر شا ناره پر وکړه :

يار مي سپرېږي روانېږي

پر نارنجي مخ مي سېلاب د اوښکو ځينه

چې دوري ځې خال مي سهي که

د هندوستان د چټو نسته شنه خالونه

دا د نازناري يې پر وکړې چې ګوندي په دې يې زړه نرې سي راوګرځي، خو ده هيڅ چرت پکښې ونه واهه، د کلي څخه ووت ولاړ.

مومن خان چې د کلي څخه ووت، شېرينو پر مخي غوځاره سوه يو ګړی بېسده پرته وه، خو راپورته سوه تر شا يې وکاته مومن خان نسته، نو يې دلته داناري وکړې، وروسته کور ته رهي سوه :

چې خان مومن له ما جدا سو

بدن مي رېږدي زړه مي صبر نه کوينه

په جدايي سره جلا سوو

مومـــــنه کله به وصلت سره کوونه

ما جـــدايي ليدلې نه وه

چې خان مومن را څخه جلا سو به مرمه

مومـــنه ځه الله دي مـل سه
دا شـــينکی خال او زلفي تا لره ساتمه
مسافري په جمع زړه که
خولگی مي ستا ده که زه خاوري سم مينه

شېرينو جانه کور ته ولاړه، کور د بېلتانه په خونه کي شپې تېروي، دا نو دلې پرېږده مومن جان ځو سو؟ مومن جان چي را رهي سو خلک په پسې دي، تر يوه ځايه چي راغله خلکو تـه يې ويـل چي بس دئ تاسي رخصت ياست، زه يوازي ځم د خدای په امان! ټوله خلک ځني راوگرځېده مگر يو رېدي گل نومېده چي د مومن خان خورا گران اشنای دئ ور ته يې وويل چي زما او ستا سر سره تړلی دئ، زه به څنگه ستا څخه جلا کېږم؟

لنډه دا چي مومن خان او رېدي گل خان سره را رهي سوه، هله هله د سفر کار دئ تر ورځي د شپې ډېر مزل کېږي، خو مزل پر مزل "څه سر دي گرځـوم د نقل کـار دئ"، دا دي و هندوستان تـه راغلـه، د هندوسـتان د خلکو په هغه وخت کي دا دود و چي بدمخی به و که به ښايسته هغه به پر مخ نقـاب غـوړاوه، څرنگـه چـي مـومن خـان داسـي ښايسـته ولکـه پيـروژه چـي ستر گي نه پر روښېدلې، نو رېدي گل خان ور تـه وويل چي ستا داسي سکه ده، چي هر چا که وليدلې زړه درباندي بايلي، نو ته هم پر مخ نقاب واچوه، ده ويل ښه دئ، خو نقاب يې پـر مـخ وغـوړاوه ښـار تـه ننوتـل پـه بازار کـي ځـي، د هغې خوا پوځ او عسکر راځي تېرېږي، د مومن خـان خپـل نوکران ور پـه ياد سوه نو يې زړه درد وکی چي زما هم داسي نوکران وه دمخـه څخـه يې نقاب ايسته کی، چي د دوی سيل وکي خو عسکر تېر سوه د چانه سو ور ته فکـر، د يوه پيره دار ستر گي پر وموښتلې دستي غوځار سو بېسده سو، هغه نېزه چي تکيه يې پر کړې وه تر لړمانه يې وختله، رېدي گل خان ويل مومن خـان تـه وگوره يوه پير دار وليدلې څه احوال يې دئ، نو اختيار لرې چي مخ پټوې او که نه، مومن خـان بير تـه پـر مخ نقاب وغوړاوه، نو راغلـه يوه سـرای لـره يوه کوټه يې ونيوله.

دلته خلک پر پيره دار راټول سول و حکومت ته رپوټ وسو، چي پيره دار زخمي سوی دئ، چي د پيره داره څخه يې پوښتنه وکړه چي چا ووهلې؟

ده ویل چي هیچا نه یم وهلی، مګر زه خپل عشق په نېزه ووهلم، یعني یو ښایسته ځوان مي ولید زه بېسده سوم، غوځار سوم نېزه مي تر نس وختته، په هیچا غرض مه کوئ.

پادشاه حکم وکی چي دا زلمی بـه خامخـا راپیـدا کـوئ، شـاوخوا سپاهیان ګرځي پوښتنه کوي، یوه پنډي ورته وویل چي په پلاني سرای کي دوه کسه ځوانان دي، د دې ملک نه دي که وه هغه به وي، سپاهیان راغله د مومن خان په کوټه چي ورننوته ټوله داسي چپه پرېوتـله، چي پر سد راغله مومن جان د ټولو سره روغبړ وکی خورا عزت یې وکی، ډوډۍ او مېوې یې ورتـه راوړې ټولـه یـې مـاړه کـړه، وروسـته سپاهیانو ورتـه وویـل چـي باچـا غوښتي یاست که نه زهیرېږئ یو واري یې حضور ته ورسئ ډېر به ښه سي.

مومن خان ویل پر غبر ګولېمو و ر به سو.

لنډه دا چي مومن خان او رېدي خان ور رهي سول، د باچا حضور تـه راغله، د باچا چي ستر ګي پر وموښتلې د ده د ښایسته څخه ډوب ولاړ، باچا ورته ولاړ سو خیال یې په ورسېدی چي دا هم د باچا زامن دي، د څنګه سره یې کښېنول نو یې پوښتنه څني وکړه چي څوک یاست؟

مومن خان ورتـه وویل چي زه د پلاني باچا زوی یم هلتـه مي خوابده سوې ده دلته هندوستان ته راغلم.

باچا وویل چي ډېر ښه کار وسو، خوا مه بدوه د پلار د پاچهۍ څخه راغلې دا دي هم خپل ځای دئ، ما کاکا فرض که هر څه چي غواړې درکوم یې، ده ویل ښه دئ.

لنډه دا چي مومن خان و رېدي ګل خان دالتـه اوسېږي، څو شپې باد یوه شپه مومن خان بیده دئ خوب ویني چي پږغ پر وسي چي پورته سه د دې پسه پهلواني کوه، پر ټولو پهلوانانو به دي خدای قوي او زوره ور او غلیج کي.

مومن خان راویښ سو، ری یې نه پکښې وواهـه، سهار راکښېنوست فکر یې وکړ چي دغه خوب بې څه نه دئ او ځان هم خورا غښتلی ور معلوم سو، نو راغی چي زه ځان و ازمویم و باچا ته وایي چي صاحبه ! ته خو پهلوانان لرې؟ باچا ویل هو ! زما داسي غښتلي پهلوانان دي چي ساری یې نسته.

مومن خان ویل چي ستا پهلوانان نن ما ته په غېږ راوله چي زه هم ځان

پر واټکلوم، باچا ورته ویل چې ته او ستا نازک بدن او زما پهلوانان ! خو د یوې واري به دې پوښتې به غوټې درماتې کې، ده ویل وي دي زه خامخا په غېږ ورځم.

باچا هم ویل ښه دئ دستې یې هغه غښتلی پهلوان راووست د خدای عالم جمع سو مومن خان په غېږ ورغی، مومن خان چې مټ پر ونیو پورته یې کی په هوا یې وګرځاوه وګرځاوه بیرته یې پر مځکه لکه یو وړوکی کښېښو، باچا اریان ورته ولاړ، خو ډېر خوشحاله سو چې داسي زلمی پهلوان مې په لاس کښېووت.

یوه ورځ مومن جان د باچا سره پر اړخ ناست دئ چې نابېره یو چا خط راوړ، باچا ته یې ورکی، مومن خان ورته وایي دا څنګه خط دئ؟ باچا ویل څه یې کوې؟ ده ویل چې خامخا به دا خط راښکاره کوې ! باچا نه ورښکاره کاوه، مومن خان ور حمله کړه خط یې ځني واخیست چې ویې کوت پکښې لیکلي وه، چې د پروسږ کال ججه درباندې پاته ده، دا ژر تحویل که ! "دا خط د یوه باچا و چې پر دې باچا زوره ور و، په زوره یې هر کال ججه ځني اخیستله"، مومن خان باچا ته وویل چې ججه نه ورکوم، زه هیله و خدای ته لرم چې د دې ججې څخه دې خلاص کم، زه پښتون یم دا بې ننګي پر ځان نه قبلوم، څو یا تا د ججې څخه خلاص نه کم یا سر بای نه لم نه یې پرېږدم.

باچا هر څه ورته وکړه چې زه ججه ورکوم ته به نه ځې، ده ویل یه زه پښتون یم خامخا ځم، او هم یوازې ځم، دغه خپل ملګری لا تا ته دلې پرېږدم.

لنډه دا چې مومن خان یوازې را رهي سو راغی د دې باچا ښار ته، د یوه زرګر دوکان ته ورغی زرګر ته یې څه بتکی د جېب څخه وکښلې ور یې کړې ورته ویې ویل چې ما ته د سرو زرو د آس نالونه راجوړ که، زرګر وخندل چې دا وګوره ! چا د آس نالونه د سرو زرو جوړ کړي وي.

اریان ولاړ، خو مومن خان ورته وایي چې ته یې ژر راجوړ که، زرګر په کار اخته سو، دی ورته ناست دئ، نور خلک هم باندې راټول دي، مومن خان که کتل یوه ښځه ده ځان یې ښه جوړ کړی دئ، پر اوښ په بار کي سپره ده، یو سړي اوښ تر مهار نیولی دئ کشوي یې، ښځه چې د زرګر د

دوکان پر حد راغله ناره یې وکړه :

ځوانانو ننګ راباندې وکړئ
پلار مې مغل دئ ما ښامار لره لېږینه

په دې مجلس کې یو تو کمار ناست و، د دې ښځې په جواب کې یې ناره وکړه :

موږ خو به ننګ درباندې وکړای
مېړه دې ناست دئ په مجلس کې څوږ برېتونه

مومن جان د زرګر څخه پوښتنه وکړه چې دا څه ناره او دا څه نقل دئ؟ زرګر ورته وویل چې هلته په غره کې یو لوی ښامار دئ، هره روځ یوه ښځه یو اوښ په ډوډۍ بار باچا د ښار څخه ورلېږي، ښامار یې خوري، که یې یوه ورځ ور ونه لېږله نو ښامار راځي په ښار ګډېږي سړی په سا کې الوزوي خوري یې، مخلوق غرقوي او دغه ښځه او اوښ و ډوډۍ په دې ښار کې په وار ورلېږي، نن د باچا د لور وار دئ دا ښځه د باچا لور ده او دا سړی چې په دوکان کې ناست دئ، د وزیر زوی دئ د دې ښځې مېړه دئ.

مومن جان ویل خدای یو مالګې تروې چې شېرینو هم ښځه ده او دا هم که زه ژوندون وکم، څو یا ځان بای نه لم یا دا ښځه خلاصه نه کم.

لنډه دا چې مومن خان دستې راولاړ سو، توره یې راواخیستله په دغه اوښ او ښځه پسې پټ رهي سو، کرار کرار پسې څارو دئ، هغه سړي اوښ راووست د هغه غره په شېله کې یې ایله کی، سړي ځني را الا کړه، مومن جان په مخه ورغی، سړي ورته ویل چې دوري مه ځه اوس ښامار راځي ښوی به دې تېر کي، ده باک په ونه کی خو راغی هغې شېلې ته ښځه پر اوښ سپره ده، ښامار لا نه دئ راغلی. ښځې چې تر اوسه ښامار نه و لیدلی پر مومن خان یې سترګې وموښتې خیال یې دا سو چې همدغه لکه چې ښامار دئ، نو د وهمه څخه د اوښ څخه لاندې راولوېده، تر دغه نازک بدن یې ژړګې او ازغې پورې ووري ووتل، نو ښځې په ژړا ناره پر وکړه :

ته مې انسان یې که پیری یې
زما تر زړه وخاته د ژړګو سره مېخونه

مومن خان ناره پر وکړه :

زه خو انسان یم پیری نه یم
یم مومن خان ستا په کومک راغلی یمه

مومن خان راغی ښځي ته یې وویل چي ښېغمه اوسه خدای ساتندوی دئ، ته ورسه پر هغه چینه پټه کښېنه، زه بېدېږم هر وخت چي ښامار راغی پر ما بږغ وکه.

دې ویل ښه دئ، خو دی پر پووت نجلۍ پر چینه کښېنسته چي مومن جان بیده سو دې وویل چي ده پر ما سر کښېښښو نو چي دی خوري ما دي په سر کي وخوري، نو راغله د مومن خان سر یې کرار پر خپل زنګانه کښېښو، په څونو کي یې ګوتي ور وهي باندي مینه سوه، د یوې خوا د ښامار وهم و د بلي خوا د مومن خان د میني اور سو، نو ته وا څنګکه به وي؟ یو ګړی چي وسو ښامار لکه غونډۍ، غونډۍ غونډۍ کېږي راغی. ښځي چي مار ولید ګنګوړه سوه بږغ یې تر خوله نه خوت د حرکته ولوېدله، چي مومن خان یې خبر کړی وای، خو د ستر ګو څخه یې اوښکي د مومن خان پر مخ راتوی سولې، مومن خان په راویښ سو. چي ویې کتله سر یې د دې پر زنګانه پروت و، خوا یې بده سوله چي سر دي د نامحرمي پر زنګانه و، خو بیر ته یې وویل چي دا ځای د دغه نه دئ مه کوه د شېرینو لا ارمان په زړه کي پاته سو، دا خواره لکه چي د بېري دلته راغلې ده.

لنډه دا چي ولاړ سو دا ښځه یې ګوښه کړه، ده بسم الله کړه! توره یې اوږده اوږده په خپلو تلو پوري وتړله نو ستوني ستخ پرېووت پښې یې په هوا ونیولې، ښامار چي راورسېدی پر مومن خان یې املـه وکړه، مومن خان پښې ور څرمه کړې، د ښامار په خوله کي یې پښې ورکړې، خو ښامار تېراوه خوله یې سمدلاسه په توره څرېده، څو ښامار تر نیمي ځیري سو مړ سو، مومن خان بیر ته ژوندی څني راووت. ښځي ته یې بږغ کړه چي راسه ښځه چي راغله مار لکه غونډۍ پروت و مړ دئ، وروسته مومن خان د مار څخه یوه نرۍ تسمه سر تر پایه وایستله په جېب کي یې واچوله، نو ریې تکر تکر کی، ښځي ته یې وویل چي زه نو ځم ته پر اوښ سپره سه کرار کرار راځه، که چیري بل چا دعوه وکړه چي ښامار ما وژلی دئ نو ته ورته ووایه چي مار هغه چا وژلی دئ چي پوره تسمه یې

ورځخه وي او زما ځای هغه د زرګر دوکان دئ زیاته نو ته او خپله راستي.

نو مومن خان ځني ولاړ، ښځه تر یوه ځایه راغله کښته سوله نو پر یوه غونډۍ کښېنستله چي یو څوک پیدا سي ورسره ملګري به سم.

دلته د باچا مایني یعني مور يې یو سړی راولېږی چي ته ورسه زما لور خو به يې اوس خوړلې وي، که يې چیري یو څه نخښه یا د پوړني څوکه پر ته وه رایې وړه چي پر هغه یو قبر جوړ کم. سړی چي را رهي سو راغی هغې شېلې ته نابېره يې یو وار پر ښامار ستر ګي ولګېدې، مخامخ يې را الا کړه، هله هله چي راغي د باچالور يې ولیده چي ژوندۍ ناسته ده، اوښ ورته ولاړ دئ، د باچالور وویل چي ولي ځغلې؟ مار خو مړ دئ، سړي فکر وکي چي د باچالور به و باچا ته ور ولم باچا به خوشحاله سي زه به ورته ووایم چي ښامار ما مړ کی، خلعت به راکي منصب به رالوړ کي، د باچالور يې پر اوښ سپره کړه سره را رهي سوه، هله هله دا دي د باچا و حرم سرای ته ورننوتل، سړي باچا ته وویل چي صاحبه ! دا دئ ښامار مي کړ کی او لور مي دي هم راوستله، باچا ډېر خوشحاله سو، غوښت يې چي شاباسی ور کي لور يې ناره پر وکړه :

ښامار هغه سړي وژلی
چي خپل په جېب کي د ښامار نخښه لرینه

نو باچا د دغه سړي ځخه پوښتنه وکړه چي ستا ځخه د ښامار نخښه سته؟ ده ویل نخښي ته حاجت نسته هغه دئ مار مي ټکر ټکر کړی دئ پروت دئ، باچا د لور ځخه پوښتنه وکړه چي هغه سړی چي ښامار يې وژلی دئ او نخښه يې ورځخه ده چیري دئ؟ دې ناره پر وکړه :

ګل د زرګر پر دوکان ناست دئ
چي دغه سپین مخ يې د لمر شغلې وهینه

دستي باچا سړي و مومن خان ته راولېږل، په ډېر عزت يې مومن خان وغوښت، مومن خان چي راغی باچا پوښتنه ځني وکړه چي ښامار تا وژلی دئ؟ ده ویل هو ! دغه يې نخښه ده. باچا ورته ویل آفرین ! دغه زما لور او

نيمه پاچهي ستا ده. ده ورته ويل چي زه ستا پاچهي نه کوم او لور دي هم نه کوم ځو زما يو ناز وانه خلې. باچا ورته ويل پر غبرګو لېمو هر څه چي وايې زه يې قبلوم، ده ويل چي د پلانکي باچا ښځه به ججه نه اخلې او زه راغلی يم چي پوښتنه در څخه وکم چي ته دده ښځه ولي ججه اخلې؟ باچا ويل چي ما يې پهلوانان ور مات کړي دي، مومن خان ويل چي ستا پهلوانان هم زما سره وازمويه که يې زه مات او غوځار کړم خو ججه ځني اخله که نه وي، وربخښې به يې.

باچا ويل چي دا خو ځرګنده خبره ده چي زما په پهلوانانو کي دونه پهلوان نه و چي دا بلا يې وژلې واى، تا مړه کړه، په نو ما خپله لور او ججه او نيمه پاچهي دربخښلې ده، مومن خان ويل چي زه پاچهي نه کوم او نه ماينه کوم، زه ماينه لرم باچا و دې ته اړ کی چي پاچهي نه کوې دغه لور به مي خامخا کوې، مومن خان ناچاره سو د باچا د لور سره يې نکاح وتړله، ماښام چي يې لور ورته راوستله چي نوري ښځي ووتې نيمه شپه سوه مومن خان توره وکښله په ځاى کي يې تر منځ کښېښووله، نو يې د باچا لور ته وويل چي زما مطلب او د زړه مينه شېرينو ده، بل چا ته مي ميل نه کېږي، او ما د شېرينو سره قول کړى دئ چي زه په پر بل چا مينه نه کوم نو بايد پر خپله پښتو ټينګ سم، ته هوښ کوه چي لاس يا پښه راوانه ړوې چي په دغه توره به يې غوټ پرې کم. د باچا لور ورته وويل چي زه ستا پر مړانه او دوو سترګو مينه يم، نور څه مي نه دي په کار، زه ستا په مرضا ځم چي هسي زه ستا په نام يم دغه فخر مي بس دئ.

سهار مومن خان و باچا ته ويل چي زه ځم، باچا هم دستي خط ورکی چي ما ججه دربخښلې ده، ده خط ځني واخيست را رخصت سو، "دی نو پرېږده چي پر لار وي"، هلته چي مومن خان د خپله کوره او مور ځخه را رهي سو د ده اشنايانو پر زبردست خان دوى لاس واچاوه، هره شپه به يې مالونه ځني بېول، سړى هم نه و معلوم چي ځوک يې بيايي، دوى د وهمه ځځه چي شېرينو بو نه زي، نو شېرينو به يې په منځ کي د شپې پرې ايستله دغه اووه ورونه به شاوخوا پر راوګرځېده بيده به سول، او زبردست خان به د دروازې و خوا ته پروت و، او د مومن خان مور يې د خپله کوره وشړله څه

چي يې درلوده ځني وايي خيستل، د مومن خان د مور يو ماجتي[1] زوی و، دا يې په يوه کلي کي ګوروان کی، يوه ورځ د دغه ګوروان ځخه غواوي د زبردست خان په کښت ګډي سوي وې د زبردست خان بزګرو دی وواهه، دی کور ته راغی و مور ته يې وويل چي زه هم ځم دا وطن يې پاته، خو دا ماجتي هم مخ د هندوستان پر خوا راهي سو، هله هله راغی هم هغه مخني باچا ته چي مومن خان ورسره و، د هغه باچا پايدواني يې ونيوله، دی چي ولاړ د زبردست خان هم لړ څه زړه نری سو چي دا خو بد کار پېښ سو.

مومن خان چي راورسېدی دغه خپل ماجتي ورور يې وليدی ناره يې وکړه :

که پايدوان يې پر ما ګران يې
د ژړو ګلو باغ پر ځای که خزان وونه

چي يعني شېرينو ناسته وه که يې چا ته ورکړي وه، ده چرت وواهه چي راسه داسي جواب ورکه چي راسره ولاړ سي نو يې ناره وکړه :

که مومن جان يې پر ما ګران يې
د ژړو ګلو په باغ ګډ واته مالونه

د مومن خان ډېره خوا بده سوه دستي يې پر باچا ناره وکړه :

باچا رخصت راکه چي ځمه
پر دنباله مي غمازان کوي شورونه

خو باچا ته يې هغه د ججې بخښلو خط ورکی باچا ډېر خوشحاله سو نو ده ويل چي زه رخصت يم باچا ويل چي مه ځه زه او زما ټوله عسکر پر تا ولاړ يو، د هر چا سره چي دي بدي ده موږ به سرونه دربانديي کښېږدو، ده ويل يه! حاجت نسته موږ خپله درې ملګري يو ځو، نو باچا اوه غاړي په بتکيو ور بار کړې څو کسه نوکران يې ورسره کړه چي دوی تر وطنه ورسوي. مومن جان دوی مخ د کور پر خوا راهي سوه. "دوی نو دلې پرېږده چي مزل کوي"، مومن خان چي هلته د باچا يعني د خسر د کوره رارهي سو، ماينې يې

[1] ماجتي هغه کوچني ته وايي، چي مور و پلار يې نه وي معلوم، او په مسجد کي يې څوک پيدا کي لوی يې کي.

وباچا ته ووېل چې زه په مومن خان پسې ځم، باچا وېل چې څنګه ځې؟ دې ورته وېل چې زه ده د مرګه خلاصه کړم بلکې ټوله رعيت او ښار يې د بلا څخه وساتي او تا هم ور وبخښلم، نو ما ته اجازه وکه، او نه د پېرش نجوني نوري راسره که موږ به درېشي وکو هلته به پسې ورسو، درېمه ورځ به دغه نجوني بير ته راواستومه ستا به نوم سي او مومن خان به دي ښه ترا خپل او خوشحاله سي، باچا وېل ښه دئ.

بس دستي يې نه د پېرش نجوني راټولي کړلې ښې درېشي يې په وکړلې پر اسانو راسپرې سوې، دا دي د دې بل باچا ښار ته راغلې، د مومن خان پوښتنه يې وکړه چې مومن جان چيري کښېني؟ دوی ورته ووېل چې نن درېمه ده، چې د خپل وطن پر خوا رهي سو، کور ته ولاړ. د باچا لور سره له هغه نورو نجونو هم دستي د دوی په پله پسې رهي سولې، هله هله شپه و ورځ يې پر ځان يوه کړه خو دا دي د مومن خان په ډله پسې راورسېدلې، پوښتنه يې وکړه چې مومن جان څه سو؟ دوی ورته ووېل چې هغه د خسر کره ولاړ، تاسي هم دلې اوسئ اوس به دستي راسي، "دلته چې مومن خان دوی و سهېل[۲] ته راورسېدل، نو همدالته د زبردست کور نژدې و، شپه ده، نو مومن خان و خپلو ملګرو ته ووېل چې تاسي دلې دېره سئ، چې زه يو واري يوازې ورسم چې وګورم چې رشتيا يې شېرينو ورکړې ده که نه؟ که يې ورکړې وه نو شېرينو او مېږه به يې غبرګ په توره ووهم مړه به يې کم، زياته هر څه چې پېښه سوه زما د توانه وتلې ده، او که يې نه وه ورکړې نو بير ته به دستي راسم"، نو مومن خان چې ولاړ، د زبردست خان و کلا ته تر دېواله ور واووښت، خپل کرنګ آس يې دباندې وتاړه، د زبردست چارپايي د دروازې سره پر ته ده او شېرينو د دغه نورو ورونو په منځ کې بيده ده، نيمه شپه ده د مومن خان د توانه ووته ور تېر سو، د شېرينو څخه يې مچه واخيسته، شېرينو راويښه سوه مخ يې په ناړو لوند دئ، ناره يې وکړه :

ورونه د مرګ په خوب بيده دي

پر نيمه شپه مي غمازان آزاروينه

---

[۲] سهېل نوم د يوه وطن دئ.

دستي يې ورونه راوغورځېده هر يوه يوه يوه چاره وواهه، خو مومن خان د غيرت ته رېږغ نه کوي او نه جنګ کوي، زبردست راغی یوه چاره یې په دغه ځګر کي وواهه غوځار سو، نقاب يې د مخه ايسته سو، شېرينو په دغه تاريکه کي وپېژاند، نو يې ناره وکړه :

اديې راکښېنه او ررابل که

د مومن خان په وينو رنګ سوه بالښتونه

خير خو د کلا دروازه يې خلاصه کړه چي مومن خان يوازي راغلی دئ که نور څوک هم ورسره دي، دبانـدي چي يې وکتـل هيڅـوک نستـه، يـو کرنګ تړلی دئ نو شېرينو ناره پر وکړه :

کرنګه مات دي سه بندونه

پر نيمو شپو دي مومن خان راوی د کمه

د ميني خواست و کرنګ پر دغه ځای خوځار سو بندونه يې غوټ مات سوه. مومن خان ژوندی دئ، دستي يې په مور پسي سړی واستاوه چي دا اوستری ديد يې وکي، سړی چي راغی د مومن خان مور تـه يـې وويـل چي مومن خان راغلی دئ اوس دستي بير ته ځي راسه که يې ديدن کوې!

مور يې خوابدې سوله چي زبردست زما سره څه بې وري کار وکی او داسي جفاوي يې زموږ سره وکړې، دی لا ورځي مېلمه کېږي يې، خو زوی و نه کېده راهي سوه، چي راغله که ګوري خلک راټول دي نو يې ناره پر وکړه :

مخلوقه څنګ وهئ څنګونه

چي زه په زړه د مومن خان يم ګيله منه

خلکو لار ورکړه دا چي راغله که ګوري چي مومن جان په وينو کي غرق او لژند پروت دي، نو يې ناره وکړه :

ما به پر کور کول فالونه

چي مومن خان به هندوستان راوړي شالونه

نو يې وژړل ويې ويل چي زما خيال دا و، چي دی به د هندوستان څخه بتکی او شالونه راوړي، ده ځان بايلو، نو يې پر شېرينو مخ راوګرځاوه چي مومن خان خو ستا د لاسه ټکر ټکر سو، نو د دې په جواب کي شېرينو ناره

پر وکړه :

د مومن خان عقل کوتاه و

پر نیمو شپو څوک د چا سرای لره ورځینه؟

بیا د زبردست مور ناره پر وکړه :

مومن مي د وولس کاله تللی

پر دیار لسم کال چي راغی اجل نیولی

چي یعني تاسي ګیلې مه سره کوئ د مومن خان اجل پوره و، وروسته د مومن خان مور د مومن خان څخه پوښتنه وکړه چي په دغه اوو تپو کي دي کم تپ ډېر خوږېږي؟ ده ویل دغه د ځګر د چړې تپ مي ډېر خوږېږي، نو یې ناره وکړه :

مومن اووه چړې خوړلي

د زبردست د چړې ډېر فریاد کوینه

زبردست چي دا ناره واورېده، چي مومن زما د چړې څخه مري، جدایي یې زړه نری کړی و زړه یې درد وکی چي په داسي پردېسي کي مي مړ کی، نو یې هغه چاړه په خپل ځګر کي ووهله سوړ پوړ واوښت، خلک پر راټول سوه یو غم دوه سوه. زبردست وصیت وکی چي زما جنازه د ده د جنازې دمخه وړی او ما د ده دمخه ښخ کئ، ځکه چي ما ډېر ظلم ورسره کړی دئ، دا یې وویل مړ سو.

مومن خان چي دا احوال واورېده چي زبردست خان ځان ووهه مړ سو، نو یې وویل چي زه خو مړ سوم نو ده ولي ځان واژه، لږ ګړی وروسته د مومن خان ستر ګي ودرېدلې تور یې ولاړه سپین یې راغله، سکلې وهي مور یې په وپوهېده چي د مرګ څپه پر راغله نو یې ناره وکړه :

یاسین شروع کئ ملا یانو

چي مومن خان د زکندن سکلې وهینه

ملایانو یاسین پر شروع کی پر مومن خان خوله راغله مور یې بیا ناره وکړه :

یاسین په زوره باندي وایاست

پر مومن خان د زکندن خولې راځینه

لنډه دا چي مومن خان مړ سو، خلک پر ناست دي سهار سو، ملايان يې اخلي غسل ورکوي، شېرينو ناره پر وکړه :

جانان زما پر خولګۍ مړ دئ

عالمه مه يې لمبوئ چي شهيد سونه

"دی نو پر پرده چي جنازه يې ور سموي"، هلته هغه څلوېښت نجوني او د ده ملګري سره له بوټي را رهي سوه چي ورسو کور ته، د باچالور يې دمخه ده چي راغله په لار کي د کلي دباندي يو بزګر اوبه لګوي ژاړي، د باچالور پوښتنه ځني وکړه چي د مومن خان کور کمه دئ؟ بزګر ناره پر وکړه :

پر نيلي سپور راغلې ښه ځوانه

مومن جان مړ دئ په هوا ژاړي مرغيه

بزګر دانکل ورته وکی چي داسي مړ سو، نو دې ناره پر وکړه :

يو دا دي څه ويل بزګره !

غشي دي راکی د ځګر پر پيوستونه

نو د باچالور خپل آس د مومن خان د ارواح په خوښي و بزګر ته وروباخښه، خپله درېشي يې وکښله، هغه خپل د ښځي کالي يې واغوسته، هغه نوري نجوني يې بير ته هندوستان ته رخصت کړلې، ورته ويې ويل چي بابا ته وواياست که زه مړه سومه خو ښه، که ژوندۍ ومه نو زه دلې د مومن خان پر زيارت ملنګه يمه، "دلته يې د مومن خان جنازه را اخيستې ده، بزګر ورته وويل چي کور ته مه ورځه، هغه ده د مومن جان جنازه يې را اخيستې ده، جنازې ته يې ورسه"، شېرينو د جنازې په وخت کي وويل "چي د مومن خان ارمان نه دئ ختلی، د ده جنازه دي تر هديرې پوري پېغلي نجوني يوسي"، د باچالور چي راغله پوښتنه يې وکړه چي د مومن خان کمه جنازه ده؟ دوی ورته وويل چي هغه پېغلو نجونو چي را اخيستې ده، نو دې ناره پر وکړه :

د پاسه دوې جنازې راغلې

د مومن خان جنازه پېغلي نجوني وړينه

خو دا يې هم تر جنازې لاندي سوله، جنازه يې هديرې ته راوړه، کښې يې ښوولي نو د باچالور پوښتنه وکړه چي شېرينو کمه ده؟ دوی ويل دغه ده،

نو دې ناره پر وکړه :

مومن پر تا مړ سو مرداري
ما د انار تر ګل نازک ساتلي وونه

د زبردست خان مور ته درد ورغی چي زما زوی خو هم مړ سو، زه څه نه وایم نو یې په جواب کي ناره پر وکړه :

د مومن عقل د مریي و
کاروان یې پرېښو د سهېل پر میدانونه

د باچالور راغله ویل یې چي اوس خو مړ سو، څه څېړنه، نه ده په کار او که تاسي ښه کوئ ایسته سئ چي زه د مومن خان دغه آخر دید وکم زما ارمان نه دئ ختلی، خلک سره ایسته سوله، نو دا راغله د مومن خان د جنازې سره وغزېدله، ویل خدایه ! که به د زهیرو او رښتیني مینو زړو خواست اخلې، نو زه زیاته ژوند نه غواړم !

لنډه دا چي الله تعالی یې خواست قبول کی دې خپل نفس د مومن خان پر نفس خیرات کی، مړه سوله.

وروسته یې د مومن خان قبر پرېکاوه، چي ښخ یې کي، مور یې ناره پر وکړه :

مومن پر لوړه غونډۍ کښېږدئ
چي خواره مور یې هر سهار زیارت کوینه

خو د مومن خان قبر یې پر لوړه غونډۍ پرېکاوه، مور یې راغله ورته ودرېدله، نو یې پر قبر کیندونکو ناره وکړه :

قبر یې ښه پرې کئ یارانو
مومن پردېس دئ پکښې تېر به کي کلونه

چي قبر یې ور جوړ کی، مومن خان یې پکښې کښېښو، شېرینو راغله ورته ودرېده، د مومن خان پر برېتو خاوري پرتې وې، نو یې ناره وکړه :

مومن په ګور کي دستمال غواړي
په پاکوي دا خپل د خیال کاږه برېتونه

چي مومن خان یې ښخ کی پټ یې کی، نو شېرینو اوسترۍ د ارمان ناره پر کوي:

ارمان ارمان لا خانه مومنه

ارمان مي دا دئ خانه مړ وې مړ مي کړې پخپله[۳]

لنډه دا چي مومن خان يې پر لوړه غونډۍ ښخ کی او د باچا لور او زبردست يې په هديره کي ښخ کړه، دعا يې وکړه چي خدای دي دوی او ټوله مسلمانان وبخښي، دنيا بې وفا ده، هيچا بار نه دئ پکښې تړلی، خپلوان يې کور ته راغله، د غمو شپې يې تېرولې و بس !

(تمام سو)

وايي چي دوی يې ښخ کړه، ماښام يوه ښه سړي خوب وليد، چي د باچا لور په خپل قبر کي نه وي، سهار يې دا خوب ووايه، د زبردست ورونه چي ورغله قبر يې وشانه، دا نه وه، اريان ولاړه چي دا څه سوه نو يې يو ښه صاحب الحاله سړی و، د دې څخه پوښتنه وکړه چي ته وګوره چي دا ښځه څه سوې ده؟ ده چي سر پټ کی ... وروسته يې سر راپورته کی ويل يې چي هغه د مومن خان په قبر کي ده.

دوی راغله د مومن خان قبر يې وشانه لګ يې کی هلته پر ته وه، نو يې بيرته راوکښله بل ځای يې ښخوله، دغه ښه سړي ورته وويل چي دا رښتيني مينان دي، چي هر ځای يې ښخ کئ، بيرته د خدای په حکم سره ورته راځي، يه ! تاسي يې د لاري پر هغه بله خوا ښخه کئ چي خلک يې په منځ کي تېرېږي نو نه سي سره ورتلای[۴].

د باچا لور يې پر هغه بله خوا ښخه کړه، وايي چي څو ورځي وروسته د مومن خان او د باچا د لور د قبرو څخه زرغونه نهالان راشنه سوه، دواړه سره راکاږه سوه، سرونه يې يو تر بله سره جاړواته، لار يې په منځ کي تېرېدله چي اوس هم هغه ونې پر هغه ډول سته.

---

(۳) دا ناره نکل چيان د کسر پر ډول تر هري نارې وروسته کوي.

(۴) اوس هم وګړي وايي چي هديره بايد و لاري ته نژدې وي، نه د لاري پر يوه خوا پر بله خوا، ځکه دغه مړي بيا نه سي سره ورتلای.

تبصره :

د مومن خان د نقل ناري که څه هم بېل وزم لري، مګر په وزن او قافيه کي کټ مټ لکه ملي لنډۍ داسي دي، ډېر وګړي وايي چي ملي لنډۍ يا د مومن خان او يا د طالب جان د نقلو څخه شروع سوي او په پښتنو کي رواج سوي دي، او د طالب جان نقل او ناري يې چي ما اروېدلي دي کټ مټ همدغه اوسنۍ مروجه لنډۍ پکښې وايي، مګر په بېل وزم.

د مومن خان د ناري وزم :

د ناري لومړۍ مسرۍ دوه واره ويله کېږي، او د دوهمي مسرۍ اووم يا اتم يا نهم او لسم سېلاب دوه واره ويل کېږي، او د ناري د کلمو په منځ کي (لا)، (وى)، (وى) ور زياتوي، مثلاً :

ارمان ارمان (لا) خانه مومنه (دوه واره)

ارمان مي دا دئ خانه مړ (وى) مړ مي کړې پخپله

او همدغه ناره د هري ناري وروسته د کسر پر ډول ويله کېږي.

جلات خان او شمایله

ته وا ښه !

چي و، يو ډير غريب سړى و، دوه يې زامن وه، يوه يې ماينه وه، د مشر زوى نوم يې خنکار و او د کشر زوى نوم يې مسلم و[1].

نو دى دئ دوه يې زامن دي د ورځي ولاړ سي و چوغکو ته دامونه ايږدي، مرغان نيسي ښار ته يې راوړي خرڅوي يې، خپل کفاف او ګوله په برابروي او خپله شپه په تېروي. دې پلار يې وويل چي تر څو به دا آزارونه ګتم، او تر څو به دا د ژوند غم ګلوم؟ ماينې ته يې وويل چي زه خو دغه غره ته ځم ګوندي خداى وي چي يا مړ يا به موړ سم.

خير ! خو وغره ته راغى په غره کي تمامه ورځ ګرځېدى خو څه يې نه کړه پيدا، آخر ته يې يوه تکه سپينه اګۍ پيدا کړه دا اګۍ يې راواخيستله کور ته راغى، ماينې ته يې ويل چي بل شى مي نه کى پيدا دغه يوه اګۍ مي پيدا کړه راوامي خيستله.

ماينې يې ورته ويل چي ته يې ښار ته يوسه ښايي چي په څو ايکۍ يې ورکې، او د هغې خوا به يوه ګوله ډوډۍ راوړې، دې سړي همدا اګۍ ښار ته راوړه يوه دکاندار ته يې ښکاره کړه چي دا اګۍ نه رانيسې؟ دوکاندار چي وکتله ورته وې ويل چي زه د دې اګۍ قيمت نه لرم، صراف ته يې يوسه.

بيا يې يوه صراف ته راوړه هغه هم چي وکتله ورته وې ويل چي زه يې قيمت نه لرم، سړي فکر وکى چي رشخند راوهي، ولي خو يو څو ايکۍ به يې قيمت وي بيا يې بل غټ سېټ ته راوړه، هغه اګۍ وليدله ورته ويل يې چي په څو ده؟ ده فکر وکى چي راسه ډيري روپۍ ورته ووايه، ورته ويل يې چي

---

[1] دغه زامن يې د دغي ماينې نه وه، د بلي ماينې څخه وه، دغه ښځه د دوى ميره وه.

په درې سوه روپۍ، سېټ هم دستي روپۍ ور کړې دا غريب سړی ډېر خوشحاله سو، روپۍ يې راواخيستې کور ته راغی ماينې ته يې روپۍ ور کړې خو ډېر خوشحاله دئ.

هره ورځ غره ته ځي دا اګۍ د هغه مرغه د ځالي څخه را اخلي، راوړي يې خرڅوي يې، په لږه موده کي ماړه سوه.

آخر ته دې سړي فکر وکی ماينې ته يې وويل چي زه به دا مرغه ونيسم دلې به يې راوړم د دې تکليفه به خلاص سم، ماينې ويل ښه دئ.

خير ! څو ولاړی هغه مرغه ته يې دام کښېښو، په دام کي يې ونيوی کور ته يې د اګۍ سره راوړی، دغه مرغه اګۍ ور اچوي دوی يې خرڅوي، خورا دولتمند سوه، يوه لو کلا يې جوړه کړه.

آخر ته دا سړی مړ سو، اجل يې پوره و، دې عيال ته يې دغه مرغه اګۍ اچوي په دغه اګۍ يې ګذران کاوه، خو مور يې کونډه سوه، دا يو هلک اګۍ وړي پر هغه سېټ باندي يې خرڅوي. ميرې يې ويل چي زويه ته و دغه سېټ ته ووايه چي نن مي مېلمه يې، ولي هره ورځ اګۍ راڅخه رانيسي، زوی يې ويل ښه دي.

بله ورځ چي دا زوی يې سېټ ته اګۍ راوړه نو يې و سېټ ته وويل چي ادې مي ويل چي نن شپه مي مېلمه يې. سېټ ور ته وويل چي مور ته دي ووايه که دغه مرغه را حلالوې او ټول يوازي ما ته راکوې، او نو کی نه ځني ګرځوې نو درځم که نه وي ... نه درځم.

زوی يې راغی مور ته يې وويل چي سېټ داسي وايي ...

مور يې ويل ښه دئ(۲).

دستي يې مرغه حلال کی په دېګ کي يې سور کی سېټ يې راوغوښتی سېټ چي راغی ويل نو کی غوښي به د دې مرغه و چا ته نه ور کوې، دې ويل ښه دئ.

وختي چي مينځي دا مرغه سور کاوه، نو دغې مينځي په غلا د دې

---

(۲) و دې دولتمند ته معلومه وه چي د دغه مرغه زړه او سر چي څوک وخوري هغه پاچا کېږي.

مرغه زړه و يوه هلک ته اوسر يې و بل هلک ته ور کی، ويې خوړ، چي دوډۍ يې راوړه د مرغه غوښي يې ور ته کښېښوولې، سبېټ چي وکتل سر او زړه يې نشته نو سبېټ ډېر خوابدی سو، چي زما د زړه مقصد خو سر او زړه و هغه خو نشته، نو يې ور ته وويل چي زه څم ته پر قول ونه درېدې، مينځه راغله هلکانو ته يې وويل چي که کور ته ورغلاست ميره مو وهي وايي چي د مرغه سر او زړه يې ولي خوړ، نو دستي خونکار و مسلم د بېري دواړه ولاړه وتښتېده.

هله هله راغله تمامه ورځ يې مزل کړی دئ، ستړي دي تر يوې وني لاندي کښېنسته، خو دا مشر ورور خونکار نامی ور ته پرېوتی، دغه کشر مسلم نامی په مچلوغزه چوغکي ور ته ولي، يو کړی يې چوغکي ووېشتې خو چي بير ته راغلی که ګوري دا ورور يې مړ دئ.

خو ډېر خوابدی سو ژاړي، اوس اريان دئ چي څوک به يې راسره ښخوي، آخر تـه پر يوه لو لوړه غونډۍ وختی شاوخوا ګوري چي ګوندي څوک به پيدا سي چي دا ورور راسره ښخ کي، د دې غونډي پر سر ولاړ دئ که ګوري چي ليري خورا نهايته ډېر خلک سره ټول دي، دی را رهي سو چي زه ورسم چي دا څه خلک دي، چا ته به ووايم چي راسي دا ورور راسره ښخ کي.

مسلم چي راغی د دې خلکو باچا مړ دئ، باز يې ايله کړی دئ د هر چا پر سر چي کښېني هغه باچا دئ، نو د خدای عالم دئ، باز ايله دئ يو وار باز راغی د مسلم پر سر کښېنستی، خلکو ويل باز خطاوتی.

خير ! خو په درې ځلو باز د مسلم پر سر کښېنستی، مسلم يې راکش کی، باچا سو، هغه خپل ورور يې هېر سو.

"دا تأثير د هغه مرغه د زړه و، چي خوړلی يې و"، دا مړ ورور يې پروت دئ تر دې وني لاندي. وروسته درې تک سپين مرغان راغله په دې ونه کي کښېنستله، دې يوه مرغه ويل دا څنګه ښه ځوان دئ، دې بل مرغه ويل :

دا سړی خو نه دئ مړ، او د دې وني په پاڼو به جوړ سي.

دې بل ويل : راسئ چي دا پاڼي ور ورژوو ګوندي يوه پاڼه يې په خوله کي وموښلي. پاڼي يې ور ورژولې، يوه پاڼه د دې خونکار په خوله کي

ولوېده، د دې پاڼې اوبه یې په خوله کې توی سوې، قدرت د خدای دئ دا سړی ژوندی سو، بیر ته جوړ سو، داغسې راپورته سو شاوخوا یې وکتل چې زما ورور څه سو؟ خو ورور یې نه ولیدی.

دستي راولاړ سو پر یوه لوړه غونډۍ وخوت شاوخوا یې وکتل چې زما ورور څه سو؟ خو هیڅ پته یې نه کړه پیدا.

وروسته یې مخ راونیو را رهي سو څو شواروزه یې مزل وکی، څو یو ځای ته راغی چې ډېر عالم سره ټول دي دغسې د خلکو غلغلې دي، دی چې ورته راغی که ګوري یو باچا مړ دئ خلک پر پاچهي نه جوړېږي، باز یې ایله کړی دئ، د هر چا پر سر چې کښېنوست، هغه باچا دئ.

خونکار هم سیل کوي، یو ګوښه ځای حیران ولاړ دئ، باز راغی د خونکار پر سر کښېنستی، خلکو ویل باز خطاووت.

بیا یې باز ایله کی د دې وار بیا د خونکار پر سر کښېنوست.

خیر ! خلکو هم قبول کی خونکار یې راکش کی باچا یې کی، "دا سبب د هغه مرغه د سر و، چې خوړلی یې و".

مسلم په یوه ښار کي باچا سو، خونکار په بل ښار کي باچا سو، یو تر بله نه دي سره خبر، د مسلم باچا خالص زامن پیدا کېږي، څو اووه زامن یې سوه او د خونکار باچا دالوڼي زېږي، خو دغه خونکار چې لور یې وزېږي هغه دستي مړه کي، لور نه پرېږدي وژني یې[۳].

آخر ته ماینې یې یوه لور وزېږوله څو خونکار خبر پدی و یوې دایي ته یې پټه ورکړله، چې ته دا لور راساته او د هغې مزدوري به یې هم په پټه ورکړله. دې دایي دغه لور ځني واخیستله، نوم یې (شمائله) پر کښېښو، ساتي یې، "عمر دئ تېرېږي"، دغه شمائله لو سوله.

خورا ډېره ښایسته ده دا دایي راغله د شمائلي مور ته یې وویل چې لور دي اوس لو سوله، او خورا ډېره ښایسته ده، هر څه چې پېښېږي پلار یې په خبر که. مبادا سبا به یې خپل پلار خونکار باچا په خبر سي، چې یوه ښایسته

---

[۳] د دې لوڼو د وژلو سبب یې دا دئ چې خونکار ته به هغه خپله میره ور په یاد سوله، نو ویل به یې دا خو به هم هغسې سي، نو به یې مړه کړله، د میرې کسات یې ځني اخیست.

نجلۍ ده، خونکار خو ناخبره دئ، چي په زوره به يې کش کي، نو به ستا هم او زما هم او د خونکار مخان تور وي، ولي خو د خپلي لور سره به زنا کوي.

مور يې فکر وکی چي ښه وايي، نو يې شمائله راوغوښتله خپل کور ته يې راوستله، شمائله پر بام وختله په مکڼ کي شاوخوا ګوري سيل کوي، د هغې خوا خونکار کور ته راتلی، دا شمائله يې د دباندي ښځه وليدله، ډېره يې خوښه سوله پر مين سو، کور ته چي راغی د ماينې ښځه يې پوښتنه وکړه چي دا ښځه څوک ده؟ دې ورته وويل چي دا دي لور ده. ده ويل زما لور د څه وه؟ درواغ مه وايه.

دې ماينې يې دا نکل ورته وکی چي...

نو خونکار ورته وويل چي ورسه مخامخ يې پر ما راوله، ماينې يې هم د بامه ښځه راشوه کړه مخامخ يې پر راوستله، نو خونکار وويل چي دا لور مي د مرګ وړ نه ده، نه يې وژنم، ليکن مېړه هم نه ورکوم، دا په شرطو ده، چي څوک دا شرطونه پر ځای نه کي نه يې ورکوم، هر چا چي دا شرطونه پر ځای کړه دا زما لور د هغه ده، زما پاچهي هم اووه روځي د هغه ده، او که يې نه کړه پر ځای د هغه سر به غوڅ پرې کېږي.

د شمائلي د ښايست نوم په ټولو ښارو کي ولاړ، ښه ښه ځوانان شازاده ګان پر عاشقان سي، راسي دا شرطونه نه کي پر ځای سرونه يې غوڅ پرې کي مړه يې کي.

يوه ورځ د مسلم باچا شېر زامن په ښکار راوتلي دي، ښکار کوي، په دښت کي ګرځي که ګوري په دې دښت کي پر يوه بوډۍ پېښ سول.

دې بوډۍ ورته ويل چي تاسي ښکلي ښه ځوانان ياست ولاړ سئ د خونکار باچا لور ده شمائله چي داسي ښايسته ده، داسي و داسي، ښکله و ښکله ... ده.

خو دوی يې ناديده پر عاشقان کړل، بس دوی هم د روه را رهي سول، د مور او پلار ښځه يې رخصت راوانه خيست، هله هله مزل پر مزل د شمائلي ځای ته راورسېدل، دوی هم خبر ورکی، د شمائلي د غوښت نغاره يې وډنګوله، خونکار ور وغوښتل ورته ويې ويل چي تاسي ډېر ښه ځوانان ياست پر مرګ مي نه پېرزو کېږئ، زما د لور شرطونه خورا ګران دي ارمان

به وکئ.

خو دوی نه درېدل، ویل یه موږ ورځو ستا د لور شرطونه پر ځای کوو، لور دي غواړو، ته یې شرطونه راوښیه باچا ویل شرطونه یې دا دي:

۱. د اوسپني کونده به د لرګي په تبر ماتوئ.

۲. د شمائلي ژړه غوا چي ښکر یې په الماسو کي نیولی دئ، دا به لوشئ.

۳. دغه غوا چي ولوشئ شیدې به یې درې واره په ځغاسته و بام ته خېژوئ.

۴. شګي او ایرېدن یې سره ګډ کړي دي نیمه خونه یې په ډکه کړې ده، دا به سره جلا کوئ.

۵. زمری به راولئ د باچا د زمري سره به یې جنګوئ، که یې دا زمری مات نه کی هم یې بایلوله.

۶. د شمائلي د بنګلې لار به پیدا کوئ چي یعني د کمي خوا د دې د ناستي ځای ته لار ورځي.

دغه شرطونه یې ور وښوول، ویل دا به پر ځای کوئ، که مو د دې شرطو څخه یو پر ځای نه کئ یا در څخه پاته سو، دستي مو سر د تنه څخه جلا دئ.

اول وار دغه تر دوی کشر ورور ورته ویل که ما وګټله هم د لالا ده، که آبل وګټله هم د لالا ده، خو دغه کشر ورور یې اول وار راغلی د لرګي تبر یې د اوسپني پر کونده راپورته کی، ډب سو د لرګي تبر مات سو کونده خونه ماتېږي.

سر جلاد ورته ولاړ دئ سر یې غوټ ځني پرې کی.

بیا یې دوهم ورور پر راتېر سو، دې هم شرط نه کی پر ځای جلاد پر راتېر سو، چي اوس یې سر پرې کي، ده ناره پر وکړه:

که څووم دئ لویه خدایه نن د دې میاشتي څووم دئ

زما یې یو ورور دئ وژلی، چي دا زما سر پرې کوي دا یې دوهم دئ

دا مسری "څوک چي غواړي شمائله سر خو به بایلي خود به یې بایلي" وروسته تر هري نارې ویله کېږي.

څه سر دي ګرځوم دا پنځه وروڼه پنځه سره مره سول، او هر یو چي سر به یې ور پرې کاوه دغه پورتنی ناره به یې وکړه، دا یې تفاوت دئ : "دا یې دوهم دئ"، آبل ویل "دا یې دریم دئ"، آبل ویل : "دا یې څلرم دئ" . . .

ځو شپږم مشر ورور ته وار ور ورسېدی، ده هم شرط نه کی پر ځای جلاد پر راتېر سو، چي اوس یې سر پرې کي، ده ورته ویل چي ته وده، ناره یې وکړه :

یو که کښته د بابا شینکیه کښته

پر جلات مي سلام وایه چیري نوم د خونکار اروې ځني تښته

خیر ! سر یې ځني پرې کی شپږ سره مره سول.

جلات خان د دوی کشر ورور دئ، چي ېخي کوچنی و کور پاته سوی و، خیر جلات خان کوچنی دئ، د مسلم باچا کشر زوی دئ خورا ډېر پر ګران دئ، ولي هغه شپږ زامن یې مړه سول دا جلات خان هره ورځ په کوڅه کي د یوې بوډۍ د زوی سره بجلي کوي، خو دا د بوډۍ زوی بجلي ځني وګټي، جلات خان یې بیر ته په زوره ځني واخلي، د بوډۍ زوی په ژړا کور ته ولاړ سي، مور یې ورته وایي چا ووهلې، دی وایي جلات خان په زوره بجلي راځخه واخیستې، وې وهلم، خو هره ورځ یې دغه حال دئ.

یوه روځ یې مور ورته ویل که یې نن ووهلې، نو ورته ووایه که ته داسي ښه یې د خپلو وروڼو بازخواست وکه، چي څنګه مړه سول، ته پر ما زلنده سې، د بوډۍ زوی ویل ښه دئ.

بله ورځ بیا د بوډۍ زوی د جلات خان سره بجلي کوي، خو بیا د بوډۍ زوی ځني وګټلې بیا جلات خان وواهه بجلي یې په زوره ځني واخیستې، د بوډۍ زوی ژاړي ورته وایي : که ته داسي ښه یې د خپلو وروڼو بازخواست وکه.

جلات خان چرت یووی چي زمانو وروڼه د څه وه، خو بجلي یې ټوله د بوډۍ و زوی ته ور وغورځولې کور ته را رهي سو، راغی مور ته وایي ادې ! داسي مي پر دا سر درد دئ، ته نو کی نیني راوکه چي و دې تندي ته یې ونیسم، چي سر مي ټکور سي، ګوندي دا درد یې وشلېږي، "پر مور خو ډېر ګران و نو یې د هغه نورو وروڼو د حال څخه نه خبر اوه، ولي ویل یې دی به هم

پسي ولاړ سي خونکار به يې مړ کي"، کړايي يې باندي کی نيني يې وکړې په کړايي کي سرې پرتې دي جلات خان ورته وايي هله ادې ته نوکي راکه چي زې و دې تندي تـه ونيسم، دې چي مټ پـه ډک کی. جلات خـان پـه دواړو لاسو د مور مټ پر دغه تودونينو ټينګ ونيوی ويل ژر کوه ما ورونه درلوده که نه؟ او څه سول؟ د مور يې لاس وسو، ويل "د خدای پـار دئ"، لاس دي راوسو، ايله مي که، خبروم دي. څو جلات خان قسم په وکی د مور لاس يې ايله کی، نو مور يې د ورونو کيسه ورته وکړه، چي داسي شپږ ورونه دي وه، داسي پر شمائلي باندي خونکار باچا مړه کړل، داسي، داسي و داسي ...

خير ! جلات خان په حال خبر سو، دستي را رهي سو، مور تـه يې ږغ ونه کی، هله هله ... دا دئ يوه ځنګله ته راورسېدی.

که ګوري يو فقير ملنګ يې وليدی چي تولې په خپلو وربښتانو کي پټ دئ، نو جلات خان راغی ورته ودرېدی، پر ملنګ يې ناره وکړه :

که بېر دئ شاه فقير سر مي بېر دئ
يوه نېکه دعا راکه، چي په خوا مي د خونکار باچا سفر دئ

فقير هيڅ ږغ ونه کی، بيا جلات خان ناره پر وکړه :

که بېر دئ فقير ګل سر مي بېر دئ
يوه مسته دعا راکه چي په خوا مي شمائلي سخت سفر دئ

فقير ال کـړه، سر يې راپورتـه کی ويل څـوک يې؟ څـه کوې؟ جلات خان دا خپله کيسه ورته وکړه چي داسي دئ، داسي دئ، داسي ځم ... فقير ورته وويل چي د مور و پلار څخه دي حق پليت را اخيستی دئ که يه؟ ده ورته وويل : يه ! فقير وويل ولاړ سه د مور و پلار څخه حق پليت راواخله نو راسه چي زه دعا درته وکم، هغه نور ورونه دي پخپل سر تللي وه پای يې څه سو؟

جلات خان بير ته کور ته راغی پر مور يې ناره وکړه :

که مرلۍ[۴] يه د جلات خان په لاس مرلۍ يه
که را خپل کې موري ستا د ځګرپۍ يه

---

[۴] مرلۍ : توله دو زبانه را ميګويند که مارګير در وقت مار ګرفتن آنرا مي سرايد.

"یعني موري ! حق راخپل که" زه ځم.

مور چي یې فکر وکی چي نه پاتېږي، خو ورته ویل یې حق مي در خپل دئ، په مخه دي ښه.

بیا راغی پر پلار یې ناره وکړه :

که مرلی د جلات خان په لاس مرلی یه

که راخپل کې پلاره ستا ډېرې خواری یه

پلار یې هم دعا ورته وکړه، ویل ځه زویه پر ټولو بلاوو برسېره سې.

جلات خان بیرته را رهي سو، بیا ملنګ ته راغی، بیا یې هغه ناره پر وکړه :

که ببر دئ شاه فقیر سر مي ببر دئ

یوه مسته دعا راکه چي په خوا مي شمائلي سخت سفر دئ

فقیر سر راپورته کی، ویل د مور و پلار څخه دي رخصت راواخیستی؟ ده ویل هو ! نو فقیر ناره پر وکړه :

که ببر دئ د فقیر سر خو ببر دئ

یوه ښه دعا مي درکړه ورځه لاس دي پر اوو بلاوو بر دئ

(یعني مقصد دي حاصل سه) نو جلات خان ته ملنګ وویل چي ملا میرو زما مرید دئ، او د خونکار باچا ملا دئ، دا زما خط چټی (رقعه) درسره واخله هغه ته به یې ورکې نو ملا میرو به کومک درسره وکي.

جلات خان د ملنګ څخه چټی (رقعه) راواخیستله (ملنګ په خط کي د ده ډېر سپارښت ولیکی) جلات را رهي سو، هله هله دا دئ راغی یوه بل ځنګله ته، که ګوري یوه زړه زمری ده د دې زمری په پښه منډه تللی دئ، ناري وهي په عذاب ده، جلات خان ورته راغی.

ویل آ زمری ! زه به دغه منډه د پښې څخه در وکاږم، دې زمری په ژبان حال یا په سر ښورولو دی وپوهاوه چي ښه دئ. جلات خان یو غار وکیندی په ننوت، او یوه لو سنګړه یې پر سر ور کښېښووله چي که زمری خوړ سوله زه به په غار کي یم، دې زمری تر چوله پښه ور ننه ایستله جلات خان منډه ونیو کش یې کی، دې چغه کړه ! د ځنګله ټوله زمریان راحاضر سول ویل خیر ! دې ویل خیر خیریت دئ، هو هغه بیا دوهم وار منډه ځني کش کي خو وې کیښ. زمری ډېره خوشحاله سوله پښه یې ښه سوله، دا

زمرۍ د ټولو زمريانو انا ده، مشره يې ده، نو يې دې زمريانو ته وويل چې دې انسان له ما سره ډېر ښه کړي دي، تاسي به هيڅ نه ورته وايأست خوړا خدمت به يې کوئ، ټولو ويل پر ستر ګو !

نو جلات خان د غاره راووت ټوله زمريان ورته په سلامي سوه، د ده خدمت کوي، څو زمرۍ حکم وکی چې ولاړ سئ تارو ورته راوړئ، زمريان ولاړه تارو يې ورته راوړی، ورته کښې يې ښو، جلات چې تارو وليدی ناره يې وکړه :

شاه زمرۍ چې پر تور ځنګله دي کور دئ
دا تارو دي ما ته راوړی، شاه زمرۍ يه د تارو پخلنګ په اور دئ

چې يعني دلته خو اور نسته نه اورلګيت سته او زه خو انسان يم اوم يې نه سم خوړلای خود را رخصت سو.

خير جلات خان چې د زمرۍ څخه را رخصتېدی، زمرۍ ورته وويل چې څه غواړې؟ ده ويل هيڅ ! څو زمرۍ درې واره ورته وويل چې څه غواړې؟ ده به ويل هيڅ آخر زمرۍ د خپلو برېتو څو تاره ورېښتان وکښله ده ته يې ورکړه ويل يې چې هر چيري دي موږ په کار سوو، دا بريت په اور کي وسوځه موږ به دستي حاضر سو.

نو را رهي سو پر لاري ځي يو بزګر اوبه لګوي پر مځکه يې اوبه راسمي کړي دي، که ګوري په يوه پوله کي داسي مېږيان راوتلي دي، چې دغه مځکه يې توره اخيستې وه، د دې جلات خان زړه پر وسو، نو بزګر ته يې وويل : آبزګره ! دا پوله دي څو حاصل کوي؟ ده ورته وويل چې شل منه ! جلات خان ورته ويل پر دې پوله اوبه مه ايله کوه زه به يو په درې قيمت درکم، بزګر هم ويل ښه دئ. بس اوبه يې ځني واړولې، شاوخوا يې ځني وتړلې. مېږيانو چې دانېکي وليدله، جلات خان ته مندوشاه[5] راغی چې زموږ مېلمه يې. جلات خان چې يې راوستی مېږيانو د ملخ پښه ورته کښېښووله، جلات خان ويل په عزت اوسئ ستاسي مېلمستيا راورسېده زه نو رخصت يم، خو جلات خان ځني را رخصت سو، دې مېږي هم برېتونه

---

[5] مندوشاه – د مېږيانو پادشاه.

ورکړه ویل هر وخت چي دي موږ په کار سوو دا بریت اور ته ونیسه، موږ به ټوله حاضر سو. جلات خان را رهي سو، دا دئ د خونکار ښار ته راورسېدی، ولاړی د ملا میرو کور یې پیدا کی، چي راغی د ملا میرو پر سرای یې ناره وکړه:

یو که لوړ دي ملا میرو سرایونه لوړ دي
ته راووزه میرو ګیه! دا ښایسته جلات ولاړ دئ مسافر دئ

(یعني جلات داسي ښایسته ځوان دئ ته خو راووزه ویې ګوره)، دستي ملا میرو راووت ویل خدمت! جلات د ملنګ کاغذ ورښکاره کی، ملا میرو چي وکتی ویل ډېر ښه دئ، دستي یې حجرې ته راوستی د ځان طالب یې کی، سبق یې په شروع کی، دی ډېر چالاک و، ذهن یې درلودی په لږ موده یې کتابونه ټوله خلاص کړه، ډېر هوښیار فهمیده سړی سو.

یوه ورځ د قاضي لور مړه ده، ملا میرو پاتا ته تی، نو یې ماینې ته وویل چي بیا طالب ته د ګل غوټۍ[٦] په لاس ډوډۍ ورولېږه، دی ولاړی ماینې یې د ډوډۍ کاسه تیاره کړله د ګل غوټۍ په لاس یې ورکړه چي ملا جلات طالب ته یې وروړه، ملا جلات چي خبر سو، چي د ملا میرو لور راځی (جلات خان خو ډېر ښایسته و) دستي یې لړی پیدا کی، په سر کي یې وتړی ویل چي فساد راڅخه پېښ نه سي، د ملا میرو د لور به خوا راڅخه وګرځي بیر ته به ولاړه سي، خیر ګل غوټۍ چي راغله (چته پېغله ده) چي جلات یې ولیدی بس په دغه حال کي پر عاشقه سوه، دالته غوځاره سوه، مور یې پسي راغله چي دا لور مي څه سوه، مور چي یې راغله چي جلات خان یې ولیدی د دې هم خوښ سو، دا هم پر عاشقه سوه، خیر خو دې لور و مور چي هر څه ورته وکړه دی ګردسره ستر ګي نه وراړوي، بله روځ چي ملا میرو راغی دې ماینې یې ورته ویل چي راسه سړیه دا ګل غوټۍ به و دې ملاجلات ته ورکړو، ملا میرو هم ویل ښه دئ، ملا میرو راغی ملاجلات ته یې خپله لور وروبخښله، ملا جلات ناره پر وکړه:

یو که توره ملا میرو له رنګه توره
ګل غوټۍ دي ما ته راکړه – ګل غوټۍ زما په دین و دنیا خوره

---

[٦] ګل غوټۍ د ملا میرو لور وه.

چي يعني زه يې نه كوم ملايان ټوله سره خوابدي سوه، ګرده ولاړه دي هم په حجره ننوتی، ملا میرو وویل دا څنګه کار وسو؟ ماينې يې ورته ويل دا خو لا ښه سو، د ګل غوټۍ ورور سو خلک به تهمت نه وايي.

جلات خان اوس نو د سره ځخه لري وغور ځاوه ګل غوټۍ پر عاشقه ده دا د ملا میرو لور د شمائلي مجلسي وه، څو شپې پر له پسې نه ورغله، آخر ته يې پوښتنه وکړه چي دا ګل غوټۍ ولي نه راځئ؟ يوه ښځه يې ورته راولېږله چي ورسه ګل غوټۍ ولي نه راځي؟ هغه چي راغله جلات خان يې وليدی دا هم پر مینه سوله، دالته پسي كښېنسته.

بله ورځ يوه بوډۍ ده چي د شمائلي له پاره يې د ګلانو دستې جوړولې، دا بوډۍ ده ګرځي د ځان سره ګډه ده، جلات خان و نورو ښځو ته ويل چي دا څه وايي؟ هغو ورته ويل چي د دې هم يو زوی ورک دئ نوم يې "جلات" دئ (جلات خان موقع پيدا کړه) ويل هغه خو زه يم، راغی بوډۍ ته ودرېدی چي ادې ! "هغه بوډۍ هم شوقي وه جلات خان ښايسته و" ويل قربان چيري وې زويه ! بس را رهي يې کی د دې بوډۍ دوه زامن نور وه، د يوه نوم مومندی د بل نوم سومندی دئ، دوی دواړه زرګري کوي، مور يې راغله ويل زامنو ! هغه ورک ورور مو دغه دئ پيدا سو.

آبس جلات خان يې پر زرګري کښېناوه (جلات خان بچه مرد هلک و نهايته ښايسته و هر څوک به دده ديدن ته راتلی) نو داسي يې دوکان په چل کي سو، چي په لږه موده کي مومندی او سومندی خورا دولتمند سول.

يوه ورځ دغه بوډۍ د ګلانو ګېډۍ جوړوي جلات خان ورته وايي چي دا څه کوې؟ بوډۍ وايي دا دغه د شمائلي مجلسيانو ته ور وړم، جلات خان ورته وويل چي دا کمه ګېډۍ اخلي؟ دې ورته وويل چي د سودې آخره ګېډۍ دا اخلي، "نو جلات خان خو نقاش هم و"، پخپله يې يو ګېډۍ جوړه کړه. د سودې په آخره کي يې واچوله، بوډۍ چي ګلان يووړه هلته يې ووېشله، آخره دسته شمائلي واخيسته د شمائلي خوښه سوله، شمائلي ويل آبوډۍ انا ! دا دسته چا جوړه کړې ده؟ دې ورته ويل زما يوه پکه لور ده هغې جوړه کړې ده، شمائلي ورته ويل چي ولي دي دا دونه عمر نه راوستله، سبا به يې خامخا درسره راولې، چي زه يې وګورم. چي بوډۍ هر څه وکړه

چي د سر يې بوی ځي ڜنګه ده ... خو مجبوره يې کړه چي خامخا به يې نن شپه راولې! بوډۍ چي کور ته راغله حيرانۍ اخيستې ده چي ڂه به کوم، لور خو مي نسته، شمائله به مي مړه کي، راغله جلات خان ته وايي چي زويه! شمائله خو داسي وايي، د دې پای يې څه؟ جلات خان ويل دا خو اسانه خبره ده، ورسه و ګل غوټۍ ته ووايه چي دا ستا کالي و ګڼه ټوله راکه، بوډۍ هم راغله د ګل غوټۍ جامې يې ټوله جلات خان ته راوړې، جلات خان د ګل غوټۍ کالي واغوستله، د پنبه تي (پستان) يې جوړ کړه سر يې بيا په لري کي وتاړه، ويل چي بوډۍ درواغجنه نه سي او زما خو کوڅۍ هم نسته، دا ده ماښام بوډۍ دمخه ده جلات خان په پسې دئ، راغله د شمائلي کره، نو جلات خان تر پايه چي ورځي چپه پنبه اخلي (چي وايي شک يې راونه رسېږي) شمائلي چي جلات وليدی چي ورته وې کتله پر مينه سوله، نو يې ناره پر وکړه:

يو که توري شاه زرګري ستر ګي توري
شاه زرګري که ته نر وای نجوني نوري

"يعني کشکي ته مي زرګري نر وای".

جلات خان فکر وکی چي شک يې نه در ورسېږي نو يې پر شمائلي ناره وکړه:

يو که توري شمائلي ستر ګي توري
شمائلي که ته نر وای نجوني نوري

"يعني کشکي ته نر وای نوري نجوني وای".

د شمائلي شک نه ځني خېژي، اوس نو په جلات خان ازمويښتونه کوي چي نر دئ که ښځه؟ اول چي کښېنسته د جلات خان زنګون يې پر خپلو ورنو سربېره کی چي زنګون به کښېکاږي، بيا يې خپل زنګون د ده پر ورانه سربېره کی چي ګوندي ده ته به خوند ورکي، خو جلات خان لکه ښځه هيڅ ادرم[7] نه پر کېږي. بيا يې د ګلانو دستې جوړې کړې، تر ځايو يې ور لاندي کړې چي که ښځه وه دا د ده دسته به خزانه سي، او که نر و تازه

[7] ادرم: تأثير. اغېزه.

به وي، ولي ښځه خو ګرمه ده، جلات خان فکر وکی، چي دا زما دسته خو نه خزانېږي، زه خو نارنيه يم.

نو يې سهار وختي د بلي ښځي د ځای څخه پټه د ګلانو دسته راواخيستله تر خپل ځای يې لاندي کړله، خپله دسته يې هلته کښېښووله.

خير ! خو هر څه چي يې وکړه تر پايه شمائلي نه وپېژاند "ويل دا شاه زرګره ده"، دوې درې شپې يې تېري کړې، خو بله ورځ بوډۍ ورته راغله چي دا زما لور را پرېږده مېړه يې راغلی دئ کور ته يې بيايي، نو جلات خان يې را رهي کی کور ته راغله چي هغه جامې يې وکښلې خپلي جامې يې واغوستلې نو په يوه کوټه ننووت، د زرګرۍ اسباب يې ورسره واخيست و دې مومندي و سومندي ته يې ويل چي په ما دا يو څو عمر کار مه لرئ.

جلات خان په دې کوټه کي و زمري ته وجوړېدی، زمری جوړوي، کار يې وکی وکی، هله هله داسي زمری يې جوړ کی چي ډېر ښه ايسي، ګُل يې تر مريو، غميانو وکيښ نو يې نس ګوک (خالي) و رپرېښو او په پای کي يې پېچ ورکی چي وې پېچې لکه دربچه دونه سي، او يو بل پېچ يې پکښي کښېښو، چي دا وپېچې زمری بازۍ کوي، وروسته جلات خان و مومندي ته ويل چي زه په دې زمري ننوزم ما په شا که باچا ته مي يوسه، باچا به وايي چي دا څنګه ښه زمری دئ نو خود به ته ورته ووايې چي دغه پېچ يې وپېچې زمری بازۍ هم کوي.

څو ورځي پس به راسې باچا ته به ووايې چي زما زمری راکه، کور ته به مي راوړې.

آبس جلات خان په زمري ننوت، مومندي واخيستی باچا ته يې دا زمری راوړی. باچا زمری ورته وتړی هره ورځ بازۍ ورته کوي، د باچا سات په تېر دئ، په دې مابين کي شمائله خبره سوله چي پلار دې داسي زمری لري.

شمائلي پلار ته حال راولېږی چي دا زمری راواستوه، چي موږ يې هم وګورو او څو ورځي سات په تېر کو. پلار يې هم زمری ورته راولېږی. چي شمائلي ته يې زمری راوست، زمري بازۍ ورته وکړې، دا د شمائلي مجلسياني څوک پر سپرېږي څوک يې تر لکۍ کشوي، تر نيمو شپو يې

ساتېږي په کاوه، وروسته ټوله سترې سوې راغلې ډوډۍ يې وخوړه، بېدې سوې، زمري يې وتاړه، چي ټوله بيدې سوې شمائله هم بيده سوه. جلات خان د زمري څخه راووت ورغی د شمائلي پلنګ ته، د شمائلي د پلنګ سره څراغان لګېږي، جلات خان يې د سر څراغ و پښو ته د پښو څراغ يې و سر ته کښېښو، خپله ګتمۍ يې د دې په ګوته، د دې ګوتمۍ يې په خپله ګوته کړله، د دې دسمال يې څني واخيست، خپل دسمال يې ور پرېښو، نو بير ته راغی په زمري ننووت.

شمائله چي سهار راويښه سوه، اريانۍ واخيستله چي دا څه نکل دئ؟ دا سړی د کمي خوا راغلی دئ؟ ولي دا ګوتمۍ خو د نارينه ده، نو يې ناره وکړه:

که کرار دئ نن زما زړه ناکرار دئ

تاسي کښېنئ سهېلۍ[8] دا په لاس ګوتمۍ زما ده که د يار ده

خير! سهېلۍ هم اريانۍ واخيستلې، خو دغه روځ يې په چرت تېره کړه، بڼغ يې ونه کی، بيا يې په زمري بازۍ کولې، بيا ماښام سو، بيا بيدې سوې، جلات خان بيا د زمري څخه راووت، بيا و شمائلي ته راغی، خو د دې واري يې مچه څني واخيسته، بير ته په زمري ننووت.

دا چي راويښه سوه مخ يې لوند دئ، دوباره يې ناره وکړه:

که کرار دئ نن زما شوی کرار دئ

تاسي کښېنئ سهېليو چي پر مخ مي د خوني زمري پرهار دئ

خو شمائله پوه سوه چي دا په زمري کي علت دئ، خو زياته يې بڼغ ونه کی، بيده سوه. چي سهار سو نو يې ټولي سهېلۍ (مجلسياني) شمائلي رخصت کړې ويل دا څلور ورځي به نه راځئ. سهېلۍ هم ولاړې، يوازي دا و زمری پاته سوه، چي ماښام سو مينځي ډوډۍ ورته راوړله، شمائلي يو څه وخوړله، او نوره يې دالته د سره سره پټه کړله، مينځه يې وشړله، ويل څه! پام کوه چي رانه سې زه بيدېږم.

مينځه ولاړه شمائلي ځان پر خوب واچاوه، مينځه چي ولاړه شمائلي

---

[8] سهېلۍ: مجلسياني.

پر زمري ناره وکړه، څه به يې ويلي وي؟ وابه يې روي:

که کرار دئ نن زما زړه ناکرار دئ

ته راووزه د زمريه! که غوبه يې که چاميار[۹] يې زما يار يې

جلات خان چي دا واورېده فکر يې وکی چي څوک نسته او شمائلي پېغور درکی، نو ده ناره پر وکړه:

نه غوبه يم نه چاميار يم لويه خدايه

ښايسته جلات مي نوم مسلم مي پلار دئ

خود جلات خان د زمري څخه راووت، سره غېږ په غېږ سوه، سره کښېنستله، هغه ډوډۍ يې وخوړله، جلات خان ور ته ويل چي څنګه به سي، دا شرطونه به پر څه ډول پر ځای کم؟ دوباره دې شمائلي دا خپل شرطونه داسي ور وښوول.

۱. دا زما د سر ورېښته به هغه د اوسپني تر کوندې وپېچې د لرګي په تبر به يې ماته کې.

۲. دغه زما دستمال به غوا ته وښوروي نو به غوا در ته ودرېږي، وبه يې لوشې.

۳. دغه زما ګوتمۍ به د هغې غوا په شيدو کي ووهې، هغه به پوڅه سي بام ته به يې په تاخت وخېژوې.

۴. زما د ځای لار زما د پلار تر تخت لاندي ده، دی به تر لاس ونيسې چتک به يې ولاړ کې ته به راسې.

او هغه نور دوه شرطونه زمانه دي زده، ده ور ته وويل هغه زما زده دي، چاره به يې وکم (دجلات خان خو زړه پوره دئ)، خو بير ته راغی په زمري ننووت.

خير سهار مومندي و باچا ته راغی چي صاحبه! هغه زما زمری راکه، اوس نو بسته سات به دي په تېر سوی وي، باچا هم حکم وکی زمری يې ور ته راوغوښتی، زمری يې د شمائلي څخه راواخيستی، رايې وړی د مومندي په لاس يې ورکی، مومندي هم زمری را په شا کی، چي کور ته يې

---

[۹] مرچي.

راوړی جلات خان د زمري څخه راووت، فوراً يې خپله درېشي وکړه پر آس سپور سو، راغی باچا ته يې سلام وکی چي صاحبه ! زه ستا د لور شرطونه پر ځای کوم. که مهرباني وکې او را معلوم يې کې. خير ! خو باچا هر څه ور ته ووېل چي مه کوه ارمان به وکې، ده ور ته وېل چي : "وي دي".

باچا اول د اوسپني کونده د لرګي تبر، په لاس ورکی چي دا کوند په دې تبر ماته که، جلات خان هم ماته کړه.

بيا يې هغه نور شرطونه ور ته ووېل چي دا ... داسي او دا ...

لنډه دا چي جلات خان دا څلور شرطونه پر ځای کړه.

وختي چي پنځم شرط يې پر ځای کاوه نو راغی د شپې په هغه د اړدنو او شګو په خونه ننوتی د هغه مېږي برېت يې اور ته ونيو، يو ګړی چي وسو هغه مېږيان چي د بزګره يې خلاص کړي وه ټوله را حاضر سوه، ويل خدمت ! جلات خان حکم پر وکی چي تر سهاره پوري به دغه شګي او اړدن داسي سره جلا کوئ، چي يوه دانه ګډه سره پرې نه ږدئ، که يوه دانه سره ګډ پاته سي زما مرګ دئ.

مېږيان هم ور ته وجوړېده يو دم يې شګي و اړدن داسي سره جلا کړه چي يوه دانه يې پرې نه ښوول، مېږيان يې رخصت کړه دا شرط يې هم پر ځای کی.

بيا چي يې زمری د باچا د زمري سره جنګاوه نو ولاړ پټ يې د هغې زمري برېت پر اور کښېښو، دستي زمريان راحاضر سوه، يو غټ زمری يې راوستی د باچا د زمري سره يې وجنګاوه، د باچا زمری يې ور مات کی، دا شرط يې هم پر ځای کی، "خو چوک چوکه" سوه شرطونه يې ټوله پر ځای کړه، شمائله يې په نره توره وګټله، باچا هم شمائله په لاس ور کړه.

باچا فکر وکی چي دا ګر ده علت په دغه د مومندي په زمري کي و، خورا قهر ورغلی دئ، مومندی يې راوغوښتی حکم يې پر وکئ چي بو يې زئ مړ يې کئ. د مومندي لاسونه يې ور وتړله راکش يې کی، مومندی چي د جلات پر رده راغی نو يې ناره وکړه، "چي جلات خبر سي" :

جلات خانه وروره ! ولي دي موږ هېر کړو

جلات خانه لاس تړلي تر تا تېر کړو

جلات خان چي دا ناره واروېدله و خونکار باچا ته یې وویل چي اوس نو اوه ورځي پاچهي هم راکه، خونکار هم پاچهي دستي ور ایله کړه، جلات خان چي د اوو ورځو باچا سو، دستي یې حکم وکی چي د خونکار سترګي وکاږئ، او مومندی و سومندی مه وژنئ.

دستي جلاد د خونکار سترګي وکښلې ړوند یې کئ، اووه ورځي تېري سوې، جلات خان ورغی ملا میرو یې راوستی، پر تخت یې کښېناوه، باچا یې کی، مومندی و سومندی یې ور وزیران کړل.

جلات خان خونکار و شمائله او نوره عمله ټوله را رهي کړله د خپل پلار ښار ته یې راوستله، مسلم باچا خبر سو، چي هم دي زوی راغی او هم یې هغه باچا راوستلی دئ چي ستا شپږ زامن یې وژلي وه.

مسلم راغی نو یې ورته وویل چي ولي؟ ظالمه څونه ځوانان دي مړه کړل او دا لوني دي ولي وژلې؟

خونکار خپله کیسه د سره څخه تر پایه پوري و مسلم ته وکړله چي داسي ... و داسي ... و.

وروسته مسلم ویل ته خونکار یې، ده ویل هو ! ویل هغه مسلم ورور خو دي زه یم، نخښي یې سره وویلې، وروسته یې سره وپېژندل، په غاړه کي یې لاسونه سره واچول، خورا یې ډېر سره وژړل، پر دې خپلو تعداوو یې افسوس وکی، خو تر ورخ تېري اوبه بیر ته نه راګرځېدلې، صبر یې سره وکی سره کښېنستله، جلات خان او شمائلي خپل عشرت کاوه ... و بس

کیسې ولاړه پور ته – زه راغلم کور ته

تبصره

د شمائلي د نقل د نارو وزم :

۱. اول او وروسته تر هري نارې دا ویل کېږي :

څو ک چي غواړي شمائله، سر خو به بایلي، آخود به یې بایلي
یو که کښته د بابا "وا" شنکیه کښته "لا" شنکیه کښته.

میر جلات مي سلام وایه، چیري نوم د خونکاري اروې "لا" ځني تښته !آ "لا" ځني تښته.

۲. اکثراً چي یوه مسرئ یې لنډه وي د سر جمله یې مکرراً (دوه واره) ویله

کېږي او چي اوږده وي تکرار ته يې حاجت نسته، فقط پخپله يې وزم پوره راځي.

۳. د ټولو نارو د دوهمي مسرۍ وروستی جمله خامخا دوه واره ويله کېږي، نور نو زياته زه د ناري وزم په قلم نه سم ښوولای، دا د جزب الصوت د آلې کار دئ يا په اروېدو اړه لري، و بس.

عذر

د اميانو څخه ليکلي ما قصې دي
د مينو ښې خوږې ناري پکښې دي

دا په ډېر زيار و زحمت ما غونډي کړي
چي راغلي مي پر وچولي خولې دي

نه زيادت او نه کمبود مي پکښې کړی
د هم هغه نقلچي د خولې جملې دي

د هر قوم راز معلومېږي له قصو څخه
د هر چا هنداره خپلي افسانې دي

که څوک نور څه اهميت نه ورکوينه
د تفريح او ساتېري د پاره ښې دي

دا قصې خلک په ډول ډول کړينه
څوک وايي داسي څوک وايي داسي يې ناري دي

که څه زيات يا کم غلط درسي په سترګو
عفوه غواړم ځکه دا د بل د خولې دي

محمد ګل "نوري" له دغه فخر بس دئ
لځي کړي يې د پښتو په خدمت پښې دي

ملي هینداره

دوهم ټوک

لومړی خبري

د ملي هينداري لومړی ټوک دمخه د پښتو ټولني له خوا خپور سوی و، ځکه چي د پښتو د ملي افسانو او نکلو يوه مهمه برخه پاته وه، نو دا دئ چي ښاغلي محمدګل خان "نوري" اوس هغه دوهم ټوک هم بشپړ کړ، او موږ يې د کابل مجلې په پای کي برخه برخه خپروو.

"ملي هينداره" د پښتو ژبي ملي نکلونه دي، چي زموږ د عامي ادب مهمه برخه ګڼله کېږي، او د پښتو د ادبي تاريخ غوره او خوږه ټوټه هم دغه ده.

هغه ښاغلي مشترکين چي د پښتو ادب له دغي برخي سره مينه لري، د مجلې د پای دوې دوې پاڼي دي ساتي، هر وخت چي ګرده کتاب تمام سو، نو دې سره يو ځای کړي او د ملي هنداري د دوهم ټوک خاندان به سي.

او که يې د مجلې په کالنۍ مجموعه کي پرېږدي، هم به مسلسل وي، او کتاب به تکميل سي. د هري شمارې دوې آخرنۍ پاڼي اوس د ملي هينداري له پاره ټاکلي سوي دي، او د هري ګڼې هر جزو ته مسلسل نمبر هم ورکول کېږي، چې په تسلسل کي کومک وکړي.

عبدالحی حبيبي

د طالب جان نکل

یا ملا عباس او گل بشره

ته وا ښه ! چي و یو سوداګر و، دري يې زامن وه. دوه زامن يې له یوې ماينې څخه وه، او یو زوی چي عباس نومېدی د ګراني ماينې څخه يې و، د دې سوداګر خورا ډېره دنيا وه، وهيڅ شي ته نه واړ. دغه د ګراني ماينې زوی، يعني عباس يې په مسجد کي پر ملا پر سبق کښېناوه، نور د دنيا کار يې نه په کاوه په هغه نورو زامنو يې سوداګري کوله، تجارت يې په زده کاوه، دا هلک هم خورا د سبق او د علم شوق درلود، ګرده ورځ به يې سبق وايه.

په دغه مسجد کي يوه د باچالور ګل بشره نومېږي دا هم پر ملا سبق وايي، څه سر دي ګرزوم دا هلک چي عباس نومېږي او د باچالور ګل بشره په دغه کوچنيوالي سره مين سوله، څه سر دي ګرزوم عمر دئ تېرېږي، څو دواړه غټ سوله، منګر په سبق کي ګل بشره تر تېره وه، ولي چي هغه تر ده دمخه لا پر سبق کښېنستلې وه، په دې مابين کي سوداګر خدای وژلی و، مړ سو، پس له څو عمره چي د پلار پاتا يې واخستله سوه، دغو نورو وروڼو يې بد ورسره کول، سبق ته يې نه پرېښو، ويل راسه زموږ کار کوه، عباس ډېر په تنګ سو، مور يې ورته ويله چي زويه ! راسه خپل وېش ځني وکړه، ولاړ به سو يو بل ځای ته، ته به هم خپله سوداګري کوې. اوس نو بسته پخپل لمانځه او اوداسه پوه سولې دغه د خپل پلار سوداګري کوه، سبا به نه په رانيولو پوهېږې، نه په خرڅولو، اريان به پاته يې پر يوه ګوله ډوډۍ به قدرت نه لرې، ورونه به دي سوداګري کوي خانان به وي.

عباس ورته ويل چي يه ادې، چي زه ژوندی يم، سبق وايم، پر ما د دنيا

کار حرام دئ که يې وکم، زه د سبق شوق لرم، د دنيا حب نه يم اخيستی دنيا دي ورونو ته پاته وي، تا ته دي يوه ګوله ډوډۍ درکوي.

خو څه سر دي ګرزوم مور يې هم ويل ښه دئ زويه چي ستا خوښه ده زما خوښه ده، لنډه دا چي عباس د ملا داسي خدمت کوي چي توبه! هره ورځ مسجد جارو کوي، اوپاشي کوي يې، اوس عباس د "طالب جان" په نامه مشهور سو. د دغه په هيسته باره کور ته هم نه ورتلی، دالته په مسجد کي يې حجره ونيوله، څه سر دي ګرزوم د خدای شپې او ورځي دي تېرېږي د باچا لور ګل بشره غټه پېغله سوه، طالب جان هم لوی سو، ځلمی دئ، وروسته ملا راغی د ګل بشرې پلار ته يې وويل چي اوس نو بسته، لور دي غټه سوله، ډېر سبق يې ووايه، اوس يې نو کور کښېنوه، مبادا انسان دئ نفس و شيطان لري، سبا يو څه پېښه نه سي، ستا به هم رنګ ژړ سي زما به هم.

آبس باچا هم لور د مسجد څخه منع کړه، کور يې کښېنوله، دلته نو د طالب جان او ګل بشرې په زړه يو الله خبر دئ، چي پر دوی څنګه شپې او ورځي تېرېږي! يوه ورځ د طالب جان د توانه ووتل هيڅ رسد يې نه ورته کېږي، خو ورغی د باچا د سرای دروازې ته کرار يې د دروازې ځنځير وشرنګاوه، چي ګوندي ګل بشره يې واوري، راسي يو ديدن يو سوال و جواب سره وکو، ګل بشرې چي د دروازې د ځنځير شرنګی واورېدی، راولاړه سوله، که يې کتل تر دروازې تر چاکو يې طالب جان وليد، ناره يې پر وکړه:

زه په مين سرې پوهېږم
د دروازې په ځنځير ځان مشغولوينه

وروسته ملا عباس ناره پر وکړه:

د دروازې به دي ملنګ سم
ديدن به ستا کم رزق به خدای را رسوينه

وروسته ګل بشره پټه راغله ورته، د دروازې تر شا يې خبري ورسره وکړې ويل ته بې تابي مه کوه، نو يې په دغه نصيحت کي ناره پر وکړه:

صبر کوه خدای به مي درکي
په بې صبري معشوقې چا موندلي دينه

بیا طالب جان ناره پر وکړه :

صبر په هر څه کي په کار دئ
په عاشقي کي بې صبري مزه کوینه

گل بشرې په جواب کي ناره پر وکړه :

صبر په هر څه کي په کار دئ
په صبر صبر معشوقو لاس ته راځینه

وروسته یې طالب جان ته ښه د زړه ډاډ ورکړ، چي ته په دغه مسجد کي اوسه، صبر وکړه خدای به مي در کړي، خدای به مو سره یو ځای کړي، خدای مهربانه دئ. زه به هر ماښام د مینځي په لاس ډوډۍ درلېږم، زما زړه خو هم تا راځخه وړی دئ، بې غمه اوسه، پر ما بل مېړه حرام دئ، او دغه ډوډۍ زما و ستا نښاني ده، که هر وخت دغه درڅخه منع سوه، نو پوه سه چي زه نه یم، یا یو څه پېښه ده. ده ویل ښه دئ ! طالب جان بیر ته حجرې ته راغی، زړه یې خوشاله سو، پس له دغه به هر ماښام گل بشرې ښه د ورجو د غوښو ښه غاب ډکاوه د مینځي په لاس به یې ورکاوه، مینځي به طالب جان ته راوړی ... یوه ورځ طالب جان د هجرې پر بام پروت دئ سبق گوري، په زړه کښي یې د خپلي میني مینه ده ظاهره کتاب ته گوري، د ځان سره گډ دئ چي دا د کتاب اشې لکه زما د میني خالونه داسي دي، اها ؟ ذ دې تر شنو خالو جار سم ! هلته د باچا لور گل بشره پر بام ختلې ده، مسجد ته گوري چي گوندي طالب جان ووینې، کې کتل چي طالب جان کتاب گوري، او وایي چي د دې کتاب اشې لکه زما د میني خالونه داسي دي، میني یې دا واورېدله د هغه ځای څخه یې ناره پر وکړه :

طالبه خدای که به ملا سې
پر کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه

طالب جان پورته وکتل د بام د تیغې څخه یې د گل بشرې میني سر ولید، ویې پېژندله چي دا ناره دې وکړه، نو ده هم ناره پر وکړه :

تر دېوال دوې گوتي سر لوړ که
د زني خال به دي دېوال وسولوینه

گل بشره بیر ته کښته سوله، ملا عباس فکر وکړ، چي ولچي رشتیا یې

درته وویل، سبا به امي پاته یې، یه ولچي دا پخپله راسي که باره ری پکښې ووهم، وروسته به هره شپه پر کتاب پروت و، کتاب بې کوت، مینځي به ډوډۍ راوړه هلته به یې ورته کښېښووله، دا به ورته ولاړه وه، طالب جان چي به یو وخت سر راپورته کړ هغه به ګرده یخه پخه سوې وه، ده به وخوړه، یوه ورځ ګل بشرې د مینځي څخه پوښتنه وکړه چي ته ډوډۍ وروړې طالب جان زما پوښتنه در څخه کوي که یه؟ مینځي ورته ویل : کو، یه، بي بي هغه ګردسره د کتاب څخه سر نه راپورته کوي، ډوډۍ چي ورته کښېږدم زه ورته ولاړه یم ولاړه یم پر پښو وچه کلکه سم ورجي ګرده یخي پخي سي، ولاکه بږغ لا کوي، یو وخت سر راپورته کي هغه چي ډوډۍ وخوري زه غوري څني راواخلم.

ګل بشرې فکر وکړ چي لکه چي خوابدی سوی دئ، که مینځه پر لاري غوښي څني خوري او که څه چل دئ؟ ری یې وواهه چي راڅخه ولاړ نه سي کالي وانخلي په دا بله شپه یې توره چادري پر سر کړه پټه را رهي سوله[1]، راغله د طالب جان حجرې ته، کې کتل چي طالب جان د کتاب په مطالعه کي غرق او ترک دئ، په هیڅ کي چرت نه وهي، ګل بشره یو ګړی ورته ولاړه وه، طالب جان سر نه کړ راپورته، دا پر پښو وچه سوله نو یې ناره پر وکړه :

یو سر راپورته که د کتابه

ما ملغوزي نصوار په لاس نیولي دینه

طالب جان هیڅ بږغ ونه کړ، دې بیا ناره پر وکړه :

یو سر راپورته که د کتابه

ستا د کتاب تر اشو ډېر دي زما خالونه

ملا عباس بیا هیڅ چرت نه پکښې وواهه، دې بله ناره پر وکړه :

یو ګل په لاس درته ولاړه

یا مي ګل واخله یا رخصت راکه چي ځمه

---

[1] وایي دي ګل بشرې د خپلي ماني څخه د طالب جان تر حجرې یو نغم پرې کړی و، په دغه نغم کي به مینځي ډوډۍ ور وړله، دا هم په دغه نغم کي ورته راغله د نغم یوه خوله د حجرې په نس کي وه، بله خوله یې د دې د ماني په نس کي وه.

ده بیا ږغ ونه کړ، ورته وې نه کتل نې سر راپورته کړ، خپله مطالعه یې کوله ولي چې ده ویلي وه چې دا خپله راسي زه به چرت نه پکښې وهم، وروسته دې پر کتاب پښه ورکښېښووه ناره یې پر وکړه :

سر راپورته که د کتابه

په سترګو ړوند سې پر کتاب در وختمه

وروسته طالب جان سر راپورته کړ، کتاب یې ټول کړ؟ ورته ویل یې، چې څنګه راغلې یې؟ دې ورته ویل چې : ما چې ویل ته خوابدی سوی یې، مینځې ویل چې زه ډوډۍ وروړم، دی هیڅ ږغ نه کوي، ستا پوښتنه نه کوي چې څه حال یې دئ، څه احوال یې دئ؟ نو زه راغلم ما ویل زه به دې پخلا کم، که چیري زما څخه یو بد دلاسه ختلې وي بخښنه به در څخه وغواړم.

طالب جان ورته ویل چې زما روح ته یې، زما ژوند ته یې، زما زړه ته یې، زه به څرنګه ستا څخه خوا بدوم، منګر هغه ورځ چې تا ویل ولاکه ملا سې چې ګورې کتاب، او په خوله کي دي د میني شنه خالونه دي، نو د هغه راهیسي ما کتاب ته زور ورکړی دئ، اوس پر زړه زور تېروم مطالعه کوم، ځکه چې وایم امې پاته نه سم، سبا به دي مینه او نور طالبان پېغور درکړي چې څنګه امې پاته سولې او خلک به هم وایي چې تش یې نس اړولی و، د نس طالب و، وروسته ګل بشرې آفرین ورکړ، چې شابس زموږ پښتني ښځې خو په عالم او بل په توریالي سړي فخر کوي او په نازېږي، د ناپوه او بې علمه او بې همته، بې غیر ته څخه یې بد راځي، لنډه دا چې خبري مبري یې سره وکړې ګل بشره بیر ته ځني رهي سوله، طالب جان په حجره کي پاته سو، خپل سبق وایي ...

هغه مینځه چې د طالب جان د ډوډۍ له پاره مقرره وه، لټي به یې کوله، نو بي بي ورته په قهر سوه سپکه یې کړه او د دې پر ځای یې بله مینځه ودروله، تر دغه وروسته هغې اولي مینځې قسم واخیست، چې ولاکه مو پرېږدم په هر چم چې وي چې زه تاسي سره بدورده نه کم، زه دي داسي سپکه کړم، ګورم به.

یوه شپه دغه دوهمه مینځه ناجوړه وه، ډوډۍ یې نه سوای وروړای، په دغه شپه یې ډوډۍ نه ورته راواستول طالب جان وپوهېدی چې څه پېښه ده،

خو ږغ يې ونه کړ، ډېره يې خوابده سوله، په دا بله شپه ګل بشرې د ناچارۍ څخه د هغې اولې مينځې په لاس ډوډۍ ورته راواستوله، د دې مينځې خو دمخه لا زړه ورته ډک و، قسم يې اخيستی و چې زه تاسي سره بېل نه کم که مو پرېږدم ! آخود ډوډۍ چې يې راوړه، طالب جان پوښتنه ځني وکړه چې بي بي څنګه وه؟ مينځې ورته ويل کو يو خوار کيه ! هغه اوس ولاکه په تا کي رى لا وهي، هغه شل نور ياران لري ! تا څه کوي غريبه اسي اسُکېرلې، دغه نوکی پسمانده ډوډۍ هم ما درلره راوړه، ما ويل طالب دئ خوار کی به وږی وي.

آبس د طالب جان پر سر اور بل سو، چې مينځه ولاړه دی په چرت کي سو چي دا څنګه بې وفايي يې درسره وکړه.

مينځه چي بي بي له راغله ګل بشرې پوښتنه ځني وکړه چي طالب جان څنګه زما د خوا يې څه نه ويل، مينځې ورته ويل چي بي بي که څه درته ووايم خوابه دي بده سي، که نه وايم هم اريانه يم، خواره مه سې هغه والله که په تا کي رى وهي، زه چي نن ورغلم درې څلور داسي چټي ورته ناستي وې چي توبه ! ښه ورجي و غوښي او مسري ونُکل ورته پراته وه، ما چي ډوډۍ وروړه، د پيالې سره يې هيسته وغورځوله، پياله ټوکر ټوکر سوله دغه يې کودر کي دي.

ګل بشره هم ډېره خوابدې سوله، پس له دغه يې ډوډۍ ځني منع کړه، عمر يې په دار سو، څو ورځي وروسته طالب جان يو خط ورواستاوه چي ته وده دا مينځه خو دروانغ نه وايي، په خط کښي يې دا وليکله :

کاغـــذ په لاس قلم په ګـــوتو
ستا د جفا کاغـــذ لـــيکم ژړا راځـــينه
ستا دي قسم په ذو الجلال وي
يو يار دي زه يم نور دي څو نيولي دينه؟
ستا دي قسم په ذو الجلال وي
که دي دا حال وي ما ته را که جـــوابونه

خط چي ګل بشرې ته ورغی، چي وې لوست، په جواب کي يې له درده وليکله :

زما دي قسم په ذوالجلال وي
یو یار مي ته يې شل مي نور نيولي دينه
ورځه ورځه تر دکــن تېر سې
زه چي پر مخ زلـفي لــرم بل به يار کمه

خط چي راغی طالب جان چي ولوستی، پر سر يې اور بل سو، مځکه ځني ورکه سوله، نو يې دستي فکر وکړ، چي زياته په دې مسجد کي زما اوسېده بنه نه دي جواب يې درکړ، آخود په ډېر ارمان يې دغه مسجد او حجره پرېښووله ولاړ، چي تلی نو يې دالته په يوه کاغذ کښي دا لاندي مسرۍ او لنډۍ وليکلې، نو يې د حجرې دننه په يوه چاک کښي خط کښېښو، نو ولاړ :

د کلي مينځ کي به نارې کــــم
لــيلا زمـا د ياری واخيســـته لاســــونه
زما و ســـــتا لــېونۍ مينه
تر مـينځ مــو چـا وکړه د صــبر تعويذونه
اول مي خـــدای اسره بيا ته وې
جواب دي راکی خـپل نصـيب مي ژړوينه
غــــمازه غـبرګ زامن دي ومره
چي يو ښــخېږي بل سلــګۍ درته وهــينه
زما له هـــيچا ګيله نســـته
مـــا ته پخـپله بخـت کـرلي دي غــمونه
يو مي کتاب زړګوټی خورين کی
بل مي مـــيني راځه واخيســـته لاســــونه

دا يې د حجرې په يوه چاک کښي کښېښو، نو طالب جان ولاړ، منګر زړه يې د ميني د اوربل په ځنځيرو بند دئ کله ليري تلای سي، وروسته هغه مينځه راغله ګل بشره يې خبره کړه چي طالب جان نسته، کالي يې اخيستي دي تللی دئ، ګـل بشرې چي دا واورېده آه يې کـړه يـو سوړ اسوېلی يـې وکيښ، چي څه پسات راوسو، خو زړه يې د بېلتانه په اور کباب سو، مځکه ځني ورکه سوه، دستي يې توره چادري پر سر کړه پټه راووتله راغله که

ګوري ځای سته جولا نسته!

حجره توره ولاړه ده، دغسي دستي د حجرې پر بام وختله چي شاوخوا وګورم چي ګونډي د حجرې پر بام پروت وي، یا نڅدې مي دالته په سترګه سي، خو شاوخوا د حجرې پر بام وګرزېدله، طالب جان نه و، نو یې ناره وکړه:

حجره سته طالب یې نسته
پر حجره یې لـــکه مار وګـــرزېدمه
په طالـبانو دي اور وسي
سرې مین کړي کالي و اخلي ځني ځینه

وروسته بیر تـه راکښته سوله، وې ژړل وې ژړل ډېر ارمان یې وکړ، وروسته یې د خپل زړه د ډاډ له پاره ناره وکړه:

جانان به لیري له ما نه ځي
که یې د زړه ولې زما د باغه وینه

آخر ته راغله په حجره ننوتله، شاوخوا ګوري چي ګونډي د طالب جان یو مات قلم یا څیري کاغذ یا یو بل شی د ده د لاس نخښه پیدا کړي، او د خپل سوي زړه سوده په وکړي کې کتل په یوه چاک کي یو پېچلی کاغذ دئ دا یې راکش کړ، چي خلاص یې کړی وې لوست یو ګړی یې پر وژړل وژړل وروسته پوه سوله، چي پسات په مینځه کښي و، چي زموږ په منځ کي یې غمازي وکړه او پر خپلو ویلو یې ډېره پښېماني وکړه، ناري یې کړه:

که ګـــرمه یم ناګاره نه یم
د مرور اشـــنای و پښو ته به ورځـــمه
یار مي پخپله ما رخصت کی
د پښېمانۍ اوښکي مي ځي پر ګرېوانونه

خو لنډه دا چي بیر ته پټه خوله کور ته راغله، ماښام سو، د طالب جان د بېلتانه شخه خوب نه ورځي، سپوږمۍ راوختله، دا ورته ګوري د آسمان تر نیمایي چي راغله دا لا ویښه ده، نو یې پر سپوږمۍ باندي ناره وکړه:

سپوږمۍ پر مینځ د آسمان راغله
بې یاره خوب نسته که ما له نه راځینه

خو خیر شپه پر هر ډول چي پر تېره سوې وي تېره سوې به وي، سهار سو پلار ته یې وویل چي زه نن داسي خواشیني یم، زړه مي راته ډک دئ نه پوهېږم چي څه راکېږي؟ که ستا خوښه وي زه به نن باغ ته ولاړه سمه یو ګړی به سات تېر کړم، ماښام ته به بیر ته کور ته راسم، پلار یې هم ویل ښه دئ شل کر ته ولاړه سه خپل طبیعت راسته کړه، سیل وکړه ! آبس دا او یوه مینځه سره را رهي سولې د باغ په پلمه، مینځه یې هم وپوهوله چي ته د طالب جان پوښتنه کوه ګوندي په دغه شاوخوا کلاچو کي یې پیدا کړو، څه سر دي ګرزوم دلته ګوره، هلته ګوره، هه هه هه ! څو پر ګل بشرې د طالب جان میني غلبه وکړه، ناره یې وکړه :

نن مي جانان لیدلی نه دئ
لکه سپین باز لوړي ژوري لټومه

وروسته یې بېخي د توانه ووتله، وبېرېده چي لېونۍ نه سم او په عالم کي رسوانه سم، نوم مي بد نه سي نو یې د دعا پر ډول ناره وکړه:

عالمه ما ته دعا وکړه
چي ناقرار زړګی زما پر قرار سینه

آخر ته یې امید پرې سو، طالب جان یې نه کړ پیدا، سترې هم سوله نو یې مخ د باغ و خوا ته ونیو، باغ ته ولاړه دلته طالب جان خبر سو، چي یوه ښځه درپسي ګرزېده، ویل څه سوه؟ خلکو ویل اوس داغه ده مخ د باچا د باغ پر خوا ولاړه، ده هم دستي را الا کړه مخ د باغ پر خوا هله هله چي طالب جان را رسېدی دا په باغ ننوتله ده ناره پسي وکړه :

باغ له دي تله مناسب نه دي
پخپله ګل یې ګل دي ستا سلام له ځینه

ګل بشرې دا ناره نه واورېدله، په باغ ننوتله د باغ دروازه یې کلپ کړله ملا عباس بله ناره پسې وکړه :

نجلۍ د باغ و لور ته ولاړه
سالو کې نه و مخ یې پاڼي پټوینه

د ګل بشرې دا لنډۍ لږ څه تر غوږ سوله، په باغ کي ودرېدله شکي سوله، چي دا بږغ د کمي خوا وسو، خو په داغه چرت کي ده باغوان کلي

يووړه، ملا عباس فكر وكړ چي زماناره يې نه واروېدله او دروازه يې هم كلپ كړه، په راسه ځو ډېري ګوښكي ګوښكي ور وغورځوه ګوندي فكر يې سي او راسي دروازه در خلاصه كړي، وروسته يې ډېري و باغ ته ونيولې ځو ډېري چي يې ور وغورځولې ګل بشرې فكر وكړ، چي هغه ناره دي هم تر غوږ سوله نه چي طالب جان نه وي، كه و ملا عباس دئ، نو يې ناره پر وكړه :

په باغ كښي مه وله ډبري

ښاخ به زخمي كې بيا به نه نيسي ګلونه

پس له هغه يې مينځه باغوان ته ور واستوله چي ورسه كيلي د باغوانه څخه راوړه ځكه چي د دې يقين سو، چي طالب جان دئ ولي چي دې دا ناره وكړه، ملا عباس زياتـه لوټي ور ونه غورځولې، مينځه راغله د باغوانه څخه يې كيلي راوړه، ګل بشره راغله د باغ دروازه يې ور خلاصه كړه، طالب جان يې په باغ ننيوست، نو يې د ګيلې پر ډول ناره پر وكړه :

ولي دي بد راسره وكړه

ما په نجلتوب كي پر تا ايښي وه لاسونه

طالب جان په جواب كي ناره پر وكړه :

اول ياري دي په زاري وه

بيا دي راتله په غم لړلي جوابونه

بيا ګل بشرې ناره پر وكړه :

جانان دي بد كي زما دي ښه وي

بد به يې هـــېر سي زمـا ښه به يې ژړوينه

جـــانان كه بد كي زه به ښه كـــم

د جـــانان بد مي پر لېـــمو مـــنلي دينه

جـــانانه راســه چي پخـــلا سو

دنيا فـــاني ده په ارمـــــان به ځـــني ځونه

وروسته سره پخلا سوله، په باغ كي سره ګرزي، ګل بشرې تـه يې خوند ور كړ چي دا ګل وګوره چي په ګلانو كي څنګه ګرزي نو يې ناره وكړه:

په باغ كي مه ګرزه دلبره

ګلان شرمېږي مخ په پاڼو پټوينه

وروسته طالب جان د ګلانو د منځه راووت یو ژړ د همېشه بهار ګل يې وشکاوه رایې ووړ و ګل بشرې ته يې ورکړ، دې ناره پر وکړه :

یو مي د اصله رنګ ژیړی دئ
بل مي جانان په لاس کي راکړه ژړ ګلونه

وروسته راغله تر یوې ولي لاندي سره کښېنستله ګل ګلاپ او سنځلي يې شکولي دي، طالب جان ته خوب ورغی سر په وځړېدی، ګل بشرې ناره پر وکړه :

ګل د ګلاپ بوی د سنځلي
سیوری د ولي خوب د پېغلي پر ورنونه

وروسته طالب جان بیر ته سر راپورته کړ، نو يې ورته وویل چي دا ناره مناسب نه وه، چي تا وکړه، موږ خو مسلمانان بیا پښتانه یو، تا پخپله نصیحت راته وکړ، چي صبر کوه صبر وکړه، خدای به مي په حلاله نکاح در کړي وروسته طالب جان له درده په ګل ګلاپ پر دا ځګر وویشته، دې ناره پر وکړه:

په ګل ګلاپ دي وویشتمه
خوږ دي زما د زړګي سر کی وبه مرمه
په ګل ګلاپ دي وویشتمه
تر لاس دي جار سم دښمنانو ولیدمه
په پټ کي تو مسلی ښه دئ
بې پته یار که شاهزاده وي څې کومه

چي یعني آفرین دي ستا پر پت ساتلو وي، وروسته باغوان د باغ د پایه څخه دا د دوی بړغ او نارې وارو بدلې دغسي يې د باچاله بېري څخه را الا کړه چي دا څه نکل دئ دا سړی څه کوي چي په باغ کي د باچا د لور سره تر ولي لاندي ناست دئ، مینځه هم بړغ نه کوي. خو چي راغی پر طالب جان باندي په قهر سو درد يې پر وکړ باندي غوړمبی يې کړه، چي ته څه کوې چي دلته راغلی يې؟ چابک وزه که نه وي اوس به دي لاسونه تر شا در وتړم باچاله به دي بوزم ګل بشره هم حیرانه سوله، چي دا څه چل پېښ سو؟ باغوان ته يې ویل چي دا زما خپل دئ، زما په اجازه راغلی دئ، مه يې کوه، اوس پخپله

ځي، باغوان ويل يه وزه ! اوس به دي په بد رنګ کړم !!!

د طالب جان خورا خوابده سوله او ډېر شهيد سو، وې ويل چي ولچي رسوا سولو، يه ځه ځان کاږه، طالب را رهي سو د باغه راووت ولاړ، د ګل بشرې هم خورا طبيعت خته سو، پر باغوان يې ناره کړه :

باغ دي د زاغ په حــــواله سي
بلبل نرى فـرياد کـــوي له باغه ځينه
طوطي به خداى په ګلو موړ کي
باغوانه ستا نيمګړى نيت مي ژړوينه

وروسته ګل بشره د مينځي سره ډستي د باغ څخه پسي راووتله په طالب پسي يې ناره کړه، چي د خداى پار دئ يوار راوګرزه ودرېږه ته چيري ځې زما له خوا خو به څه نه وي در ته ويل سوي؟ بيا به دي زه چيري غواړم چيري به يې؟ ده هيڅ ږغ نه وکړ، وروسته مينځي ګل بشرې ته ويل چي کو بي بي ! ته دا سپېره سړى سودايي طالب څه کوې ! ته څنګه پر دې طالب مينه کېدلې؟ دې ناره پر وکړه :

خو اصل ګل د ګل ګلاپ دئ
کم اصل ګل که بويوم ډک دي باغونه

وروسته بيا ګل بشرې په طالب جان پسي ږغ وکړ، چي تـه ودرېږه! تـه خو يوه پته رامعلومه کړه چي تـه نه يې نو زما ژوند به څه وي؟ طالب جان ويل يـه زه ولاړم، ګردسره دا وطن پرېږدم، خبره مو تيته سوله، توکل پر خداى دئ که خداى يو وخت په حلاله نکاح راکړې خو ښه که نه وي دغه د بېلتون غمونه به دواړه ګالو !

لنډه دا چي طالب جان ځني چابک سو، د دې زړه درد وکړ، چي تـه پر کوچنۍ خبره او ناچيز شي ځغلې ځان ورک کوې، زه نارې درپسي وهم چي ځاى رامعلوم کړه ته ږغ نه کوې، يه نو زه ملامته يمه ناره يې پر وکړه :

تبى راواخلئ مخ راتور کئ
د باچا لور وم پر طالب مينه سومه

دا چي طالب جان وارو ېدله، ويل اوس نو دخداى په امان ! اول به مي يا ځاى در ښو يا به مي نه ښو اوس نو خداى خبر چي بيا به مي وينې ! زه لکه

چي په خيال انسان نه درغلم، طالب لکه چي د خدای بنده نه دئ ! نو يه، د شاه او د فقير ياري نه سره کېږي، ګل بشرې چي هر څه توري تپي ورته وکړې چي اوس که طالب يې ما د باچا پر زوی نيولی يې، د خدای پار دئ يوه پته دي رامعلومه کړه ! ملا عباس ويل زما پته نه ده معلومه زه په هر مسجد کښي چي وم هغه مي ځای دئ.

څه سر دي ګرزوم د نکل کار دئ، طالب جان ولاړ ورک سو، دا او ميځنه په غم او ژړا کور ته راغلې، د ګل بشرې د بېلتانه خاوري پر مخ پر تې دي، بنه يې الوتې ده، شونډان وچکلک راغله خپلي ماڼۍ ته وختله په کړکۍ کښي يې شاوخوا وکتله چي ګوندي طالب جان يې په ستر ګه سي ! طالب جان چيري دئ؟ يو وار يې زړه جوش وکړ غوښت يې چي ښرا ورته وکړي، بير ته يې لاحوله وويل چي د زهير زړه دعا او ښرا خو قبلېږي نو يې ناره وکړه :

صبر به کړم ښرا به نه کړم

صبر سرور دئ ځواني مرګ مه سې مينه !

خو پر خپل ګوپال سر ګومه بېسده واوښتله، زړه يې د بېلتانه د وينو ډک دئ مور يې راغله پوښتنه يې ځني وکړه چي ولي زويه ! خير دئ؟ څه در سوي دي؟ "فضل وکړې خدايه" زويه ستا تر ستر ګو وګرزم ته سر راپورته کړه حال راته ووايه ! ولي دي داسي د لحد خاوري پر مخ پر تې دي، مخ دي تک ژړ دئ؟ نفسه ! تر تا وګرزم، تر تا سپلنی سم. حال ووايه، ستا بلا دي پر ما سي حال ووايه ! ګل بشرې ناره پر وکړه :

صبر و خورک خوب و آرام مي

شـېرين جانان له ما څـخه واړه وړي دينه

اشنای په داسي لـمبو وسوم

چي نه يې دود سته نه يې تاو چا ته ورځينه

بېلتانه وسوم غـير ايرې کړم

رضا د باد ده چي مي هري خوا ته وړينه

زړه مي د تـورو وينو ډک دئ

که غرغرې کم ملک به تول په وينو کمه

ستر ګي مي زړه ته ور ننژدې که
چي پکښې وويني د سرو وينو ډنډونه
بېلـــتون خنــــجر و د پولادو
په زړه مي ښخ ســو غرغرې د وينو کمه

مور يې نصيحت ورتـه وکړ، چي ځان پر لېونتوب مه اچوه، ناري مه وهه! که دي پلار در خبر سو مړه به دي کړي، دې ناره پر وکړه:

خلک به وايي لېونی ده
لېونی نه يم د يار غم لېونی کړمه

مور يې د زړه ډاډ ورکړ، چي اوس ږغ مه لره خدای د کراري مل دئ، خدای بې اسانه کړي، نو ځني راووتله، مينځه يې راوغوښته ورتـه ويل يې چي دا څه نکل دئ؟ ته خو په خبره يې؟ مينځي ورتـه ويل چي زياتـه نه يمه خبره خو دونه قدر خبره يم چي مور باغ تـه ولاړو، يو سړی و راغی، دې دروازه ورخلاصه کړه، باغوان راغی و سړي تـه يې ښکنځل وکړه د باغـه يې ويوست دا خوابدې سوله، پسي راووتـه، پسي ناري يې کړه چي آ سړيه! تـه ځای راوښيه! هغه هم مرور سو ولاړ، ويل زما ځای نه دئ معلوم! آبس د دې رنګ والوت، څو دغه ده پرتـه ده، مور يې و مينځي تـه وويل چي تـه هم هوښ کوه، چي دا نکل و چا تـه ونه کړې، نور عالم خبر نه کړې، يا يې پلار خبر نه کړې.

څه سر دي ګرزوم ګل بشره ناجوړه سوله، پرتـه ده، خـوب و خـورک و مجلس و خبري ځني پاتـه سولې، پلار يې په ناجوړي خبر سو راغی پوښتنه يې ځني وکړه، چي زويه ستر ګي دي جار سم! څه در سوي دي؟ ګل بشرې ږغ نه ورتـه کاوه، ډوبه پرتـه ده، د پلار يوه لور ده خورا پر ګرانه ده، حيـران ولاړ! چي څه وکړم، څه په وسوه؟ وروسته يې د ښار طبيبان ورتـه پيل کړه خو هر څـه طبيبان چي راځـي ګوري يې د رنځ درک يې نه ور معلومېږي، بير تـه ځني ولاړ سي، وروسته يې يو طبيب ورتـه راووست چي پـه هوښياري او پوهه وتلی و، طبيب چي ورتـه وکتل ويل د ستر ګو علاج يې پـه کـار دئ، دغه دوا واخلئ په ستر ګو کي يې ور اچوئ! ګل بشرې چي دا واروېدله ناره يې پر وکړه:

پر څه ناپوه طبیب مي مخ سو
خوږ مي د زړه دوا د سترګو راکـوینه
طبـــیبه پوه نه یې ولاړ سه
ما له په کار دي د زخمي زړه ملهمونه

وروسته یې پلار او طبیب وویل چي په پلاني ځای کي پلانی طبیب دئ هغه د زړه په رنځو پوهېږي هغه ورته راولئ چي وې ګوري. ګل بشرې بیا بږغ پر وکړ :

که د جهان طبیبان راسي
چي زما د زړه طبیب رانه سي وبه مرمه

وروسته طبیب وویل چي دالکه چي د پېري اثر دئ، یو تعویذ ماویذ ور وکړئ خدای بې ښه کړي، زه نو ځم که اجازه وي، باره یې طبیب رخصت کړ، پلار یې راغی و مور ته یې وویل چي یو څه چل خو خامخا سته که ته په خبره یې راتـه ووایـه، دغـه یوه لور مو ده چي راځخـه مړه نه سي، بیـا به څه کوو؟ مور یې ورته وویل چي هو زه لږ څه نیم ښوره په خبره یم، منګر زه ستا څخه بېرېدلم بږغ مي نه کاوه. باچا ورتـه ویـل چي ووایـه زما دغـه یوه لـور ده زړه مي ورسره الوزي، ته بږغ نه کوې ولي؟ ماینې یې ورتـه ویـل دا خـو د هغـه راهیسي ناجوړه سوه، چي د باغه څخه راغله، مینځې ویل داسي سړی باغ تـه راغی، باغوان پـه زوره ویوست د دې خوابده سوله، داسي و داسي ځنګـه و ځنګه، خو په اصل حقیقت زه هم نه یمه خبره، باچا ویـل ولـي دي دمخـه نه ویل ولي بېرېدلې، ښځه خو چي خدای پیدا کړه د بل د کور ده دا خو لا ښه کار دئ، چي د دې یو سړی خوښ وي هغه وکړي هغـه و، چي مور و پـلار یې دواړه ورتـه راغله، د ګل بشرې څخه یې پوښتنه وکړه چي زویه رشتیا ووایـه درواغ مه وایه او هم مه بېرېږه موږ ستا په رضا ځو، چي ستا خوښه وي هغه کـار کـوو، کـه دي مېړه زړه غواړي هم بـه دي ورکو، کـه دي یو ځای څوک خوښ دئ هم به دي ورکو.

ګل بشرې ناره پر وکړه :

د طالبانو میر به یار کړم
تر پېښوره به مي تول لېږرونه سینه

دوی ورته ویل چي د طالبانو میر څوک دئ؟ مور یې چیري پیدا کړو؟ دې ورته ویل چي هغه ملا عباس نومېږي، چي پخوا دلته کوچنی و منګر په بل چم هغه نه پیدا کېږي، ته د خپل ملک ټوله طالبان راوغواړه دلته دي زما د ماڼۍ سره تېرېږي، زه یې د خپلي بنګلې څخه ګورم، چي ما ولید درته وبه وایم، مور یې ناره پر وکړه :

د طالبانو یاري مه کړه

د طالبانو اسپې ځین ولاړي دینه

خو پلار و مور یې دواړو ورته وویل چي طالب څه کوې؟ طالبان خو سودایان دي. نن دلته سبا هلته دي، د وزیر زوی یا د کوټوال زوی وکړه، یا به دي بل ښه شاهزاده ته ورکو. ګل بشرې ویل یه هغه هم د وزیر زوی دئ، هم شاهزاده، خدای یو مالګي تروې که بل سړی وکړم بیله طالب جانه، زیاته اختیار لرئ، اول خبره پټه وه باک مي نه کاوه، اوس چي خبره لڅه سوله نو بل مېړه پر ما حرام دئ، که یې وکړم بیله ملا عباسه او که مو بل چا ته ورکړم، زه په هغه ګړي ځان وژنم، زیاته ستاسي خوښه ده !

آبس باچا هم مجبوره سو، چي لور مي مینه ده که یې و دغه طالب ته ور نه کړم مري، یا پخپله ځان وژني او دغه یوه لور مي ده، دستي راووت دربار ته حکم یې وکړ چي که د ښار دي که د دباندي ټوله طالبان دي سهار راسي زما د حرم سرای تر ماڼۍ لاندي دي یو یو تېرېږي که یو پاته سوی و، د ژوند څکه ولاکه راخخه وکړي ! حاکمانو هم دستي و خپلو ملکانو ته خبر ورکړی چي سبا به هر یو د خپل محل د مسجدو طالبانو ته خبر ورکړي چي سهار ټوله طالبان ارګ ته راسي، او یو یو د باچا د حرم سرای تر بنګلې لاندي تېرېږي، ملکانو هم هر یو د خپلو مسجدو طالبان خبر کړه، لنډه دا چي سهار دا دئ په ډلو ډلو طالبان راځي هر یوه لویه بکړی، شنه شنه پر توګان اغوستي دي بړیري یې بړمونځ کړي دي، کتابونه یې په بغل کي د باچا د حرم سرای تر بنګله لاندي تېرېږي، تېرېږي، تېرېږي، د باچا لور ګل بشره د بنګلې تر کړکۍ تر هنداره پټه ورته ګوري، ټوله طالبان تېر سوه، خپل سپېړکی ملا عباس طالب یې ونه لید، نو یې ناره وکړه :

طالبان راغله ډلي ډلي
زما د زړه طالب رانه غی وبه مرمه

یو ګړی پس که یې کتل چي د طالبانو په پایڅوړ کي یو سپېره اسپکی، اسکېرلی طالب دئ، تر ټولو وروسته لیري معلوم سو، د ګل بشرې په ستر ګه کښېووت، نو یې ناره وکړه :

یار مي طالب د وروسته راغی
دا سپینه خوله به وظیفه ورله ور ړمه

ملا عباس یعني خپل مین یې پلار او مور ته ور وښو، چي هغه تر ټولو وروسته چي عاجزه او سپېره مخ راځی زما زړه هغه وړی دئ، مور یې ویل : دا سپېره طالب ! خواره سې دا اوسْ څه شي دئ؟ ګل بشرې ناره پر وکړه :

پر سپېره بد مه وایه موري
سپېرې دي خاوري چي ګلونه شنه کوینه

لنډه دا چي باچا حکم وکړ، چي هغه د پای سپېره طالب راوګرزوئ، زه خپله لور هغه ته ورکوم، آبس طالب جان یې راووست، نور طالبان یې رخصت کړه، ولاړه څوک، څوک پاته سوه چي موړ ماښام غزلي وایو اتڼ کوو. د ملا عباس واده دئ، څه سر دي ګرزوم د نکل کار دئ معطلي نسته پکښې، دستي یې طالب جان بوت حمام یې په وکړ، ښه کالي یې په واغوسته، ماښام یې قاضي او مفتیان او وزیران راوغوښتله، ډوډۍ یې وخوړله نکاح یې ور وتړله، هشت و مشت دئ. سازونه دي او غزلي دي، د طالبانو اتڼونه دي، تر سهاره پوري خوشحالي ده، د دوو مینو وصلت دئ، دغه شپه تېره سوه، "د خوشحالې شپه لنډه وي"، سهار سو خلک ولاړه رخصت سوله، دغه ورځ هم تېره سوله، په دغه بله شپه یې خوابښې ګل بشره ناوې جوړه کړې و طالب جان ته راوستله، بنګله ده، تخت دئ د باچا لور ده، ډېوې بلي دي، فرشونه "د شوتالوو من په غاز دئ" هغه د ښځو مځو دود چي وو په وه یې کړ یو ګړی یې خوابښې ورسره ناسته وه، باره یې دروازه پسې وتړله ځني ولاړه، مین او مینه، طوطي و مینا، ګل او بورا، پتڼ او ډېوه یې سره پر ښوولـه.

صادق مین دئ، طالب جان دې کیفیت و وصلت او د دې مخ ته ډوب

او محوه تللی دئ، هیڅ ږغ نه کوي، ګرمي ده د میني پر مخ یې لکه سپیني مرغلري دانه دانه خولې بهېږي، د ګل بشرې د توانه ووتله پر مین یې ناره وکړه:

جـانانه راسـه ځـان اوبه که
پر سپین بارخو مي خولې ډم ولاړي دینه
اوربل مي جګ که خال مي ګوره
د جنت ګل دئ په تــازه به سې مـینه

طالب جان هیڅ ږغ ونه کړ، هیڅ جواب یې ورنه کړ، ډوب تللی دئ، د ګل بشرې د مخ تصور کوي، نتیجه نه سي ځني را ایستلای، نه لاس ور وړي، نه بازی ورسره کوي، ګل بشرې فکر وکړ چي لکه چي مخ مي د ډېره غمه سیاهي پیدا کړېده، لکه چي خوند نه ورکوي، نو یې ناره پر وکړه :

په اولنی سترګو مي ګوره
که مي مخ تور وي ستا غمو به کړی وینه

طالب جان په دې ناره هم هیڅ جواب ورنه کړ، ګل بشرې بله ناره پر وکړه:

د پېغلي خوله د جنت ور دئ
د جنت وره ته هر مومن هڅه کوینه
ولي خــفه ناست یې مینه
راسه پر سپینه سینه واچوه لاسونه

وروسته طالب جان ناره پر وکړه :

مخ دي فقط شکل رابع دئ
په نتیجه مي زړګی دړي وړي سونه

ګل بشرې فکر وکړ چي د منطقو او فلسفې بحث یې درسره شروع کړ، خوا بدئ نه دئ، په راسه دئ طالب دئ، بحث یې خوښ دئ، د ده پر مرضي برابر بحث ورسره وکړه او په عین بحث کي به د خپل وصلت درخواست ځني کومه، نو یې پر طالب جان ناره وکړه :

په تصور کي مي زړه شین دئ
څو تصدیق مقام راځي خاوري به یمه

طالب جان ورته ویل :

د تصور تصویر مي مات سو
نور به دي خيال خندا د چا سره کومه

ګل بشره ورته وايي :

د دې مسرۍ جواب مي راکه
کور مي د سين پر غاړه دئ له تندي مرمه

ملا عباس ورته وايي په جواب کي :

د دې مسرۍ جواب دي دا دئ
څوک چي مين سي همېشه د تندي مرينه

په اخر کښي ګل بشرې فکر وکړ چي دئ خو منطقي طالب دئ، منطق يې ويلي دي زه يې نه سم ملامتولای راباندي غښتلی دئ، په راسه په بديع و په بيان کښي سوال څني وکړه نو يې يوه پوښتنه څني وکړه، طالب لاجوابه سو پر يې کړ، په جواب کښي بند سو، دستي طالب سپک وغورځېدی، ولاړ سو، ميني يې ورته وويل چي څه کوې؟ ده ويل څم ! دې ويل چيري ځې؟ ولي څه وسوه خير خو دئ؟ ملا عباس ويل چي زما دي نو ملا رګ سي چي ته ښځه يې زه نر او تا زه په بحث کښي ودرولم. په نو زما و ستا تر هغو وار تېر دئ څو زه پوره علم حاصل نه کړم، زه درڅخه ځم ! ګل بشرې ورته ويل چي مه کوه څه وسو چي په بحث کښي ودرېدلې، زه يې ملامته، هيڅ پروانه لري ! او زما خوله دي ماته سي چي ستا سره مي بحث کاوه، زه خو نه وپوهېدم، زه خو ستا پر مرضي درسره ولاړم ما ويل ښه دئ طالب جان دئ په بحث اموخته دئ خوشحاله به سي، سات بې تېر سي اوس هم کراره ده، مراد دي حاصل سو د باچا زوم سوې، دلې به پر کور سبق وايي، هر رنګه ملا چي دي خوښ وي او زړه دي وغواړي در پيدا کېږي، په شپه د لحاظه او خوشامنده سبق درته وايي.

طالب جان ويل يه ! زه دي د دوو سترګو په تصور کي سم، که سبق ووايم، چي د وطنه ورک نه سم سبق نه سم ويلای په کور کي سبق نه وايه کېږي، ګل بشرې ورته ويل چي اوس خو شپه ده، او ته خو وده چي

يو څو شپې خو په خوشحالي راسره تېرې کړې چې ارمان سره وکاږو، دا اووه اته کاله مو ارمان په زړه کې و، ياري مو پټه ساتله د بل تهمتونه مو پر ځان يووړه اوس چې په حلاله نکاح خدای سره ورو ستو، ته ځې يه نو خپل ارمان به سره وکاږو، بيا که ځې که نه ځې. ملا عباس ويل يه ! زه اوس ستا څخه شرمېږم نه سم در ته کتلای، زه اوس ځم. ميني يې ويل : د خدای روی وګوره مانو څه در وکړه چې ته مرور سولې؟ يا ما ته نه سې کتلای ناحقه دې پر ځان غمونه ګوټه کړي دي، په دې مابين کښې يې تر خبرې پورې ناره پر وکړه :

طالبان مه کړې مين خدايه
يو غم د ميني بل د علم کې غمونه

طالب جان ناره پر وکړه :

چيري چې علم حاصلېږي
هلته به خاوري کمه غوښې او هډونه

اوس نو نيمه شپه ده ! طالب جان په حيرت کې ولاړ دئ سر يې کښته ځړولی دئ څو ګامه بير ته په کوشکن کې کښېنوست چرت وهي، ګل بشره زارۍ او جګې ورته کوي، طالب جان ږغ نه کوي اوس نو نيمه شپه سوه ناره يې پر وکړه :

سپوږمۍ پر سر د اسمان راغله
زه خواره ناسته مرور پخلا کومه

بله ناره يې پر وکړه :

اشنايه راسه چې پخلا سو
څو چې بېلتون پر دنيا وي جدا به يونه

ده هيڅ ږغ ونه کړ ورته، پر ميني يې د ميني غلبه وسوه، د ميني لمبه پر وځر خيده بله ناره يې پر وکړه :

جانانه داسي خو څوک نه کړي
لکه سپينکۍ غوښه پر اور دي ويلي کړمه
يار را ولاړ سه بيا راجـا رسـه
په زړه ظالـمه جانه خـدای در کـړې يمه

ستا په ديدن به مړه نه سم
که تمامي وجود مي سترګي سي مينه

طالب جان ناره پر وکړه :

ديدن د بادو پيمانه دئ
نه به مړه سې نه به وتړې بارونه

څه سر دي ګرزوم دغه شپه ګرده په غم او په ناتار تېره سوه، اوس نو د سهار خواده، څراغ لګېږي، طالب جان ولاړ سو، ګل بشرې پر څراغ ناره وکړه :

څراغه بلي لمبې وکړه
آخر ديدن دئ بيا به نه وي ديدنونه

طالب جان ناره پر وکړه :

څه سو که اوس سره جدا سو
که ژوند باقي و بيا به وکو ديدنونه

بيا ګل بشرې ناره پر وکړه :

ستا د قامت په تخيل کي
صبر لمبه سي ځني وخېژي دودونه

طالب جان په جواب کي :

ستا د شين خال په تصور کي
زړه مي بېحده سو تک شين او وبه مرمه
ستا د خالونو له حسرته
ګل د لاله پر ځيګر ايښي دي داغونه

تر دې نارو وروسته بيا د ګل بشرې څه اميد پيدا سو، چي زما صفت يې وکړ، نو يې ورته وويل چي مه کوه مه څه، هغه دي بيا هېر سوه چي زما مينه اوروه، در لګېدله او زه ستا په مينه پسي مړه کېدمه ته زما په مينه پسي، چي ولاړ سې خو بيا به دغه خوارۍ وي، ستا به هم زړه د کوټلو وينو ډک وي زما به هم، دغه ساعت به بيا پيدا نه کړو.

ملاعباس په جواب کي ناره پر وکړه :

زما همزولي ملايان سوه
زه دغه ستا ميني د علمه وايستمه

سلام علیک زه در څخه ولاړم
بیا به دیدن په آخرت سره کـــوونه
میني یې بغاري کړې دغسې پرله وڅرخېده، طالب جان ناره پر وکړه :
په ژړا مه راپسې ژاړه
سهار دعا راپسې کړه مابنام نفلونه
ګل بشرې په جواب کې ناره پر وکړه :
ستا پر جفا نه یم چې ژاړم
مـــا ژړوي د رقـــیبانو پېغورونه
ستا پر جفا نه یم چې ژاړم
دا ستا بېلتون مې لکه ناوې ژړوینه
یعنې که څه هم تا خو جفا راسره وکړه منګر سره له دې ستا پر جفا نه یمه چې ته ولاړ سې، رقیبان به پېغورونه راکوي، چې تا پر طالب مینه کوله څنګه در څخه ولاړی او بېلتون دې ژړوي، خو بیا یې ورته وویل چې مه کوه مه څه ! ده ویل یه نه پاتېږم، د خدای په امان، ګل بشرې بیا بغاري کړې ناري یې کړه :
نن خو به کاڼي بوټې ژاړي
چې مې جانان له ما څخه غواړي رخصتونه
په اشـــنایي دي نازېدمه
په جـــدایي دي لـــکه ګل ورژېدمـــه
جانانه څه په مخ دي بنه سه
زه پښـــتنه یم ســـتا پر پت به ناســـته یمه
لنډه دا چې طالب جان په خړه څني ولاړ، زیاته یې څه نه سره وویل نه یې ارمان سره وخوت د دواړو په زړو به یو الله خبر و ! خو ملاعباس ولاړ ورک سو، ګل بشرې پر ژړا سر کښېښو، یو د مور و پلار او نورو د پېغوره څخه بل د طالب جان د بېلتون څخه ساندي وایي، په ساندو کې دا ناري کوي :
اشـــنایه ولاړې اسماني سوې
اسمان چې مځکي له راځي قیامت به سینه

اول مي کله کله غم و
اوس مي کتاب سو مشغولا پکښې کومه
بېلتونه څنګه دي جلا کړو
مور په يوه بادام کي دوه مغزونه وونه
که زه خبره په بېلتون واى
ما به جانان تر لاس نيولى ګرزاونه
اسمان ته لاړ د ختو نسته
د مځکي سر دي راته بلي لمبي کنه

څه سر دي ګرزوم اوس نو لمر راوخوت د ګل بشرې ژړا او نارې مور وارو پېدلې دغسي يې را الا کړه چي بيا څه نکل دئ، چي راغله که ګوري طالب جان نسته لور يې په سرو ستر ګو ژاړي، مور يې ويل څه نکل دئ ويل چي طالب جان ولاړ، ولاکه يې بيا ووينم، هغه پلا لا په يوه چم لاس ته راغی، دا پلا پسي ولاړ، خداى خبر چي بيا به يې وينم، مور يې ورته ويل ښه سو، چي ولاړ دمخه مي درته وويل چي طالب څه کوې د طالبانو ياري نه ده ښه، طالبان سودايان دي خو تا نه منله اوس يې هم پر لويه لار ايله کړه، د ګل بشرې ژړانه کرارېدله، مور يې درد پر وکړ، چي خواره سې مه ژاړه اوس به دي پلار خبر سي لور يې ناره پر وکړه:

و ما ته مه قهرېږه موري
پر تا تېر سوي پر ما اوس راغلي دينه

مور يې د ناچارۍ زړه پر وسو د زړه ډاډ يي ورکړ چي ته مه ژاړه چيري ځي بير ته به راسي دغه ورځ يې په ژړا تېره کړه، ماښام سو يوازي ناسته ده د ځان سره د طالب جان په ياد دا نارې کوي:

اوس به د کم مسجد څراغ يې
زه د بېلتون په تاريکو کي ناسته يمه
شپه د جمعې وخت د ماښام دئ
پر ما تور تم دئ چي دي نه وينم مينه
شفق يې مه بولئ عالمه
اسمان زما پر ژړا ويني تويوينه

پرون لا دا مـــــــهال دلې و
نن به دي چيري خلاصوې د بګړۍ ولونه
پرون لا دا مـــــــهال دلې و
نن به يې توري څـونې چـيري باد وهينه

لنډه دا چي دا شپه يې بيا په ژړا او په نارو تېره کړه، سهار سو نه څه خوري نه څه چښي، ډوبه پر ته ده مور يې ډوډۍ اوبه ورته راوړې چي دا دوې شپې دي څکه نه ده کړې، ډوډۍ وخوره، ګل بشرې ناره پر وکړه :

پر زړه مي ليک د اشناى نوم دئ
د اوبو غوړې کولاى نه سم وران به سينه

چي يعني اوبه لا نه سم چښلاى ډوډۍ خو څه کوې زما وار تېر دئ ادې موري چاره مي کوه، مور يې ورتـه ويـل چي زويـه نو زه څـه وکړم زه خو ښځه يم څه مي د لاسه نه کېږي، وروسته يې مور ناچاره سوه راغله پـلار تـه يې وويـل چـي طالـب جـان تللـى دئ ګـل بشـره بيـا دغسـي ډوبـه پر ته ده دا پلا که دي لا علاج وکړ او پيدا دي کړ رادي وست نو بې دلې په تېنګـه يـوه چـاره وکـړو، پـلار يـې هـم دسـتي شـاوخوا سـړي ولېږلـه چـي وګورئ په هر مسجد او هر ځاى کښي چي مو پيدا کړ په زوره به يې خامخا راولئ، په دغه ورځ ګل بشره بيا په هيله سوه، چي ګوندي پيدا يې کړي او را يې ولي، منګر سړو چي هر څه وکړه نه يې کړ پيدا، ماښام تش تور راغله، باچا تـه يـې وويـل : چـي شـاوخوا مسـجدونه مـو ټولـه وغوښـته نـه و، نـې چـا څرک او پته په لاس راکړه ! باچا ويل ښه سو، هغه خداى خبر پر کمه تللى وي؟

ګل بشره بيرته تار ونار تکه ژړه ډوبه پرېوتله، دغه شپه په غم پر تېره سوه، سهار سو، مور يې راغله و پلار ته يې وويل چي ګل بشره نه پاڅېږي، منګر که دي خوښه ده نن به يې زيارت لره بوزم، ګوندي صبر يې سي، پلار يې ويل ښه دئ بو يې زه، اوس يې تر ژوند په مرګ خوشحاله يم.

آبس مور يې راغله لور ته يې وويل چي زويه ته بې صبري مه کوه راځه چي پلانکي بابا زيارت له دي بوزم ګوندي زيارت در ورسېږي او صبر دي سي، لور يې ناره پر وکړه :

زړه ته که سل تسلی ورکم

سترګو لیدلی جانان کله هېروینه

ویل که پر سلو زیارتو وګرزم د زړه څخه مي نه وزي، مور يې ویل خیر دئ لوري. زیارت لره به ولاړي سو، دعا به وکړو ګوندي بیرته راسي، دې ویل دا دي ښه خبره وکړه درځه!

آبس مور ولور دواړي زیارت لره را رهي سولې هله هله راغلې يو زیارت يې وکړ، چي ځني راووتلې لور يې لکه لېونۍ وزیارت ته ډېري ونیولې، زیارت يې په سخرو ویشت، وروسته يې د ځانه سره فکر وکړ، چي زیارت دي ولي وویشت؟ خو لا به طالب جان تری تم سي نو يې ناره وکړه:

د لېونو کانه راوسوه

پر لاري ځم په غونډو ولم زیارتونه

مور يې ورته وویل چي راځه! یو زیارت لا وکړو نو به ځو کور ته! باره را رهي سولې هغه بل زیارت لره، چي زیارت له نژدې راغلې ګل بشرې ناره وکړه:

زیارته تا لره درځمه

پښې مي تناکي اوس اورغوي لګومه

زیارت کوم نه را رسېږي

خدایه که ګډ کې دا د کاڼو زیارتونه

زیارت کوم نه را رسېږي

یا ټګه زه یم یا ټګان دي زیارتونه

یو وار د زیارت له خوا ناره پر وسوه:

زیارت و تا ته نه رسېږي

د مخه ستا پر زیارت ما ایښي لاسونه

زیارت و هر چا ته رسېږي

چي په اخلاص ورلره ور وړي حاجتونه

اوه! ناره نه وه د جنت زېری و پر ګل بشرې وسو، د دې په زړه دي وا "ناره د طالب جان وه چي د زیارت څخه يې باندي وکړه، ځکه چي دی خو هم مین و زړه يې د دې په زلفو بند و په هغه شپه چي د خپلي میني څخه ولاړ

سودا ور ولوېده زړه يې پر يوه خوانه تې، نو راغلى و دغه زيارت ته، دوې درې شپې يې په دغه زيارت کښې تېرې کړې وې، دالته د ميني او د علم په غم کښې وړى تړى پروت و".

ګل بشره او خوابښې چې ورغلې که ګوري چې طالب جان دئ، مخ سپېره، شونډان وچکلک، وږى تږى، پښې ټوکر ټوکر پروت دئ، خوابښې يې ورته ويل چې څه کوې؟ ولي ولاړې؟ څه مات؟ څه توى؟ څه سوي وه؟ د دې خوا ګل بشرې د ګيلې پر ډول ناره پر وکړه :

زما دې ټول عمر په ډاډ کى
لکه هوسى پر مېږتون شپې تېرومه

طالب جان :

که دې خندلي راته نه واى
غريب سړى وم خپل روزګار به مې کاوونه
زمـــا د عـــلم تاوان راکه
چې په سرو شونډو دې خندل امې دې کړمه

ګل بشره :

که مې خندلي درته نه واى
حـــيران ولاړ وې پر ايمان وبېږدمه
ته دې د عــلم تاوان واخله
زما د خولې تاوان به څوک راکي مينه؟

مور يې ويل بس دئ، تاسې اوس ګيلې مه سره کوئ، اوس درځئ کور ته چې څو، طالب جان ويل يه زه نه ځم، زه په علم پسې ځم خوابښې يې ويل چې اوس درځه کور ته بيا به پر کراره رهي سې، څه دنيا به در سره واخلې، چې دغسې بيا په خواري نه يې ککړ !

طالب جان ناره وکړه :

طالبان واړه ملايان سوه
زما اسې پر کتاب پرېوتل ګرزونه

چې يعني زه په علم پسې ځم نه پاتېږم، په دغه نن و سبا کې مې عمر تېر سو، امې پاتـه سوم او نور طالبان ګرده ملايان سوه، زه دغسې پاتـه سوم،

ښځي يعني خپلي مايني په بحث کښي ودرولم، نو يه زه نه درسره ځم، ګل بشرې ناره پر وکړه :

دا ستا د علم نصيب نسته
څوک چي مين سي ځني پاته سي علمونه

طالب جان په جواب کي :

که زما د علم نصيب نسته
د غم ژوندون دئ په سفر يې تېرومه

خوابښي يې ورته ويل : چي کور دي خراب سه د هغه علمه سره، خو هغه دئ علم هم نه سې کولاى، خو دغه دي حال دئ ! ته ځان ته وګوره پر څه لايزار دئ؟ پر څه ډول يې ! طالب جان ته دې خبرو لا زور ورکړ ناره يې پر وکړه :

علم درياب طالب اوباز دئ
يا به ځان غرق کړي يا به وباسي لالونه

چي ياندي والله که يې پرېږدم چي يا ځان مړ نه کړم يا علم حاصل نه کړم، آبس د پښتون زوی و، پر خپله هوډه ټينګ ودرېدی، که نه وي تر زړه يې د ميني زلفي ختلي دي، وغورځېدی ولاړ رهي سو زياتـه سوال و جواب يې سره ونه کړ، دا پلانو په ټينګه مخ د هندوستان پر خوا رهي سو، چي ځم به هندوستان ته څو چي خپل علم پوره نه کړم تر هغو به پته او ځای نه معلوممه، طالب جان ولاړ، ګل بشرې په زيارت کښي ناره وکړه :

په زيارتو دي وا خاونده
يا يې زما کې يا مو خاوري کې چي ځونه

څه سر دي ګرزوم ګل بشره او مور يې په ډېره ناکامي په زړه زخمي او په خوابدي سره د زيارته راووتلې، را رهي سولې ګوز ته راغلې، ګل بشره نو پرېږده چي په نارو او غلبلو شپې او روځي تېروي، "طالب جان پسې راواخله" طالب جان را رهي سو، هله هله تر ماښامه يې مزل وکړ زړه يې د ميني سره دئ تن يې په سفر کي دئ مينه پر دغه دښت ور په ياد سوله ناره يې وکړه :

زړه مي هلک سو راته ژاړي
اوس پر دې بتې بېبان غواړي ديدنونه

ديدن چيري دئ باندي ماښام سو، پر دغه دښت پر پووت وړی تږی، چي سپوږمۍ راوختله ښه راپورته سوله، چرت وهي چي زه دلته پروت يم مينه مي هلته پر بام چاودلې زړه پرته، باره يې پر سپوږمۍ ناره وکړه :

سپوږمۍ تا وکړه سيلونه
درته پراته دي مينان چاودلي زړونه

هلته يې مينه پر بام پرته ده سپوږمۍ ته ګوري، هغې هلته ناره وکړه :

سپيني سپوږمۍ تر تا جار شم
زما جانان به تا ته ډېر کـــــتلي وينه
سپيني سپوږمۍ حال راته وايه
چي نن د چا سره مجلس جانان کوينه؟

ميني ته يې خوب نه ورځي همدغه سپوږمۍ ته ګوري لټ پر لټ لکه ماروهلې سره اوړي بيا يې ناره وکړه :

ســـتا دي قسم وي خوبه راسه
چي د شېرين جانان ديدن درکي وکمه
خلک په ټوله شپه کي خوب کي
زه په ګولۍ ويشـــتلې زړه ټاکورومه

دا نو پر پړده طالب جان شپه پر دښت تېره کړه، سهار را رهي سو هله هله مزل پر مزل څو شپې وروسته دا دئ هندوستان ته راغی، په يوه مسجد کي يې پر يوه ملا ځای ونيو، سبق يې شروع کړ "د طالب سودا ده" څو ورځي پس چرت ور ولوېدی، چي خدای دي خوار کړه ! دا خو هم ظلم دئ چي هغه ګل بشره دي په زخمي زړه پرېښووله، ته ځني راغلې او دې دونه ډېره وفا درسره وکړه ! چي تـه خوار طالب دا د باچالور او په تا يې سر کښېښته کړ او هلته هم علم حاصلېدی، يه دا خو دي بد وکړه چي راغلې، راسه بير ته ولاړ سه دورې به هلته نژدې يو ځای ورته استېږې ! څه سر دي ګرزوم بير ته يې کالي راواخيستله را رهي سو، چي راغی د اټک رود ډک دئ، هيڅوک نه سي پوري وتلای، دالتـه بنـد سو دوې درې شپې يې ورتـه تېري کړې،

وروسته د دوی د ډلي شخه یو سړی اوباز و، دا سړی راپور یوت، هله هله د نکل کار دئ معطلي نه لري برابر هغه ښار ته راغی چي ګل بشره پکښې وه، دې سړي وویل چي د اټک رود خورا ډک راغلی و، هیڅوک نه سوای راپوري وتلای، ګرده یې بند کړي وه، ملا عباس هم د کور پر خوالکه چي راتلی، منګر هغه هم رود بند کړی و، دا احوال تر ګل بشرې پوري ورغی، ګل بشرې د زړه د جوشه ناره وکړه :

زما جانان دي دورې بند کړ
تر زنګانه سې د اټک روده ظالمه

وایي چي د خدای په حکم سره د اټک رود تر زنګانه سو، طالب جان راپوري ووت پېښور ته راغی، ماښام یوه مسجد ته ورغی، ری وهي چي علم مي نه وکړ، دا شنګه سو؟ خو بیر ته سودا ور ولوېده چي خدای دي خوار کړه ته په علم پسي را رهي سوې، علم دي نه کړ حاصل، اوس کور ته ځې، دا هم شرم دئ، بیا به درباندي خاندي وای څوړي ستر ګي بیر ته بې علمه راغی، نو په ولا که ګام لا واخلم !

آخود راغی پر یوه لوی عالم یې ځای ونیو، سبق یې شروع کړ ... څو ورځي پس یې فکر وکړ چي راسه یو خط ور ولېږه نه چي د میني دي زهره ونه چوي، ښه دئ امید بې پیدا سي، او په دغه خط به د زړه سوده کوي، دلته خو نه سي پسې راتلای، نو یې قلم او مشوانی راواخیستل دا ناري یې ولیکلې :

کاغذه ورسه په تعظیم سه
اول تر جار سه بیا پر وایه سلامونه
قلم په لاس غمونه کاږم
د ډېره غمه پر قلم تکیه کومه
دا ستا به هېر که به دي یاد یم
زه چي قدم پر قدم ږدم تا یادومه
څوک چي د چا د چینې ګل سي
مناسب نه دئ چي څوک لاس ورته ور وړینه
کاغذه ورسه ورته وایه
یار به دي تل مسافر نه وي رابه سینه

کاغـــذ چي لولې ورته ژاړه

مـــا چي لـــیکه ورته مي ډېر ژړلي دینه

نور یې ولیکل چي زه په پېښور کښي پر پلاني ملا چي خورالوی عالم دئ هستېږم، دا کاغـذ یـې مینـي تـه راولېږی، کاغـذ چي ګـل بشـرې تـه راورسېدی، یو نوی روح پکښې ننووت، وایې خیست مچ یې کړ، چي خلاص یې کړ وې لوست، وې لوست، خورا یې ډېر باندي وژړل، وروسته یې څوک نه کړه خبر، دا حال یې پلن واچاوه هغه خط یې تعویذ کړ په غاړه یې کړ، وروسته یې فکر وکړ، چي اوس نو څه وکړم، که پسې ولاړه سم هم بیرته راشخه ځي، او که خط ور ولېږم چي راسه، ولاکه راسي، او که راسي هم علم به یې نه وي پوره کړی بیرته به راشخه ولاړ سي، نو یه ښه دا ده چي د علم او سبق ویلو خط ور ولېږم چي ښه ترا پر علم زور وکړي، او زړه یې ببغمه سي، نو بیا که راسي بیرته به نه راشخه ځي، سودا به یې قطع سي، وروسته یې قلم او مشوانۍ او کاغذ راواخیست پکښي وې لیکله :

سـلام سـلام دئ خپله یاره

پس له سلامه په دیدن پسي دي مرمه

سلام په سرو شونډو قبلېږي

د مسـافرو سـلام ځي پر کاغذونه

قسم په خـدای باور په وکه

چي بېله تا څخه مي نسـته پر بل مینه

ستا دي قسم په ذو الجلال وي

که به دا زما مـینه پر بل باندي کـوینه

جانانه ولـــوله مـلا سه

نجونو پیغور راکی چي یار دي امي سونه

دا کاغذ یې ولیکی طالب جان ته یې واستاوه، څو شپې پس طالب جان ته کاغذ ورسېدی، نو د طالب جان زړه هم پوره سو، اوس نو خپل سبق وایي، د ملا هم ښه خدمت کوي، ملا هم ښه سبق ورته وایي، څه سر دي ګرزوم، څو عمر تېر سو، د ملا یوه لور ده، نوم یې "ښایسته" ده منګر دوی یې توره بولي، او په رنګ هم توره ده، چته پیغله ده، یوه ورځ ملا طالب جان کور ته

بیولی دئ څه کار یې و، دې ښایستې طالب جان ولید، دستې پر مینه سوله، د دغه وروسته یې په طالب جان پسې لاس وړی، طالب جان هم په پوهېدی، منګر هیڅ چرت یې نه پکښې واهه، یوه ورځ ښایسته د پلار په غلا د طالب جان حجرې ته راغله، دی پر کتاب پروت دئ کتاب ګوري، طالب جان ولیده، منګر هیڅ ږغ نه ورته کوي، نه ری پکښې وهي، دې ناره پر وکړه :

زړه مې دا ستا خبري غواړي
لکه للمي غنم چي غواړي بارانونه
راسه زما د سینې ګل سه
چي هر ساعت دي په دیدن تازه کومه

طالب جان په جواب کي ناره پر وکړه :

زه به دا ستا د سینې ګل سوای
د بېلتانه سپاهیان راځي رنګ به مو کینه
د مسافرو آزار مه وړه
بیا به نارې وهې چي وسوم په اورونه
دنیا د سوب پر لور کړه ده
نجلۍ د هغو یاري کړه چي سود من وینه
ګل د بلبل سره ښایېږي
مناسب نه دي چي زاغان یې بویوینه

چي یاندي زه مسافر یم ما مه آزاروه زه بیر ته ځم بیا به دي عمر په دار وي، او بل دا چي زه خوار کي سپېره طالب یم، ورسه یو غټ وکړه، چي دولتمن وي او زاغ لره مناسب نه دي چي ګل بویوي، یو وار ښایستې ته درد ورغی ناره یې پر وکړه :

څله مي توره توره بولې
زه توره نه یم مور په ناز بللې یمه
پر تورو بد مه وایه یاره
تور خو لونګ دي باچهان یې بویوینه
پر تورو بد مه وایه یاژه
بورا په توره خوله ګلونه بویوینه

که توره یم تا به رنځور کم
زه غنم رنګه یم ځـوانان رنځـورومه

څه سر دي ګرزوم هر څه چي ښایستې وکړه طالب جان هیڅ نه ورته کتل،* او جواب یې ورکړ، چي زما و ستا یاري نه سره کیږي خوشي ځان مه خطاباسه، اوس نو د ملا د راتګ وخت سو توره ناامیده کور ته ولاړه.

په دې مابین کي ډیر عمر تېر سو، د ملا لور یې نه پسې پرېږدي او طالب جان هم بیا هیڅ خط و ګل بشرې ته ور ونه لیږه هلته ګل بشره هم ډیره اندېښمنه ده، چي طالب جان څه سو او خط یې ولي نه راځي ډیر بېلتون یې هم ګاللی دئ لکه ژړه ناړې داسي ده یو ګړی یې توان نه کیږي اریانه ده چي څه وکړم هلته طالب جان غمجن هم دئ فکر یې خراب دئ حیران تللی دئ چي څه وکړم.

یوه روځ ګل بشره پر بام راختلې ده غم خورا زور پر کړی دئ پر بام کوربل وهي زنګیږي مور یې ژړا واروېدله پسې راوختله چي تر بام ځان وانه چوي مور چي یې راغله ویل څه کوې چي ګرزې زنګیږې دې ناره پر وکړه :

پر بام ولاړه یم زنګیږم
د خوبه نه یم د یار غم غلطومه

یو ګړی وروسته نری باد راوالوت پر ګل بشرې وموښت پر باد یې ناره وکړه :

باده پر باد مي ســـــلام وایه
پر هغه باد چي د جانان لوري ته ځـینه
ما به و یار ته کاغذ ورکـړای
باد بې وفا دئ د چا نه وړي کاغـذونه
باده د خدای روی مي دروړی
ژر راته وایه ګران زړګی څه حال لرینه
بېلتون پر هر چا مېلمه کـیږي
مـا ته چي راسي نو خـېمې ودروینه
بېلـتونه بسـته ظلم مه کړه
زما پردېس لالی راپرېږده چي راځینه

وروسته یې مور وویل چي طالب جان دي خدای په ښادي کړي، چي

اوس يې يو څه درک وخرک معلوم وای خو خط به مو ورلېږلی و، لور يې ورته ويل چې هغه په پېښور کي دئ پر يوه ملا باندي استېږي، خط يې پروسږ. کال راغلی و، ما بيرته خط ورولېږه چې علم دي پوره کړه، پر زړه مي زور تېر کړی اوس بيخي ډېر عمر تېر سو، هيڅ درک يې نسته، مور يې ويل د پېښور ملا ولي داسي کوي ده خو به دونه ورته ويل چې يو خط مط کور ته ورواستوه، کور هم حق لري يه ګرده لکه چي هغه ملا ورته ويلي دي چې مه کور ته ورځه او مه خط ور استوه د ګل بشرې يو وار زړه پرله واوښت ناره يې وکړه:

زما جانان دي دورې بند کړ

تقرير دي بند شه پېښور لويه عالمه

د ميني خواست و، خدای قبول کړ، وايي چې هلته د هغه ملا تقرير بند سو، يو تکی يې نه سوای ويلای، حيران ولاړ چې دا څه چل دئ! خو په دې مابين کي بيا ډېر عمر تېر سو، طالب جان هم حيران تللی دئ چې اوس نو څه وکړم. ملا هم ډوب تللی دئ، پس له څو عمر څخه يې د ميني بېخي د توانه ووتله، فکر يې وکړ چې راسه اوس بې نو علم پوره کړی وي، يو سخت خط ور واستوه ګوندي راسي، وروسته يې قلم او مشوانۍ راواخيستل دا ناري يې پکښې وليکلې:

سلام سلام جانه سلام دئ

پس له سلامه زړ وطن لره را درومه

سلام دي راغی ته رانه غلې

زه به دي څه کړم بې ديدنه سلامونه

قلم په لاس غمونه کاږم

د عاشقۍ لندۍ پر زړه وهلې يمه

سترګي مي ستا پر لور کږې سوې

لکه جنډۍ د شهيدانو پر قبرونه

ستا په ديدن پسي جانانه

سترګي مي وکړې د چينو په شان ډنډونه

ترتا دي غم لا وفادار دئ

ته راڅخه ولاړې غم دي تل راسره وينه

چي را په ياد مي سې جـــانانه
سر پر بالښت کم او ښـکي کښـته تو يو مه
آســمان ته وګوره چي شــين دئ
داسي مي زړه درپسي شين دئ وبه مرمه
کاغـــذ د زړه په وينو لـيک سو
آه مي پر وکيښ ځکه تور يې سول حرفونه
کاغــذه بخت دي مــبارک سه
زمـــا د يار سره به وکــړې ديدنونه
تر مـــا لا ته ښه يې کاغـــذه
زما تش احـــوال ته بې وکې ديدنونه

څه سر دي ګرزوم ډېري ګيلې او تر تاب يې په کاغذ کي وليکی، چي که رانه غلې نو زما آن تمام دئ، دا خط يې ورولېږی، "د نکل کار دئ" خط طالب جان ته راورسېدئ، "دلته چي خط راغی د ملا لور ښايسته هم په طالب جان پسې راغلې ده، د طالب جان فکر نسته نه يې ويني"، خو چي خط يې خلاص کړ وې لوست وې ژړل، ښايستې ناره پر وکړه، چي خپل کسات ځني واخلي او پر زړګي يې مالګي ورودوړوي :

طالبه بسته ژړا مه که
څوک خو دي نسته چي دي اوښکي پاکي کينه

طالب جان تـه دې نـارې خورا زور ورکړ، د لاسه يـې کاغذ ولوېدئ، ښايستې ور حمله کړه کاغذ يې راواخيست، برابر يې پلار ته راوړی، مولوي چي دا خط ولوست پوه سو، چي طالب مين دئ، او ميني يې دعا کړېده چي دغه زما تقرير بند سو. دستي راغی وطالب جان ته يې کالي ورکړه چي ځه برابر خپلې ميني تـه، اوس دي دغونه علم حاصل کړ، زياتـه علم نـه سې کولای او نه يې ويلای سې او نه يې په دې علاقه کښې بل څوک در تـه ويلای سي، طالب جان ور تـه ويل چي وده[1]، اوس نو کتاب تمام سوی دئ دغـه څو پاڼي يې سته، دغه لا په دغه نيمګله تقرير راته ووايه چي خلاص سي نو سبا

---

[1] ودرېږه.

و بل سبا به ځم. ملا ویل ښه دغه ورځ تېره سوه، مابښام طالب کتاب ګوري په زړه کښي یې مینه ده ناره یې وکړه :

کتابه ژر ژر تمامېږه
ما په وطن کښي رنځوران پرې ایښي دینه

لنډه دا چي په دوې درې ورځي یې کتاب تمام سو، کالي یې راواخیسته مخ د کور پر خوا را رهي سو، چي د کور پر خوا را رهي سو هلته یې میني د ده په یاد نارې کولې :

باد نن د پاسه که د کښې دئ
زما پر دماغ نن د جانان بوی لګوینه

څه سر دي ګر زوم طالب جان چي را رهي سو، هله هله مزل پر مزل، هه هه څو شپې پس و خپل ښار ته نژدې و یوه کلي ته راورسېدی مابښام یې و یوه مسجد ته ځان ور ورساوه، د ډېرو مزلو او ستړیا او خواریو او زخمتو او لوږو و تندو په سبب یې مابښام تبه سوه، ناجوړه سو، داغه شپه یې تبه سهار پسي یک بنده سوه دالته په دغه مسجد کښي پسې پرېوت څو ورځي ناجوړه و، ورځ په ورځ کمبوت او کهي ته تلی مرض یې زیاتېدی، او د ژوند په وروستیو لحظو کي یې داسي نارې په نیولي نفس وکړې :

په ګورستان کښي به نارې کړم
چي ارمانجن د سپیني خولې راغلی یمه
زه په ارمـــــان له دنیا ولاړم
په آخـــــرت به سره غـــــوارو دیدنونه

وروسته تر دې یې د سترګو تور تله او سپین یې راتله او داسي یې په خپلي میني پسي فریاد کاوه :

سترګي یې مه پټوئ خلکو
روح یې معطل دئ د اشنا دیدن کوینه

آخر ته طالب مړ سو خدای دې وبخښي، ګل بشره خبره سوه، بغاري یې کړې، ناري یې کړه :

نصیبه و سوځې ایرې سې
تندیه مات سې پر تا څه لـــیکلي دینه

ګلان د خاورو پیدا کېږي
زما لالی تر ګل نازک خاورو له ځینه
پل صراط به ورته نیسم
پر مرور اشنا به غېږ وګرزومه
ما ول د غمه به دي ومرم
مرګ په وعده دئ دروغجنه سوم مینه
ما له قلم مشوانی راوړئ
د یار تاریخ د زړه په وینو ولیکمه

را رهي سوله طالب جان يې پس له مرګه ولید، چي په کفن کاوه يې مینې يې ناره وکړه :

پر یار مي سپین کفن غوړېږي
پر ما اوریږي د سکروټو بارانونه

وروسته يې طالب جان په کفن کی پر جنازه يې کښېښو، وايې خیست هدیرې ته يې یوور، مینه يې په پسې ده، ژاړي، طالب جان قبر ته داخلوي ښخوي يې، مینې يې ناري کړه :

قبر خو سل ګزه کوهي دئ
ځوانان کوزېږي د ناکام په تناوونه
پر تورو خاورو زما سلام دئ
اشنای مي ګل دئ ګل به نه خاوري کوینه
پر ګورستان مي دي سلام وي
چي خاوري نه کې د جانان صدف غاښونه
ولي به نه ورپسې مرمه
جانان مي ګل د پسرلي خاورو له ځینه

آخر ته يې دغه لاندي نارې وکړې او طالب پر قبر يې ځان واچاوه مړه سوه :

عالمه یو تر بل جارېږئ
ما د مجلس ځوانان لیده چي خاوري خورینه

لنډه دا چي وروسته يې دواړه ارمان زده مینان هلته یو ځای ښخ کړه.

تبصره :

د طالب جان د نکل د نارو وزم مخصوص وزم دئ، اول ناره کوي بيا کسر پسي وايي، لکه دا ناره : "حجره سته طالب يې نسته، حجره سته طالب يې نسته" دوه واره:

پر حجره يې لکه مار وګرزېدمه

دا يې کسر دئ پسي وايي يې :

ارما ارمان، چي پر دنيا نه واى ببلتونه
طالبه ورانه دي سي ستا لېونی مينه

ظريف خان او مابې

چې و، يو سړی و، د دې سړي نوم ميرويس و[1]، يو يې ورور و، چې خدری نومېدی، ميرويس مشر و خدری کشر و. د خدای کارونه دي، دې ميرويس اولاد نه درلودی، د ټوله خپل قوم مشر و خان دی و، دنيا او دولت خدای ورکړې دي د هندوستان سوداګري يې کوله، خورا ډوډۍ مار دئ، مهمانخانه يې چل ده، د خدای کوټه ډوډۍ ورکوي.

يوه ورځ يو ملنګ راغی په دروازه کې يې هل کړه ويل راوړه د ملنګ نياز! د ميرويس يوه مزدوره وه دې په پلو کې د اوړو پر ځای ايرې ور وړې، د ملنګ په کچکول کې يې ور واچولې، کچکول يې د ايرو ور ډک کړ، ملنګ ورته ويل دا چې فقر دې نه راکاوه هغه د بل د کور څه چې مې ټول کړي وه، هغه دې لا راباندې ودروله راودې لړله، ولې؟ پر څه باندې؟

دې ورته وويل چې اور واخلئ تاسې ډوګړه مستان لنډهر، را رهي سوي ياست ځانونه مو ملنګيان تراشلي دي، په باطن کې مو خاوري لا نسته.

ملنګ ورته وويل چې څه وايې دا، دا څه پېښه ده؟

هغې ورته وويل چې زموږ خان په دغه ګرده عمر اولاد نه دئ ليدلی.

ورور يې زامن لري لوښي لري، دی هيڅ نه لري هر څه خيراتونه يې کړي دي، روپۍ يې خيرات کړي دي، منګر په چا کې دونه تاثير نسته، چې يوه دعا وکړي چې خدای خان ته زوی ورکړي، ملنګ ورته ويل چې ته خوا مه بدوه، ها دغه زما لکړه واخله ورسه باغ ته د سېب وني ته يې ور وغورځوه، هر څه سېب چې راولوېدله را يې وړه چې زه يې در دم کړم، نو يې ورکړه چې

---

[1] څوک وايي مسلم نومېدی، څوک وايي يونس و، ميرويس او د دلارام د ښادي خان پلار سره خپلوان وه، منګر ميرويس د کشکنخود و، ښادي د تلخک د دلارام و.

نیمي دي دی وخوري نیمی دې ماینه وخوري او لومړی اولاد چې خدای ورکړی هغه زما شکرانه ده، زما دئ. هغې هم لکه راواخیستله راغله باغ ته یوه خورا باردانه د سېب درخته یې پیدا کړه لکړه یې ور وغورځوله، درې دانې سېب ځني راولوېدل، دغه درې دانې سېب یې ملنګ ته ورکړه، ملنګ ور دم کړه، ویل ها دغه دئ اوس یې نو ورکړه خان او ماینې ته چې وې خوري خدای به اولاد ورکړي. مزدوري یې سېب راوړه خان او ماینې ته یې ورکړه، دا نکل یې ورته وکړ چې داسي و، دا ملنګ راکړه څنګه و څنګه.

خان هم ډېر خوشحاله سو، باره ده او ماینې سېب سره وخوړه، عمر دئ تېرېږي، نه میاشتي نه ورځي نه ګړیه تېر سوه خان او ماینې ته خدای زوی ورکړ، نوم یې "ظریف" کښېښېنو، هی زالم(؟) خوشحالي سوه، هشت و مشت سو چې خان ته خدای زوی ورکړ.

څه سر دي ګرزوم ظریف خان ته یې دایي ګاني ونیولې هه هه هه څه سر دي ګرزوم د نکل کار دئ، ظریف خان لوی سو شپږ اوه کاله تېر سوه، دا دئ یوه ورځ بیا هغه ملنګ په دروازه کي هل کړه، مزدوري پر آواز وپېژندی، ور الا یې کړه زېری یې پر وکړ، ملنګ خوشحاله سو، راغی خان ته، ورته ویل څنګه پر قول ولاړ یې، دغه زوی خو دي زما دئ؟ خان ورته وویل چې باچا تې څه کوې؟ د ده په عوض کي هر څه مال و دولت چې غواړې در بې کړم او که یې نه کوې نو دلې اوسه! ډوډۍ او پوښ به زه درکوم ظریف خان به درسره وي، د ملنګ هم خوښه سوله چې ښه دئ! دلې به اوسم! ظریف خان داسي ښایسته دئ چې ستر ګي نه پر رونېږي، هر څوک چې یې ویني زړه پر بایلي، ملنګ دالته ځای ورته ونیو دلې اوسي.

په دې ماین کي خان ته یو زوی او لور بله خدای ورکړه چې د زوی نوم یې "لال" کښېښېنو او د لور نوم یې "بیې" کښېښېنوله. لنډه دا چې اوس نو د خان دوه زامن یوه لور ده. دا ظریف خورا پر ګران دئ، اوس لوی دئ ښایسته زلمی دئ. د ښکار هم ډېر شوقي دئ، او د غېږي هم شوقي دئ، ګرده ورځ د خپلو همزولو سره غېږ باسي، سات ورسره تېروي کور ته چنداني نه راځي، خپله ځواني کوي.

دغه مور و پلار یې فکر وکړ چې ظریف خان دباندي اموخته سو، سبا

به يو څه نه سي ځني جوړ، دا به په څه چم کورنی کړو، چي پخپل کاروبار وپوهېږي، سبا به موړ مړه يو دی به لوچک وي. دغه پيسې به دربدره کړي، د اکا تر لاس به لاندي وي، تربرونه به پر خاندي. مور يې وويل چي سړيه راسه چي کوزده ور وکړو، نو به کور ته راسي، پښه به يې تر کنده وخېژي. د مجلسه به راوګرځي ځان به په کار وپوهوي، ولي چي ښځه سړی کورنی کوي او د کور په کاروبار يې پوهوي.

پلار يې ويل ډېر ښه دئ. آ بس ظريف خان ته يې ويل چي زويه موږ کوزده درکوو، پلانۍ ښځه داسي ښايسته ده چي توبه، هغه به در وغواړو. پلانه ده بستانه ده، ملک يې ورته خوښي کړ. ظريف خان د نې پر ميدان ورته ناست، وايي زه بالکل ماينه نه کوم، او نې هوالرم زه خپل شوق کوم.

ميرويس راغی ملنګ ته يې وويل چي ته ورته ووايه، ګوندي ستا په خوله وکړي. ملنګ ورته ويل ښه دئ. ملنګ راغی و ظريف ته يې وويل چي ظريف خانه ! سبا به دي پلار مړ وي، دنيا به دي دربدره وي، بې کوره به يې ميراث خواره به د هري خوا املې درباندي وهي، ستا په مرګ به خوشحاله وي، چي اوس دي لا پلار ژوندی دئ کوزده به در وکړو. ښه دئ مور و پلار به دي هم خوشحاله وي ارمان بې وخېژي.

ظريف خان د ملنګ د خبري نه اوښتی، ويل ښه دئ، چي ستا خوښه ده، ظريف خان ملنګ ته وويل چي ښځه راغواړې، نو بايد داسي ښايسته وي چي وتلې وي. ملنګ ول ښه دئ، د ګرده اولس په نجونو کي چي ښايسته وي او ستا خوښه وي، هغه به در وکړو. ده ويل ښه دئ. خو د کلي په نجونو کي يوه د ظريف خان نه سوه خوښه. مګر يوې بوډۍ يوه لور درلوده، چي نوم يې "مابۍ" ده، چې ډېره مسکينه دربدره خاک په سره ده، يو تور څيري ټکری يې پر سر دئ، مګر په رنګ تر ټولو ښايسته ده، ظريف خان دغه پيغله ځان ته خوښه کړه، او د ظريف خان پلار وويل چي خطا وتلې چي دا مسکينه اسکېرلې دي خوښه کړېده. ده ويل نه يم خطا وتلی. پلار يې ويل چي ښه دئ چي ستا خوښه ده زموږ خوښه ده.

لنډه دا چي د بوډۍ لور يې ور وغوښتله. د بوډۍ لور هم پر مينه ده، مګر اوس ځواني ده، بڼ نه سره کوي، چي راواده يې کړي يا مي ور واده

کړه. پلار یې ویل چي وده پر کراره به یې واده کړو، خو په دغه نن او سبا کي نن او سبا کي یو وار د ظریف خان پلار ناجوړه سو، مړ سو واده یې ور ونه کړ. ظریف خان اومه خوله هلک دئ د پلار پاتا یې واخیستله، د ظریف د پلار یو اشنای دئ دا هم خان دئ، د ظریف د پلار په ژوند یې و خانی ته ځان ښوراوه، خدری هم د خپل ورور په مرګ خوشحاله سو، چي ګوندي خاني ما ته راورسېږي. ظریف خان د احتیاطه څخه حال ور واستاوه چي ته اوس پاتا ته مه راځه بیا به کړه اټکلوو. څو ورځي باد د ظریف خان مور هم مړه سوه، دلته خدری ښخي خوشحاله سو، لال او ببی دواړه کوچني دي، دلته نو اوس خدري بدې پسي وغښتلې هر ځای بې بدناماوه، غیبت به یې کاوه چي ظریف خان ډېر ناروا دئ. بد فعله دئ څه دئ و څه دئ. هلته یې خپلې ماینې ته ویل چي لال او ببی وهه ترټه یې ! څه سر دي ګرځوم د ظریف خان اوقات تریخ سو، هلکان یعني خور و ورور ورته ژاړي، ظریف خان په چرت کي دئ چي څه وکم؟ دلته د بوډۍ لور "مابی" خبره سوه چي د ظریف خان حلق تریخ دئ، په تکلیف دئ او بې کوره دئ، نبایده خدری یې خطاباسي بله ور ونه کي، بیا به زما څه حال وي؟ باره په پټه راووتله د کوره راغله د ظریف خان کره دا حال یې ولید، کوچنیان ژاړي، ظریف خان کور نسته، ماښام دئ اکا او د اکا ماینه یې چرت نه پکښې وهي، باره مابی ناره وکړه :

ظریف خان ګرځي کلي په کلي – نیازمن مي غواړي په زړه ویشتلي
دغه نور خلک بیده دي – د ظریف دواړه وزر ختلي – اې وزر ختلي

یعني نه یې پلار سته، نه یې مور سته، نه یې بل غمخور سته، لکه وزر ختلی مرغه داسي دئ، خو لنډه دا چي مابی د لال او ببی پر سر لاس ور تېر کړی ایمن یې کړله. خدری ورغلی دئ هغه خان چي د ظریف خان د پلار اشنای و، او ظریف د پاتا څخه ګرځولی و، هغه ته یې ویلي دي چي ظریف خان داسي بد کاره دئ، د خانی وړ نه دئ، خاني خو نو اول ستا ده او که نه وي زما حق ده، د ده سره خاني نه ښايي، یه د ده یوه چاره وکه. خان ورته وویل چي مه کوه د پلار میراث د زوی وي چي پلار یې خان و اوس دی دي خان وي، او دا مناسبه نه ده چي د دې کوچني هلک څخه خاني په زوره واخلم. خدري ورته وویل هو چي دی یې اهل وای، منګر دی ډېر ناهله دئ،

خان خو باید باانصافه، عادل، دینداره وي، د بل و ناموس ته نه ګوري، ظریف خان خو ډېر بد سړی دئ که یې نه منې ته تجربه په وکه، خان ویل ښه دئ.
لنډه دا چې ظریف خان ته یې حال وکی، چې ته لکه چې خوابدی سوی یې، ستا پلار زما اشنای و خدای دې وبخښي، زه پاتا ته در تلم تانه پرېښوولم، لکه چې چا شیطانت در ته کړی دئ، منګر زما په زړه کي ولا که هیڅ لا سته، نن شپه زما مېلمه یې، زه هغه د پلار په سترګه در ته ګورم او خامخا به راځې، که نه راغلې خوا مي بدېږي.
ظریف خان راغی د خدري سره یې صلاح وکړه چې مشر دئ، د پلار پر ځای دئ چې د ده څنګه خوښه ده، خدري ورته وویل چې شل کر ته ولاړ سه، ډېر ښه دئ. مېلمه کړی یې یې نو ولي نه ځې، د ده خو هلته بند د خان سره پوخ کړی دئ، په زړه کي وایي چې که ښه وي که بد، د خپلي خانۍ له پاره ولا که د ژوند څکه ځني وکړي.
لنډه دا چې ظریف خان د خان کره ماښام ورغی، چې ډوډۍ یې وخوړله، خبري مبري یې سره وکړې، باره ظریف خان ویل ښه دئ زه به رخصت سم، خان ویل یه تاریکه ده دلې به بیده سې، ده ویل ښه دئ. خان او ظریف خان او د خان ماینه درې سره پر نغري ناست دي، خان اوس په ظریف خان امتحان کوي چې څنګه سړی دئ؟ خدری رشتیا وایي که درواغ. منګر پخپله په زړه کي څه نه ورسره لري، باره یې وویل چې زه ځم مسجد ته د خوني څخه راووت ظریف خان یې د خپلي ماینې سره یوازي پرېښو، چې ودرېږه ظریف څنګه سړی دئ؟
ظریف خان او د خان ښځه پر نغري سره ناست دي، ظریف خان کښته ګوري، ګر دسره سترګي نه ور اړوي، چرت یې په مابۍ کي دئ، خان کله د دروازې تر چاکو ورته ګوري کله غوږ ونیسي چې څه وایي او څه کوي؟ خو تر پایه ظریف چپ ناست و او کښته یې کتل، هیڅ ږغ یې نه کاوه.
"د خان د ماینې په غاړه یو غمی دئ چې ځل و بل کېږي لکه څراغ داسي رڼا کوي"، ظریف خان اخر ته یو وار سترګي و دا غمي ته ور واړولې بیر ته یې کښته واچولې، خان چې دا وضعیت ولید لږ څه په شکي سو، خو ږغ یې ونه کی چې ته وده چې څه کوي؟

خو تر نیمو شپې ورته ولاړ و، نور څه یې ونه لیدله، نو خوني ته ورننووت، و ظریف خان ته یې وویل چې ستا لکه چې دا ښځه خوښه سوله او زما ستا د پلار سره د زړه اشنایي درلوده، نو دغه ښځه به درپرېږدم چې ستا خوښه ده، تر تا قربان ده، د ظریف خان دا خیال سو، چې خان په ما خطاوتی که څه؟ چې دا خبره یې وکړه نو یې پر خان ناره وکړه :

که ګل کي ګل کي – په هندوستان کي پسرلي ګل کي

دا هم د رب رضا ده، چې ورور یې ناست وي ورېنداري بل کي

ها ها ورېنداري بل کي

یعني دا عجبه ده چې ته ناست او زه به ستا و حرم ته ګورم، ته زما پلار یا ورور یې دا مي ورېنداره ده، خان ویل چې تا ولي ورته وکتل، ده ویل ما د دې مخ نه دئ لیدلی، مګر دغه غمي ته مي وکتل چې رڼا یې زما پر ستر ګو برابره سوله، د خان هم و زړه ته ولوېدله چې پاک یې او بېشکه د پښتانه زوی یې، لنډه دا چې سهار یې ظریف خان په ډېر عزت رخصت کی کور ته راغی.

خدري فکر وکی چې دا دو مي هم ونه چسپېدی،اوس نو چرت وهي چې په څه چم دا ظریف خان مړ کم یا یې له وطنه ورک کم، په یوه تکه یې اخته کم، چې بیا تر مرګه پوري رانه سي، چې دغه میراث او خاني یې ما ته پاته سي، چرت یې وواهه وواهه آخر ته په ظریف خان پسې سو، چې پلار دي هم سوداګري کوله ته کور ناست یې، یه درځه چې په سوداګري دي بوزم، اوس لا زه ژوندی یم، پر ما دي حق دئ چې سوداګري در زده کم، بیا که مړ سم هم ارمان نه لرم، سبا به دي دغه پلار ګټلې بایللې وي بیا به څه کوې؟ د ظریف خان هم خوښه سوله ویل ښه دئ کاکا "خیال یې دا سو چې مشر دئ بده یې نه ده دربانډي پېرزو".

لنډه دا چې (د نکل کار دئ) کاروان ماروان یې جوړ کی، سودا وسوله، په دې سبا نو وهندوستان ته بار ېږي، مابی په دې کیفیت ناخبره ده د ظریف خان یو تور نوکر و، راغی پر مابی یې ناره وکړه :

ظریف مرغه سو – پر الواته سو

مابیه راسه دام ورته کښېږده – کې بندوې وار دي داغه سو

های های وار دي داغه سو

دا کیفیت یې مابۍ ته ووایه، چې ظریف خان هندوستان ته ځي، مابۍ راغله که ګوري کاروان ولاړ دئ، ظریف خان د آس تانګونه ټینګوي، آس یې هم نوی نال کړی دئ، نو مابۍ ناره پر وکړه:

تا د نیلي تانګونه ټینګ کړه -نال د مېخ دي د هندوستان پر خوا وهلي
ببۍ او لال او زه دي پر چا باندي سپارلي -ها ها چا باندي سپارلي

ظریف خان په جواب کې ناره پر وکړه:

ما د نیلي تانګونه ټینګ کړه -او نال و مېخ مي د هندوستان پر خوا وهلي
ببۍ لال مي اول پر خدای وای پسې پر تا باندي سپارلي
ها ها پر تا باندي سپارلي

بیا مابۍ ناره پر وکړه:

که مه ځه مه ځه ظریفه مه ځه د هند و لور ته
رازق مو خدای دئ رزق به رارسي زموږ و کور ته
های های زموږ و کور ته

ظریف خان غوږ نه پر ونیو، کاروان بار سو، که څه هم د ظریف خان په زړه یو الله خبر و، مګر د غیرته او د اکا او د تربرو له جهته هیڅ بږغ نه کوي او نه مابۍ ته ګوري، د مابۍ اوښکي راتوی سوې، چې ظریف خان نه پاتېږي بیا چې یې ظریف خان ته وکتل لږ څه خپه په خیال ورغی، فکر یې وکی چې ظریف خان خو هم درباندي مین دئ یو یې ستا غم په زړه کې وي، بل د سفر نو دغه زما د مخ په ګرځېدو به یې لا غم یو په دوه سي نو یې بیر ته د ده د زړه د ډاډ له پاره ناره پر وکړه:

یو تا چې پند کی پر ما دي غم کی
ظریفه ته چې اوس خپه نه سې
اوښکي مي راغلې درته مي څنګ کی
های های درته مي څنګ کی

یعني ته خوا مه بدوه چې ما مخ درڅخه وګرځاوه چې زه نو مروره سولم، په مروره نه یم ستا د بېلتون اور مي پر زړه بل سو، اوښکي مي را ایله سولې نو مي مخ درڅخه وګرځاوه، ما ویل چې ظریف جان په سفر ځي زړه یې نری دئ نبایده چې دغه زما اوښکي ووینې غم به یې یو په دوه سي.

لنډه دا چې کاروان رهي سو د هندوستان پر خوا، مابۍ پر بام وختله، پسې ګوري ژاړي هه هه خو دوی تر ستر ګو نیهام سوله، نو مابۍ ناره پسې وکړه:

اوښانو وخورئ دا اوږدې غاړي دا لوی ورنونه
پرون لا دا مال ظریف دلې و –نن خو مو تېر کي تر ولاتونه
های های تر ولاتونه

مابۍ له بامه راکښته سوله، دغه شپه او ورځ تېره سوله په دا سبا غرمه چرت وهي چې خدایه ظریف خان د چول مزلونه وهي، حلق بې ځنګه وچ کلک وي، پر مخ بې د سفر خاوري پر تې وي شونډان بې سپېره وي، اوبه به نه وي، نو یې په ژړا کي ناره وکړه:

که دوري دوري د هند پر لوري –خدایه نرۍ اوریځ پیدا کې
چې شکر ترې وای باران ترې اوري –های های باران ترې اوري

مابۍ نو دالته پرېږده کاروان او ظریف خان دوی پسې راواخله، ظریف خان او خدرۍ او کاروان برابر راغله د هندوستان علاقې ته که ګوري په مخ کي یو رود دئ ډک بهېږي، پر یوه خوا لار د تېرېدو نسته یو پل دئ خلک پر تېرېږي، کاروان چې پر پله راغی، پلوان و مخې ته ورته را ولاړ سو ویل ودرېږئ د پله محصول راکړئ بیا تېر سئ چې د پله محصول رانه کړئ، نه مو پرېږدم چې تېر سئ.

خدرۍ ورته تېنګ سو ویل عجبه دي وکړه دا دونه عمر مي غم نه درکاوه اوس غم غواړې، یوه پیسه نه درکوم و ظریف خان ته یې مخ راواړاوه ورته وې ویل چې ظریف خانه ګوره عمري به موږ او ستا پلار تېرېدو ولاکه هیچا غم راځخه اخیستی دئ، دا پلا چې ته راسره یې په نظر یې هلک ورغلې غم درځخه غواړي. ظریف خان هم ورته تېنګ سو و پلوان ته یې ویل عجبه دي وکړه زه خو هم د هغه پلار زوی یم، ته نه یې خبر چې دا د ظریف خان کاروان دئ، یوه کسیره ولاکه درکم، که جنګ کوې هم دغه میدان دئ که باچا ته دي ځې هم درځه زه پخپله درسره ځم، پلوان ویل درځه باچا ته راسره.

لنډه دا چې ظریف خان او د پله خاوند دواړه باچا ته سره ولاړه، کاروان

تېر سو، خدري فکر وکی چي داغه دي وار دئ که دي په بلا کښېوست، کوښښ کوه که دي په باچا مړ کی یا دي عمري په بندي کی، خو دستي یې متهان تینګ کړه پسي ورغی، "ظریف خان خو هرګوره ښایسته و، لکه شاهزاده ښه اخلاق یې درلوده، او په دغه کوچنیوالي چي اوس نو ځوانی ته نژدې و، ډېر غیرتمن او خورا غلیچ او زوره ور او پهلوان غوندي و"، خو چي خدری ورغی کې کتل چي ظریف خان بیا باچا پر چوکی کښېنولی دئ، خدري په یوه ترخ کي ځان ورتېر کی، باچا ته یې ویل چي عرض لرم، هغه ویل ووایه څه عرض لرې؟ خدري ورته وویل چي پټ چي بل څوک نه وي درته وایم باچا ویل ښه دئ، خدری یې ځان ته نژدې رااووست، ورته ویل یې ښه په غوږ کي راته ووایه.

خدري پټ په غوږ کي ورته وویل چي دغه ظریف خان نومېږي، ډېر شریر او جنګړه او سرشوخه سړی دئ، د هیچا حکم نه مني دا پنځوس کاله موږ پر دغه پله او لار تېرېږو دغه محصول ورکوو، اوس دی ښېر کی کېږي، وایي چي زه د باچا غم نه ورکوم او دا لا څه ستا د پاچهی هوا یې کړې ده، دوه سوه ښکنځل او پوچ و رد یې درته وویل، باچا چنداني غوږ پر ونه نیو، مګر په زړه کي خوشحاله سو چي ښه دئ دا ښایسته، توریالی او غښتلی ځوان دئ اوس بې په دغه بانه راوګرځوم، لنډه دا چي باچا خدري ته آفرین ورکی رخصت یې کی، ظریف خان یې نظربنده کی، خو ظریف ښه ځوان و، نو په دغه سبب یې خورا ښه ساتی، نوکران یې ورسره کړه، چي ته خپل عیش کوه زما په پاچهي کي چي دي هر څه زړه غواړي درته اجازه ده، ته لکه زما زوی، مګر هو پر بله خوا دي نه پرېږدم چي ته ژوندی یې دغه دي ځای دئ، ځې به نه[۲].

ظریف خان باچا ته وویل چي ستا حکم مي پر غبرګو لېمو منلی دئ،

---

[۲] څوک وایي چي د ظریف خان د بند سبب دا و، چي خدري د حکومت یو جام غلا کی، چي را رهي کېدی، د ظریف په بار کي یې پټ چخ کی، بیا یې رپوټ وکی، چي ظریف خان غلا کړېده، په بار کي یې ده، په هغه وخت کي دا قانون و، چي چا به شی غلا کی، غل به د مال والا مریی و، نو ځکه یې ظریف خان بندي کی.

مگر دغه سړی چي ستا پر غوږو دړپړووت اکا مي و، دونه مي ایله که چي یو وصیت او د خپل عیال سپارښت پر وکم، باچا ورته وویل چي ښه دئ ورسه، باره یې دوه کسه سپاهیان ورسره کړه ظریف خان چي راغی، که یې کتل خدري بیا ټول کارونه کړي دي، کوچ و بار دئ مخ د کور پر خوا را رهي کېږي، ډېر خوشحاله دئ، ظریف خان ناره پر وکړه :

که دوري دوري د کور پر لوري – ته چي کور ته ورسي ببي به مچ کې
لال ورور به گوري – های های لال ورور به گوري

یعني زه خو بندي سوم، زما د عیال سره به ښه کوې، خدري په جواب کي ناره پر وکړه :

که دوري دوري د کور پر لوري – چي کور ته ورسم ببي به مچ کم
لال به کړم وای د سترگو توري – های های د سترگو توري

چي یعني بېغمه اوسه، ښه به یې نازوم، ظریف خان بیا د ټینگار له پاره ناره پر وکړه :

که پند که پند که خدریه پند که – دا زما خبري پر زړه قلم که
که کور ته ولاړې بي بي لعل بېگ وای – د خپل عیال وای سره سم که
های های سره سم که

چي یعني بي بي او لعل بېگ کوچنیان دي، لکه خپل اولاد داسي بې ساتې، خدري فکر وکی، چي ظریف خان دي مرگ له راوستلی و، او اوس دي د زړه ډاډ ورکی، دا خو ښه نه سوه، په راسه پر زړه یې مالګه ورتوی که چي ښه ترا خپه او دق سي او سل ور ولوېږي نو یې ناره پر وکړه :

نه به یې پند کم، نه به یې د زړه پر سر قلم کم – که د دې واري کاکا ولاړی
دا ستا عیال به زه در بدر کم – های های ښه در بدر کم

خدری ځني رهي سو، د ظریف خان خورا زړه درد وکی، چي دا لکه چي گرده خدری دئ چي دا پسات یې در وکی، نو وروسته یې ناره پسې وکړه :

په ما دي کړي په تا دي وسي – زما زړگی دي توري اوبه کی
توري اوبه تر سخرو وزي غوغا به وکي – های های غوغا به وکي

چي یعني راته معلوم سوې، چي دښمن یې، که خدای در ایله کړم بیا

به سره ګورو، خدري غوږ پر ونه نيو خورا خوشحاله د کاروان سره را رهي سو، ظريف خان بير ته باچا ته راغی، باچا نوکران ورسره کړي دي پر باچا خورا ډېر ګران دئ، خپل سيل و تماشا کوي، مګر نه په پوري کېږي، ظريف خان نو دالته پرېږده خدری پسې راواخله.

خدری چي را رهي سو هله هله مزل پر مزل د نکل کار دئ دا دئ خپل وطن ته را ورسېدی، ږغ سو چي د خدري قافله راغله، د مابی دمخه لا دوې سترګي څلور وې دا ږغ چي يې واروېد روح په ننووت، د کلا پر بام وختله لار يې ګوري، قافله رانژدې سوله، ظريف خان نه معلومېږي، د مابی د توانه ووتله ناره يې وکړه :

سترګي مي ووتې پر دغه لاري – سترګي مي ووتې پر دغه لاري
ظريف ته ګورم کې رابنکاره کې د ظريف وای د اوبنو غاړي
های های د اوبنو غاړي

قافله بنه رانژدې سوله، ظريف نسته مابی بيا ناره پر وکړه :

کاروان باشي يې د کاروان – سرداري يې د کاروان پر لمبر ولاړ يې
خلک پوبنتنه د سود و زيان کي – زه خو پوبنتنه د ظريف خان کم
های های د ظريف خان کم

د خدري د بېري چا جواب ورنه کی، په دې قافله کي د ظريف خان مريی و، مابی پر ده ناره وکړه :

که خپله خپله سرېه خپله – احوال يې راکه ظريف مي څه سو ؟
د چا ده سوبه د چا ده سلمه – های های د چا ده سلمه؟

چي يعني که پخپله په خبر يې هم حال راته ووايه، او که د بل د خولې په خبر يې هم حال راکه، مريي ناره پر وکړه :

که خپل يم خپل يم سرې دي خپل يم – زه چي راتلمه ظريف ژوندی و
احوال بې درکم د خپله سلمه – های های د خپله سلمه

دا چي خدري واروېدله د مريي سر يې غوټ په توره پرې کی، ساوڼ نوماند د ظريف خان بل مريی و، مابی پر دغه ساوڼ ناره وکړه :

که توره توره ساوڼه توره – ما په خدای ولوباتلې ظريف ژوندی و، که و په ګوره
های های که و په ګوره

ساوړ فکر وکی چي هغه بل مريي رشتيا ورته وويل سر يې ورپرې کی، نو ما به هم مړ کي که رشتيا ووايم، نو يې په جواب کي پر مابۍ ناره وکړه :

نه د کاروان سر يم نه د کاروان پای يم – تا په خدای کړم بزه گاره مابۍ خوري
مخ دي پټ په مرغلرو خدری باچا سو – های های خدری باچا سو

چي يعني زه لاغرضه يم، په کاروان هيڅ غرض نه لرم، مگر خدری خان سو، مابۍ پر ساوړ ناره وکړه :

که توره توره ساوړ په توره – راغلی مه وای د هند د لوره
اول مي هيله اميد پر خدای و – اوس راوخته د هره لوره

بيا يې پر خدري ناره وکړه :

که توره توره خدري په توره – راغلی مه وای د سند د لوره
ښايسته ظريف دي څه کئ – چي درسره و د خپله کوره
های های د خپله کوره

خدري په جواب کي ناره پر وکړه :

کاروان باشي يم د کاروان سردار يم – د کاروان پر لمبړ ولاړ يم
ظريف مي مړ سو د نس په خوږو – په دواړه لاسو مي کي د سنگو باره زه ځني راغلم

چي يعني ما په دغو لاسو ښخ کی، کاني مي پر واچول د نس په خوږو مړ سو، مابۍ چي دا وارويدله زړه يې درد وکی پر خدري يې ناره وکړه :

سر دي گنجي دئ، نوم دي خدری دئ – راغلی مه وای د هند له لوره
اول مي هيله اميد پر خدای وه – اوس دي راوايسته د هره لوره

خدری په سر پک او په رنگ تک تور و، د خپل کاروان په اړولو بوخت سو د ظريف خان يو بل سړی و، فکر يي وکی چي دا خو مينه ده زهره بې وچوي، په يوه ترڅ کي يې ناره پر مابۍ وکړه :

که پير کي پير کي خدری پيرې کي – دروغ مي ښه که رشتيا مي پرېږدي
ما به رشتيا خبري وکړای – خدری ظالم دئ سر به مي پرې کي

لنډه دا چي مابۍ هر څونه چي بې ژړلي وي ژړلي بې وي، مگر په دغه ناره يې لږ څه زړه ډاډه سو، ويل توکل پر خدای دئ، گوندي ژوندی وي، او

ژوندی دئ، نو ګوره چي خدري ظالم په څه تکه کښېيستلی دئ؟

خدري کاروان واړاوه، خورا خوشحاله دئ، ساوڼ يې راوغوښت آفرين يې ورکی، ورته وې ويل :

هوښ کوه چي تر خوله دي ونه وزي بي بي تا ته درکوم، اوس نو خدري ته د کور سر خالي سو، د ظريف خان پر ميراث کښېنوست، چي دغه مال يې سره ګوښه کی نو يې حکم وکی چي که د هند له لوري کم سړی يا مسافر کلي ته راتلی مې پرېږدئ، او نه دي د دې کلي څخه څوک هند ته ځي، د خدري مطلب دا دئ چي ګرد سره د ظريف خان پته ورکه سي، نه سي معلوم، پس له دغه خدری را ولاړ سو کمبله يې واچوله چي ظريف خان مړ دئ، درې ورځي يې پاتا واخيستله، خلک ځي و راځي، دی د ظريف په وير ځنګيږي، مقصد يې دا دئ چي د مابۍ و زړه ته ولوېږي، او ما مېړه کي. پاتا چي خلاصه سوله خدري پر مابۍ مرکه وکړه چي ما وکه. هغې په جواب کي ورته وويل چي بېله مرګه دي ولاکه وکم، او بې مرګه ولاکه ستا ګوتي ما ته راوړل سي. بله شپه يې بيا مرکه پر وکړه، بيا يې مرکه پر وکړه، دې نه قبلاوه، بله شپه لوی سهار دئ د خدري ظالم د توانه ووتله راغی په خپله يې پر مابۍ ناره وکړه :

که صادق دئ صبح صادق دئ - پر زړه مي دق دئ مابيه راسه خدری مېړه که خدری د درست کلي ملک دئ

مابۍ په جواب کي ناره پر وکړه :

که توره توره خدريه توره - يو شل پنځه ويشت کاله وګوره
که دا ورک ظريف رانه غی - بيا په حلاله نکاح مي بوله

مابۍ د "يه" پر ميدان ورته ناسته ده، چي ولاکه دي مېړه کم، چي اسمان مځکي ته راسي، خدری هم راولاړ سو مابۍ يې د کوره وشړله، څه چي يې درلوده ځني وايې خيستله او لال يې د کبابي په لاس ورکړ، چي تمامه ورځ دي اور ته ولاړ پيک دي وهي.

ببۍ يې واخيستله د ساوڼ مريي په لاس يې ورکړه چي دا يې ستا، ساوڼ يو تک تور د ظريف خان مريی و، د دې ساوڼ دوې نوري توري حبشۍ ماينې وې د دې سره يې يو ځای کړه، مګر ساوڼ لږ څه نمک په

حلاله و، د بيبۍ سره يې د خدري په غلا په پټه خورا ښه کوله او د لال سره کبابي ډېر بد کول.
مابۍ هم خوارکۍ دالتـه يوه د ځوزو کوډل جوړه کړه يوازي پکښې اوسېږي، يو د ظريف خان چلم يې لاس ته ورغلی دئ دا يې ورسره اخيستی دئ، نور يې نو هيڅ نه درلوده، خپل او د ظريف د بېلتانه غم يې ګاله.
يوه ورځ بېلتون زور پر وکړ د کوډلي څخه راووتله د کلي دباندي پر دښت يوه هوسۍ ګرځي، پر دې يې ناره وکړه :
که سپيني سپيني هوسيه سپيني - د کمه راغلې اې شاهوسيه
دغه کبلی به دې ښکاري وولي - داسي به ګرځې لکه مابيه
بير ته راغله په کوډل ننوتله، صبر يې وکړ خپل غمونه ګلوي، ژاړي دغه سپين مخ يې لکه ژړ زعفران داسي سو، هه هه څه ډېر کلونه تېر سوه، په سر کي يې ويشتلي پيدا سوه، يوه ورځ بيا لکه لېونۍ کلي ته راووتله د ظريف خان غم خورا زور پر کړی دئ پر کلي والو يې ناره وکړه :
زده زده يم خلکو زده يم - سينه کبابه پر اور پرته يم
که په ظريف پسې مړه نه سم - تګه مي بولئ حرامزاده يم
خو هيڅا د خدري د بېري چرت نه پکښې وواهه، هغه د ظريف خان د ملنګ خورا زړه پر وسو پټ راغی مابۍ ته يې وويل چي ته يو خط راوليکه خپل احوال او د لال او د بيبۍ خوارۍ او د خدري ظلم پکښې وليکه را يې که، په هر ډول چي وي، زه به هندوستان ته ولاړ سم، د ظريف خان د مرګ او ژوند حال به معلوم کم، دا خط به ورکم، او ستاسي حال به که ژوندی و، ور ته ووايم، خو مطلب دا دئ چي هر چم چي وي ګوندي رابه سي او که مړ و هم به يې حال راوړم، ستا هيله او اميد يې پر خدای، مابۍ ډېره خوشحاله سوله دستي يې خپل ټول کيفيت وکيښ کاغذ يې ملنګ ته ورکی، ملنګ خط واخيست اوس نو د خدري څخه بېرېږي چي خبر نه سي، دا خط ونه ويني، "ولي خدري څار کاوه چي څوک وهندوستان ته د دې خوا ولاړ نه سي، شاوخوا يې خلک ګومارلي دي، ګوري فهم کوي چي څوک تېرېږي، پکښې ګوري تلاښي پکښې کوي چي مابۍ خط مط وانه ستوي"، ملنګ خط واخيست د چوټي تلی يې وسپخاوه خط يې د تلي په مخ کي کښېښود،

بیر تـه یـې پـر تلي مېخونـه ووهلـه، چـوټي یـې پـه پښـو کـړې، ګـدړی یـې واغوستله پټ په نیمه شپه را رهي سو، هله هله د نکل کار دئ څه سر دي ګرځوم څو و هندوستان ته راورسېد، پوښتنه پر پوښتنه څو سند ته راغی، د ظریف خان درک یې ویوست خبر سو چي ظریف خان نظربنده دئ، مګر خورا په عزت او په استراحت دئ. ډېر معتبره دئ څوک په آسانه نه سي ورتلای اوداسي زوره ور او توریالي او غښتلي پهلوان ځني ختلي دئ چي د باچا په پاچهي کي نسته، ملنګ هم وس وکی په یوه ترڅ کي یې و ظریف خان ته ځان راورساوه، کې کتل یو مجلس دئ، خورا ساز و صحبت دئ، ظریف خان ناست دئ شاوخوا نوکران ورته ولاړ دي، مست ځوان دئ، پاخه حد ته رسېدلی دئ، ملنګ چي ورته وکتل ظریف خان یې وپېژانده ناره یې دلیري پر وکړه:

خدای خو دي وچ کي هغه زړونه – چي په پردي ولات کي ساز کي سوبتونه
ببی او لال مي دواړه د کبابي او د ساوڼ کي خدمتونه

دا ناره چي ظریف خان واورېدله، پوه سو چي حال بل دئ، خدري ظالم پسات کړی دئ، دستي یې پر یوه نوکر ږغ وکی، چي ورسه هغه ملنګ راوله، ملنګ یې راووست، ملنګ هغه کاغذ د ظریف خان په لاس ورکی، ظریف خان چي کاغذ خلاص کي چي وې لوست د مابې د خوا او پر ککرې یې اور بل سو تر ستر ګو یې پر اوښکی راتوی سولې، خو د غیر ته یې زیات څه ونه ویل، ملنګ ته یې ستړی مه سې وکړه، خورا عزت یې ورکی و نوکرانو ته یې وویل چي دغه ملنګ به خورا ښه ساتئ، عزت به ورکوئ، لاس پر نامه به ورته ولاړ یاست.

دغه ورځ په چرت کي پر تېره سوه، ماښام تر سهاره لټ پر لټ اوښتی، د خوابدی خوب نه ورتی، چي سهار سو راغی د باچا د سرای و دروازې ته ودرېدی، ناره یې پر وکړه:

که سهار سهار دئ – باد بلغار دئ – باچا ته وا راووزه
پر بندیانو سوی د کور احوال دئ – های های د کور احوال دئ

باچا خبر سو، ظریف خان یې راوغوښت ویل خیر؟ ظریف خان دا خپل کاغذ ورته ونیو، چي زما پر ببی او لال او مابې دغسي ظلمونه او جبرونه

سوي دي، ما ته رخصت راکه چې ځم. باچا چرت واخیست چې اوس یې څنګه ایله کم، نې زړه کېږي، زلمی دئ، وایي چې بیا به په جنګو او مقدمو کې په ښه راسي، او د ده ناز هم پر مځکه نه سي اچولای، خو جواب یې ور نه کی، په حرم سرای ننووت، ظریف خان یو ګړی و دروازې ته ولاړ و باچا نه راووت ده بله ناره پر وکړه :

سهار سهار دئ باد بلغار دئ – باچا ته وا راووزه بندیان ایله که
د دې بندیانو څونه آزار دئ – های های څونه آزای دئ

دې نارې د باچا په زړه کې لږ څه تاثیر وکی، راووت د ناچارۍ یې رخصت ورکی، مګر پټ یې دستي سړي ولېږله چې ورسي د رود پل ونړوي، چې ظریف خان پر تېر نه سي او بېر ته راوګرځي، ولاړ نه سي. ظریف خان شپه تېره کړه، سهار یې خپل کاروبار سم کی، دا دئ مخ د کور پر خوا را رهي سو، رود ته چې راغی که ګوري پل نسته نړېدلی دئ، نو یې پر دریاب ناره وکړه :

که تریخ دئ تریخ دئ کاهي دریاب مي تریخ دئ
دغه ظریف نه په ګډېږي، څوک چې بې زویه پاچهي که احوال یې تریخ دئ

بیر ته راوګرځېدی پوه سو چې دا چم د باچا دئ، دونه خواري یې راته جوړه کړه، نو راغی پر باچا یې ناره وکړه :

که کوته سوې د ظریف خان بخته کوته سوې
قول به یو و د پاچهانو – پر ظریف چې راغی نو دولوزه سوې

ظریف خان ورته ویل چې ولي؟ یو وار دې رخصت راکی بیا دې په مخ کې پل راته ونړاوه، د پاچهانو خو یو لوز وي. باچا ورته وویل چې نه مي زړه کېږي، چې ولاړ سې، زما دوې خورا ښایسته لوڼي دي هغه به ماښام در ولېږم ویې ګوره هره یوه چې ستا خوښه سوله هغه یې په حلاله نکاح ستا، خدای به دلې عیال او لوڼي و زامن درکي، زیاته نو څه غواړي، یا ته مه ځه کده دې راوغواړه. ظریف خان د خدایه سره چوې هیڅ جواب یې باچا ته ور نه کی، د باچا خیال سو چې پټه خوله اقرار دئ لکه چې خوښه یې سوله، چې زما لوڼي یوه وکي. دغه ورځ تېره سوه، ماښام د باچا غبرګي لوڼي خورا سنګاري سوي دي ځانونه یې یو غوړپ کړي دي. دا دې څراغونه په لاس د

ظریف خان کوټې ته ورننوتلې، نجوني یې هره یوه مخ ته دوري دوري کېږي، یوه وایي زه بې خوښه سم بله وایي زه به یې خوښه سم، د ظریف خان په زړه کي خپله مینه سپینه مابۍ ګرځي او د بي بي او لعل بېګ غم ورسره دئ، په دوی کي چرت نه وهي، سترګي یې ځني پټې کړي دي، دې نجونو پیغلانو ناره پر وکړه :

که ښاد سوې ښاد سوې – ظریفه ښاد سوې
سر راپورته که د خابه، بخت دي بیدار دئ – ته د باچا د لوڼو یار سوې

ظریف خان په جواب کي ناره پر وکړه :

که ښاد یم ښاد یم اې نجونو ښاد یم
تاسي زما خوندي مندي نن زه د خپلي مابۍ په یاد یم
های های مابۍ په یاد یم

نجونو بیا ناره پر وکړه :

که خوار سوې خوار سوې ظریفه خوار سوې
ته مي بندي د هندوستان سوې ، مابۍ که هېره ظریفه یاره
ته د باچا د لوڼو یار سوې

ظریف خان په جواب کي ناره پر وکړه :

که لوري لوري د باچا لوري – په کار مي نه دي دغسي نجوني
زما یادېږي سپینه مابیه – سپیني منګلي

د باچا لوڼو فکر وکی چي دی مین دئ، د ده په زړه کي د مابۍ مینه ده پر موږ یې باز نه کښېني، ګردسره راته ګوري لا نه، نو بیر ته نا امیده د ظریف خان د کوټې څخه راووتلې، راغلې و پلار ته یې وویل چي ظریف خان د مابۍ په مینه کي ډوب و، بالکل یې موږ ته نه کتل او نه یې سترګي راواړولې، باچا فکر وکی چي دا دو مي هم ونه چسپېدی، "څه سر دي ګرځوم تا ته دي خدای نېکه ورځ درکي" دغه شپه تېره سوه سهار سو، ظریف خان بیا باچا ته ورغی ورته وې ویل چي مه کوه ازار مه اخله، د مسافرو ازار نه دئ ښه، رخصت راکه چي ځم.

باچا ورته وویل چي دا دونه عمر ماستا سره ښه کول د پاچهۍ اختیار مي درکړی و، تا نو زما څه خدمت وکی؟

ظریف خان ورته وویل چي تا کم خدمت رافرمایلی دئ چي مانه دئ کړی؟

باچا ورته وویل چي اوس خدمت درفرمایم.

ده ورته ویل پر غبر ګو لېمو وایه څه خدمت دي دئ چي وې کم؟

باچا ورته ویل چي ته ښه دلاوره، زړه ور، غښتلی پهلوان ځوان یې ما هم د یوې ورځي له پاره نازولې او ساتلې مي ته به ځې پلانی راجا به رایتوې یا بې وژنې او سر به یې راوړې. دابې تانه کېږي، دغه کار چي دي وکی وروسته به دي نو د زړه د اخلاصه رخصت کم، دنیا به هم درکم سړي به هم درسره کم، کور ته به ولاړ سې.

ظریف خان ویل پر دواړو سترګو، ظریف خان خو ډېر هوښیار او باتدبیره سړی و، نو یې باچا ته وویل چي ته به ما ته دېرش توري، دېرش اوښان او دېرش دېرش کلني غښتلي غیر تمن او تر سر تېر ځوانان او شیښته سندوخان او د شپږو میاشتو غنم نفقه یي داسي غنم چي د (۹) میاشتو د کښتې پاخه غنم وي راکوې، هغه دئ زه به ولاړ سم چاره به یې وکم.

باچا ویل ښه دئ، دستي یې دېرش غښتلي اوښان، دېرش دېرش کلني ځوانان او دېرش دېرش منه غنم یعني د سړي پر سر دېرش منه غنم چي د نو میاشتو د کښتې وه او شپېته سندوخان یې ورته تیار کړه، ظریف خان ته یې ورکړه. ظریف خان دېرش منه غنم په یوه سندخ کي، یو ځوان په بل سندوخ کي واچول، په دغه ډول دا شپېته سندوخان په غنمو او ځوانانو ډک کړه، پر ښه مایه اوښانو یې د شپې را بار کړه چي بې خدای ماسوا هیڅوک نه سوه په خبر او نه چا ولیده. سندوخانو ته یې کلپونه ور واچول کیلۍ یې پخپل جېب کي واچولې، څو کسه ساروانان یې د اوښانو سره کړه. مارونه یې کشوي خو مدعا را رهي سوله، هله هله چي ماښام سي واړوي، سندوخان خلاص کي هغه ځوانان ځني راووزي ډوډۍ وخوري سهار بیر ته په سندوخانو ننوزي کاروان بار سي. "خو هله هله مزل پر مزل د نکل کار دئ څه سر دي ګرځوم کور دي په الله سره ودان سه" څو دا دئ د هغه راجا ښار ته راورسېدل، د ښار په دروازه چي ننوتله دروازه وان یو خورا هوښیار هندو و، په سترګو هم ړوند و، د دې بارو چغهار یې واروېدی یو وار یې وویل چي

په دې باروکي يا دپرش کلني ځوانان دي يا دنو مياشتو غنم دي. ظريف خان فکر وکی چې تلاښي وانه خلي دستي يې په لاس کي څو روپۍ ورکښېښوولې چې بوغ مه لره، هندوهم روپۍ واخيستلې زياته يې بوغ ونه کی، ظريف خان سره د قافلې ښار ته ننوت د راجا وسرای ته نژدې يې په يوه کاروانسرای کي واړول، سندوخان يې کښته کړه، ظريف خان يوه کوټه ونيوله پکښې اوسي، سوداګر راغې چې څه شي يې راوړي دي، ظريف خان ورته وايي چې زما مالونه ډېر سنګين دي، اوس يې نه خرڅوم ستړی يمه، لسمه پنځلسمه ورځ باد يې زه سودا کوم، اوس ولاړ سئ.

ظريف خان د ورځې او د شپې شاوخوا څار کوي څو دريمه ورځ باد يې د باچا د حرامسرای او د پيره دارانو ښه درک وايستی، څلرمه شپه يې په نيمه شپه کي د ټولو سندوخانو سرونه خلاص کړه دپرش سره ځوانان يې څني راوايستله، توري يې په لاس ورکړې ظريف خان دمخه دوی په پسې دي، هله هله څو اولي پيرې ته ورسېده چې پيره دار بوغ پر کاوه د روه يې په توره وواهه درې ټکره يې کی، دهغه پيره دار پر ځای يې خپل يو ځوان ودراوه. څه سر دي ګرځوم څو تر حرم سرای پوري يې ټوله پيره داران مړه کړه، خپل سړي يې پر ځايو ور ودرول، ظريف خان يوازي حرم سرای ته ورغی راجا او ماينه يې دواړه مجبور کړه په سندوخانو ننوتل، او ظريف خان د شپې نوم څني زده کی، سر يې پسې کلپ کی، پر خپلو سړو يې پټ بوغ وکی چې در واخلئ سندوخان، دستي مست ځوانان تر لاندي سوله، سندوخان يې راواخيستله، برابر يې کاروانسرای ته راوړه، خپل سړي چې د پيره دارانو پر ځای يې درولي وه ټوله ورسره راغله، دستي يې خپل بارونه سره سم کړه، بير ته يې هغه ځوانان په هغو سندوخانو کي واچول. يو ظريف يو دو کسو نورو اوښان مهار کړه، په دغه شپه د ښاره راووتله، د ښار په دروازه کي يې د شپې نوم ورته ووايه را رهي سوله، هله هله دغه شپه يې مزل وکی، دا بله ورځ او شپه يې مزل وکی، څو دا دئ "د نکل کار دئ" باچا په مخ کي يې کاروان کښته کی، ظريف خان فکر وکی چې راسه اوس نو باچا قسمي که، بيا به دي سربېره پر دې نه پرېږدي، نو يې باچا ته وويل چې ستا کار مي وکی اوس نو رخصت راکه چې ځم.

باچا وویل څنګه دي کار وکئ؟

ده ورته وویل که ته قسم راسره کوې نو زه به ستا د زړه داړ وکم، چي زړه ته دي ولوېږي.

باچا ویل زما قسم دئ درسره، که دي دا کار کړی و چي رخصت دي کم.

باره ظریف سندوخان خلاص کړه، هغه د ده دښمن راجا او ماینه یې ورته راوایستله، هغه نور ځوانان هم ټوله روغ رمټ د سندوخانو راووتله، باره یې ظریف خان ته آفرین ورکی، ډېره دنیا یې ورکړه دستي یې آسان ورځین کړه سړي یې ورسره کړه ویل تاسي د ده نوکران یاست، ظریف خان هم دستي مخ د کور پر خوا را رهي سو، راغله پول تیار سوی دئ، پر لاري یو لوی غر دئ شنې کوتري پکښي ګرځي، د هې خوا شهین پسي راوالوت، دا کوتري یې پسي واخیستلې، د ظریف خان خپل خور و ورور و مابې ور په یاد سوله چي دا کټ مټ لکه د خدري ظلم نو یې ناره وکړه:

ول که پوري غر درې درې دئ — ترلی په پنجرې دئ
کوترې راغلې شهین پسې دئ — څوک چي نه لري د موره
د هغو زړګي وي وای — های های ذرې ذرې دئ

چي یعني څوک چي د موره زوکړي ورور نه لري یو سر وي خود بې دغسي زړه ذرې ذرې وي.

(څه سر دي ګرځوم، کور دي ودان سه د نکل کار دئ) دا دي راغله تر خپله ښاره پوري راورسیده، دباندي تر ښار یې واړول، ظریف خان ښار ته ننووت، د یوه کبابي دوکان ته ورغی، چي ګوله ډوډۍ او کباب وخوري، کبابي ته یې ویل کباب راکه. کبابي و مزدور ته ورږغ کړه چي ها ارمچکه! شرک سو په یو بنچه سیخانو یې وواهه، ویل ورسه د هغه سړي لاس ورپرېمینځه، ظریف خان چي ورته وکتل چي دا هلک یې ناحقه څنګه وواهه باره یې وپېژانده چي که و دغه لال دئ، د ظریف خان زړه خورا درد وکړ، مګر څه یې ونه ویل، خیر خو ډوډۍ یې ورته راوړه، ظریف خان ورته وایي کښېنه هلکه ته هم زما سره ډوډۍ وخوره، لال ژړغونی سو، ویل بیا مي استاد وهي، ځني تېر سو، ظریف خان ډوډۍ پرېښووله د زړه د جوشه یې

ناره وکړه:

که تا که تا که لالیه تا که – که مې دا ستا غور ونه کی
پر ما یې سپینه مابې تلاکه – های های مابې تلاکه

لال نه وپوهېدی چې ظریف دئ، د کبابي زړه په غورځنګ کښېوتی، چې دا لکه چې ظریف دئ. ظریف خان ولاړ، لال یې کبابي ته پرېښود، ظریف خان راغی پر آس سپور او را رهي سو، که ګوري له لیرې یې ببې په سترګو سوه، چې د کاله دباندي په خورا زهیر وضعیت ګرځي، چې ظریف خان یې ولید څه شک یې په ورسېدی، نو یې ناره پر وکړه :

که په ورو ځي د آس سپور په څه شان ځنګه ورو ورو رځي
ما په خدای قسم درکړی چې ته په اصل په نسب ځوک یې
های های په نسب ځوک یې

د ظریف خان هم شک په ورسېدی، دوباره یې ناره پر وکړه :

که پوکي پوکي نجلیه پوکي
ما ته په خدای ولو باتلې چې ته په اصل په نسب څوک یې
های های په نسب څوک یې؟

نجلۍ ناره پر وکړه :

که څوک یم څوک یم سړیه څوک یم
تا په خدای ولو باتلم د میرویس لور یم د ورک ظریف جان خور یم
های های ظریف جان خور یم

دا ناره چې یې پر وکړه ظریف خان د آس څخه راکښته سو په غېږ کي یې ونیوله پر سترګو یې مچ کړه، آخر ته یې پوښتنه ځني وکړه چې څه احوال مو دئ؟ ته دلته څه کوې؟ لال چیري دئ؟ مابې څه سوه؟ ببې ور ته ویل چې لال د کبابي مزدور دئ، داسي یې وهي چې توبه، زما دغه احوال دئ، مګر ساوې د خدري په غلا ښه راسره کوي او مابې هلته په یوه کوډل کي اوسي. اوس ېخي ضعیفه سوې ده، دا د خدري ظلم یې ټوله ور ته بیان کی. باره ظریف خان ببې د ساوې کره راوستله، د ساوې کره یې ور بږغ کړه چې دا نجلۍ نه خر ځوئ؟ د ساوې خو دوې ماینې وې، د ببې سره یې ډېر بد کوله، وهله به یې، دې د ساوې ماینو ور ته وویل چې خر ځوو یې، مګر په ډېرو

روپو يې ورکوو. ظريف خان ورته ويل چي دغه دئ يو مټ بتکۍ به درکم زه بې بوزم.

دوی ورته ويل چي ښه دئ. بتکۍ يې ورکړې ببۍ يې رارهي کړه، ساوڼ چي کور ته راغی پوښتنه يې وکړه چي ببۍ چيري ده، ماينو يې بتکۍ او طلاوي ورته راواخيستلې، ورته وې ويل چي په دغونه طلاوو مو خرڅه کړه، يوه آس والا بوتله، موږ ويل څه يې کوو ناحقه رابانديي تاوان ده او ته هم غريب وې نو مو ورکړه.

پر ساوڼ خو ببۍ خورا ګرانه وه، د خدري په غلا يې خورا نازوله، باره يې ماينو ته وويل چي د ظريف خان دونه نمکونه مو خوړلي دي تاسي يې يوه خور ونه ساتله، خرڅه مو کړه، دستي پسي راووت چي ببۍ پيدا کړي، توره يې کښلې ده راځغلي، د آس په پلو بانـدي، خـو دا دئ پـه آس والا پسې راورسېدی، بږغ يې پر وکړ چي چيري نجلۍ بيايې، د آس و مخي ته ليري ورته راولوېدی، توره يې کش کړه، ظريف خان ناره پر وکړه :

که غلطه ساوڼه غلطه

ما په خدای ولوباتلې چي دا دي خور ده که دي اورته

های های که دي اورته

ساوڼ ناره پر وکړه:

که غلطه غلطه سپاره غلطه—نه مي خور ده نه مي اورته

تا په خدای ولو باتلم، ما ساتلې ده د ورک ظريف د نيته

های های ورک ظريف د نيته

لنډه دا چي ظريف خان و ساوڼ سره وپېژندل، ساوڼ راغی په پښو کي ورولوېدی، روغبړ يې ورسره وکړ، ظريف خان پوښتنه ځني وکړه چي څه حال دئ؟ ساوڼ دا تېر حال ورته ووايه، ظريف خان ويل مابۍ چيري ده؟ مړه ده که ژوندۍ؟ ده ويل ژوندۍ ده مګر مرګ ته نژدې، درځه هلته په يوه کوډل کي ده اوس نو بيخي ضعيفه سوې ده.

ساوڼ و ظريف وهغي کوډلي ته راغله، مابۍ يې نه پېژني، "ولي چي ظريف خان نوی زلمی و، اوس پوخ سړی سوی و"، مابۍ په حيرت ورته ګوري، په آخر کي يې ورته وويل چي ته څوک يې، چي ببۍ درسره ده؟ بږغ

خو دي د ظريف خان دئ، ظريف خان ويل هو زه يم !

د مابې تـر سترګو اوښکي را ايله سوې، ظريف خان يې په غېږ کي ونيو، سره کښېناستل په خندا يې ورتـه وويل چي ښخي سپين ږيرى سوى يې، ظريف خان ناره پر وکړه :

که سپيني سپيني مايه سپيني
هنداره واخله پکښې وګوره دغه ستا ماتې دي زما تر وېښتو سپيني
های های تر وېښتو سپيني

وروسته ظريف خـان ساوڼ تـه وويـل چـي ورسـه هلتـه زمـا بـار و بنـه و نوکران دي دلته يې راوله، ساوڼ په يوه رپ کي ورغـى را يې وستله، دلتـه خدرى خبر سو، چي ظريف راغـى، دى او نوکران مست مست ځوانان ايـرغ بسته ورسره دي، دنيا يې هم ډېره راوړې ده، دستي يې الا کـړه لال يې د کبابي څخه راووست، ښه کالي يې په واغوسته، اغا اغا ورتـه وايي، راغلـه ظريف خان له، ځان يې نابلده واچاوه، چي زه خو تانه پېژنم. مابې ورسره ناسته ده، پر مابې په غضب سو، سترګي يې ورته چپه کړلې په قهر يې ناره پر وکړه :

که ګل کې ګل کې په هندوستان کي وچ لرګى ګل کې
هغه ښايسته ظريف دي هېر کى – چي اوس ته مينه پر سوداګر کې
های های پر سوداګر کې

بله ناره يې پر وکړه :

که ګل کي ګل کي پر کندهار ګل کي ښه ګلان ګل کي
دا هم د رب رضا ده، چي لېور ناست وي ورېنداره بل کي
های های ورېنداره بل کي

ظريف خان ورته ويل ظريف دغه دئ خداى راوست، پر ساوڼ او نورو نوکرانو يې حکم وکى چي تاسي لا ورته ګورئ، هغه خوارى و ظلم خو در په ياد که ساوڼه، پر راحمله کړه، خدري ناره پر وکړه :

که نرى دئ نرى دئ د مسافرو زړګى نرى دئ
که دي د دې واري کاکو پرېښود کاکو مي ستا د درګاه سپى دئ
های های د درګاه سپى دئ

ظریف خان ناره پر وکړه:

که کلک دئ کلک دئ د مسافرو زړګی کلک دئ

په خدای که کاکا تا پرېږدم چي تر غوږو مي د لال د سیخو شرک دئ

های های د سیخو شرک دئ

لنډه دا چه د سر ماغزه دي باسم تا ته دي خدای نېکه ورځ درکي، خدری او کبابي يې پخپله سزا ورسول، ساوڼ يې د خدري پر میراث کښېناوه، نور يې د خدري په وړوکو غرض ونه کی، مابې او ظریف خان په خپله کلا کي سره کښېناسته، سره کور و کهول سول و بس.

کیسی ولاړه پور ته

زه راغلم کور ته

خوشکیار او شاترینه

یو باچا و[1]، د باچا دوې مایني وې، د یوې مایني اووه زامن وه د بلي
مایني شځه یې یو زوئ درلود، چي خوشکیار[2] نومېده، خوشکیار تر ټولو
ورونو پر باچا خورا ګران دئ ښه یې نازوي، او دی هم خورا هوښیار هلک
دئ، باچا به تل په ده د پهلواني کارونه زده کوله، خورا زوره ور ځلمی و، څه
سر دي ګرځوم، د باچا اجل پوره و ناروغه سو، چي مړ کېدی وصیت یې وکی
چي زما پر ځای دي خوشکیار کښېني، باچا مړ سو، خوشکیار یې پر ځای
کښېنوست، دې ورونو یې فکر وکی، چي د بابا په ژوند هم دی پر بابا ګران و،
او اوس هم دی د بابا پر ځای کښېنوست، یه د ده یو چاره په کار ده چي
وسي، او په پټه یې باید چاره او علاج وکو، ولي په ښکاره خلک پر ده ولاړ
دي، آبس خوشکیار یې د مېلې او ښکار په بانه غره ته بوت، یو ځای یې په
شېله کي اتاک ونیو، چي د غره لمني ته سره ووتله خوشکیار یې په منځ کي
دئ، دګه فهم نسته یو وار هغه مشر ورور په چپلاخه وواهه، د هغي بلي خوا
هغه بل په څاپېړه وواهه، د دې بلي خوا دې بل ورور په لغته وواهه،
خوشکیار خو پهلوان لوی سوی و، نو هر یو چي به یې پوري واهه دوه ګزه ها
خوا ته به غوځار سو، خو بیر ته تر اتاکه راورسېدل، مګر خوشکیار پوه سو،
چي ورونه مي په مرګ پسې دي، نو پر آس سپور سو آس یې د کور پر خوا را

---

[1] د نکلچیانو دا دود دئ چي اکثره چي نکل شروع کوي نو وایي یو باچا و، که نه وي نو دا معلومه نه ده، چي باچا و که یه، او بل دا چي ښایي دا به د ملوک الطوایفی د وخت نکلونه وي چي هري طایفې یو مشر درلود.

[2] څوک وایي نوم یې خشکی و، د خوشکیار نوم آدم خان منته خېل پر کښېښود، ځکه چي دی په اصل خیشکی او د کندهار د خیشکو په کلي کي اوسېده.

رهي کي، کور ته راغی مور ته يې دا قصه وکړه چې ورونه مي وژني نه مي پرېږدي، هر وخت چې وي، که اوس مقابله ورسره کوم هم نه دئ ښه، اولنو متل کړی دئ وايي: "ورور وژلی ښه دئ که ګومل پرې ايښی ښه دئ؟ وايي ګومل پرې ايښی ښه دئ نه ورور وژلی" يه نو ځم دا پاچهي او خاني يې و دوی ته پاته، زه يې نه کوم ته حق راپل که، بل شی نه وړم يو مي دغه آس دئ يوه مي د پلار توره ده، مور يې ورته ويل چې ښه دئ زويه، پر خدای مي سپارلی يې، هر ځای چې يې خدای دي مل سه، زه به دلې يوه ګذاره ورسره کوم، ځو بيا ستا درک معلومېږي، او د ځای خاوند کېږې.

لنډه دا چې پر خپل آس سپور سو د پلار توره يې راواخيستله، مور يې دعا پسې وکړه چې ځه زويه ! هر ځای چې يې شا دي مځکي ته مه ورځه، پر دښمن دي لاس بر اوسه، خوشکيار را رهي سو پر لاري چرت وهي چي چيري ولاړ سم، يو داسي يار مي پيدا کړی وای چې په زور او پهلواني کي زما جوړه وای، خو چرت يې وواهه باره يې وويل چې زما ګور(؟) که و، آدم خان مته خېل دئ، ځم به هغه ته، ځه سر دي مخ د پېښور پر خوا را رهي سو، هله هله هله دا دئ د آدم خان مته خېل وطن ته راورسېده آس يې وړی دئ باره يې د آدم خان شپيشتو ته ايله کی، خبر نه دئ چې دا شپيشتي د آدم خان دي او د آدم خان نو دورې دي چې هر سړی پر ځني وهي، بلو[۳] راغی ويل ځوانه د آدم خان د مرګ دي اورېدلي دي که څه؟ چې آس دي پر خپل سر شپيشتو ته ايله کړی دئ؟ خوشکيار ورته وويل څه وکم؟ آس مي وږی دئ؟

بلوخان يو څه تر خوله تېري ورته وکړې، خوشکيار پر مړوند کړه او بلوخان يې پورته کی د مځکي يې وويشت، دوه ساعته بېسده و، چې راپورته سو او د ده و زور او پهلوانی ته دوب ولاړ، زياتره يې څه ونه ويل برابر ولاړ و آدم خان ته يې دا کيفيت ووايه چې داسي ځوان دئ، زه يې غوزار کړم، آس يې پخپل سر و شپيشتو ته ايله کړی دئ، او تا ته يې هم بد ويل.

---

[۳] وايي چې بلو نامی د آدم خان مريی و.

آدم خان ویل آس خو یې لا خیر مسافر دئ پروانه لري، مګر پیشرونه ولي وهي او بد ولي وایي؟ توره یې راواخیسته راغی که ګوري یو زلمی پښتون ناست دئ چې خور پر مینېږي، ښه غښتلی پهلوان معلومېږي.

آدم خان ورته وویل :

ځوانه ! آس خو دي پروانه لري، چې ایله کړی دي دئ، مګر ښکنځل دي ولي کړي؟

خوشکیار وویل :

زه پښتون یم، ښکنځل نه کوم او نه مي کړي دي.

آدم خان هم لاس ور وغځاوه ویل آفرین پهلوان یې راځه کلا ته، ته زما ورور یې چې کلا ته یې بوت ډوډۍ یې ورته راوړه، ډوډۍ یې وخوړله وروسته آدم خان پوښتنه ځني وکړه چې ښه ځوانه د کم ځای یې؟ نوم دي څه شي دئ؟ په خټه څوک یې؟

ده ورته ویل چې د کندهار د خویشکو یم، او په خټه هم خویشکی یم، نوم مي "یار" دئ، آدم خان ورته ویل چې زه څلوېښت ملګري لرم ته هم زما ملګري یې، باره دي تا خوشکیار بولي، آبس دی په خوشکیار مشهوره سو، د پهلوانۍ نوم یې په ګردو مېنه خپلو کي ولاړ.

لنډه دا چې آدم خان او خوشکیار خورا سره ګران دي، څو عمر باد یو شپه خوشکیار شاترینه په خوب ولیدله، چې په ترینانو کي د یوه غټ ترین لور وه او خوشکیار یې لا دمخه د ښایست آوازه اورېدلې وه او د شاترینې پلار د خوشکیار پلار ته خط لیکلی و، چې زما لور ستا د زوی ده، ده په خوب ولیدله په دغه خوب کي شاترینې خپل ځای وروښود، چې زه د پلاني لور یم، خوشکیار په دغه خوب کي زړه پر بایلو، پر مین سو، سهار چې د خوبه راکښېنوست ښه یې پر بل ډول اوښتې ده چرت اخیستی دئ.

آدم خان چې ورته وکتل خوابدی په خیال ورغی، باره یې پوښتنه ځني وکړه چې خیر خو دئ؟ ولي خوابدی یې؟ ده رغ نه ورته وکی، آدم خان یوه پېغله خور درلوده، فکر یې وکی چې بې کوره دئ، البته په کور او کډه کي به چرت وهي، باره یې ورته وویل چې خوشکیاره، ما خپله خور نازو و تا ته درکړې ده.

ده ورته ویل چي پر ما دي لکه چي د یوه مازي پښتانه خیال وکی، زه په خور یاري او آشنایي نه کوم، ستا خور زما خور ده، زه یې نه کوم. زما دا د راستۍ ملګري ده، سلامت اوسې.

آدم خان ورته ویل چي ولي دي نو طبیعت خراب دئ، رشتیا خو راته وایه؟ ده ورته ویل چي رشتیا دا ده چي برایي مي شاترینه په خوب لیدلې ده.

آدم خان ورته ویل درځه چي درته رایې ولم! خوشکیار ورته ویل چي یه، زه یوازي پسې ځم، ته که ښه کوې یو مجنون آس دي راکه. آدم خان ویل یوازي به یې نه راولې، هغه د زوره ور سړي لور ده، پلار یې غټ د قوم مشر دئ، ګوره اوس به پښېمانه وي ده ویل ته بېغمه اوسه زه یې تمام یم. آدم خان ورته ویل ښه دئ چي مانه بیایې هغه دئ آس مي بوزه، (د آدم خان آس مجنون نومېدی).

لنډه دا چي آس یې ورکی خوشکیار پښه پر واړوله پر سپور سو مخ د شاترینې پر خوا را رهي سو، هله هله ورور ته دي ووایم د نکل کار دئ، دا دئ راغی د شاترینې کلي ته د یوې بوډۍ کره ورغی بوډۍ ته یې یو مټ طلاوي ورکړې چي ته به د شاترینې درک و خرک په لاس راکوې. بوډۍ ورته وویل چي دا خو آسانه خبره ده، زه پخپله هره ورځ ورځم د ګلانو دستې جوړوم ور وړم یې. مګر دا دئ چي شاترینه خو یې کرم خان ته ورکړې ده، اوس یې نو د واده شپې دي د واده کاروبار یې جوړېږي ودوي یې، خوشکیار هم خوابدی سو او هم یې قهر راغی، چي زما د مرګ یې اورېدلي خو بوډۍ ته یې ویل خیر دئ، زه به یوه دسته د ګلانو در جوړه کم ور یې وړه چي څه وایي؟ بوډۍ ویل ښه دئ، ده دستي یوه د ګلانو ګېډۍ ور جوړه کړه خط یې ولیکی چي زه خوشکیار یم چي ستا پلار ته ما ته راکړې یې، ما زړه درباندي بایللی دئ، پر تا مین یم. سر مي پر تا ایښی دئ څنګه یې کوې؟

دا خط یې د بوډۍ په پټه د ګلانو د ګېډۍ په منځ کي کښېښو، ګېډۍ یې د بوډۍ په لاس ورکړه، بوډۍ یووړه شاترینې ته یې ورکړه، شاترینې چي د ګلانو ګېډۍ دا پلا ولیده خورا یې خوښه سوله، چي پزې ته یې پورته کړه، بویوله یې د ګېډۍ په منځ کي کاغذ و، چي خلاص یې کی وې لوست،

پر وې ژړل اریانه سوله چي دا به څنګه سي؟ باره یې بوډۍ ته وویل چي دا ګیدۍ چا در جوړه کړېده؟ بوډۍ ورته وویل چي دا زما یو زوی دئ ملنګ دئ او ډېر ښه ځوان دئ. شاترینې ویل چي راېي وله، بوډۍ اریانه سوله چي څنګه یې اوس ور ولـم کـه د شاترینې پـلار یـا کـرم خـان را خبـر سـو خـو خونجاړي به مي را په هوا کړي، دربدره به مي کي، باره راغله پر خوشکیار یې ناره وکړه:

خوشکیاره چي بوډۍ ته وایې موري
که کرم په ما خبر سو خوشکیاره زما خونجاړي به څوک ګوري

چي په ما دي پسات وکی ادې ادې دي راته ویل اوس که کرم راخبر سو نو زما خونجاړي به څوک راساتي، خوشکیار ناره پر وکړه:

شابوډۍ تر کلا واوړه راواوړه
شابوډۍ ستا خونجاړي به زه راسره ګورم

چي ته بېغمه اوسه تا ته ضرر نه رسېږي، په تا به هیڅوک نه سي خبر بله ورځ خوشکیار د ملنګ په کالو کي چي کچکول ورځخه و، د شاترینې دروازې ته د خیر غوښتلو له پاره ورغی، شاترینه راغله ده ځان ور وښود باره بیر ته شاترینه وګرځېده خوني ته ورغله د سندخه څخه یې طلاوي په پلو کي راواخیستلې راغله د خوشکیار په کچکول کي یې ورواچولې، خو خوشکیار کچکول له مځکي وویشت پر شاترینې یې ناره وکړه:

خوشکیار په کلي ځي کچکول بانه کي - شاترینې که خوله ورکړه
خوشکیار به دا کچکول دانه دانه کي - ارمان دئ ارمان

لنډه دا چي طلاوي دانه دانه سولې، ده ورته ویل چي زما مقصد ته یې طلاوي مي نه دي په کار اوس یې څنګه کوې؟ دې ورته ویل چي زما مراد هم ته یې، هر رنګه چي یې ته کوې دغه یوه نن شپه سته، سبا شپه مي په زوره ودوي، ده ورتـه ویـل خـدای بـه یـې آسانه کـي چـي داسي لنډ ګنډ دي ودوي نو په ملنګي او په چم سره نه سره ورځي، زه دي په وچ متـه او په سپینه توره ځني بیایم، که راسره ځې؟ شاترینې ورته ویل چي ته سر پر ما ایږدې نو زما سر دي هم تر تا جار سي، زه خو اول هم ستا وم اوس هم ستا یم، ده ویل سبا به چیري راسې؟ دې ویل سبا د کرم خان ورابانې راځي، بل ځای نه

سم درتلای، مګر یوه بانه سته هغه دا ده چي زموږ د کلا تر شا زما د نیکه او انا زیارت دئ، زه به پلار ته ووایم چي ما ستا د مور او پلار زیارت ته یو وار پرېږده، دا زیارت به وکم، نو ته به د کلا شا ته راسي کمربسته او ملا تړلی به ولاړ یې، چي زه درغلم نو سره ځو به، توکل پر خدای دئ، خوشکیار ورته ویل چي بېغمه اوسه نه به مو وژني زه هم نر پښتون یم ښځه نه یم، آول ښه دئ.

خوشکیار بیرته راغی د بوډۍ کره، ګوډړی یې وغورځوله خپل کار یې سم کی ماښام یې مجنون ښه موړ کی چي سهار سو د غرمې و خوا ته د کرم خان ورا راغله، شاترینه یې پر تخت کښېنوله سرور او ښادي ده، اوس یې ودوي، خوشکیار هم زیارت لره راغی، یو ګوښه ځای ودرېدی، دلته شاتریني و پلار ته وویل چي باباجانه زه خو ودېږم، او دغه د نیکه او انا زیارت مي ونه کی، بیا خدای خبر کله راسم، که ستا خوښه وي چي یو وار په ولاړو پښو زیارت لره ورسم زیارت یې وکم ډېر به ښه سي، ګوندي حق داره دي راورسېږي، بېګانه کور ته ځم. پلار یې ورته ویل چي شل کر ته ورسه. آبس دې هم د واده کالي اغوستي دي زرغون شال یې پر سر دئ، د جواهرو او مرغلرو امېل یې په غاړه دئ، را رهي سوله، هغه نوري همزولي او د کلي ښځي وایي موږ هم درسره ځو، دا ورته وایي چي یه زه یوازي ځم، ښځي او مینځیاني ورته وایي چي ولاکه پاته سو، موږ هم درسره ځو، پلار یې ویل ښه دئ یوازي نه دئ ښه دوی دي هم درسره ولاړي سي.

لنډه دا چي شاترینه سره له نورو همزولو او مینځیانو راغله زیارت لره، د زیارت و سر ته شینغزی ولاړ دئ، په دغه شینغزي یې امېل ورته وځړاوه و دې ښځو ته یې وویل چي تاسي په یوه سلا ور الا کی هري یوې چي واخیست د هغې دئ، ښځو هم پر را الا کړه، لس دوولس ښځي دي خو چي ور حمله یې کړه امېل وشلېدی، دانه دانه سو، ښځي د مرغلرو او بتکیو په ټولولو اخته سولې، شاترینه راغله د خوشکیار تر شا پر مجنون ور سره سپره سوله، خوشکیار هم مجنون پنده کی، لکه برېښنا والووت، ښځي په مرغلرو او امېل اخته دي د شاتریني مینځه ده چي داسي یې وکتل شاترینه په خوشکیار پسي سپره ده دغسي یې را الا کړه، د شاتریني پر پلار او کرم

خان يې ناره وکړه :

کرم خانه ورا دي خوشي مسخره کړه
کرم خانه شاترينه خوشکيار ترشا سپره کړه
ارمان دئ ارمان دئ ارمان !

کرم خان اريان سو، چي دا څنگه پيښه سوه؟ پلار يې ورتـه ويل چي څنگه پيښه سوه، ټال مه په کښېباسه سړي پسې وباسه، کرم خان ويل يه زه يوازي پخپله پسي ځم، خوشکيار دوی لا تـر سترگو نـه دي نيهام سوي، خوشکيار آس سوکه سوکه وهي، شاترينې ناره پر وکړه :

خوشکياره ته چي زما په غېږ کي ربړدې
که لښکر د کرم راغی - خوشکياره ته به ترپلې ما به پرېږدې
ارمان دئ ارمان دئ ارمان

خوشکيار په جواب کي ناره پر وکړه :

شاترينې زه چي ستا په غېږ کي ربړدم
که لښکر د کرم راغی - شاترينې سپين گردن به پر تا کښېږدم
ارمان دئ ارمان دئ ارمان

کرم خان ملا وتړله چي اوس پخپله پسې ځم، د کرم خان وراره دئ ده وويل چي ته مه ځه زه ځم که يې زه مړ کړم بيا ته پوهېږې کار دي، باره دا وراره يې پسې راووت چي راغی خوشکيار دوی نه دي سپاره سوي، باره وراره يې پسي برغ کړه چي نه به ځې. خوشکيار مخ پر راوگرځاوه، ناره يې پر وکړه :

اې ښه ځوانه دا د خول سر خو دي تور دئ
مخ در گرځوه اې ځوانه - چي کرم ستا سي مېړه دئ لا کمزور دئ
ارمان دئ ارمان دئ ارمان

چي يعني ښه ځوان يې ځان مه راوژنه، ځه بير ته مخ وگرځوه ولاړ سه، کرم خان دي پخپله راوباسه، موږ هم دا يو کرار ځو، د تېښتي کـار نه دئ. د توري کـار دئ. د کرم وراره بيرتـه راغی چي نه کېده، کـرم خـان هـم لوی پهلوان او توريالی ځوان دئ، باره يې توره راواخيستله پر آس پسي راسپور سو پر متانو يې تو کړه، خو هله هله دا دئ پسي راورسېدی،، چي داسي يې و خوشکيار تـه وکتل دا د ده صورت او پنډۍ او لېندۍ يې وليدلې، او د ده

سترګي او برېتونه يې وکتل باره يې پر تم او ستاره پر ولوېده، د آس څخه کښته سو، صورت يې رېږد واخيست، خو ناچاره سو توره يې د تېکي څخه کش کړه، آس يې پر خوشکيار ور وبوسکاره(؟) باندي ورېنده يې کی، شاترينه هلته ګوښه ناسته ده، کرم خان پر خوشکيار توره ور وغورځوله، خوشکيار د ډېري چسپاندی او چالاکی او پهلوانی څخه ځان ځني کوږ کی، د مجنون تر ګېډه يې ځان ويوست، بير ته پر آس سپور سو، د کرم خان توره خطا ولاړه، خوشکيار واری کوي او پر شاترينې ناره کوي :

شاترينې د خاصې تر پلو ګوره

د کرم واری دي تېر سو – شاترينې د خپل يار واري ته ګوره

ارمان دئ ارمان دئ ارمان

لنډه دا چي توره يې ورسره لښته کړه، کرم خان يې پر دغه نيمی پر نری ملا وواهه توره هيسته تر ولوېده، نور بدن يې لاندي ولوېدی، دوښخې يې پر آس پاته سولې، آس تور وخوړ د کرم خان دوښخې پر باندي مخ د کلا پر خوا يې الا کړه، شاترينې ناره پر وکړه :

کرم خانه ته شپانه غيلي دي پووې

دوښخې دي اوس کرنګ پر کوپی يووړې

ارمان دئ ارمان دئ ارمان

شاترينه په بېغمه زړه خوشکيار تر شا سپره کړه مخ د آدم خان پر کلا، اوس نو د آدم خان کلا نژدې ده، کرار کرار راځي، لنډه دا چي د آدم خان کلا ته رانژدې سو، د آدم خان د کلا دمخه د آدم خان پياز دي کرلي دي، تازه يې اوبه کړي دي، لندې ختي دي شاترينه ورته وايي چي په دغه مامته کي آس در رهي که دغه لار لنډه ده چي ژر کلا ته ورسېږو، خوشکيار يو وار آس پکښې هی کی ختي وې بير ته يې د آس جلو راوګرځاوه، د پيازو څخه يې آس راويوست، شاترينې ويل څه کوې ولي دي د آس جلو بير ته راوګرځاوه، خوشکيار ناره پر وکړه :

که په متې نن زما زړګي په متې

خلک به تهمت راباندي وايي – د آدم پياز يې منډلي دي په ختې

ارمان دئ ارمان دئ ارمان

چي خلک به تهمت راباندي وايي چي خوشکيار ببرېدی، او د ببري پر دغه لنډه لار دا دئ رهي سوی دئ، ګرده پياز يې په ختو منډلي دي.
لنډه دا چي خوشکيار شاترينه د توري په زور راوستله دا دئ د آدم خان کلا ته ننوتله، آدم خان و بلو و ميرو نورو يارانو سترې مه سې ورته وکړه روغبړ يې سره وکی، و خوشکيار ته يې آفرين ورکی، خوشکيار دا خپل نکل ټوله آدم خان ته وکی چي کرم خان مي مړ کی، دوښخې يې آس کور ته ور وړې، دوی نو پرېږده دالته د کرم خان دوښخې څه سوې؟
هلته د کرم خان آس کور ته ورغی دوښخې يې پر باندي دي نور تن يې نسته، باره دا وضعيت چي يې تربرو وليد ډېر وشرمېدله، دستي دغه مشرانو يې برغ سره وکی چي خوشکيار داسي ژړه راواړوله، يو خو يې په سپينه ورځ ناوې او ښځه د واده او ورا د منځه څخه راڅخه بوتله، دوهم يې کرم خان پر دې پېر کړی دئ، چي دوښخې يې دا دي تن يې نسته، يه نو زموږ ژوند دي هم ورک سي دستي يې لښکر جوړ کی توري يې راواخيستلې، دا دئ را رهي سوله، هله هله دا دئ د آدم خان کلا ته راغله، پر کلا شاوخوا راوګرځېدله خوشکيار ستړی دئ، بيده دئ، د آدم خان پلار چي راووت دا کيفيت و لښکر چي يې وليد، بير ته کلا ته ننووت، پر آدم خان يې برغ وکی چي خوشکيار ستړی دئ بيده دئ د کرم خان لښکر پسې راغلی دئ، دا نو بې تانه کېږي، ور وزه چاره يې کوه چي تر تربرو مو رنګ ژړي نه کي، چي وايي خوشکيار په يوه سر شاترينه د بسته قومه څخه راوړه، او اوس يې د آدم خان د کلا څخه بير ته ځني بوتله.
آدم خان ويل بابا بيغمه اوسه، نه بې راڅخه وړي، د روه پر مجلون سپور سو توره يې وکښله بلو و ميرو ورسره دي، په لښکر راګډ سو، داسي د وينو چړه يې په ويوست چي توبه ! آخر ته لښکر د خدای پار ورته ونيو، چي توبه مو ده، پر خپله تړه څو نور جنګ نه کوو، آدم خان هم بير ته توره په تېکي کړه، هغه پاته لښکر ولاړ قسم يې په وکی چي بيا به نه راځي، خوشکيار و شاترينه دالته د آدم خان په کلا کي سره کور و کهول سوله، و بس !

قطب خان او نازو

ته وا ښه !

ښه !

چي و يو سوداګر و او خورا غټ او دولتمن سړی و، يو زوی يې درلود، دا زوی يې قطب خان نومېده، پر پلار خورا ګران و، داسي يې نازاوه لکه منګنی وری. د دنيا هيڅ کار يې نه په کاوه، دا قطب خان لوی سو، ځوان سو دا خاشه پر بلي نه ايږدي، تمامه ورځ خپل شوق او ښکار کوي، قطب خان د کوچنيوالي څخه د رباب شوق درلود، چي پلار يې مړ سو، څو ورځي وروسته يې رباب واخيست رباب وهي، ورځ په ورځ يې د رباب شوق زياتېږي، کرار کرار رباب زده کوي، و دنيا ته يې چرت نسته، دنيا يې ګرده برباد سوله، تر دې چي بېخي مسکين سو، مګر سره له دې باک نه په کوي خپل رباب وهي، څه سر دي ګرځوم (ورور ته دي ووايم)، قطب خان داسي رباب زده کی چي په عالم کي يې ننداري وې، په عالم کي يې نوم ولاړ چي قطب خان په رباب کي جوړه نه لري او قطب خان داسي ښايسته ځوان و، چي خور پر مينېدله داسي ولکه په ګوته کښېده کړی، د قطب خان د رباب صفت تر آدم خانه پوري ورسېد، چي په کندهار کي داسي ځوان دئ او داسي رباب وهي چي توبه !

آدم خان خو هم ربابي و، داسي رباب يې واهه چي په يوه لاره سره يې هغه درخو چي په اوو کوڅو کي يې ديد نه کېده سر توره يې ميدان ته راوايستله، نو آدم خان په زړه کي ناديده د قطب خان مينه پيدا سوه، هره ورځ بې ويله چي کله به قطب خان ووينم، مګر پته او ځای يې ښه نه وه ور معلوم چي پسي تللی وای او ليدلی يې وای.

يوه ورځ قطب خان په خپل مجلس کي رباب وواهه، چي رباب

يې ودراوه، په مجلس کې يوه سړي وويل چې ياره قطب خانه داسې رباب بيله آدم خان مته خپله بل څوک نه سي وهلای، قطب خان ويل تر ما لا ښه رباب وهي؟ هغه ويل ګوره هغه داسې رباب وهي چې د هوا مرغۍ يې پر ګوتو کښېني، په تمامو پښتنو کې په رباب مشهور دئ، په رباب کې جوړه نه لري او پر ټـه لـه ربابه څخه ډېر توريالی او پهلوان دئ، خورا ډېر ياران او مجلسيان او اشنايان لري.

آبس و قطب خان ته سودا ور ولوېده چې آدم خان له ولاړ نه سم وې نه وينم نه کېږي، باره را رهي سو پر آس راسپور سو، رباب يې و څنګ تـه واچاوه، مخ د آدم خان د وطن پر خوا، دلته چې قطب خان پـه آدم خـان پسې را رهي سو هلته آدم خان په خوب وليد. سهار چې راويښ سو دا خپل ياران يې راوغوښته ورته وې ويل چې هر چا که پر ما د قطب خان زړې وکې زما خور نازو د هغه ده، نازو خو داسې ښايسته ده لکه د انار ګل چې ستن پوري مښلي او داسې نازکه ده لکه د شيدو پېروی، پر آدم خان خورا ګرانه ده، جلا سرای يې ور جوړ کړی دئ، جلا د ګلانو باغ يې دئ چې چکر پکښې وهي.

قطب خان مزل وکی وکی هله هله پوښتنه پر پوښتنه څو د آدم خـان وطن ته راغی، خورا ستړی دئ، دی و آس دواړه د ترپه ولوېده د آدم خان د کلي دباندي و کلي ته نژدې د يوې ولې پر غاړه تر يوې ونې لاندي و سيوري ته پريوت آس يې پـه ونه پوري وتاړه، رباب يې د ونې په ښاخ پوري ورتـه وځړاوه نو بيده سو.

بلو چې د آدم خان مريی و، دباندي راوتلی دئ د آدم خـان پـر مڅکو ګرځي، چکر وهي دا د ولې غاړه يې اخيستې ده، يو وار پر قطب خان پېښ سو، قطب خان يې وليد بيده دئ رباب يې و سر تـه ځړېږي، آس ورتـه تړلی دئ، بلو فکر وکی چې که و دغه قطب خان دئ، باره يې را الا کړه برابر ورغی آدم خان ته ورته وې ويل چې خانه زړې مي درباندي قطب خان راغلی دئ هلته تر يوې ونې لاندي پروت دئ، رباب يې و سر ته ځړېږي، راځه آدم خان اريان سو، چې هلته مي د خور قول کړی دئ، دا څنګه کار وسو، خير خو را رهي سو بلو دمخه دئ، دی په پسې دئ هله هله دا دئ آدم خان يې راووست و قطب خان ته يې ودراوه، چې که و دغه قطب خان دئ، بيده دئ په ځان نه

دئ خبر آدم خان چي وليد لږ څه يې شک پر راغی چي دغه به وي، باره يې و بلو خان ته وويل چي راځه پرې يې بږده مې ويښوه، ګوره کم مسافر به وي ستړی دئ، که قطب خان وای خامخا کور ته راتلی باره بير ته ځني را رهي سوله، راغله کور ته.

قطب خان يو ګړی وروسته راويښ سو، بير ته يې رباب و اوږې ته واچاوه پر آس سپور سو را رهي سو پوښتنه کوي د آدم خان په کور پسې ګرځي، باره په کلي کي هلکانو لوبي کولې، دی چي راغی پر دې هلکانو يې ناره وکړه :

ما تر جار کې د هلکو تر ټوليه
يو مټ روپۍ به درکم که و ما ته د آدم کور راوښيه

باره دستي يو هلک بوت د آدم خان کور يې ور وښود، قطب خان و هلک ته يو مټ روپۍ ورکړې، باره يې آس ور رهي کی د آدم خان د کور دروازې ته، باره دروازه يې ور وټکوله ور ږغ يې کړه چي مېلمه يم که آدم خان يو وار راووزي چي سره ووينو، باره آدم خان د کوره ورته راووت چي ورته وې کتل هغه ځلمی دئ چي تر وني لاندي بيده و، باره يې د آسه کښته کی، د غېږي روغبړ يې ورسره وکی، کور ته يې بوت، ډوډۍ يې ورکړه بيا يې پوښتنه ځني وکړه چي ځوانه د کم ځای يې؟ نوم دي څه شي دئ؟ څنګه راغلی يې؟

ده ورته وويل چي نوم مي قطب خان دئ، د کندهار يم، ستا د نامه مي واروېدله، نو را رهي سولم راغلم چي ما ويل دا آدم خان ربابي او پهلوان ووينم ياري او اشنايي به ورسره واچوم. قطب خان چي ځان ور وښود، نو آدم يو په سله خوشحاله سو، باره ويل خدای دي راوله، ماهم ته د خدايه څخه پر آسمان غوښتې خدای پر مځکه راکړې، تر هغه وروسته يې سره اشنايي سوله، بلو راغی و آدم خان ته يې وويل چي خانه تا خو قول کړی و، چي هر چا که د قطب خان زېری راباندي وکی، زما نازو خور د هغه ده، اوس خو مي دا دئ زېری درباندي وکی، څنګه پر قول ولاړ يې؟ آدم خان ويل بېشکه اوس مي هم قول دئ خور درکوم، بلو ويل ښه دئ.

يوه ورځ قطب خان ستړيا واچوله هوسا سو، نو آدم خان دننه کور ته

بوت ورته وې ویل زه خو نادیده ستا پر رباب مین وم، ډېر مي غوښت چي کله به تا ووینم او ستا رباب به کله واورم، نو اوس که دي خوښه ده یوه ښه لونګینه لاره رباب راته ووهه چي د زړه زنګ مي واخلي.

ده ویل پر دواړو سترګو، باره یې رباب د کڅوړي څخه راوکیښ ښه یې سُر کی رباب یې شروع کی هلته په بله خونه کي نازو د رباب شرنګ واروېدی باره راغله د کوټې پر بام وختله تر کولک یې ورته وکاته، چي پر قطب خان د نازو سترګي وموښتې، دستي پر مینه سوله. "ولي قطب خان خو داسي لونګین ښایسته ځوان و، چي خور پر عاشقېدله، جوړې یې نه درلودې"، باره د نازو تر سترګو د محبت او میني اوښکي تر کولک لاندي پر رباب راتوی سوې، قطب خان چي پر رباب د اوښکو څاڅکي ولیده چي شرنګ یې سو پر رباب دپاسه راشوه سوه، اریان سو چي دا اوبه د کمي خوا راتوی سوې؟

باره یې ژر پورته وکاته، قطب خان چي د نازو ملالي سترګي د اوښکو ډکي ولیدې، دی هم دستي پر مین سو، زړه یې پر بایلو، دواړه د میني او محبت په اور کباب سوله، خیر خو حال یې پلن واچاوه چي آدم خان په شکي نه سي، خو لا یې د میني د زړه له پاره آدم خان ته داسي رباب وواهه چي آدم خان داسي منګ ورته ولاړ، چي رباب یې بس کی بیر ته آدم خان او قطب خان د کوره سره راوواته، قطب خان ته یې دباندي په سراچه کي ځای ورکړی دئ، اوس نو نازو کور غم ګالي، قطب خان دباندي د نازو د سترګو د باڼوګانو په غشي ویشتل سوی دئ، هغه درد ګالي.

لنډه دا چي پر قطب خان دوهمه دریمه ورځ د نازو غم زور وکی، رنګ یې والوت، ښه یې ژړه سوله، ورځ په ورځ نولېدی، نازو په کور کي د قطب خان د غمه نولېدله، ناجوړه سوله، او قطب خان نو بېسده سو پرېوت، د آدم خان خورا طبیعت په خراب دئ، په خور یې دونه طبیعت نه دئ خراب لکه په قطب خان خو آدم خان و قطب خان ته طبیب راووست دا دوا یې ورکوله، هغه دوا یې ورکوله، خو آن یې پر تمام کړ د قطب خان د رنځ دوا او طبیب نه و.

یوه بوډۍ ده چي د آدم خان او نازو په کور کي ایله ده، دوی انا انا ورته

وايي. يوه ورځ نازو پته بوډۍ راوغوښتله باره يې ورته وويل چې انا ! دې ويل ها !

نازو ويل زه يوه خبره درته کوم وايې به نه، روپۍ به هم درکم، تا ته يو کار درپرمايم، دا کار به کوې ثواب به دې هم سي آدم خان به هم درڅخه خوشحاله سي، مګر په دې شرط چې دا خبره او کيفيت پټ وساتې.

بوډۍ ويل ځان دې وخورم ولي به وايم زه خو ستاسي خدمتګاره او نمک خوره يم ولي به داسي جک وهم چې وايم به، ولچې سړی مړ کې که ووايم او بيا چې ته وايې آدم خان خوشحالېږي چې اور وي درسره ګډېږم.

وروسته نازو ورته وويل چې خبره دا ده چې په خوله کي دي ساتلې وي ستا دي د دغه يوه پک زوی په سر قسم وي که به وايې، زه او قطب خان سره مين يو، زه چې ناجوړه يم هم مي دغه سبب دئ او قطب خان چې پروت دئ نه جوړېږي هم يې زړه زما پر اوربل بايللی دئ، قطب خان په هيڅ شي نه جوړېږي مګر ته دغه زما دسمال ور وړه پټ يې پر تېر کړه، او که نه وي دباندي په دغه سراچه کي يې زهره چوي، مري خوار کی، مسافر جلاوطنه دئ، آدم خان يې زړه ته تېر آشنای دئ اوس د شرمه ږغ نه سي کولای که بل څوک وای لا بې زور و زياتی ورسره کړی وای نو په دغه دسمال واخله پټ يې که وروسته آدم خان ته ووايه چې قطب خان زه جوړوم، مګر په دې شرط چې زه يې يوه مياشت کور ته بيايم، بوډۍ ويل ښه دئ، بس دسمال يې واخيست کور ته يې يووړی، بيرته راغله آدم خان ته، ورته وې ويل چې خانه !

ده ويل ها !

بوډۍ ويل چې قطب خان دي داسي اشنا دئ چې د ده په زړي کي دي نازو خور بلو مريي ته ورکړه او د سر تر ستر ګو درباندي ګران دئ، اوس پر مرګ پروت دئ ته هيڅ چرت نه پکښي وهې، آدم خان ورته ويل چې خو زهره مي په دوا او طبيبانو وچاودله چې نه ښه کېږي، نو زه څه وکم، بوډۍ ويل چې قطب خان زه جوړوم، مګر هو زه يې يوه مياشت کور ته بيايم زما کره دي دا يوه مياشت پروت وي، باره آدم خان ويل ښه دئ بويې زه، که ستا په برکت خدای قطب خان جوړ کی تا به ډېره خوشحاله کم.

لنډه دا چي قطب خان بېسده دئ پروت دئ د بوړۍ کره يې پر چارپايي يووی، خلک ځني را رهي سوله چي ټوله ولاړه کراره کراري سوله بوړۍ دسمال راوړی پر قطب خان يې تېر کی، وروسته يې د قطب خان پر مخ دسمال وغوړاوه، پر قطب خان د دسماله څخه د نازو بوی ومښت سر يې راپورته کی، بوړۍ ورته ناسته ده، بوړۍ ته يې ويل چي دا دسمال د نازو د لاس دئ؟ بوړۍ ويل هو ! دسمال نازو راکی د نازو د لاس دئ. سلام يې وايه چي خدای مهربانه دئ صبر وکه، خدای به مو سره يو ځای کي بېغمه اوسه، څه سر دي ګرځوم قطب خان دسمال مچ کی په زړه پوري يې ونيوه، راپورته سو، کښېنوست وچکلک جوړ سو، په دا سبا د قطب خان د توانه ووته و بوړۍ ته يې وويل چي ته خو اوس زموږ په پټ حال خبره او شريکه سولې زما د توانه وتلې ده، دا يو کار خو دي وکی آفرين، مګر څنګه د لاسه به دي وسي چي يو وار زما او د نازو ديد سره وکې؟ ما خو نازو لاسي نه ده ليدلې فقط د دې يوازي ملالي ستر ګي مي ليدلي دي، نوره مي نه ده ليدلې، اوس څنګه ته هوښياره يې په دې بندوبست ښه پوهېږې.

بوړۍ ويل هو ښه دئ لاسي ديد به يې در وکم، بېغمه اوسه زما زوی د آدم خان باغوان دئ، هره ورځ باغ ته پسونه بيايي ونيسه دغه يو لوی مږ حلال که ښه يې پوست که، سبا په دغه پوست ننوزه زما زوی به دي د پسو په رمه کي باغ ته ننباسي، هلته د ورځي نازو په باغ کي وي، باره به يې ښه ووينې ده ويل ښه دئ.

آبس دستي يې پسه حلال کی پخپله قطب خان لاسي پوست کی سهار په دې پوست ننووت، د بوړۍ زوی د پسو سره باغ ته بوت د نازو د باغ پيره دارو، هر څوک يې بېله آدم خانه او باغوانه باغ ته نه پرېښود، قطب خان د پسه په پوست کي باغ ته ننووت، بلو په ونه پوهېدی په باغ کي قطب خان د پسه د پوسته څخه ووت د ګل ګلاب په بوټو کي ننوت پټ سو.

نازو په چکر باغ ته راوتلې ده، د يار غم غلطوي په باغ کي لکه ژړه بلبله د دې ګل ننداره کوي، بيا د هغه ګل ننداره کوي پر هغه د ګل ګلاب پر بوټي چي راغله چي قطب خان پکښې پټ و، قطب خان د ګل ګلابو تر پاڼو نازو وليده، تک سپين کالي يې اغوستي دي، د سپيني خاصې نوی نازک

کميس يې دئ، تک سپين مړوندونه يې دي شانه ورانه ونه، ملالي ستر ګي، نري غاښونه، سرې شونډې راغله سور ګل ګلاب يې د دغه بوټي څخه ور کش کی، بويوي يې، باره د ګل د منځه څخه قطب خان ناره پر وکړه :

که کمين دئ نازو ستا صورت کمين دئ

نازو ګلي تر کميس دي مړوند سپين دئ

نازو چي د خپل بلبل مين ناره د ګل بوټي د منځه څخه واروېدله لکه ګل سره وغوړېدله، زړه يې باغ باغ سو نو دې په جواب کي ناره پر وکړه :

دا بلبل آواز کاندي نه معلومېږي

بلبله راسه ځان څرګند که چي زموږ ياري په غلا نه کېږي

باره قطب خان د ګلانو څخه پر راووت دواړه د محبت او ميني په خوږو مر کو بوخت سوله، په ګلانو کي يې يو ځای چکر سره وواهه، د مينو مجلس دئ دا ورځ باندي يو ساعت سوله، مازيګر بيا قطب خان د پسه په پوست ننوت د بوډۍ زوی بير ته د پسو سره راويوست، د بوډۍ کره يې راووست، ماخستن د پسه د پوسته راووت بوډۍ وای څنګه نازو دي وليده؟

ده ويل هو ! ومي ليده، مګر د زړه سوی او مينه مي يو په دوه سوه، څه به کوم بوډۍ ورته وايي ته خو د دغه پسه په پوست کي باغ ته څو ورځي ځه و راځه د نازو ديد کوه بيا به يوه چاره وسنجوو، ده ويل ښه دئ.

لنډه دا چي څو ورځي د پسه په پوست کي پر دغه ډول باغ تـه ولاړ راغی ولاړ راغی، آدم خان به هره ورځ د بوډۍ څخه پوښتنه کوله چي قطب خان څنګه دئ؟

دې به ويل نن تر پرون ښه دئ، بېغمه اوسه ښه کېږي، آدم خان ته يې د زړه ډاډ ورکاوه، آدم خان و بوډۍ ته وويل چي زه يو وار پوښتني ته درسم ښه نه دئ؟

بوډۍ ويل يه که خدای کول يوه مياشت باد به بير ته رباب سره وهئ، ده ويل ښه دئ، خدای دي جوړ کي، يوه ورځ قطب خان ونازو تـه وويـل چي تر څو به مو دا حال وي څو تر څو به زه باغ ته د پسه په پوست کي ځم راځم، که رسوا سولم چي قطب خان د پسه په پوست کي باغ ته ورتی نو دا بېخي شرم دئ. نو د دې پای يې څه؟

نازو ورته وویل چي زه هم داسي اریانه تللې یم، چي څنګه وکم چي زه یې دمخه لا وبلو ته ستا په زېري کي قول کړې یم، نو ته به داسي وکړې یا مړ یا موړ چي ستا یوه توره اونه ګزه د سپین سان کفن ور وړه، وآدم خان ته یې کښېږده آدم خان ته ووایه چي دا توره ده دا مي کفن دئ، یا مي مړ که یا ستا خور نازو راکه، خامخا به یوه خوا کوې هره خوا چي دي خوښه ده.

که دي په دې ډول څه وکړه ښه تر ښه که نه وي هیڅ. نو هر یو به جلا جلا ځان وژنو. ده ویل ښه دئ آبس په دا سبا قطب خان توره او نه ګزه کفن راوړ د آدم خان د مخه یې کښېښووله آدم خان ته یې وویل چي زه یوه خبره درته کوم، دغه توره ده دا کفن دئ یا مي پر دغه ځای مړ که چي د خوږ د مرګه خلاص سم او په یوه وار مړ سم، یا ستا خور نازو راکه په حلاله نکاح، زه رشتیا درته وایم چي زه نه ناجوړه وم، نه هیڅ، فقط پر نازو زه مین سوم زړه مي ډوب سو، نو زه خو هغسي د نازو بې دیده مرم او په زحمت مرم، نو یه اوس مي لا علاج وکه مړ مي که یا دي خور راکه.

آدم خان اریان سو، د دوو جهانو تر منځ سو، وایي که پورته ګورم پانۍ دي، که کښته ګورم پړانګ دئ. قطب خان هم د سر تر ستر ګو پر ګران دئ، مرګ یې لا څه جواب نه سي ورکولای، او بلو مریي یې هم ډېر خدمتونه کړي دي او بیا یې په غونډه بړیره قول ورسره کړی دئ، چي خور درکوم، خو ډېر یې فکر خراب سو، باره یې فکر او چرت وواهه اوستری یې وقطب خان ته وویل چي ښه دئ درکوم یې ناعلاجه یم نو څه وکم.

آبس په دا بله ورځ یې بلو په یوه کار پسي ولېږی، وقطب خان ته نازو ورکوي نکاح یې ورتړي، وایي چي بلو خوشي یو اور ګډی سړی دئ مخامخ قطب خان راځخه مړ نه کي، ښه دئ دا اوله د نکاح ورځ ده چي په خبر نه سي نور نو بیا وروسته چي هر رنګه پیښه سوه.

لنډه دا چي بلو په کار پسي ولاړ، نازو یې وقطب خان ته په نکاح ورکړه په دغه ورځ خورا هشت و مشت جوړ سو، میرو د بلو ورور ډېر پسونه حلال کړه، ساز و سوبت یې جوړ کی، خیر خو نکاح یې د نازو د قطب خان سره وتړله، دغه ورځ تېره سوه ماښام ته بلو راغی، بلو به تل د نازو د سرای پیره کوله، نو راغی هغه د پخوا پر عادت باندي د سرای د دروازې په خوله

کي پر خپله پيره ودرېد، آدم خان اريان دئ چي اوس څنګه قطب خان کور ته بوزي، باره يې قطب خان را رهي کی اوس يې تر دروازه پخپل پوستين کي پټ تېروي، بلو چي د آدم خان و پښو ته وکاته څلور وې، باره يې پر آدم خان ناره وکړه :

که په تول دي د بلو سترګي په تول دي
آدم خانه سر دي يو پښې دي څلور دي

آدم ورته ويل چي ياره بلو ياره ښکه او رشتيا چي ډېر هوښيار سړی يې، خو دوې پښې زما دي دوه مي د پوستينه لستوني ځړېږي، نو خود څلور معلومېږي، نو زما څلور پښې د څه وې. بلو هم زيات ږغ و نه کی په دې بانه يې قطب خان و سرای ته تېر کی، يو ګړی باد بلو ولاړ کور ته باره يې وارو پدله چي نازو يې نن و قطب خان ته ور کړه، او ميرو دونه پسونه حلال کړي وه، داسي ساز و سوبت او هشت و مشت يې جوړ کړی و، باره د بلو سترګي لکه د خوني زمري تکي سرې راوختلې، باره يې دغسي توره راواخيستله چي خپل ورور ميرو اول مړ کي، ولي وايي تا خو به زه خبرولم، سربېره پر دې چي خبر دي نه کړم، پسونه دي لا هم حلال کړي وه، هشت و مشت دي جوړ کړی و، خوشحالي دي کوله، چي را رهي سو راغی د ميرو کور ته ميرو د خپل کور شاوخوا او لار ټپه په ځوزانو او ژرګو تړلې وه چي بلو نه سو تر تېرېدای، او نه تر اوښتای سو، باره وروسته نو د نازو د کور پر خوا را رهي سو نازو دمخه لا د کلا او خوني دروازه ټينګه تړلې وه، ولي دا خو پوهېده چي بلو خبرېږي، راځي يو لړه جوړوي، بلو راغی د کلا تر دېوال ور واووښت ورغی د خوني دروازه يې ور پوري وهله، نه خلاصېده، نو د خوني په دروازه کي دبلندي ورته ودرېدی ناره يې پر وکړه :

که ساندو دئ ستا په غېږ کي پروت مي دی ساندو دئ
تې راو باسه ميدان ته نازو ګلي ايمان نه لري هندو دئ

قطب خان يو څه سره وښورېدی، چي ميدان ته ور ووزي ور سره معلومه يې کړي، باره نازو ټينګ کی چي مه ور وزه، (ځکه دا خو پوهېدله چي بلو بې يوه چپلاخه ووهي مخ بې ور څټ کي، بلو خو توريالی پهلوان دئ او قطب خان خو نازولی ګلالی ځوان دئ)، باره يې قطب خان ته ويل مه ور

وزه، زه بې جواب وکم، باره يې په جواب کې پر بلو ناره وکړه:

که ساندو دئ دا بلو مريې ساندو دئ
زما په غېږ کې زمرى پروت دئ دا بلو مې ايمان نه لري هندو دئ

دا ناره چې نازو پر وکړه، يو وار بلو ته لا درد ورغى، ترله ووت، و دروازې ته وجوړېدى چې پاشنه يې کې ورننوزي قطب خان مړ کي، نازو فکر وکړ چې ولچې بلو کور ډاګى دروازه ماتوي راځي، باره يې پر مور ناره وکړه:

ادې مورې پر ما څه د غم اور بل دئ
دا نور خلک بيده دي پر ما د بلوګي مريې غوبل دئ

مور چې يې ناره واورېدله دغسې راوغورځېدله پر آدم خان يې ناره وکړه:

په شيدو مې لويولې په مسرو مې اوبولې
ته راووزه بلو مړ که پر نيمو شپو د نجونو څه غواړې دروهلې

آدم خان چې د بلو يار په طيعت خبر و او تل بې باڼ ورکاوه، نو به يې کار په کاوه، راغى د بلو په مخ کې يې د نازو پر مور ناره وکړه:

ښه کالي د ښو ځوانانو اغوستن دئ
زه به ولي بلو وژنم بلو مې د دې ګرد کاله ښنتن دئ

د آدم خان په دې ناره سره بير ته بلو باڼ واخيست فخر يې په وکى، آدم خان بلو ته نصيحت وکى چې ته زما بې صلاح کار مه کوه، تا ته به بله کوزده در وکم، نو څه وکم زما تر وس خبره تېره وه، قطب خان هم لکه ته داسي راباندې ګران و، جواب مې نه سواى ورکولاى، زه خو پښتون وم، پښتون چې يو وار چا ته د اشنايى لاس ورکي بايد تر پايه يې ورسره وپالي، پر مازې شي يې خوابدى نه کي، نو يه ته به زما د لحاظه و قطب خان ته زيات ږغ نه کوې، څه کور ته ولاړ سه، نو بلو د آدم خان خبري په غوږ کې ونيولې د ده څخه يې خار وخوړ بير ته کور ته ولاړ، که څه هم و قطب خان ته يې زړه ډک و، زړه يې نه غوښت چې بير ته توره په تېکي کې واچوي، مګر دم در حاله يې و قطب خان ته ږغ ونه کى په زړه کې يې ويل چې بيا به ګورم چې په پټه به يې علاج کوم.

لنډه دا چي څو ورځي تېري سوې قطب خان کور ته تلی، بلو يار خو د نازو د سرای او د دې د باغ پيره دار و، په قطب خان پسې څار وو، چي په داسي ډول يې مړ کي چي تر يوې اندازې دی متهم نه سي، څو يوه ورځ قطب خان په يوه خونه کي بيده دئ، بلو راغی و سر ته يې د اوسپني تېرې تېرې مختبيلې او تېره مېخونه ټکوهل، يو وار يې نابېره رېغ پر وکی چي قطب خانه پور ته سه نازو مړه سوله، قطب خان چي صادق مين و، اه يې کړه په تلوار راوغورځېدی، په سر يې هغه مېخونه جګ سوه، پوري وري تر وو تل، قطب خان پر هغه ځای مړ سو[1]. نازو خبره سوه دغسي يې را الا کړه چي راغله مين يې لکه سور ګل ګلاب په وينو کي لژند پروت دئ، نازو بغاري کړې راغله پر آدم خان يې ناره وکړه :

آدم خان لالا په ولي کي مي ول دئ

پر نور عالم کراره کراري ده پر ما د بلوګي مريي غوبل دئ

آدم خان چي دا ناره د خپلي خور واورېدله را الا يې کړه چي راغی قطب خان په وينو کي مړ پروت دئ، خو ډېر خوابدی سو، پر قطب خان يې اوښکي توی سوې، د نازو خيال دئ چي قطب خان خو پر آدم خان د زړه تر سر پر ګران و، اوس به نو بلو پر مړ کي، مګر څرنګه چي بلو د آدم خان خورا ډېر خدمتونه کړي وه، لکه ورور داسي پر ګران و، او بل هوښيار سړی و، چي ياندي يو يار خو مي مړ سو نو بلو چي زما توريالی مېړه دئ او زما ښی بازو دئ، نو دا ولي زه مړ کم، باره يې بلو ته هيڅ ونه ويل، د نازو چي د خپل ورور آدم خان څخه د خپل خواږه مين د غچ کښو اميد وخوت، او وې ويل چي د دې پسه بو نو زه دې مريي ته ناسته يم، باره راغله د قطب خان ويني يې په خپل تندي پوري ومښلې چي زه هم ستا د سر خيرات يم، پر قطب خان

---

[1] څوک وايي چي قطب خان او نازو چي باغ ته سره تللي وه، نو بلو خو د باغ د دروازې پيره دار و، د باغ په دروازه کي يې ځاه پرې کی لاندي يې چړې او توري او سپني پکښې سيخي کړې، ماز ديګر چي قطب خان د مخه نازو په پسې ده چي تر باغ را ووت قطب خان په ځاه کي ولوېده، ټکر ټکر سو، نازو هم قصداً ځان ځاه ته پسې و غورځاوه د مين سره يو ځای مړه سوه.

وغوړېدله، خدای ته یې خواست وکی چې زه نور ژوند نه غواړم ځو آدم خان راپورته کوله ساه یې والوتله او مړه سوله. لنډه دا چې دواړه مینان یې یو ځای یوووړه ښخ یې کړه، ټوله متېه خېل په ژړا او د قطب خان او د نازو په ویر زنګېدله، بلو خالي لاس پاته سو، پر دې ځای نکل تمام سو.

دلی او شهو

چي و يو باچا و[1]، د دې باچا اوه زامن وه او لور يې نه درلوده، نو ده وويل چي که هر وخت ما ته خدای لور راکړه نو په دنيا کي به يې هيڅ نر ګاړی راڅخه ونه ويني او نه بې چا ته ورکم، که هر وخت چا وليدله او دې هم هغه سړی خوښ کی نو زما لور د هغه سړي ده، په حلاله نکاح يې ور کوم.
کارونه د خدای دي په دغه کال يې ماندينه اميدواره سوله، نه مياشتي نه ساعته نه ګړيه تېر سوه، خدای ﷻ لور ورکړه، نوم يې "شهو" پر کښېښود، د باچا دوې ماينې وې شپږ زامن يې د يوې ماينې وه، چي شهو هم د دوی خور وه، او يو زوی چي امير نومېدی د بلي ماينې څخه يې و، چي شهو لور يې پيدا سوله دستي يې د هغې پر مور او دايي ګانو حکم وکړ چي که شهو چا درڅخه ليدلې وه ستر ګي به مو در وکاږم. يو دم يې حکم وکی چي داسي کلا جوړه کئ، چي هيڅوک نه سي ور اوښتلای، هغه و چي په څو ورځو کي يې داسي لو کلا ور جوړه کړه چي خورا لوړ دېوالونه يې وه او خورا پراخه وه، ښه ګلان او ونې يې پکښې شنې کړې، په دغه کلا کي يې څلوېښت دايي ګاني او نجوني ورسره واچولې، په دغه باغ کي يوه پخوانۍ زړه پده ولاړه وه، د دې پدې منځ يې وکيښ شهو ته يې د دغې پدې په منځ کي تخت او ځای ور جوړ کی، هورې يې خرڅ و خراجات ور واچاوه، هلته يې دايي ګاني تربيه کوي، د کلا دروازه يې پسي قلف کړه، کيلي يې پخپله باچا په جيب کي واچوله.
څه سر دي ګرځوم په نکل کي عمر او معطلي نسته، هله هله شهو

---

[1] دا د نقلچيانو قاعده ده، چي هر نکل کوي وايي چي يو باچا و، او په دمخه زمانو کي هم د هري قبيلې خان د هغې قبيلې باچا بلل کېدی.

لو پېغله سوله، هيڅانه ده ليدلې او نه يې ليدلای سي، د ورځي په ګلانو کي د خپلو همزولو سره[۲] ګرځي، ماښام پدې ته راوخېژي پر خپل تخت بيدېږي، په دغه زمانه کي په دغه وخت کي[۳] يو خورا نامتو زوره ور غل دئ.

چي "دلی" نومېږي. دغه دلي فکر وکی چي دا دونه عمر دي غلا وکړه، ته نه خدای د کور کړې او نه د ځای، په راسه د باچا د لور و کلا ته به په يوه چم ور ولوېږم يا مړ يا موړ او باچا ويلي دي چي که هر څا زما لور وليدله د هغه ده، ګونډي دا دو مي وچلېږي، "او د شهو د ښايست آوازه هم په وطن کي خپره ده"، آبس دلي توکل وکی ماښام يې و کلا ته دام ور وغورځاوه، لنده دا چي په ډېر زحمت و کلا ته ور وخوت، ور واوښتی دغسي يې پټ معلومات وکړ، آخر ته يې هغه د دې تخت او ځای معلوم کی، پس له هغه ورغی و دغې وني ته پټ وختی په يوه ښاخ کي غلی پټ کښېنوست. يو ګړی چي وسو، شهو سره له نورو همزولو راغله تخت ته راوختله، يو ګړی وروسته ډوډۍ راغله ډوډۍ چي وخوړله سوه ټولي پېغلاني سره ناستي دي، مجلس کوي، سره خاندي خپلي ټوکي ټاکي کوي، د خوب وخت راغی. همزولي خپلو ځايو ته ولاړلې، "وايي دلي خط هم ليکلای سو"، باره دلي يو خط په دې مضمون وليکئ چي:

زه پر تا مين يم او ستا فدايي يم. ستا په غم کي ډوب د صحرا الېونی د ژونده بېزاره ستا عاشق "دلی" يم. دا دئ ما خوارۍ وکښلې ځان مي مرګ ته ورکی لومړی ستا ديدن ما وکی ستا زړه څنګه دئ څنګه يې کوې په ما خوښه يې که يه؟

دا کاغذ يې دپاسه د دې و مخ ته پر را شوه کی. شهو چي کاغذ واخيست خلاص يې کی وې لوست د روه يې رنګ والوت اريانه سوله چي دا

---

[۲] پخوا دا دود و، چي د کوم خان يا باچا لور يا زوی به وزېږېدی نو په هغه ورځ چي به د کمو نورو غټانو لور يا زوی زوکړی و، نو هغه به دغه باچا ټوله يو ځای و دايي ګانو ته وسپارله، نو دا به همزولي سره بلل کېده.

[۳] وايي شهو او دلی د کندهار وه.

کاغذ د کمي خوا راولوېدی، چي داسي يې لوړ وکتله، دلی يې وليدی، ځکه چي تر اوسه يې بې خپل پلاره نارينه نه وليدلی او دلی ښه زلمی هم و، دا هم پر مينه سوله، زړه يې پر بايلو، اوه يې کړه چي د دې پای يې څه؟ که مي پلار خبر سو، خو دستي يې وژني نه يې پرېږدي، "دلی هم خورا ښه مېړه ځوان و، خورا ښايسته و"، د شهو ښه والوته مخ يې تک ژړ سو، د شهو د واکه ووتله پر همزولو يې ناره وکړه، "څه چي يې ويلي دي، هر څه چي يې ويلي وه وايې روئ" :

شهو ناسته وه د خپل بابا پر غولي
دپاسه کاغذ راغی و شهو ته وا راځه دلی دي بولي

همزولې بير ته په ځغاسته راغلې، همزولې اريانې واخيستلې، دلي فکر وکی چي ولچي دا هم درباندي مينه سوله، نو ده هم ناره پر وکړه :

شهو ګلي پر سپين مخ دي دلی مين سو
دلي ځان پر خدای سپارلی – شهو ستا په زلفو خوار دلی لا بند سو

لنډه دا چي دلي فکر وکی، چي اوس دا دئ ښځي ورسره ناستي دي، زيات څه نه سم کولای او نه دستي دا بېولای سم، اوس بې پلار خبر سي دالته به مي ګری مُری ونيسي، خو د ښځو چي دلي ته فکر سو، په يُو يُو ګډي سولې، په دغه حال کي دلی راکښته سو، بيرته يې کلا ته سمساره وغورځوله وخوت، شهو فکر وکی چي ولچي ولاړ او د دې خبري پای يې نه کی درمعلوم، چي پای بې څه وي، نو يې پر دلي ناره وکړه، چي زه هم پر تا مينه سولم :

شهو ناسته وه د ګل سره خوشحاله
دا د ګل مجلس دي اور سو د دلي په غم به ناسته وي ملاله

چي يعني زما زړه دي يووی، اوس به نو پاته عمر ستا په غم کي تېروم، څنګه به سي؟

دلي د کلا څخه ناره پر وکړه :

که ژوندی وم شهو ګلي پر دنيا باندي
زه به لاس له تا وانه خلم – که مي سر له تنه څوک راڅخه پرې کاندي

آبس د کلا څخه راشوه سو، پر لار ځي چرت وهي چي اوس به نو شهو

څنګه لاس ته راولم؟ که اوس باچا ته ورځي چې ما ستالور وليدله، هم دي وژني، ولي چې ته د عمرو غل يې کله يې درکوي. په راسه يو ځای يوه لويه غلا وکه، چې ډېره دنيا په لاس درسي، بيا به‌نو مرکه ورته وکې، په حلاله نکاح به يې وغواړې، شهو خو بل مېړه نه کوي.

دلی را رهي سو مخ د هندوستان پر خوا، هله هله هله برابر راغی د اکبر باچا دورې دي، دستي د اکبر باچا خزانې ته مابنام ور ولوېدی، ډېر جواهرات او دنيا و سرې و سپيني يې غلا کړې، مګر بخت يې چپه و، چې راووت پيره دارانو ونيو، سهار يې اکبر باچا ته ور ووست، اکبر باچا حکم پر وکی، چې په سخته بندي خانه کي يې درې کاله بندي کئ. پس له هغه يې په سخت مرګ مړ کئ. دلی يې سخت بندي کی، دی نو پرېږده چې په بنديخانه کي د غم عمر تېروي، شهو پسي راواخله، شهو څو عمر په غم و د دلي په بېلتون کي تېر کړ، وروسته يې فکر وکی چې څو تر څو به په دې غم او بنديخانه کي ناسته يم په راسه پلار ته ووايه چې اوس نو بس ده ما د دې زندانه وباسه، زه په دې باغ کي دغ سوڅمه، اوس مي نو در وباسه، پلار يې پر دې خبره غوږ ونه نيو، نوري سهيلانې او مجلسيانې يې ور زياتي کړلې، ويل يه تا په هيڅ ډول زه د دغه باغ څخه نه باسم. شهو بير ته صبر وکی، کښېنستله په دې مابين کي دوه کاله تېر سوله، يوه ورځ شهو فکر وکی چې ته راسه دې وني ته (چي د دې تخت پکښې و) وخېژه شاوخوا به وګورې، ګوندي څوک يا څه وويني، چې وختله د کلا دباندي يوه قافله تېرېږي، ورته کتل يې قافله تېره سوله، دلی نه و، نو يې د زړه د درد څخه ناره وکړه:

په همزولو کي وم ناسته مات مي پېزوان سو
د نورو ياران راغله - د شهو يار مي پر کم لوري روان سو

بير ته راکښته سوله، په دغه همزولو کي يې يوه هوښياره پېغله وه، دې پيغلي فکر وکی چې شهو ورځ په ورځ نولېږي، په راسه يو څه د زړه داږ ورکه نو يې ناره پر وکړه:

که غوړېږي د سهار ګلان غوړېږي
که اوس يار درسره نسته - هغه‌هم پر تا مين تا ته رسېږي

شهو يې په جواب کي په ژړا دکوسترګو، داسي ناره کوي:

که غوړېږي د سهار ګلان غوړېږي

د خزان باد په پسې دئ - ګل مي کله پخپل عمر هوسېږي

دې پېغلي فکر وکی چي پر شهو غم زور وکی، وايي مړه به سم يار به ونه وينم، چي د غمه يې زهره ونه چوي نو يې بله د زړه د داړ ناره پر وکړه:

چي مين په زړه صادق وي يار له به ورسي

که دي نن لاس ته نه رسي - خدای مهربان دئ بيا سبا لاس به دي بر سي

خو بيرته د شهو د زړه تسلی د دې سهيلي په نارو څه قدر وسوله، بيرته يې صبر وکی، دا نو پر پرېږده دلی پسي راواخله، د دلي نو اوس درې کاله پوره دي څو مياشتي يې لا پاته دي، د دلي سره په بنديخانه کي يو کندهاری ملنګ دئ قيد يې پوره سوی دئ سبا ته ايله کېږي، ځي کندهار ته.

دلي ورته ويل چي ملنګه ته خو ځې کندهار ته، زما يو خدمت به نه وکې؟

ملنګ ويل پر دواړو سترګو به يې وکم. دلي ويل زه به يو کاغذ درکم په پلاني ځای کي يوه لو کلا ده په هغه کلا کي د باچا لور ده، په هر چم چي وي دا کاغذ به و هغې ته رسوې، ملنګ ويل ښه دئ که خدای کول. دلي په کاغذه کي وليکل چي:

"زه په هندوستان کي د اکبر باچا په سخته بنديخانه کي بندي يم، اوس مي درې کاله پوره دي يوه نيمه مياشت لا پاته ده، چي دا يوه نيمه مياشت پوره سي نو مي په سخت مرګ سره وژني، ما خو خواری کښلې چي تا په حلاله نکاح لاس ته راولم، مګر ونه سو، اوس نو حق پل لره ...".

دا کاغذ ملنګ راواخيست سهار يې ملنګ د بنديخانې څخه ويوست، ايله يې کی، ملنګ مخ د کندهار پر خوا ر ونيو، هله هله مزل پر مزل څو دا دئ کندهار ته راورسېد، باره يې وويل اول به د دلي خدمت پر ځای کوم، څه سر دي ګرځوم راغی هغه کلا يې پيدا کړه پر کلا شاوخوا وګرځېدی ورته لار نسته، راغی د کلا په وره کي يې "هل" کړه او فقر يې وغوښت، يوه مينځه راووتله فقير خط ورکړ چي دا به شهو ګلي ته ورکوې، شهو چي خبره سوه نو ملنګ ته يې ډېري روپۍ راولېږلې، ملنګ يې رخصت کی ملنګ پر

خپله ترېه ولاړ.

(په دې درې کاله کې د شهو شپږ وروڼه او پلار مړه سوي دي، يو مېرې زی امير ورور يې ژوندی دئ)، دې چې کاغذ خلاص کی، وې لوست پر سر يې اور د خوابدی بل سو، دستي يې ورور ته حال وکی چې بس دئ ما نو اوس د دې زندانه درو باسه، امير ويل چې زه د پلار وصيت پر ځای کوم، ناسته به يې، دې ورته وويل چې نه مې درباسې نو زه دلته ځان وژنم.

امير ناچاره سو، شهو يې د کلا څخه راوايستله، ورور ته يې وويله چې زما سره د خدای وجه وکه، ما پرېږده زه ځم هندوستان ته، دا کيسه يې ورته وکړه.

ورور نه پرېښووله، ويل يه خلک پېغور راکوي، وايي خور يې ولاړه شهو ناره پر وکړه :

که وروره اې زما مينه وروره

که چا داسي پېغور درکی ورته وايه شهو نه وه زما د موره

ورور يې هم فکر وکی چې ځي خو ځي نه راکرځي، سبا چي په غلا تښتي لا نام بدي ده، يه رخصت يې که چي ځي د ښځي سره هيڅ نه کېږي، باره يې رخصت کړه څه روپۍ يې هم ورکړې شهو مخ د هندوستان پر خوا را رهي سوله، دوې پښې يې داغه دوې نوري هله هله شو دا دئ مخ ته يې يو رود پيدا سو، "د شهو خورا ښه رنګ و" لکه د اومو شيدو پېروی داسي رنګ يې و، پر مخ يې نقاب غوړولي و، چي بې دلي څخه به زما مخ څوک ونه ويني، شهو د دې رود کښتۍ وان ته د کښتۍ کرايه ورکړه چي په کښتۍ کي سپرېدله، کښتۍ وان يې مخ وليد، پلو يې باد د مخه څخه ايسته کی، کښتۍ وان زړه پر بايلو، دوباره يې کښتۍ بې لاري رهي کړه، چي پر بله يې بوزم، شهو فکر وکی چي کښتۍ وان په چپ نظر درته وکتل او کښتۍ يې هم د لاري څخه چپه کړه نو يې ناره پر وکړه :

کښتۍ وانه کښتۍ سمه پر ګودر باسه

دا د لاس باهو مي ستا دئ – کښتۍ وانه چپ نظر د منځه باسه

کښتۍ وان فکر وکی چي د سرو زرو باهوګان درکوي، او دا پردی ښځه ده خدای خبر روزي دي سي، که يه، سبا به رسوا سوی يې، عمري به

بندي يې، په دغه باهو ګان مي ګټه ده. باره يې بير ته كښتۍ د ګودر پر خوا سمه كړه، باهوګان يې ځني واخيستله، دا يې راپوري ايستله د رود پر هغه غاړه يې ايله كړه، شهو را رهي سوه، سور سالو يې پر سر دئ نقاب يې پر مخ دئ د اكبر باچا دربار ته را رهي سوه، چي دربار ته نژدې راغله د اكبر باچا سپاهيانو نه پرېښووله، شهو د دربار خوا ته زور واهه هغو منع كوله، خو په پاى كي يې سور سالو له سره ولوېدى، او د دربار په دروازه كي يې ناره وكړه:

كه زوره د اكبر باچا د زوره

سالو مي ستا سپاهيانو يووى - و تمي ته دي ولاړه يم سرتوره

اكبر باچا د شهو ناره واروېدله، حكم يې وكى چي دا ښځه راولئ، شهو چي راغله باچا حكم وكى چي دغه ښځي ته يو پوړنى وركى، خيال يې سو چي نور عرض نه لري پوړنى غواړي. پوړنى يې وركى دالته يو ګوښه ځاى كښېنستله، څه سر دي ګرځوم دا هغه ورځ ده چي بنديان اكبر باچا ته پېشېږي، پر چا د مرګ حكم كوي څوك ايله كوي، آخر ته يې دلى ور ته راپېش كى، چي د دلي صورت حال و كيفيت ووايه سو، باره يې حكم وكى چي سزا يې سخته ده وايې خلئ په سېلۍ يې مړ كئ، باره شهو د ځانه سره وويل چي زه خو مينه يم او لوى خداى د مينانو د صدق او بې ريا دعا قبلوي، بله چاره نسته د خپل خداى څخه كومك وغواړه، نو يې ناره وكړه:

كه زوره د اكبر باچا د زوره

دلى وژني په سېلۍ لويه خدايه - دا سېلۍ مي د باران خړي او به كې

دلى چي يې سېلۍ ته بوت، د خداى په حكم سېلۍ نرمي او پستې سوې، دلى په مړ نه سو، بير ته يې اكبر باچا ته راووست ور ته وې ويل چي په سېليو نه مري، اكبر باچا حكم پر وكى چي بو يې زئ په مستو پيلانو يې مړ كئ، شهو بيا ناره پر وكړه:

كه زوره د اكبر باچا د زوره

دلى وژني په پيلانو لويه خدايه

دا پيلان دي د مولا په تبه مړه سي

دلى چي يې پيلخانې ته بوت كه ګوري پيلان ګرد ده ځاى پر ځاى مړه

دي، دلی يې بير ته راووست ويل ستا قربان سم باچا صاحب چي دلی مو وروست پيلان گرده مړه وه.

لنډه دا چي باچا وويل چي دا ولي نه مري؟ خلکو ورته وويل چي دلته يوه ښځه ده چي ته حکم پر وکې هغه ناره وکي، دعا وکي که ښرا وکي، که و دغه يې سبب دئ، اکبر باچا ويل چي دواړه راحاضر کئ، دلی يې ور حاضر کی باچا ورته ويل چي رشتيا ووايا ست تاسي سره څه ياست، شهو او دلي ټول خپل حال سر تر پايه ورته ووايه. اکبر باچا و شهو ته وويل چي شاباس ستا پر وفا، څه دلی مي ستا په پوړني کي دربخښلی دئ. باره يې ډېري روپۍ هم وروبخښلې او ورته وې ويل چي باره غلا مه کوه، دلي هم ورته وويل چي ما د ناچاري څخه غلا کوله، چي روپۍ ولرم نو ولي غلا کوم، د هندوستان څخه را رهي سوه بير ته خپل وطن ته راغله کور و کهول سوه.

آدم خان او درخانۍ

ته وا ښه!
ښه!
وايي چې د اکبر باچا په وختو کې په يوسفزو کې دوه لوی خانان وه، يو حسن خان نوميده متې خېل و او بل تاوز خان نوميدی، يو په يوه علاقه کې خان و بل په بله علاقه کې خان و. د دواړو نوم پروت و، تاوز خان په دولت او مړو کې پر حسن خان زيات و، کارونه د خدای دي، نه حسن خان اولاد درلود او نه تاوز خان.
يوه ورځ حسن خان کوټې ته راوتلی دئ د کلي د خلکو سره مجلس کوي، يو فقير راغی ورته ودرېده، بږغ يې وکړ ويل خانه! خير غواړم، خان ورته وويل چې يو سړی يم، زوی نه لرم چې کور ته يې واستوم خير درته راوړي، او بل څوک کور ته نه پرېږدم چې زما حرم سرای ته ورسي.
فقير ورته وويل پر فقيرانو عقيده لرې چې دعا درته وکي او خدای تعالی زوی درکي، که يې نه لرې؟ حسن خان وويل چې ولې يې نه لرم. ډېر خيراتونه مې کړي دي، ډېر فقيران مې خوشحاله کړي دي دعاوي يې راته کړي مګر خدای زوی نه راکوي. فقير ورته وويل چې زه به دغه درې دانې خرماوي دردم کم، دغه يوه دانه پخه ده دا وخوره او دغه دوې دانې اومې دي ويې غورځوه خدای تعالی به زوی درکي. خان ويل ښه دئ.
باره فقير خرما وردم کړه خان ته يې ورکړه، خان فقير ونازاوه پخه دانه خرما يې دستي وخوړله هغه دوې دانې اومې يې وغورځولې، دالته يو دوو کسو مزدورانو پر حمله کړه يوه يوه خوړله او بله بل وخوړله، فقير ورته وويل چې زه نو رخصت يم، کال په کال به د خدای په رضا غوبې خيراتوې زه نو ولاړم د خدای په امان.

آبس فقیر ولاړ برابر راغی د تاوز خان په دروازه کي یې هل کړه، چي خیر راوړئ. د هې خوا تاوز خان د مینځي په لاس څه خیر ورکی چي دا ور وړه دي پخپله هم راووت، فقیر یې ولید، مینځي فقیر ته خیر ورکی ورته وې ویل فقیره خان ته دعا وکه چي خدای و خان ته اولاد ورکي، فقیر نیمه دانه خرما خان ته ورکړه، خان یو وار غورځوله بیا یې په زړه کي ور ورګرځېده چي راسه ویې خوره، ګوندي خدای څه راکي، خرما یې وخوړله. څه سر دي ګرځوم چي نه میاشتي نه ساعته نه ګړیه تېر سوه، خدای تعالی و حسن خان ته زوی ورکی نوم یې آدم خان کښېښود، او د تاوز خان لور پیدا سوه نوم یې درخانۍ پر کښېښود. آدم خان لږ څه تور و مګر په کړه وړه ډېر ښایسته، خورا هډه ور و، لنډه دا چي درې څلور کاله وروسته چي غټ سو پر سبق یې کښېناوه په لس دوولس کاله کي یې خورا ډېر علم حاصل کی، خورا پرهېزګار و په ځان ډېر قوي و د ښکار شوق یې درلود، پلار هم د خانۍ او د دنیا او کور اختیار ټوله ده ته ورکی.

وروسته آدم خان له تتر خان څخه چي تربور یې و دوه مریان رانیوله چي یو میرو نومېدی په یوه سترګه ړوند و، خورا ډېر هوښیار و، په هر څه پوهېدی او بل مریی بلو نومېدی چي ډېر زوره ور توریالی پهلوان و، مګر لږ څه بېعقل و، مدام به یې د اوبو دمخه ګاولي کښلې، په هیڅ کي یې ری نه واهه، ږیره و برېتونه به یې خریله، آدم خان نصیحت ورته کاوه، چي بد مه کوه بد نه دي ښه، بلو به ورته ویل چي زه ښه پوهېږم چي بد نه دي ښه، د خدای په لار ښه پوهېږم مګر ته د پلار یو زوی یې تربرونه دي ډېر دي په قصد دغه کارونه کوم چي د دښمن سترګه درڅخه وسوځي، نو آدم خان هم لکه ورور داسي ساتل خورا پر ګران وه[1].

آدم خان سل کسه یاران او مجلسیان ځوانان درلوده په دغو یارانو کي یې مشهوره خوشکیار او قطب خان وه، چي بېل بېل نکلونه لري او دمخه ذکر سوه، آدم خان څو ښه عراقي آسان درلوده، د آدم خان آس "مجلون"

---

[1] وایي چي بلو او میرو هم د هغه فقیر د دوو اومو خرماوو د برکته څخه پیدا سوي وه، چي حسن خان و غورځولې.

نومېده چي خالصي شيدې يې خورک وې، خورا چابک او په رمازه يوه و، د بلو آس "آذر" نومېده او د ميرو خان آس "پرده" نومېدی، آدم خان خورا شوقي سړی و، ښه رباب يې واهه، د رباب په وهلو کي يې جوړه نه درلوده، تل مدام به د شاله مار په باغ کي چي د آدم خان مخصوص باغ و، دغه ټوله ياران وه خپل مجلس او ساتېری به يې کاوه، او هره جمعه به په ښکار وتل.

آدم خان نو دلې پرېږده درخانۍ پسي راواخله، (غوږ دي دئ، کور دي په الله سره ودان چي دئ دا دئ دا)، څه سر دي ګرځوم درخانۍ چي پيدا سوه د روه يې دايي ورته ونيوله چي "نرمۍ" نومېدله، نرمۍ خورا ښه ساتله په دغه کوچنيوالي داسي ښايسته وه چي توبه ! بې رنجو يې سترګي توري وې، مور و پلار يې پخپله و رنګ او سکې ته اريان تللي وه، د خلکو څخه يې پټه لوېوله، چي څوک يې ونه ويني نظر نه سي، يوه شپه يې مور و پلار سره ناست وه سره ويل يې چي دا به چا ته ورکوو، چي لو سي، مور يې وويل چي په متهه خېلو کي حسن خان نومېږي، خلک وايي چي ډېر مېړه سړی دئ، هغه ته هم په ډېرو دعاوو او تعويذو خدای زوی ورکړی دئ راسه چي اوس يې لا هغه ته ورکو، چي بيا به سبا که لو سوله جنګونه او دعوې به باندي وي، تاوز خان هم ويل ښه خبره دي وکړه باره يو خط يې پټ حسن خان ته وليکی چي ما ته هم يوه لور خدای په ډېرو دعاوو راکړې ده، تا ته هم خدای يو زوی په دعاوو درکړی دئ که دي خوښه وي زما لور چي "درخانۍ" نومېږي ستا زوی ته به يې درکم. خط چي حسن خان ته راغی حسن خان هم قبوله کړه، ورته ويې ليکل اوس رغ مه کوه چي لو سوله نو به يې درڅخه واده کم.

څه سر دي ګرځوم، درخانۍ چي غټه بوټکه نجلۍ سوله، داسي هوښياره ده چي توبه ! باره يې پلار ته وويل چي بابا ! هغه ويل ها ! دې ورته ويل چي زما رنګه نجوني ټوله په مسجد کي سبق وايي، زه دلې کور ناسته يم، زه هم سبق وايم، ما پر سبق کښېنوه، سبا به نجوني پېغور راکوي چي د درخانۍ هيڅ نه دي زده، تاوز خان فکر يووی چي درخانۍ ډېره ښايسته ده که يې پر سبق کښېنوم، يو فساد باندي جوړ نه سي، دا نو دالته پرېږده چي سبق وايي آدم خان پسي راواخله.

يوه ورځ آدم خان په يوه كتاب كې بند پاتـه سو، هر څه پر ملايانو وگرځېدی چا دغه مسئله نه سوای ور ښوولای، وروسته چا ورته وويل چې د تاوز خان ملا خورالوی عالم دئ، په علم كې ساری نه لري، تا ته دغه مسئله ښيله هغه ملا څخه بل يو نه سي درښوولای، آدم خان هم دستي يوازي پر مجلون سپور سو كتاب يې راواخيست، هله هله برابر راغی د تاوز خان په مسجد كې كښته سو، مجلون يې د توت په تنه پوري وتاړه. يو گړی وروسته ملا راغی، آدم خان يې وليد، آدم خان يې نه پېژندی او نه ده ځان ور ښو، د ملا دا خيال سو چې كم يو شازاده دئ، آدم خان هم ور ولاړ سو د ملا يې ښه تعظيم وكی روغبړ او ستړي مسې يې سره وكړه، ملا پوښتنه ځني وكړه چې ځوانه څنگه راغلی يې؟ آدم خان ورته وويل چې د كتاب په يوه مسئله كې بند يم، كه دې دغه راوښووله، ملا ويل ښه دئ چې لمونځ وكم نو به كتاب سره وگورو، يو گړی وروسته درخانۍ چې اوس ښځي پېغلتوب ته رسېدلې ده كتاب يې په څنگ كې دئ راغله، كتابونه يې ټوله اوس نو تمام كړي دي، په ټولو كتابو او علمو پوه سوې ده كښېنستله، چې داسي يې وكتله يو ځوان يې وليد چې په فكر كې ډوب ولاړ دئ، ملا اوداسه ته ولاړ، د آدم خان چې پر درخانۍ ستر گي ولگېدلې، دی هم د دې په مينه كې ډوب ولاړ، دواړو يو د بله زړونه سره بايلول، سره مين سول، وروسته درخو ورته وويل چې ته څوک يې، څنگه راغلی يې؟ ده ورته وويل چې زه آدم خان يم، د حسن خان مټه خېل زوی يم، سبق ته راغلی يم، په يوه مسئله كې د كتاب بند يم، ته څوک يې ځان راوښيه؟ دې ورته وويل چې زما نوم درخو دئ، د تاوز خان لور يم سبق وايم، درخانۍ خو داسي پر مينه سوله، چې د توانه يې ووتله فكر يې وكی چې راسه آدم خان په خپل مينتوب پوه كه، چې وپوهېږي چې درخانۍ پر ما مينه ده، نو يې د كتابي په توگه پر آدم خان ناره وكړه:

يو زرغون لښتی بهېږي – دغه سر يې د آدم پر باغ لگېږي
په كرلي يې لونگ دي – لويه خدايه لا چې هم په زرغونېږي

چې يعني زه پر تا مينه يم زه لكه زرغوني او به داسي يم، ستا د ميني باغ در اوبوم او تازه كوم دي، وروسته آدم خان ښكاره ناره پر وكړه:

خان یم آدم خان یم – زه پخپله مینه کړم غره په ځان یم
که مي مرګ نه سو له میانه – درخانیه زه به زوم د تاوز خان یم

دواړه پرېشانه په زړه زهیر، بنې یې الوتي دي، چي ملا راغی درخانۍ ورغله په سبق بوخته سوله، پټ پټ ژاړي آدم خان راغی ملا ته یې کتاب کښېښود، ملا هغه ځای ورته ووایه، وروسته د ملا څخه رخصت سو، هیڅ سوال و جواب یې سره ونه کی، پر مجلون سپور سو کور ته راغی، درخانۍ هلته کور د بېلتون غم ګالي تکه ژړه تار و نار سوله، اوس یې علم تمام کړی دئ د آدم خان د میني غشي یې وخوړ، زیات یې نور سبق پرېښود کور ستر منه سوله، مور و پلار ته یې وویل چي زما څخه د دنیا عیش پاته دئ، زه نو اوس و خپل خدای ته عبادت کوم، پس له هغه درخانۍ په ستر سوله د هیچا سره ناسته ولاړه نه کوي، لنډه دا چي د درخانۍ د علم او پرهېزګارۍ او ښایست آوازه په ټولو یوسفزو کي ولاړه چي درخانۍ داسي ښایسته ده چي ساری نه لري، او وایي چي خورلس علمه یې تمام کړي دي او ویل یې د اوو پیرانو مرتبه لري، بې رنجو یې سترګي توري دي د عقل او هوښیارۍ مخی یې نسته، بیله خپلو خدمتګاراتو څخه د هیچا سره خبري اتري نه کوي او هیڅوک یې مخ نه سي لیدلای، اوس نو هر یو د درخانۍ د دیدن شوقي دئ هڅه پسې کوي، درخانۍ نو پرېږده چي پخپل ستر او د آدم خان په غم کي شپې تېروي آدم خان پسي راواخله.

آدم خان چي کور ته راغی پر مخ یې لکه د لحد خاوري چي پرتي رنګ یې تک ژړ، شونډان یې وچکلک دي چي د آسه کښېته سو، بلو خان یې آس ونیو چي داسي یې و آدم خان ته وکتل آه یې کړه ویل خیر دئ څه درسوي دي؟ آدم خان ورته وویل چي یاره چپ له میرو څخه به هیچا ته نه وایې، درخانۍ د تاوز خان لور مي زړه وړی دئ پر مین یم، هیڅ توان مي نه کېږي، بلوخان ورته ویل چي هیڅ چرت مه خرابوه په وچه توره به یې درته راولم، میرو خان ورته وویل چي خدای د کراري مل دئ مر که به ورته وکو په ډېر درب و دروب به یې راواده کو، خیر خو حسن خان یې خبر نه کی شرمېږي خبره یې پټه کړه حال یې پلن واچاوه.

یوه ورځ په یوسفزو کي یو واده و، آدم خان یې سره د پلاره او سره له

يارانو ور وغوښتل چي واده لره ورغله، نر جلا اتڼونه کوي، ښځي جلا اتڼونه کوي او کله ښځي او نر يو ځای اتڼ کوي د ښځو په اتڼ کي يوه چټه مسته پېغله ده داسي پرله اوړي لکه کوتره، او داسي ښايسته ده چي ستر ګي نه پر رونېږي، دا پېغله (توتيا) نومېږي، د بازيد خان خور ده، د ښې لويي کورنۍ ځخه ده، حسن خان آدم خان ته وويل :

زويه دا عجبه مسته پېغله ده دا به در وغواړو ده ورته ويل پلاره زه ښځه نه کوم. پلار ورته وويل ته نه پوهېږې زه دا پېغله در غواړم، آدم خان د پلار له څنګه ولاړ سو او هيڅ يې ورته ونه ويل. څه سر دي ګرځوم حسن خان مر که ور ولېږله توتيا يې و آدم خان ته وغوښتله، قول يې سره وکی چي يوه مياشت باد به يې واده کي، دوی هم ويل ښه دئ. آبس يوه مياشت چي تېره سوله د توتيا پلر ګنۍ خبره سوله چي آدم خان پر درخانۍ پټ مين دئ او درخانۍ پلار په اوني کي ور کړې ده، درخانۍ د لوی خان لور ده سبا به توتيا ورسره په عذاب وي، نه موږ توتيانه درکوو، نه مو در کړې ده، د آدم خان پلار په چرت کي ولاړ، آدم خان که څه هم دمخه په دې کار راضي نه و، مګر په غاړه کي يې لوېدلی او توتيا د ده په نامه سوې وه نو دا يوه بدنامي وه چي اوس يې پر ېښولای، پر بلو خان او ميرو خان يې بږغ وکی چي آسان ځين کئ، آسان تيار سول.

د ماخستن لمونځونه يې وکړه درې په درې را رهي سوه، هله هله دا دي راغله کلي ته، يوه زړه بوډۍ ده دا يې پيدا کړه يو مټ روپۍ يې ور کړې ويل د توتيا کور او ځای راوښيه، بوډۍ د توتيا کور و لار وليکه ور وښووله، بلو و ميرو کور ته ور ولوېده توتيا يې بيده د تلتکه سره پټه راواخيسته، د آدم خان تر شا يې سپره کړه (يا شايي ولات)، برابر يې کور ته راوستله، هيڅوک نه سوه خبر، چي سهار سو ځای سته جولا نسته، توتيا ورکه سوه هيڅ پته يې نه معلومېږي، ځو ورځي باد بوډۍ د توتيا ورور بازيد خان او پلر ګنۍ ته وويل چي توتيا خو آدم خان بېولې ده، د توتيا پلر ګنۍ په خپل کور کي لس تنه وه څه يې نور تربرونه ورسره ودرېدل ځو سوه لښکر يې تيار کی بازيد خان يې دمخه سو، د آدم خان پر کلا يې مخ وکی، آدم خان ته حال راغی چي د بازيد خان لښکر درغی، خبر دار ! آدم خان دستي پر

میرو او بلو برغ وکی، ناره یې پر وکړه[۲]:

بلو پاڅه سر او چت کړه – چې تنگسه وي زموږ مل او سه مدت کړه
د توتیا پو ځونه راغله – پر یارانو باندي برغ کوه همت کړه

بلوخان راوغورځېدی پر یارانو یې برغ وکی چې ملاوي تړئ تربور راغی، تهولو یارانو دستي ملاوي وتړلې آسونه یې ځین کړه پر سپاره سوه، دا دي راغله په لښکر ور گډ سوله جنگ شروع سو، ها ها ها وې وهله وې وهله بلو په وار څو څو تنه په توره وهي، بازید خان ته ور ورسېدی، چې اوس به یې بازید خان واهه بازید خان ناره وکړه:

ځوانان دي مړني دي – درته وایم یو تر بله گړندي دي
دغه خپل بلو در نیسه – دغه ستا د بلو سترگي د خوني دي

آدم خان پر بلو برغ وکئ چې بس! بلو هم مخ ځني راوگرځاوه پر آذر سپور دئ سترگي یې لکه زمری داسي اړوي، لښکر یې مات کړ، د بازید خان د خوا څو سوه کسه مړه سوله، او د آدم خان هم څو تنه ژوبل او مړه سوله، باره یې جنگ بس کی آدم خان دوی کور ته راغله.

یو څو ورځي چې تېري سولې آدم خان و بلو خان او نورو یارانو ته وویل چې راسئ بازید خان دوی پخلا کو، ښځه مو هم په زوره راوستله او مړي مو هم ډېر ځني وکړه، د پلار سره یې سلا وکړه، پلار یې ویل تر دې ښه خبره نسته، باره د جمعې په شپه یې یو آس یو مریی او څه روپۍ راواخیستلې د بازید خان کره راغله دا شیان یې بازید خان ته ورکړه، د بازید خان څخه یې بخښنه وغوښته پخلا یې کی، وروسته سره خپلوان سوه کراره کراري سوه، آدم خان هغسي د خپلي پښتنگلوۍ په سبب د درخانۍ مینتوب پټ ساتی، د یارانو سره په ښکار او په یوه او په بله ځان بوختوي، ځکه د درخانۍ پلار خورا زوره ور دئ، په مړو هم پر ډېر دئ په دولت هم پر ډېر دئ، آدم خان ورځ په ورځ تک ژړ کېږي، زړه یې نولېږي، لکه د پخوا په ډول نه یې په رباب سات تېرېږي، نه یې کور فکر ښه کېږي، یوه ورځ یې

---

[۲] څوک وایي چې بریم خان دا ناره هلته پر کړېده، چې پیر صالح مرکه و آدم خان ته را استولې وه، درخانۍ ښکاره کئ راسئ.

پلار پټ د بلو څخه پوښتنه وکړه چي آدم خان ولي داسي څوکلېږي؟ ده ورته وويل چي آدم خان پر درخانۍ مين دئ، شرمېږي نه سي درته ويلای نو ته به په پټه پرده کي و تاوز خان ته مرکه ور ولېږې په هر ډول چي وي درخانۍ به ورغواړې.

حسن خان ويل دا خو اسانه خبره ده، تاوز خان خو پخوا لا په اوښي کي درخو راکړې ده، دستي يې څو کسه مرکه ور ولېږله، چي درخانۍ و آدم خان ته ور واده کي، مرکه چي راغله تاوز خان فکر وکی چي آدم خان خو بله ماينه کړې ده، که درخانۍ ورکم سبا به زمالور د توتيا مينځه کي، په عذاب به وي، باره يو وار تاوز خان پر نه داد ورته کښېنوست چي زه کورټ نه درخانۍ درکوم او نه مي درکړې ده او نه زه حسن خان پېژنم نه آدم خان، مرکه يې بير ته رخصت کړه جواب يې ورکی، مرکه راغله و آدم خان او حسن خان ته يې حال راووړ، چي نې درکوي حسن خان خوابدی سو، آدم خان ويل بابا ته خوا مه بدوه، مګر دا زما د مينتوب خبر په کور و کلي کي مه خپروئ، خدای بې آسانه کي هيڅ پروانه لري.

هلته تاوز خان فکر وکی چي نبايده چي آدم خان لکه د توتيا يو فساد جوړ نه کي، د درخو د مور سره يې سلا وکړه چي درخو مو يو ځای ورکړې وای، ښه به و، مور يې هم ويل ښه دئ، تر دغه ګړيه د درخانۍ او د آدم خان په مينتوب ناخبره دي، په دې ترڅ کي پايو خان چي يو قومي سړی و دنيا يې هم ډېره درلوده، و تاوز خان ته يې مرکه راواستوله چي درخانۍ راکه، باره تاوز خان په دوو زړو کي سو، چي و پايو خان ته يې ورکم که و آدم خان ته، باره د درخانۍ و مور تې وويل چي ته ورسه و درخانۍ ته ووايه چي آدم خان کوې که پايو خان؟ و کم يوه ته دي ورکو؟ مور يې راغله و درخانۍ ته يې ووېل چي مرکه راغلې ده، درخانۍ ورته وويل چي د چا مرکه ده؟ مور يې ورته ويل چي د پايو خان مرکه ده. دې ورته ويل چي رنګ دې ورک سي، پايوخان نه کوم، مور يې ورته ويل چي پلار دي نه پرېږدي مېړه ته دي ورکوي ووايه څوک کوې و چا ته دي ورکو؟ درخانۍ ورته ويل چي زما په خوښي پسي ځئ نو زه آدم خان کوم، بل مېړه پر ما حرام دئ که يې وکم، وروسته مور ناره پر وکړه :

لوري درخانیه - درته وایم لور مي مه سې سکنیه
آدم پرېږده پایو وکه - درخو لوري پایو پټ په پلرګنیه

چي یعني آدم خان د پلاریو زوی دئ، په تربرو کي لږ دئ پایو ډېر تربرونه لري، درخو په جواب کي ناره کوي :

ادې موري مورکیه - درته وایم مور مي مه سې سکنیه
آدم زوی د زمري دئ - ادې موري کوتري ډېر زېږي د سپیه

چي یعني آدم خان زمری او توریالی دئ، او پایو یو سپی دئ نې کوم، بیا مور ناره پر وکړه :

لوري درخانیه - درته وایم لور مي ته یې سکنیه
له آدم څخه لاس واخله - درخو لوري نوم دي ځي په یوسف زیه

چي یعني کراره کښېنه د آدم خان څخه لاس واخله په یوسف زو کي به دي نوم بد سي، درخانۍ په جواب کي ناره پر کوي :

ادې موري مورکیه - درته وایم مور مي ته یې سکنیه
له آدم به لاس وانه خلم - ادې موري که پر سر راکې شړیه

بیا یې مور ورته وویل چي مه کوه، لوري پلار به دي ووهي مرور به سي، دې ناره پر وکړه :

زه درخو ویېږم - درته وایم چي او به وینم بهرېږم
د آدم له مستي میني - ادې موري په ناپای دریاب ګډېږم

وروسته یې مور و تاوز خان ته وویل چي پایو نه قبلوي د پایو مرکه رخصت که و آدم ته یې ورکه، تاوز خان دستي راولاړ سو د درخانۍ او د مور بې رضا یې درخانۍ و پایو ته ورکړه چي نبایده آدم خان یې په زور بونه زي، او یا دا پسي ونه تښتي، درخانۍ چي خبره سوله ستر یې ښه محکم کی، د مور دمخه یې قسم واخیست، که د پایو لاس پر ما کښېښو سي، یا زما مخ چپ له آدم خانه څخه څوک ووینې، وروسته یې اووه پوړني پر سر کړه په اوومه کوټه کي کښېناسته، و مور ته یې وویل چي پر ته له تا څخه که زما خوني ته څوک راغله، نو زه په هغه ګړي ځان وژنم، په ما غرض مه کوئ، زه د خدای عبادت کوم، لنډه دا چي درخو په کوټه ننوتله رنګ یې تللی د آدم د غشي دوک ګالي، نه څه خوري او نه څه چښي هسي ځان توانوي.

مور چي يې هر سهار ورسي چي ورته وګوري دا پر بل حال پرته وي يا په نفلو اخته وي، ژوندون يې اور وي. خبري نه کوي مور يې خورا په اوګاره ده، د مور زړه دئ خورا په خوابدې ده، چي په درخوشه وسوله، يوه ورځ يې پوښتنه ځني وکړه چي بي بي درخوشه در وسوله زويه! جوړه يې که ناجوړه، که لېوني سولې چي ورځ په ورځ دي ځان نولېږي، او عمر دي په دار دئ، ما ته د زړه حال ووايه، درخو ناره پر وکړه:

نه لېونۍ یم نه ناجوړه - و پایو ته مو زه ورکړلم په زوره
په آدم پسې به ومرم - زما په زړه کي د آدم د میني اوره

مور په جواب کي د تسلي ناره پر کوي:

پایوګی دي په زيي دئ - درخانۍ خوږ دي ټوله د زړګي دئ
د پايو لايقه نه وې - درخانيه قلمونه ازلي دي

چي يعني که څه هم د پايو لايقه نه وې چي پلار پړه درسره وکړه ور يې کړې، مګر بيا هم په زيي راشريک دئ، صبر وکه، درخانۍ په جواب کي ناره پر کوي:

چي په لاس کي مي قرآن دئ - بې آدم پر ما بل مېړه حرام دئ
له بد حاله یم دننه - ادې موري پاته سیل د بیبان دئ

چي يعني زما په دغه قرآن قسم دئ که زه بيا د دباندي سيل وکم، پر ما بې آدم خانه بل مېړه حرام دئ، په همدغه سبب دننه ناسته يم چي زما مخ بې آدم خانه هيڅوک ونه ويني.

لنډه دا چي د درخانۍ په زړه بې له آدم له ياده بل څه نه و، اوس يې قسم وخوړ چي زه دباندي نه وزم، پر خپل قسم ټينګه ده دباندي نه وزي، نه د چا سره خبري کوي چي آدم خان به ور په ياد سو، بېهوښه به سوله، چي بيا به پر هوښ راغله، توبه به يې وکښله خو دغه د آدم خان د ميني غم ګالي د غم په توره خونه کي ناسته ده، دا آوازه چي درخانۍ قسم اخيستى دئ، چي د دې مخ به څوک ونه ويني او نه به دا دباندي راووزي په ټوله يوسفزو کي ولاړه، د دې ښايست د دې عقل، د دې دينداري، د دې د علم خو هر څوک خبر وه، د درخانۍ ټوله تربرونه د درخانۍ د ديد محتاج وه، مګر ديد يې نه سواى کولاى، ځکه چي يو خو د دې ستر ټينګ و، بل د تاوز له بېري چانې نه

سوای ورته وهلای (دانو دالته پرېږده چي غم ګالي، او آدم خان هلته پرېږده چي د درخانۍ مينه په زړه کي پټه ساتي، په رباب او په ښکار غم غلطوي، پايوګی پرېږده چي پر ګوښو ګرځي).

د درخانۍ د ترور لور بسکۍ نومېده، په کوچنيوالي يې د درخانۍ سره وعده کړې وه چي هر يوه چي دمخه ودېږي، هغه بله به يې واده لره ورځي، دريمه ورځ د بسکۍ واده دئ کار مار يې جوړ دئ، بسکۍ و مور ته ويل چي ته ورسه درخانۍ راته راوله، چي زما واده تېر کي، مور يې ورته وويل چي هغه په ستر په خلوت کي ناسته ده قسم يې اخيستی دئ، دباندي نه راوزي، بسکۍ ورته وويل ورسه زما سره يې قول کړی دئ درسره راځي، ورته ووايه که دا نښاني رشتيا وي چي په پلانکي ځای کي مو د خاورو کوټنۍ جوړولې او قول مو سره وکی چي که ته ودېدلې، زه به واده ته درځم که زه ودېدلم، ته به راځې، که په دې نه سوه راضي و پلار ته يې ووايه، او که پلار هم نه درسره کوله، يا يې د پلار په خوله نه کوله نو ورته ووايه چي بسکۍ ځان وژني که رانه سې خون به يې ستا په غاړه وي، باره مور يې را رهي سوله راغله د خپل ورور تاوز خان کره تاوز خان ښه راغلې ورته وکړه، وروسته يې پوښتنه ځني وکړه چي خير و څنګه رنګ الوتې راغلې؟ د بسکۍ مور ورته ويل چي بسکۍ ودېږي درخانۍ راسره که. تاوز خان ورته وويل چي ته هم خبره يې چي هغې قسم اخيستی دئ، چي دباندي نه وزي او نه څوک ځان ته پرېږدي، داسي يې ستر ټينګ کړی دئ چي زه يې پلار يم دا ډېر عمر مي نه ده ليدلې، او زور زه نه پر کوم، نو نه سي درتلای، نو د بسکۍ مور خوابدې سوله ولاړه سوله، پر خپل ورور يې دا ناره وکړه :

که به خواست زما قبلېږي – له اسمانه څه دي کاڼي پر تا لوېږي
په ناحقه دي آزار کړم – تاوز خانه هم دي عمر ستا کمېږي

تاوز خان هم خوابدی سو، او نورو هم ملامتي پر وويل چي ناحقه دي آزار کړه، ته خو اجازه ورکه که ورسره ولاړه ښه که نه وي ستا څخه به ګيله نه کوي، تاوز خان هم دستي يوه ښځه ورسره کړه عمه يې ورغله د درخانۍ و خلوت ته ورننوتله، درخانۍ چي وليدله مخې ته يې راغله، روغبړ يې ورسره وکی، وروسته د بسکۍ مور حال ورته ووايه، د بسکۍ نښاني يې ورته

وويل چي د بسکی واده دئ، پلار دي هم اجازه راکړه ته به راځې، که نه راځې نو بسکی ځان وژني، زياته اختيار لرې. درخانی ورته وويل چي ما دا دونه عمر خلوت ګاله، اوس چي د يوه کلي ښځه بل کلي ته ځم څنګه به وي؟ که مي پرېږدې ډېر به ښه سي. ترور يې ورته وويل چي بسکی ځان وژني زندی يې و غاړي ته اچولې ده، وايي که درخانی نه راغله زما خون د دې په غاړه دئ، او تا به په داسي ستر بوزم چي د خدای بنفس دي ونه ويني، اووه پوړني دي خپل دي اووه به نور درباندي واچوو، په پټه پرده کي به دي بوزو، درخانی اريانه سوله که نه ورسره ځي خون يې په غاړه کېږي که ورسره ځي ملک ورته اور دئ، فکر يې وکی چي د مسلمان خون نه دئ ښه، ويل ښه دئ ناچاره يم درسره ولاړه به سم، څه سر دي ګرځوم (چي دئ) درخانی بخچه راوغوښتله، اووه پوړني يې پر سر کړه امېل يې په غاړه کی، ځان يې جوړ کړ، خپل کتاب يې ورسره واخيست د خپلو خدمتګارانو او دايي سره ورسره رهي سوله، هله هله دا دئ د بسکی کره راغله، د بسکی سره کښېنستله، مجلس يې سره وکی وروسته درخانی خپله مخصوصه خېمه، چي څو لايه وه د ورېښمو ښځه يې جوړه کړې وه د کوره راوغوښتله، په هغه کي په ستر کښېنستله، وبسکی ته يې ويل چي ما عمر په ستر تېر کړی دئ چانه يم ليدلې بايد دلته هم په ستر اوسم. لنډه دا چي د درخانی په تلو کور او کلی او تربرونه يې ټوله خبر سوله. د درخانی تربرونه او د دې د ديد شوکيان سره راټول سوله سلا يې وکړه چي درخانی به څه ډول ووينې. وروسته يې سلا پر دې سوله چي د مرکې او ننواتي پر ډول به ورسو، څيري ګرېوانونه به ورته ودرېږو ګوندي وي چي وې وينو، باره ټوله را رهي سوله د بسکی کره راغله څيري ګرېوانونه، د درخانی مجلسيانو او دايي ته يې وويل چي درخانی زموږ ترله ده، دا ډېر عمر کېږي چي موږ نه ده ليدلې، تاسي او دې لره نن ننواتي راغلي يو که يو وار درخانی ووينو، بير ته ځو. د درخانی خوا کسانو ورته وويل چي پښتانه ياست ننواتي راغلي ياست ننواتي مو قبلوو، مګر درخانی به مخ در ښکاره نه کي، تاسي داسي وکئ چي ښه ساز او ډمان راولئ چي ښې ښې غزلي د تاثير ډکي ورته ووايي، ګوندي په زړه کي يې اغېزه وسي او مخ درښکاره کي، مرکې دستي سازوالا راوستل ډول ډول

غزلي يې ورته وويلې، درخانۍ هيڅ باک په ونه کی، وروسته يوه شاعر آخره ناره پر وکړه :

درخانۍ ده په زړه پوره – چې د مشکو له کافورو ده مشهوره
زوره ور دي ورله راسي – چې راوې باسي مجلس وته حضوره

چې يعني موږ عاجزه يو، زموږ په بدلونه راوزي، زوره ور ورله په کار دي، مرکې فکر وکی چې زوره ور خو اولياو او پيران دي، نو بايد پير صالح بابوزی چې د ټولو يوسفزو پير دئ او څو عمر يې درخانۍ ته هم سبق ويلی دئ هغه بايد ورته راولو، دستي يې په پير صالح پسي سړی ولېږی چې ورسه دا ناره په ژړا په زوره پر پير صالح وکه :

شيخ پير صالح شيخه ! – درته وايم د تمام يوسفزو مېخه
که صحي په باطن پوريې [٣] – د چنډنو نه به وکاږې له بېخه

قاصد چې احوال پير صالح ته راوړی، پير صالح فکر جن سو، فکر يې وکی چې وربه سم يوه ښځه ده زه يې د پلار پر ځای يم تر لاس به يې ونيسم په زوره به يې راوباسم، بيا يې وويل چې د پلار او د دې به خوا بده سي، او که توجه ورته کوم د پيرۍ او کرامت په زور يې راباسم، نو درخانۍ هم زاهده ده زما دم به پر ونه چلېږي، په مريدانو کې به شرمنده سم، وروسته يې خپل وراره پير اکو راوباله ورته وې ويل چې نکل داسي دئ، څنګه يې وکم؟ پير اکو ورته وويل مشر ته يې زما فکر په دې نه رسېږي، زه کشر سړی يم. پير صالح ورته ويل چې ته هم د کور سړی يې سلا درسره کوم چې خپله پرده وساتو، خامخا به يوه سلا راکوې، پير اکو ورته وويل چې آدم خان مته خېل ستا سر پرې کړی مريد دئ، ډېر توريالی او زړه ور سړی دئ، شاعر هم دئ ښه رباب هم وهي، او ښه سړی هم دئ وايي د اوو پيرانو مرتبه لري که هغه راوبولې دواړه سره ورسئ څه به ستا برکت وي څه به د آدم خان همت وي، ښايي چې درخانۍ راوباسئ، پير صالح ويل آفرين ډېره ښه سلا دي راکړه، دستي يې دوولس کسه يوسفزي خانان راوغوښتل ويل تاسي او پير اکو ورسئ آدم خان لره دا احوال به ورته ووايئ، تر هغو به د اسانو څخه نه

---

[٣] درخو درخته د چنډنو.

کښېنته کېږئ څو آدم خان رانه ولئ.

څه سر دي ګرځوم پير اکو او خانان را رهي سوله دا دي راغله د آدم خان کره، آدم خان سره له يارانو ښکار ته تللی دئ، کور نسته. ميرباش د آدم خان زوی ورته راووت و مېلمنو ته يې وويل هر کله راسئ، کښېنته سئ راځئ په مهمانخانه کي کښېنئ، دوی ورته وويل چي آدم خان رانه سي موږ نه کښېنته کېږو، هر څه زاری چي ميرباش ورته وکړې نه کښېنته کېدله، وروسته ميرباش ورغی و مور ته يې وويل چي داسي نکل دئ، مور يې ويل خير دئ ته د مېلمانه حق ادا که زياته يې پرېږده، ميرباش خان هم بير ته راووت، ديارلس موږي يې ټکوهل، د سړي پر سر يې يو پسه حلال کړ، يو ګړی باد آدم خان راغی، کلي ته چي نژدې سو سپاره يې وليده، بلو ته يې وويل چي دا سپاره يا مېلمانه دي يا تاړاک دئ، چي ښه رانژدې سوله پير اکو يې وپېژند آدم خان ويل چي مېلمانه دي پير اکو ورسره دئ. آدم خان قسم واخيست که ميرباش بې مرګه پرېږدم، د مېلمنو عزت يې نه دئ کړی، پر آسو سپاره ولاړ دي، چي راورسېدی، توره يې پر ميرباش راوکښله ناره يې پر وکړه :

اې ميرباش زويه مغروره — نن به پرې کم دا ستا سر پخپله توره
مېلمانه حيران ولاړ دي — تر ابد دا د يوسف مندړ پېغوره

ميرباش په جواب کي ناره کوي :

د ميرباش زړه په هوا دئ — درته وايم دی بې بدو بې ګناه دئ
ګناه پور که بابا پلاره — بېګناه مرګی په شرع ناروا دئ

د دې خوا پير اکو بړغ پر وکی چي ها لاس نيسه، په هلک کي ګناه نسته، آدم خان وکتل د مېلمنو حق يې پر ځای کړي دئ، بلو ته يو وار درد ورغی ناره يې پر مېلمنو وکړه :

د بلو زړ ګوټي ملي — درته وايم مېلمانه څنګه راغلي
پر هلکو دي وام تېر کی — اوس به جوړ کم د راغلو د سر څلي

دلته بريم خان پر آدم خان ناره کړې ده، چي بلو در نيسه چي مړه مو نه کي، بريم خان د پير صالح مريد و، چي په دغه خانانو کي راغلي ونو آدم خان پر بلو بړغ وکی چي چپ ! آدم خان راکښېنته سو د پير د زوی عزت او ښه

راغلی يې ور ته وکړه ويل کښته سئ ولي سپاره ياست؟ دوی ويل چي پير صالح را لېږلي يو سلام وايي چي داسي دئ دا نکل يې ور ته وکی، چي پير صالح ځي د بسکی کره، در خانۍ هلته ده غواړي چي مخ په ښکاره کي، ويل چي دا کار بې آدم خانه نه کېږي، تر دې مابين حسن خان راغی، ويل دا څه نکل دئ؟ حيران سو. آدم ور ته ويل چي پير صالح پير اکو او دا نور خانان را لېږلي دي چي آدم خان راولي. حسن خان ګماني سو چي آدم خان څه کوي چي ور غواړي يې او دا دونه مرکه يې را لېږلې ده، پير اکو ناره پر وکړه:

د خان پلاره حسن خانه – در ته وايم ګمان وباسه له ميانه
په مهم د درخانۍ ځو – رنګينه رباب را واخله بلو خانه

و حسن خان ته يې ټوله بيان د سره تر پايه پوري وکی، حسن خان هم ويل چي شل کر ته دي ولاړ سي، لنډه دا چي شپه يې تېره کړه سهار آدم خان پر خپلو يارانو حکم وکئ چي ټوله ځانونه تيار کئ.

وايي چي د آدم خان دا عادت و، چي هره جمعه به يې نوي زرغونه کالي اغوستله، چي کالي به يې اليش کړه هغه د بلي جمعې دا به يې و يوه يار ته ور کړه، هغه کالي به د آدم خان په غلا بير ته توتيا ځني رانيول، وبه يې ساتل، نو چي آدم خان تلی وهغه ټولو يارانو ته توتيا هغه د آدم خان زرغونې جامې ور کړې، وايي غوستلې، ويل نبايده آدم خان دښمن دار دئ چي څه ضرر ورپېښ نه سي، اوس به نو که څه لړه پېښه سوله څوک بې نه پېژني چي کم يو آدم خان دئ، لنډه دا چي ټوله لکه د زرغونو توتيانو سيل تيار سوه، توتيا فکر وکی چي آدم خان ولاړ سي، نوري ښځي به يې خپل کي، ما به هېره کي پر ميرباش يې ناره وکړه:

نن زما زرګوتی ګل کي – اې ميرباشه زړه مي کله تحمل کي
زويه زما رضا خو نه ده – آدم خان به دغه نوري نجوني خپل کي

ميرباش په جواب کي ناره پر کوي:

موري ستا مانی په څو سي – چي ته ستړګي رپوې فکر دي يو سي
آدم خو څه باز نه دئ – چي همېش به دغه ستا پر مړوند اوسي

چي آدم خان او ياران يې لکه د بڼ توتيان تله نو ميرباش ناره پر

وكړه:

درخانۍ سره به پام کړې -آدم خانه بابا ځان به په بدنام کړې
دا د شنو توتیانو سیل دئ-دغه سیل به پر پردي وطن تمام کړې

آدم خان په جواب کي ناره پر کوي :

که د باز وای څوکه تېره ده-درته وایم د ښمن پر لور کړه ده
زما به دا سوبه روزي سي-نن زما پر زړګي تینګه اندېښنه ده

لنډه دا چي د آدم خان نکل دئ غوږ پر نیسئ ! آدم خان دوی ټوله پر آسانو سپاره سوه دعا یې وکړه را رهي سوله، چي د کلي څخه راتېر سوله، آدم ویل چي راسئ یوه نخښه وولو د پال پر ډول چي په مراد به ورسېږو که یه؟ نخښه یې کښېښووله، اوس یې هر یو په تاخت کي په نېزه وهي خو ټولو خپل وار تېر کی، یوه ونه وهله ډېر خوابدي سوله، آدم خان په آخر کي مجلون پر ورهي کړ نخښه یې په دغه منځ کي ووهله، په نېزه یې وپېیله، بلوخان ناره وکړه :

پر میدان پرته وه دړه-د آدم یارانو وویشته په کوړه
د آدم په نېزه سورۍ سوه-آدم خان سو پر بي بي درخانۍ بړه

څه سر دي ګرځوم د دغه ځایه را رهي سوله، هله هله شاه درې له راغله، په شاه دره کي د درخانۍ ترله اوسي مستوره نومېده خبره سوله چي آدم خان دئ ځي درخانۍ لره، نو دې پخوا لا د آدم خان صفت اورېدلی و، پر مینه وه (په یوسف زو کي دا دود وچي څوک به و جنګ یا په بل مهم کار پسي تله او چا به یې دمخه تش لوښی تېر کی نو به دستي پر هغه ځای پاته سوه، نه به تله څو شپه نه وای تېره سوې)، دستي مستوري مینځي ته یو تش منګی پر اوږه ورکی چي دا واخله کله چي آدم خان د هغه ونې پر برابري راورسېږي، نو دغه منګی د دهٔ دمخه تېر که، آدم خان چي راغی مینځي یې تش منګی تر مخه تېر کی، د آدم خان کر که سوله، دستي کښته سو د هغې ونې لاندي کښېنوست، مستوري مور ته وویل، ناره یې وکړه :

نن زما زړګوټی ښه کړه -درته وایم د مېلمه ښه عزت وکړه
آدم خان زما مېلمه دئ-ادې موري مهماني ورلره وکړه

مور یې په کټغ متغ اخته سوله، مستوره سره له مینځي را رهي سوله

مينځه يې دمخه و آدم خان ته واستوله چي ور ته ووايه چي مستوره راځي دغه خلک دي ګوښه سي، مينځه راغله ور ته وې ويل خلک ګوښه سول، مستوره په خندا راغله، آدم خان د دې خوا ناره پر وکړه :

د لونګي وني زانګي – شاه دره ده چي تو تيان ناست دي تر لاندي
مستوره دغه ده راغله – دوا ړه لاسه ټکوي په کټکي خاندي

مستوري په جواب کي ناره پر وکړه :

د لونګو ونی زانګي – ببله شکه چي تو تيان ناست دي تر لاندي
آدم هم تر لاندي ناست دئ – لويه ربه چندني رباب د وړاندي

چي يعني تا وپېژندلم ما هم وپېژندلې، وروسته د مستوري يو ګل په لاس کي و، هغه يې په مټه کي پټ ونيو، و آدم خان ته يې وويل چي زما په مټه کي څه شي دي؟ مستوري اورېدلي وه چي آدم خان د ښو خلکو مرتبه لري، نو دې از مېينښت په کاوه، چي ښه دئ که بد، رشتيا ده که درواغ، آدم خان ناديده ناره پر وکړه :

دا زما زړګی وېبړي – پر خراب زړګي مي څه بلا تېرېږي
که خدای درواغجن نه کړم – باز درې د ګلو بوی بوی راولاړېږي

نو دا پوه سوله چي آدم خان ښه سړی دئ، مګر دا مينه وه توان يې نه کېدی، باره يې ناره پر وکړه :

يو که پرېږده پرېږده – در ته وايم د دنيا کارونه پرېږده
که به زما و زړه ته ګورې – يو وار سر د مستورې په غېږ کي کښېږده

آدم خان فکر وکی چي نه مي ايله کوي، دالکه چي هم راباندي مينه ده، په راسه په خوله يې خوشحاله که، نو ځني ولاړ سه، چي ښرا در ته ونه کي، په جواب کې ناره پر وکړه :

مستورې د مور ملوکي – پر تمام جهان دي تللي د نوم کوکي
زه پخوا پر تا مين وم – چي لا ته وې سرکنډو د مور ملوکي

مستوره خوشحاله سوله، آدم خان ويل مور ځو، دې ويل راځئ ډوډۍ وخورئ بيا به ولاړ سئ، ده ور ته وويل چي بيا به د هغې خوا دربانـدي راسم، ډېري شپې به درسره تېري کم، ها ول ښه دئ، ناره د رخصتۍ پر کوي :

ښه سوه وای تماشه سوه - د شاهي آدم و ما ته اندېښنه سوه
د درخو پر لوري درومي وا - ول شاهي آدمه ځه په مخ دي ښه سه

آدم خان پر یارانو ږغ وکي چي سپرېږئ ! څو دوی سره سپرېدله یو چورندک راغی پر یوه ښاخ کښېنوست، نو آدم خان و بلو ته وویل چي زما د مخه یې تش منگی تېر کی، زما کر که ده، چي کامیابه به سو یا ناکامه، نو زه پر دغه چورندک یو واری کوم د فال پر ډول، بلو ویل ښه دئ، ده چي وار پر وکی چورندک یې وویشت، بلو ناره پر وکړه :

پر ښاخ ناسته چورندکه - درته وایم چورندکه وچه کلکه
د آدم غشی دي وخوړ - د قضا وینه دي ولاړه تر مشوکه

لنډه دا چي د نکل کار دئ، د دغه ځای څخه را رهي سوله هله هله دا دي راغله پیر صالح ته، پیر صالح او نور ډېر خوشحاله سوله، پیر صالح ورته ویل چي د اتو پیرانو مرتبه دي په نصیب سه، آدم خان چي رنگا رنگ عالم ولید اریان ولاړ (وایي چي داسي واده تر اوسه په پښتنو کي نه دئ سوی)، آدم خان ویل چي گمان نه کوم چي دا سوبه به مو روزي سي، پیر صالح ویل چي بیغمه اوسه کار کوه اوس لا تاوز خان نسته، وخت داغه دئ، نو آدم خان راغلی بلو او میرو پر یوه څنگ او پر بل څنگ د درخانۍ د خېمې د دروازې و مخ ته کښېنستله، ویل نور عالم دي لږ څه پر شا کښېني نه دي راځي، آدم رباب شروع کی، واده دئ، لومړی بلو خان ناره وکړه :

درخو گوره زموږ ډله - پر صحي نخښه موږ آس و ځغلوله
هر چي ستا نظر پر وسو - هغه نخښه آدم خان ونړوله

بیا آدم خان ناره پر وکړه :

درخو تالره راغلی - متېه خېل آدم خان دئ مزله وهلی
ته خو یو وار نظر وکه - پیر صالح و تا ته هم دئ درېدلی

بیا میرو ناره پر وکړه :

بي بي خېل دید دي تنور کړ - آدم خان دي په زړگي باندي چور چور کړ
ته زړه ورکه زړه به درکي - شاه درخانۍ که پوړنی له مخ دور کړ

دلته تتر خان هم ولاړ و د آدم خان تربور و، په سیالي سره یې پر درخانۍ ناره وکړه :

بي بي دا تولہ پیران دي –درته وایم دوی له څېلمي غادران دي
نظر کړه وای پر تترخانه –تترخان غوندي زلمي دي ستا د وړاندي

آدم خان په دې خبره ډېر خپه سو، چي ناحقه یې غادران وبللو، نو ده په جواب کي ناره پر وکړه :

متہ خېل مي توریالیان دي –درته وایم دوی له څېلمي شاعران دي
درخو یو وار نظر وکه –چي دا ناست ولاړ مي واړه نوکران دي

بلو خان پسې ناري کړه :

بي بي بد وایي بدان دي –درته وایم چي ویل که شیطانان دي
خپل نظر پر آدم خان کړه –آدم خان سره ولاړ د بن توتیان دي

پر تتر خان د بلو ناره بده ولګېده، چي اول زما مریی وې، اوس څه وایې، نو یې په جواب کي ناره پر وکړه :

خامه بلو خامه –ته تر خوله خبره مه باسه بې پامه
ته اول مریی زما وې –د کابل پر نخاس ودرې غلامه

میرو پر ناري کړه :

خانه تتر خانه –درته وایم ته غلط ولاړې نادانه
نن سودا د آدم خان ده –ته په دواړو سترګو ړوند سې تترخانه

تترخان په جواب کي په درد ناره پر وکړه :

ته غوړ باسه میروګیه –زه تتر خو لا مړ نه یم، یم ژوندیه
د زړه مراد به مي حاصل سي –چي یو ځل خو مي ته مړ کړای ړندکیه

بیا آدم خان یې په جواب کي وویل :

ته چي وار پر میرو خان کړې –درته وایم دغه وار دي پر خپل ځان کړې
چي میرو راځخه وژني –مګر شاهي آدم خان ورک پر دې جهان کړې

دا ناره چي یې وکړه آدم خان فکر وکی، چي اوس به یوه لړه جوړه سي اصل مراد مو پاته سو، نو سړی یې پیر صالح ته ولېږه چي که دا کار تترخان کوي خو دی دې وکي زه مو څله راغوښتم او که یې نه سي کولای نو دی ولي په ښادي کي غم اچوي تربور ګلوي راسره کوي. څه سر دي ګرځوم تترخان و پیر صالح ته وویل چي که د آدم خان هم دا کار د لاسه ونه سي نو به څه کوي؟ آدم خان وویل که مي دا کار د لاسه ونه سي د وطنه به ورک سم،

پیر صالح پر تتر خان امر وکی چي چپ سه غرض مه په لره، دی هم چپ سو، درخانی خو هم غوږ نیولی دئ، دا خبري ټوله اروي، نو د دې خوا بلو بیا پر درخانی ناره وکړه:

آدم سر درباندي ایښی – بي بي نه یې له شاهي آدم ګوښی
تتر کښېنوست ځوري سترګي – شاه بي بي یې و آدم و ته پرې ایښی

دا ناره چي درخانی واروېدله، چي آدم خان کلک ولاړ دئ که مخ ورښکاره نه کم آدم خان د ټوله وطنه ورکېږي، او زما ژوند د آدم خان په دید دئ، نو لږ څه یې زړه وکی په دروازه کي یې په داسي ډول ځان ښکاره کی چي نورو ونه لیدله بلو لږ څه ولیده، نو بلو پر آدم خان ناره کوي:

نن زړګی زما ویېږي – درته وایم چي په وره کي لمر ځلېږي
اوس ویل که زما صاحبه – دا درخو به اوس سر توره ودرېږي

آدم خان ډېر خوشحاله سو نو ناره پر کوي:

له دي هسي غمه مرونه – درته وایم بي بي ورک دي سي کبرونه
ستا نظر ګوره پر چا دئ – بي بي ولي په دعوه تړې تربرونه

دې خبري پر درخو لږ څه اثر وکی، نرمی ته یې وویل چي دا ناره د چا وه، دې ویل د شاهي آدم خان ده، درخانی ویل چي آدم خان څرنګه دئ څنګه کالي یې دي؟ دې ورته ویل چي آدم خان زرغون توتي دئ، رباب یې په غېږ کي دئ د توتي په شان ویېږي، زرغونه کالي یې دي، درخانی په داسي ډول و آدم خان ته وکتل چي دا ګمان یې و، چي ما ولید او دوی نه یم لیدلې، په دې مابین کي آدم خان مخ، او نته و پېزوان ولیدل، بلو یې د سرو زرو لاسوندي ولیدل، میرو یې د غاړي امېل ولید، نو اول میرو خان ناره پر کوي:

یو د بله زمو ږ بول دئ – درته وایم د آدم سره زموږ ټول دئ
بي بي لو نخښه دي دا ده – چي په غاړه دي د سرو زرو تانبول دئ

بلو خان پسي ناره کړه:

د آدم خان یاران زمري دي – درته وایم یو تر بله ګړندي دي
د بي بي نخښه دا غه ده – چي په لاس یې د سرو زرو لاسوندي دي

غوږ دي دئ، ښه! آښه! د آدم خان وار دئ ناره پر کوي:

خان دئ آدم خان دئ – درته وايم عالم ټول ورته اريان دئ
د سرو تته دي په پزه – چي د زړونو سره جنګ کا ستا پېزوان دئ

دا ناري چي درخو واورېدلې و نرمۍ ته يې وويل چي دا زما پسول چا ورښوولی دئ، دې ورته وويل چي هيچا نه دئ ورښوولی آدم خان پخپله بزرګ دئ ورمعلومه ده، درخانۍ فکر وکی چي شل پوړني هم پر سر واچوم، نه پټېږم نو څله مي ځان په عذاب کړی دئ، په آخر کي يې فکر وکی چي د آدم خان د ديد له پاره مي ځان په ستر کړی و، ما ويل بې آدم خانه به مي بل څوک ونه ويني، اوس چي دی راغلی دئ زما د ديدن له پاره زه لا ځان څني پټوم؟ نو ميني زور پر وکی د خېمې څخه راولاړه سوله دروازې ته چي راغله نرمۍ ونيوله چي مه وزه خلک دي، په دې ترڅ کي آدم خان بيا د خېمې تر تنبو وليده ناره کوي او رباب ته زور ورکوي:

د درخو د سترګو کسي – د تنبو تروت مي وليده په کسي
د آدم زړګی يې کش کی – دايي ګاني پوري مېنلي نجلۍ نيسي

دلته پر درخو خورا ميني زور وکی، د واکه يې ووتله، د دې او د نرمۍ په دغه کشمکش کي د درخو د سر څخه ټوله پوړني ولوېدله، نژدې وچي درخانۍ د ميني په حال کي سر توره راووزي، پر آدم خان هم د درخو ميني غلبه وکړه، شاباز يې په داسي شرپ و رباب ته ور واچاوه، چي درخانۍ څه چي نور يې لا د حاله وايستله، د خېمې څخه نرمۍ ناره وکړه:

توره آدمه توره – چندنۍ رباب دي مه وهه په زوره
چي دا ستا د رباب ږغ سي – په درخو مي اور لګېږي لور د لوره

څه سر دي ګرځوم تا ته مي دي وويل سي، نو شاوخوا خلکو وويل چي اوس لکه چي درخانۍ راوزي، نبايده چي يوه بده و بېرانه پېښه نه سي، دستي يې پير صالح ته وويل چي ته راسه دا حال يې ورته ووايه، پير صالح راغلی ناره يې وکړه:

د چندنو ونه ګوره – درخانۍ ده په آدم پسي ترهوره
دواړه لاس پر تندي کښېږده – و ميدان و ته راووزه ته سرتوره
درخانۍ ته درد ورغی ور ناري يې کړه:

پیر صالح حیلې باړې که – پر بې بې درخو د بدو اندېښنې که
درخو به مخ د ربنکاره نه کي – پیر صالح که ږیره غوټه پر منځ پرې که

پیر صالح چپ سو، ویل څه بابا دا یې تاسي دا یې درخانۍ، زه بېزاره یم، نو بلو خان ناره پسې وکړه :

آدم خان غواړي شکري – لویه خدایه سودا ګر نه دي راغلي
د آدم د زړه دپاره – درخانیه یو وار ګښت وخوره په کلي

په دې ناره سره پر درخانۍ میني زور وکی، بې واکه راوتله، ویل چي د پښتنو نجوني ټولي دباندي ګرځي، ګودرو ته وزي نو ځو تر څو به پټه ګرځم، آدم خان چي ورته کتل، د دیدن توان یې نه درلود ستر ګي یې کښته واچولې، نو بلو ناره پر وکړه :

آ درخو ملوکي – پر تمام جهان دي ولاړې د نام کوکي
آدم ستا کتو رنځور کی – ورته کوز کړه دا د دواړو زلفو ځوکي

درخانۍ ور تېره سوله د آدم خان پر خوا، پر آدم خان حیا غالبه سوله خپل رباب یې و مخ ته نیمره ونیو، درخانۍ فکر وکی چي پر مخ لکه چي عیب لري، نو ناره یې پر وکړه :

که سخ وا آدمه سخه – پر دا ښي باړخو دي خال دئ که دي زخه
که به زما و زړه ته ګورې – چندنی رباب دي لیري که له مخه

آدم خان د مخه څخه رباب ایسته کی، درخو ته یې وکتل، درخو هم د حیا څخه و مخ ته لستوڼی نیولی و، آدم خان په شکي سو، چي لکه چي پر مخ عیب لري، نو ده ناره پر وکړه :

د درخو زړګیه سخه – دښمنان به زمونږ لري په زړه کي رُخه
که به زما و زړه ته ګورې – اې بې بې لستوڼی لیري که له مخه

دې چي لستوڼی د مخه ایسته کی، آدم خان چي ورته وکتل بې سده سو، ټوله یاران یې لاس و پښه سوله، چي خیر په خان څه وسوله، پیر صالح دم و چو پر کوله، درخو خو یې په مرض پوهېدله، نو را تېره سوله خپلي ناړي یې په خوله کي ورکړې، ناره یې پر وکړه :

په دا پوري غره اورپو کړې – درته وایم پیر صالح مي دم و چو کړې
آدم زما کتو رنځور کی – لویه ربه زما ناړي یې دارو کړې

لنډه دا چي آدم خان ته يې ناري په خوله کي ورکړې، آدم خان پر هوښ راغی، فکر يې وکی چي دا دونه سيالان او تربرونه ولاړ دي، د رسوايۍ ځای دئ، څه نه کېږي، نو يې و پير صالح ته وويل چي درخانۍ مو هغه ده وليدله، اوس نوزه ځم د خدای په امان. پير صالح رخصت ورکی، آدم خان رهی سو، دی چي د بسکۍ د کوره ووت درخانۍ د بېلتون توان نه درلود، پر هغه ځای بېهوښه سوله، دستي نرمۍ راغله و ترور ته يې وويل چي درخانۍ دي په زوره راوستله هغه ده بېهوښه پرېوتله، د پلار جواب به يې څه کوې؟ ترور يې سره وارخطا سوله، سپلني يې راواخيستله دود يې کړه، چي اثر يا پېری به وي، درخانۍ ناره پر وکړه:

ولي مي سېزيېه – درته وايم ولي اور رالګويه

آدم روح و له ما ولاړی – په دا تش کالبوت په څه ګر ځم ژونديه

نو ترور يې پوه سوله چي پېری نه دئ، لېونۍ سوې به وي نو يې پوښتنه ځني وکړه، چي درخو څه در وسوله، لېونۍ سولې، که ناجوړه؟ درخو ناره پر وکړه:

روغه يم نه لېونيه – په آدم پسې به مرم دغه ګڼيه

دلته روغ رمته راغلم – د آدم مينه اوس اور رالګويه

نرمۍ پر ژړله، په سوګليو کي يې ناره پر وکړه:

ونيولم دومي – غاړه تړوله کا کوي زما تر کومي

آدم کوچ وکړ روان سو – درخانۍ دي پسي ولوړي چي درومي

درخانۍ هم راولاړه سوله، چي دوه ګامه يې واخيستله، زړه يې ډوب ډوب کېدی، ناره يې وکړه:

څه د غم واده و وای – درته وايم د دې واري بسکيه

روغه وم رنځوره ولاړم – د آدم غشی مي وخوړ پر پوښتيه

ترور يې ورته وويل چي اوس مه ځه ناجوړه يې، چي لږ څه ښه سې ولاړه به سې، درخانۍ په جواب کي ناره پر وکړه:

څه سوه د شاهي آدم تړليه – چي په دوک باندې اخته کړه درخانيه

چي يې کوچ وکړ روان سو – اوس به زه ورپسې ځم تر پلر ګنيه

ترور يې فکر وکی، چي د آدم خان د کور پر خوالکه چي ځي، باره يې

ورته وویل چي ته وګوره هغه ځای وګوره دی په هغه وطن کي دئ، ته دلته یې، چیري مو یاري سره کېږي، نو درخانۍ ناره پر کوي :

ربه ټوله ستا رضا ده – چي د بل ولات یاري د سر سودا ده
آدم مه را یادوی یه – په آدم پسې مي ماته نرۍ ملا ده

باره ترور هم ورسره را رهي سوله، چي تر کوره یې ورسوم، دوی نو دالته پرېږده چي مزل کوي، آدم خان پسي راواخله، آدم خان چي را رهي سو، په لار کي یوه چینه وه، پر دغه چینه یو ګړی کښېنوست، تر دې مابین یو سړی ورغی د آدم خان و پلار ته یې وویل چي پایو خان د بسو واده له ولاړ، آدم خان دوی پر پلانکۍ چینه په لار کي ناست دي، نبایده جنګ سره ونه کي، شمشالخان او حسن خان دستي را رهي سوله راغلل و آدم ته یې وویل چي راځه کور ته، آدم خان بانه ورته وکړه چي تاسي درځئ، زما لښنده د کمانګر کره ده، ورکړې مي ده کړه وه چي سمه یې کي، چي زه یې وګورم چي سمه کړې یې ده که یه؟ حسن خان ناره پر وکړه :

څوک مي ستا له غمه خلاص دئ – درته وایم چي ستا غم نه که خناس دئ
دښمنان دي زښته ډېر دي – سپې غلیم درته ولاړ غشی په لاس دئ

آدم خان په جواب کي ناره پر کوي :

که سخه نن زما زړګیه سخه – څوک دي نه که پر یوه آدم خان رخه
پر دې لاري که زه مړ سم – وا به نه وړم د درخو له سپینه مخه

حسن خان فکر وکی چي راسه توتیا ور په یاد که، ګوندي درخانۍ یې هېره سي، نو ناره پر کوي :

خانه آدم خانه – درته وایم د دې وراري توتیا ځانه
پر توتیا باندي مین وې – آدم خانه څه بلا مو سوه تر میانه

نو آدم خان په جواب کي ناره پر وکړه :

بابا مه کړه دا خبره – د هر چا خپله خبره په زړه غوره
دا توتیا که زر دانه ده – بابا پلاره درخو سپینه مرغلره

پلار یې فکر وکی چي نه راسره ځي وروسته ټوله ځني رخصت سوله، یو بلو خان او میرو او شمشال خان ورسره پاته سوله باره را رهي سوله د کمانګر کلي ته آدم خان که ګوري چي دمخه یې یوه ډله ښځي دي ځي، آدم

خان وپېژندله چې د درخانۍ ټولۍ ده، و بلو خان ته یې وویل چې دغه که خدای درواغجن نه کړم د درخانۍ ټولۍ ده، بلو ویل نه به وي؟ آدم خان ویل اوس به یې معلوم کړم، نو یې ناره پسې وکړه :

بي بي درخو دي نوم دئ - درته وایم دا ستا نیت را ته معلوم دئ
څه خو مخ راپټنه که - نه پوهېږم د بي بي پوړنی کوم دئ

درخانۍ چې دا ناره واروېدله د خوشحالۍ لمر پر راوخوت، په جواب کي یې ناره وکړه مخ یې ورته راواړاوه :

آدم خان د رېدي ګل دئ - قلندرو نجونو ایښی پر اوربل دئ
برابر راځه آدمه - د دي ټول سردار زه یم ټول مي خپل دئ

آدم خان د شمشال خان څخه شرمېدی د درخانۍ سره یې ښه سوال و جواب نه سوای کولای، درخو نرمۍ ورته راولېږله چې ورسه و بلو ته وا تاسي چیري ځئ؟ نرمۍ د بلو څخه پوښتنه وکړه، بلو ورته وویل چې د کمانګر کره ځو، درخانۍ ولاړه آدم خان میرو ته وویل چې ما خو بانه کړېده، ته ورسه پټ و کمانګر ته ووایه چې آدم خان راځي، ستا څخه به د لېندۍ طلب وکي ته به ښه سوال و جواب ورسره وکې چې درواغجن نه سي ما یوه بانه کړې ده، میرو راغی میاخان کمانګر یې وپوهاوه، هغه ویل پر غبر ګو لېمو، آدم خان دوی چې راغله، د میاخان څخه یې پوښتنه وکړه چې زما لېنده دي سمه کړې ده که یه؟ میاخان ویل لا مي نه ده جوړه کړې. د کمانګر لور وه زربخته نومېدله، دا سوال و جواب چې یې واورېدی ناره یې وکړه :

خانه آدم خانه - نه پوهېږم دغه زما بابا نادانه
ستا د زړه لېنده درخو ده - درته وایم چې یې نوم پر درست جهانه

شمشال خان پوه سو چې آدم خان بانه کړې ده یو چم کوي، هلته درخانۍ یو دسمال د ډول ډول ګلانو ډک کړی و، و نرمۍ ته یې وویل چې دا یوسه د کمانګر کره و آدم خان ته یې ورکه، نرمۍ چې دسمال راوړی آدم خان دوی دباندي راوتلي دي دسمال یې و شمشال خان ته ورکی دې چې ویل دا آدم خان دئ، ولي چې د آدم خان او شمشال خان سکې سره ورته وې، دستي شمشال خان و آدم خان ته دسمال ورکی ناره یې وکړه :

آدم خان په ګلو پوه دئ - زما نه زده چي کم ګل د ننداروئ
يو بېلک درپسي راغی - درته وايم دا بېلک مي د درخو دئ

د آدم خان په زړه دي وه، آدم خان ناره کوي :

د درخو په دسماله کي - چي ګلان پکښې پراته دي توکي توکي
له اختياره به وانه وړم - که سبا پر بېلک پروت يم پرو کي پرو کي

په دې ناره سره يې نرمۍ وپوهوله چي ستا بېلک راورسېدی او زه هغسي پر تا شيدا يم، تر مرګه پوري، نرمۍ يې رخصته کړه، بلو راغی آدم خان پټ ورته وويل چي هغه نرمۍ دايي راغلې وه، بېلک يې هم راوړی و، ما د شمشال خان څخه خار خوړ، ښه سوال و جواب مي نه ورسره وکی، ته دستي پسي ور الا که په لار کي بې لاندي کې، ورته وبه وايې چي پر درخو مي سلام وايه ورته وا موږ درځو، بلو دستي را الا کړه نرمۍ يې په وچه کنده کي لاندي کړه دا بيان يې ونرمۍ ته وکی، نو بير ته راغی، نرمۍ راغله ټوله بيان يې سر تر پايه و درخو ته وکی، ورته وې ويل چي آدم خان که نن وي که سبا رابه سي.

څه سر دي ګرځوم آدم خان و شمشال خان ته وويل چي ته رخصت يې ولاړ سه کور ته، زه ستړی هم يم نه سم تلای، او بل به کمانه جوړه سي بيا به موږ پسي درسو، شمشال خان ويل ښه دئ، شمشال خان پټ و ميرو ته وويل چي آدم خان خو په درخانۍ پسي نه ځي، که ځي زه به هم ورسره يم، دښمن دار دئ نبايد چي څه ورپېښه نه سي، ميرو ورته وويل چي يه نه ځي که تلای تا غوندي توريالی تربور يې چيري د ځانه جلا کاوه، آبس شمشال خان ولاړ، آدم خان و ميرو ته وويل چي خبر خو دي نه کی، هغه ويل چيري مي خبر اوه، زه خو ستا د پټ راز يار يم، ده ويل آفرين ! وروسته آدم خان بلو ته وويل چي زه او ميرو ځو درخانۍ لره، ته به مجلون آس تر جلو ونيسې په وچه کنده کي به زموږ تر راتلو ګورې، ده ويل پر دواړو ستر ګو.

آبس ماښام ميرو او آدم خان سره رهي سوله د درخو کلي ته راغله، د درخو کلا خورا لوړه وه د کلا دروازه يې تړلې وه. شاوخوا پر کلا وګرځېده، هيڅ لار يې پيدا نه کړه، چوکيداران بيده دي چپه چپايي ده، آدم خان خپله د کمند رسۍ چي د ميرو څخه وه کلا ته وغور ځوله، ور وخوت شاوخوا يې

وکتل هیڅوک نه وه، نو میرو هم ور وخوت دواړو په رسۍ ځانونه ور وځړول. د درخو د خوني هیڅ درک نه دئ ور معلوم. آدم خان و میرو ته وویل چي اوس يې پای څه؟ میرو ویل بیغمه اوسه میرو وګرځېدی، یو سړی بیده دئ، کرار يې وښوراوه، مریی و راویښ سو، چي ناره به يې کوله، میرو ویل چپ چي مړ مي کړې، موږ غله نه یو نه غلا کوو، بیر ته ځو، یوه پوښتنه درڅخه کوو آدم خان جېب ته لاس کی لس اشرفۍ يې و مریي ته چي بوجه نومېدی ور کړې، مریی خوشحاله سو ویل راسئ چي په خونه کي مراد ووایو، بوجه دوی خپلي خوني ته ننه ایستل، مینځه راویښه سوله ویل څه نکل دئ، بوجه ویل ږغ مه کوه، مینځي ته يې څه پیسې ور کړې، بوجه ویل ښه اوس نو مطلب وایاست، آدم خان ویل چي فقط د درخانۍ دیدن ته راغلي یو بیر ته ځو، درخانۍ چیري ده؟ خونه يې کمه ده؟ څوک ورسره ستهٔ کنه ستهٔ، دروازه يې څنګه خلاصه کو، بوجه ورته ویل چي دا کلا یوازي د درخانۍ ده یوازي پکښې اوسېږي. دلې دننه یو زه یوه دغه مینځه ده، مګر دباندې پلار پیره پر درولې ده، خونه يې دغه ده وربه سې تر هغه سوري به لاس ور ننباسې ټمبه به لیري کې زیاته هر څه چي کوې. موږ مه یادوه، بیا مو تاوز خان وژني، موږ ځان ناخبره اچوو بیر ته بیدېږو.

آبس آدم خان ورغی دروازه يې ور خلاصه کړه ورننووت، میرو پیره کوله، درخو پر پلنګ پرته ده څراغ مړ دئ تاریکه ده، آدم خان ور تېر سو د درخو پر سینه يې لاس کښېښود درخو په راویښه سوله ګمان يې د پایو پر وکی، باره يې په دغه ځګر کي په سوک وواهه، آدم خان ځني پر شا سو، هیڅ ږغ يې ونه کی، د خوني و ټمبې ته ودرېدی چرت واخیست، درخانۍ فکر وکی، چي که دا سړی پایو وای، نو بازۍ به يې راسره شروع کړي وای، په زوره به يې لاس را اچولی وای، یه نو که و آدم خان دئ، بل څوک د بیري چیري راتلای سوای او نه دونه زړه کولای سوای، وروسته يې ناره پر وکړه (غوږ دي دئ ته به وایې چي آدم خان په پټه ورغلی نو دوی نارې څنګه سره کولې، زه وایم چي د نکل کار دئ نه سره لګېږي، البته د مین پر ډول کرار کرار د ناز او د ګیلو پر ډول وې، ښه)، څه بې ویلي وي وابې روې :

آدم خان مي نه ګڼلې - درته وايم پايوګی مي وشميرلې
په منګل مي ووهلې - دواړه لاس مي خدايه وچ کې تر څنګلې

آدم خان په جواب کي وايي :

مه دي ماتي سه خپري - درته وايم مه دي وچي سه څنګلي
په څه درب دي ووهلم - تر پيله وربښم پستې وې ستا منګلي

د درخو وار دئ :

چي واده و دا د وراري بسکی - هلته ورغله آدم و درخانی
زحمت ډېر راباندي تېر سو - راسه پاس پر پلنګ کښېنه پر نالی

د دوو مينو مجلس دئ، درخانی ورته ويل چي زه دوه سوالونه درڅخه کوم جواب بې راکوې، ده ويل وکه ! درخانی ورته ويل چي په دې نيمه شپه مالره راتلې نو څه شي دي سوغات راوړی دئ؟ آدم ويل زړه ! بيا درخانی ويل چي د ټولي دنيا تلتک څه شي دئ؟ آدم خان ويل شپه ده :

دا خدمت زما پر ځان دئ - نن شاهي آدم زما کره مهمان دئ
اوس به زه ورلره ځمه - سپينه خوله يې مېلمستيا ځای يې دالان دئ

نو درخانی آدم خان تر لاس ونيو راولاړ يې کی، اول دا پر پلنګ وختله، آدم خان يې وروسته کی، آدم خان د ګيلې پر ډول بيا ناره پر وکړه :

بي بي ستا د بې رحميه - کبر جنه يې هيڅ نه لرې زړه سويه
آدم دي کوز پر مځکه پرېښو - او درخو پر پلنګ وخته لومړيه

بيا درخو په جواب کي ناره پر کوي :

ديدن نه سي په ولاړي - په خولګی کي مي اوس وچي سولې ناړي
خانه ته که نه راخېژې - ګوښي ګوښي د اوربل وېښته مي ژاړي

په دغه ګيلو و په نارو کي شپه پر تېره سوله، د ساده مينو کار دئ په زړو کي صادق دي، بې ديدنه نور څه يې په زړو کي نسته په دغه کشمکش کي يو وار نابيره د درخو يو چرګ اذان وکی، دواړو آه کړه درخو ناري کړه :

اې زمورې چرګه کولنګه - ستا په ستوني کي دي خوږ سي اې بدرنګه
سبا نه و تا سبا کی - دا شاهي آدم دي کوز کی له پلنګه

درخانی د درده ور ولاړه سوله د ښو سره يې پر اور کباب کی، نو آدم خان د چرګ پر حال ناره وکړه :

په چرګ هسي پسات وسو – درته وایم خلکو ګورئ حال یې څه سو؟
ده بې وخته آذان وکی – ژوندی چرګ مي له وزرو سره وسو

درخانۍ ناره کوي:

د چرګ عقل د تاوان و – درته وایم چي لا اوس سري ما نښام و
له جنته آدم بیایي – بل ګمان وربانديي مه کوه شیطان و

وروسته آدم خان ورته ویل چي چرګ بې وخته آذان وکی، سهار لا لیري دئ، ګرده شپه دي په ګیلو تېره کړه، درخانۍ ویل خود به یې کوم زه درخویم او ته ... نو یې د ناز له رویه ناره پر وکړه:

آدم نه وې ما آدم کړې – درته وایم د سرو سره مي سم کړې
د کنجکو سوداګر وې – آدم خانه ما پر تور پیکي مین کړې

آدم خان بیرته ناره پر وکړه:

زه لا هلته خدای رسوا کړم – درخانیه چي پر تا باندې شیدا کړم
ته به خود په بربر وایې – درخانیه زې احتیاج ستا د خندا کړم

دا هم پر خپله تانه پښېمانه سوله په جواب کي ناره پر کوي، بیرته یې زړه ښه کوي:

مټه خپله آدم خانه – درته وایم د یوسف د منډن خانه
چي ته نه یې تش کالبوت یم – آدم خانه ته یې روح زما د ځانه

درخو چي وکتل خوني ته د سهار رڼا رالوېدلې وه، وآدم خان ته یې ویل چي رڼا ده سهار سو، نو یې په ژړا کي ناره پر وکړه:

خانه زړه زما خوږېږي – درته وایم چي مین له ما بېلېږي
ولي به نه ژاړم صاحبه – چي رڼا د سبایي ده سبا کېږي

آدم خان څه ناره پر کوي، آه:

چي وهلی دي د میني په نېزه دئ – بندي سوی ستا د سترګو په کاته دئ
دغه ستا د مخ رڼا ده – سبا نه دئ عالم ټول په تاریکه دئ

څه درته ووایم د دوو مینو د بېلتون وخت دئ، وار په وار رانږدې کېږي، نورو چرګانو آذانونه وکړه، په درخو اور لګېږي ناره کوي:

ما له تا سره کیسې کړې – درته وایم په ژړا مي سترګي سرې کړې
ولي به نه ژاړم صاحبه – د سهار چرګانو ځای پر ځای نارې کړې

آدم خان په جواب کي ناره پر کوي :

دا چي زما په زړه کي اوري – شيخ يې نه ويني په خاب ملا په توري
هغه ستا د چرګ حال څه سو – نور چرګان دي هم د ده و حال ته ګوري

دوی په دغه خبرو او نارو کي وه چي يوه ويل سهار دئ، بل ويل شپه ده د بېلتون په وير اخته وه، چي د تاوز خان د مېږو د رمېدو وخت سو، مېږې امبا کړه درخانۍ د مېږې ناره واروېده ناره يې پر وکړه :

په ستوني کي دي خوږ سه – درته وايم د بابا موندي‌يه مېږې
سبا نه و تا سبا کړ – دا شاهي آدم دي ويوست زما له غېږې

څه سر دي ګرځوم ميرو خان فکر وکړ، چي بېخي رڼا سوله سهار سو، دوی خو سره مينان دي يو د بله په ديدن نه سره مړېږي، باره يې آدم خان ته وويل چي راځه چي د درخو څخه رخصت سو، درخو چي د ميرو ږغ واورېدی، وارخطا سوه، ويل دا څوک دي؟ آدم خان ويل بېغمه اوسه دا مي توريالی يار دئ چي پر ما و پر تا تر ټولو دمخه سر ايږدي، پس له هغه درخو و ميرو ته وويل چي آدم خان خو په سد کي نه دئ، زه تا ته څلور خبري کوم په غوږ کي يې ټينګي ونيسه. لومړی دا چي آدم خان بېسده سي او څوک يې پوښتنه کوي نو حال مه ورته واياست، دوهم دا چي آدم خان کور ته ورسي نو په يوه لوړ دالان کي دي اوسي، چي زما د خوا باد پر لګېږي، دريم دا چي څوک دي روغبړ نه ورسره کوي چي دغه زما د کالو بوی ځني ولاړ نه سي، څلرم دا چي زه و آدم خان مړه سو ته به په دې ملک کي نه اوسې، ځې به هندوستان لره چي پته دي ورکه سي. دا وصيت يې و ميرو ته وکی، نو يې نرمۍ راوبولله چي ورسه چوکيداران به په يوه بانه بير ته کړې نرمۍ راغله چوکيداران يې ايسته کړله، آدم خان دوی يې پټ را وايستله تر کلي يې تېر کړه نو درخو ناره پر وکړه :

آدم خانه څله مېر کړې – درته وايم دغه زما ښه به ته هېر کړې
چي سهار سو لمر را وخوت – آدم خانه تر پلو لاندي مې تېر کړې

درخانۍ ولاړه کور ته، دا چي ورتله مور يې راغلې وه، مور چي يې ورته وکتل ښه يې پر بل پهېر وه پوښتنه يې ځني وکړه چي لوري آدم خان خو نه دئ درلره راغلی، دې ناره پر وکړه :

حلق زما ټوله ګند هېر سو – چي مي نوم د آدم خان تر غوږو تېر سو
نه لیدلی نه کتلی – ادې موري د دنیا روزګار مي هېر سو

بله ورځ درخانۍ د ګلباټ تکیې لره ورغله، په تکیه کي تور توت وه، څو دانې یې وخوړلې نورو خولې پاکي کړې د درخانۍ خوله توره پاته وه، څه سر دي ګرځوم آدم خان هم هلته راغی، آدم خان د لیري درخانۍ ولیده ناره پر کوي:

که زوره د خدای زوره – د درخو ټولۍ راغلې لور د لوره
ما چي ښه فهم پر وکړ – سپینه خوله یې د ګلباټ په توتو توره

درخانۍ په دې ناره ډېره شهیده سوله، ونرمۍ ته یې درد وکی چي خواره سې تا خو به راته ویل چي خوله دي پاکه که، دلته یو لوی کانی و، درخانۍ ځان تر دغه کاڼي نیهام کی خوله پاکوي.

آدم خان ناره پر وکړه:

دوه مین دي یو ځای کېږي – درته وایم نن یې ناز پر خدای قبلېږي
کاڼی زموږ تر منځ رقیب سو – دغه کاڼی دي اوس دوه ټوکره کېږي

وایي چي کاڼی دوه ټوکره سو د درخو سیل یې ښه وکی، آدم خان لمر وهلی تږی سوی و، پر درخانۍ یې ناره وکړه:

درخو نن دي مېلمانه یو – درته وایم مغل نه یو پښتانه یو
ستا په جام کي اوبه راوړه – درخانیه برني د تندي مړه یو

پس له هغه د درخانۍ څخه د مرمرو جام و، شربت یې پکښې جوړ کړه و آدم خان ته یې ورکړه، میرو فکر وکی چي آدم خان د درخانۍ څخه نه ځي او نه باید دی دښمن داره دئ، سپینه ورځ ده یو پسات پېښ نه سي. نو یې ورو آدم خان ته وویل چي مراد دي د درخو دیدن و، ودي کی، اوس نو ښه دا ده چي د دې ځایه ولاړ سو، آدم خان ناعلاجه سو ویل ښه دئ. باره یې د خدای په اماني سره واخیستله، درخانۍ د کور پر خوا رهي سوله آدم خان د کمانګر د کلي پر خوا رهي سو، د کمانګر کلي ته راغله هلته چي شمشال خان کور ته ورغی حسن خان ورته ویل چي آدم خان دوی څه سوله؟ ده ویل چي هغه د کمانګر کره پاته سوله، حسن خان ویل چي چټک به په نیمه شپه پسي غورځې راولې به یې، هغه دښمن داره سړی و تا څنګه پرېښو، څه

سر دي ګرځوم شمشال خان توپ ټک د میان خان کره راغی، ویل آدم خان دوی څه سوله؟ هغه ویل چي پرون تللي دي بیا مي نه دي لیدلي، شمشال خان بیر ته د کلي راووت راتلی آدم خان دوی په مخه ورغله، شمشال خان چي و آدم خان ته وکتل ویل فضل وکې څه نسوي دي، میرو خان ویل چي د خدای کارونه دي خیر دئ. شمشال خان ته یې هغه د درخانۍ څلور وصیتونه وویل چي ته به دمخه چټک ځې د آدم خان پلار ته به دا وصیتونه کوې، د آدم خان ځای په لوړ دالان کی جوړ کئ، او ده له به څوک روغبړ ته نه راځي، د ده حال به نور چا ته نه وایاست، شمشال خان د روه را رهي سو راغی، حسن خان ویل چي آدم خان دوی څه سول؟ ده ورته وویل چي هغه کرار کرار راپسې وه لږ څه ناجوړه و، ټوله بیان یې ورته وکی، آبس پلار او نور خپلوان یې مخې ته راووتل، د آدم خان دوې خوندي وې یوه نیازمنه او بله نازو نومېده، چي نازو یې و قطب خان ته ورکړې وه، لومړی نیازمني ولید چي آدم خان پر آس سپور و کرار کرار راتېکېدی، پښې یې له رکابه ختلي وې نو یې ناره پر وکړه :

په ژړا مو ټول خپلوان دي – د لالا پښې په رکیب کي اوېزان دي
چي لالا دي ژوندی مړ که – درخانیه ته هم ومرې زما د وړاندي

بیا توتیا ناره پر وکړه :

خانه څه کانه دي وکړه – پلار و مور او نور پر تا ما بېګانه کړه
پر درخو باندي مین سوې – د توتیا مینه دي څه لره ایله کړه

حسن خان بږغ پر وکی چي آدم خانه ! هیڅ بږغ یې ورته ونه کی، ټوله په دغه ویر کي وه چي آدم خان یې کور د آسه څخه کښته کی، په لوړ دالان کي یې ځای ور واچاوه ډوب پرېووت، میرو ویل چي هیڅوک به روغبړ نه ورسره کوي، او نه دي د حال پوښتنه ځني کوي، خدای تعالی به یې جوړ کي، که یو هوښیار طبیب مبیب پیدا سو خو ښه که نه وي څوک دي غرض نه په کوي، آول ښه دئ.

درخانۍ هلته د بیلتانه د میني ډوبه پرته ده، باره یې هغه د دې اوستاز ورلره راووست، دم و چو یې پر وکی، درخانۍ پټ و ملا ته وویل چي هم ثواب او هم دنیا ګټې نو زه به د زړه خبر درته وکم، ده ورته ویل چي زه دي

راز پټ ساتم بېغمه اوسه او ستا خدمت پر سر او پر سترګو کوم، درخانۍ ورته ویل چي زه و آدم خان په کوچنیوالي لا چي پر تا مي سبق وایه مین سوي یو، اوس بېل یو، دی هلته د بېلتون د درده رغږي زه دلته، نو که ته ښه کوې دغه ګوتمۍ به یوسې د حسن خان کره به د طبیب پر ډول ورسې، دا ګوتمۍ به و آدم خان ته ورکې زما سلام به پر ووایې حال بې راوړې، هغه به هم خوشحاله سي هم به ډېري روپۍ در کي، ده ویل پر دواړو سترګو.

آبس ملا ګوتمۍ راوخیستله په یوه تراټ راغی د حسن خان د کلا دمخه یې وویل چي زه طبیب یم، د بېهوښۍ د مرض علاج کوم، بلو راغی و حسن خان ته یې وویل چي یو طبیب دئ، حسن خان ویل ورسه رایې وله، طبیب یې راووست نوري ښځي ایسته سولې.

پس له هغه ملا کرم علي پټه ګوتمۍ د جېبه راوکښله د آدم خان په ګوته یې کړه، آدم خان جګ راکښېنوست، ګوتمۍ یې یو ګړی په زړه پوري ونیوله، د زړه سوده یې په وسوله نو یې پر ملا کرم علي ناره وکړه :

ملا راغی وا ، له جنته – درته وایم زه یې جار سم تر همته

زه تر هر قدم بې جار سم – چي راوړې د بي بي درخانۍ ګوته

ملا ناست و چي حسن خان راغی که یې کتل چي آدم خان هم ناست دئ، خبري کوي. نو حسن خان ویل څنګه یې زویه؟ د طبیب دم څه ګټه در ورسوله، آدم خان ناره پر وکړه :

چي زه ښه سوم تر دې منځه – درته وایم سره زر ورکه ته له ګنجه

بابا زړه د طبیب ښه که – ځکه ستا زوی یې نن روغ کی له دې رنځه

پلار یې وویل چي هر څه به ورکړم چي ته خدای جوړ کړې، په دې مابین کي د آدم خان دوی زوړ مریی پیرو نومېدی پر آدم خان یې ناره وکړه:

د خوارانو په زاریه – چي راجوړ سوې له رنځو د ناجوړیه

عنایت پر پیرو وکړه – اوس آزاد که دا پیرو له غلامیه

آدم خان ویل څه پیرو اکا ته مي د خدای پر نام آزاد کړی یې، پس له هغه حسن خان او آدم خان طبیب ته ډېري روپۍ ورکړې آدم خان هم پټه ګوتمۍ ورکړه چي دا به زما د لاس نخښه و درخانۍ ته ورکې، طبیب یې،

رخصت کی برابر راغی و درخانی ته د آدم خان ګوتمی یې ورکړه. درخو په ګوته کړه په زړه پوري یې ونیوله لږ څه یې دمه په وسوله، ملا ته یې ډېري روپۍ ورکړې ملا کرم علي ډېر خوشحاله سو.

یوه ورځ تاوز خان هم نه و، پایو هم ښکار ته ولاړ درخانی ګلنی مینځه و آدم خان ته ور واستوله چي ورسه و آدم خان ته ووایه چي راسه. نو آدم خان یوازي دستي د ګلنی سره را رهي سو، هلته چي پایو ښکار ته تللی دئ په لاره کي یې د یوه خپل تربره سره دعوه وکړه او هغه تربور یې ډېر پېغورونه ورکړي وه چي درخانی دي غوښتې ده نه یې راودوې، هر وخت آدم خان ورته راځي، پایو بیرته د ښکار څخه راوګرځېدی راغی ورته پټ سو، آدم خان چي د درخو په کلا ورننووت پایو خان ولید د غشي وار یې پر وکی ویې ویشت پایو فکر وکی چي ومي ویشت غوځار سو، اوس لا پروت دئ تښته، که راولاړ سو مړ به مي کي، نو پایو ولاړ، آدم خان پر پړکي برسېرن ویشت سوی و، راولاړ سو پر درخو یې ناره وکړه:

درخانیه پوه هوښیاري – چوکیدار دي راته کښېنول پر لاري
چي په غشې وویشتلم – تر پړکي مي ویني ولاړې لاري لاري

بیا درخو وارخطا ورته راغله، ناره یې پر وکړه:

د درخو د غمګي عمري – درته وایم چوکیدار ظالم دي ومري
که مو پیر په کمه نه وي – آدم خان به د پایو د غشي نه مري

آدم خان په جواب کي ناره پر وکړه:

د آدم صورت مي هېښ دئ – درته وایم دی پر هره بلا پېښ دئ
دی مین د سپیني خولې دئ – درخانی نه د چا دوست نه د چا خېښ دئ

درخانی ناره پر کوي:

ته په څو راتلې بیماره – بړ بړ راسه تر سر تېره خریداره
په دیدن که دي څه کېږي – نور به زه تر تا قربان سم په سل واره

لنډه دا چي آدم خان بیرته کور ته ولاړ هغه نیمګړی دیدن یې وکی، پایو خان چي دا حال ولید دستي د واده په بنا کي سو، د واده سامان یې و تاوز خان ته راولېږی، درخانی دستي ګلنی مینځه و آدم خان ته راولېږله،

گلنۍ پر آدم خان د درخانۍ د خواناره وکړه :

ستا دیدن مي ژړوینه - آدم خانه ! اندېښني مي ذرته وړینه
خبر يې که خبر نه يې - د پايو وراګۍ راځي ما ودوینه

آدم خان ویل دا جواب ور وړه :

درخو زما که څه صحت وي - د بلو او د میرو که لږ همت وي
موده تېنګه راته کښېږده - ستا واده به په کم وخت په کم مودت وي

درخانۍ جواب ور ولېږی :

نن زړګی زما غمجن دئ - چي شاهي آدم ویشتلی سربېرن دئ
واده نن یا به سبا وي - د درخو فکر خراب او ډېر کړمن دئ

آدم خان جواب ور ولېږی :

د غم پېټي پر ما اوري - درخانیه صورت مي نه دئ پر له پوري
مه دي وینم درخانیه - چي د بل د ګوتو چاپ سي په تا پوري

دا احوال ګلنۍ ورته راوړی، د واده کار جوړ سو، درخانۍ يې واده کړه چي شپه سوله، درخو پایو خان ته وویل چي لاس مه راوړه که دي لاس راوړی دستي ځان وژنم، ما خوب لیدلی دئ لس ورځي راته وګوره پایو هم ورسره ومنله د درخانۍ یو پخوانی استاز و په دغه کلي کي، احوال يې ور ولېږی، چي یو وار راسه پس له هغه ملا راغی د پایو په غلا درخانۍ ډېري روپۍ ور کړې ورته وې ویل چي دغه زما خط او زما احوال آدم خان لره یوسه، ملا ویل پر سترګو، باره درخانۍ ورته ولیکل :

خانه ځان مي دئ ساتلی - درته وایم پایو لاس نه دئ راوړی
و.پایو وته واده سوم - امانت پالېز مي تا لره ساتلی

نور يې ټوله بیان ورته ولیکی، چي د پایو سره مي لس شپې وعده کړې ده زیاته اختیار لرې. ملا خط او د درخانۍ احوال په یوه تراټ و آدم خان ته راوړ، آدم خان خط ولوست، یو واري ډېر نا امیدي ورته ودرېدله، چي دا څنګه د نامردۍ کار وسو، بیا يې بیر ته خپل زړه ته تسلي ورکړه، و ملا ته يې په جواب کي ولیکل چي زه ښکار ته ځم، چي د ښکار څخه راغلم در به سم. ملا خط راواخیست درخانۍ ته يې راوړی، درخانۍ بیر ته په جواب کي ورته ولیکل :

آدم خانه دلې اوسه – ښکار له مه ځه دغه زما په خبر پوه سه
هر چي ته راوړې له ښکاره – آدم خانه هغه زما له تنه يو سه
ملا بيا خط راوړی، آدم خان په جواب کي ورته وليکل:
بې بي ستا پر لور درځمه – د قدم پر ځای به سترګي لګومه
که مي مرګ نه سي له ميانه – درته وايم بې بي سر به پر تا ږدمه
ملا خط راواخيست درخو لره يې راوړی، درخو ولوست، لږ څه يې زړه ډاډه سو، اوس د آدم خان و راتلو ته ګوري، چي کله به راسي؟
څه سر دي ګرځوم آدم خان پلار ته دا بيان وکی، چي زموږ سره پړه وسوله ښځه يې په سپينو سترګو راځخه واده کړه اوس يې څنګه کوې، پلار يې ويل ټوله دنيا مي ستا ده، زه هم درسره ولاړ يم، آدم خان فکر وکی چي پايو خېل ډېر دي موږ لږ يو، ميرمامي حاجي خېل د آدم خان ماما و، ويل که ماما لره ورسو او هغه څه کومک راسره وکي ښه به سي، نو يې پلار ته وويل چي زما سلا دا ده چي ماما هم راسره ملګری کو ښه به وي، آول ښه دئ.
آبس تا ته مي دي وويل سي آدم خان پر خپلو يارانو او نورو مټه خېلو بڼغ وکی چي ځان تيار کئ، ټوله يو دم تيار سوله راغله د مير مامي کره، ميرمامي ډېر بخيل سړی و، تل به يې په زړه يوه بخوله بله وه، خو مخامخ يې هر کلی وکی، په زړه کي يې ورځي وځړېدلې، وروسته حسن خان و آدم خان بيان ورته وکی چي موږ تالره راغلي يو ته به په دې مرېله کي څه کومک راسره کوې، موږ ځو درخانۍ راولو، ميرمامي جنه جنه کړله چي د يوسفزو ډېري ښځي به کونډي او ډېري مندي به بوري سي، زما خو نه ده خوښه.
کوجر خان د ميرمامي زوی و او د آدم خان زړه ته تېر يار و، و پلار ته يې خشکه وکړه چي دا خو يو پېغور دئ چي مخامخ يې ښځه راځخه بوتله موږ ورته ګورو، يه نو موږ بايد په کلکه ورسره ودرېږو، ميرمامي هم ناچاره سو ويل ښه دئ. آدم خان ورته ويل چي ته به درې سوه سپاره ځوانان راکې، چي هسي زموږ شاکي وي، نور جنګ موږ کوو، ده ورته ويل زه سل تنه نه لرم ته درې سوه تنه غواړې، ميرو خان و آدم خان ته وويل چي دوی د نس تابع دي، يو غويی ور حلال که، چي په نس ماړه سي ټوله درسره ځي آدم خان هم د يوه پر ځای درې غوايي حلال کړه پاخه يې کړه د ميرمامي ټوله تېبو يې

باندي مېلمانه کړه، چي ډوډۍ يې وخوړله، نو آدم خان دوی سپاره سوله، کرم علي يې دمخه ور واستاوه چي ورسه درخانۍ خبره کړه ورته وا آدم خان د چشمې پر چينه ناست دئ راووزه راځه، کرم علي د روه راغی پر درخانۍ يې ناره وکړه :

بي بي زېړی مي دربانديِ – درته وايم ژر سه سم که خپل سامان دي
آدم خان پر چينه ناست و – درته وايم شين مجلون نيلی تړلانديِ

څه سر دي ګرځوم درخو دلته په کار و بار اخته سوله، آدم خان او نور ياران او تربرونه يې چي را رهي کېدله حاجي خپلو فکر وکی چي دا وړنه ده چي موږ ورسره ولاړ نه سو، نمک مو هم وخوړ، باره ګوجرخان ږغ وکی چي څه کوئ؟ دوی ويل موږ هم تيار يو، آبس حاجي خپل يعني د مير مامي عزيزان هم پر آسو سپاره سوله د آدم خان سره را رهي سوله. چي وچي کندي ته راغله آدم خان دوی ته وويل چي تاسي په دغه وچه کنده کي ودرېږئ موږ به ور دمخه سو، دوی دلته ودرېدله آدم خان او بلو او نور ياران يې راغله چينې لره، پر چينه معطل سوه، درخو ژر خپل سامان او ګېڼه په بخچه کي وپېچله نرمۍ ته يې ورکړه، دواړي د کوره راووتلې برابر مخ د چينې پر خوا را رهي سولې، آدم خان چي د ليري درخو وليدله ناره پر کوي :

راغله راغله را روانه – خدايه مې کړې پر دا کړي داد پښېمانه
په ميدان کي به لاس راکي – درخانۍ د تاوس لور ده پهلوانه

آدم خان خپل ياران پرېښوه، ور دمخه سو، ورغی درخانۍ لره، و يوه دېوال ته يې مجلون ودراوه، چي سپره سه، دا چي سپرېدله مجلون پر شا سو ولاړ درخانۍ ناره پر وکړه :

تا مجلون نه دئ ساتلی – درته وايم ښه دي نه دئ پوهولی
که و ما و ته تن راکي – آدم خانه پر دلدل دئ ما شمېرلی

آدم خان پر مجلون ناره کوي :

ما دي تينګ کړله تانګونه – ستا خورک وې شيدو پې په لذتونه
د درخو څه دي تن وکېښ – د دې دواړو پښو دي ولوېږه نالونه

باره درخانۍ په آدم خان پسي سپره سوله، درخانۍ ويل چي نرمۍ راپسې ده يو اعتباري سړی ور واستوه بخچه هم ورځخه ده، آدم خان ميرو

ورولېږی، نرمۍ چي میرو ولید ویې پېژانده، ویل درخانۍ څه سوه میرو ویل هغه آدم خان بوتله، سپرېږه وخت د خبرو نه دئ، دا یې سپره کړه آدم خان او بلو او میرو درو سرو اسان را پونده کړه برابر یې درخانۍ راوستله د میرمامي کره یې کښته کړله، چي نن او سبا هوسا سونو به کور ته ځو، پر لاري د میرو او نرمۍ مینه سره پیدا سوې وه چي کور ته راغی پر آدم خان یې ناره وکړه :

ثنا ډېره د مولا ده – درته وایم نرمۍ سترګه د سبا ده

بي بي ستا ده آدم خانه – درته وایم دا نرمۍ دایي زما ده

نرمۍ بد یووړه په جواب کي یې ناره وکړه :

ګل ویل دي پر بل پېر دي – میرو ګیه ستا ویل زهرګنډهېر دي

ته تېر مه وایه چوریه – میرو تا غوندي مریي په بیع ډېر دي

آدم خان پر میرو درد وکی، چي ته خو وده چي موږ پر کراره سو، خدای خبر لا څه پېښ سي، بیا به یې ګورو، پایو چي کور ته ورغی خبر سو چي آدم خان لښکر راکړی و درخانۍ یې بوتله، دستي یې څلور زره لښکر تیار کی، فکر یې وکی چي میرمامي هم ورسره ولاړ دئ زوره ور سړی دئ په قوم کي پر ما ډېر دئ، نو څو زره روپۍ یو آس یو مریی یې پټ د مرکې په لاس ورکړه چي دا یوسئ میرمامي ته یې په رشوت کي ورکئ، مرکه راغله پټ یې و میرمامي ته رشوت ورکی، میرمامي ویل چي جنګ ته حاجت پېښ نه سي زه به یې لاس تړلې په لاس درکم، آدم خان ښکار لره تللی و، په دغه مرکه او رشوت نرمۍ دایي خبره سوله و درخانۍ ته یې حال ووایه، درخانۍ ډېره خوابدې سوله، آدم خان په غره کي پر یوه کبلي وار وکی، غشی یې ختا ولاړ ناره یې وکړه :

ورځ مي بله کېږي – لویه خدایه که درخو له ما بېلېږي

زما غشی باوري و – باوري غشی مي ولي ختا کېږي

یو کوچنی ګوروان و، په دغه معامله خبر و د آدم خان ناره چي یې واورېدله، ده ناره پر وکړه :

آدم خان په ښکار روان دئ – درته وایم دا کبلی درته ګویان دئ

ته به زما له غوښو څه خورې – د درخو محل خالي بتي بیبان دئ

دستي لالهانده له ښکاره راوګرځېدي چي راغی د درخانۍ د بېلتون هیبت پر تېر سو، د درخانۍ په غېږ کي ور ولوېدی، بېهوښه پرېووت، درخانۍ ناره پر وکړه :

خوب دي زنګوینه – آدم خانه که دي پرېشانۍ وهینه
سر راپورته که له خوبه – میر مامي اسي پر ما کور بدي شمېرینه

درخانۍ حال و آدم خان ته ووایه، په لښکر لا نه دئ خبر، نو د آدم خان زړه ته نه لوېده، په جواب کي یې ناره پر وکړه :

خوب مي زنګوینه – درخانیه پرېشاني مي درته وړینه
میر مامي زما ماما دئ – دا ماما به خوریي څنګه خواروینه

یو ګړی باد حال ورته راغی چي پایو خان څو زره لښکر راوستلی دئ، دا دئ نژدې کلي ته راغله، آدم خان ویل وینې که یې درخو په رشوت په لاس ورکولای، نو لښکر ته څه حاجت و، دستي راولاړ سو مجلون یې ځیناوه، ناره یې پر وکړه :

اې زما آسه مجلونه – درته وایم زه دي ټینګ ترم تانګونه
ما اغوستې زنګي زغره – د غلیم پر تندي پاس ږده قدمونه

زغره یې واغوستله پر آس سپور سو، درخانۍ ته یې ویل د خدای په امان، پر درخانۍ یې ناره وکړه :

په دیدن به دي زه ویاړم – اوس سپاهي سوم تېرو تورو له زه ولاړم
د دنیا دیدن دي څه کړم – ستا دیدن به په قیامت له خدایه غواړم

درخانۍ ناره پسي وکړه :

که د خوارو په دعا سي – آدم خان دي سلامت تر کوره راسي
د صاحب دي ورته مخ وي – درته وایم د غلیم دي ورته شا سي

آدم خان چي ووت دستي میر مامي ورغی، درخانۍ لره، درخانۍ ناره پر وکړه:

ما خبري اروېدلي – د درخو پر زړګي بدي لګېدلي
خلک هسي راته وایي – چي دي میر مامي بدي خوړلي

میر مامي ناره پر وکړه :

د وینو که باران سي – مځکه ټوله تکه شنه لکه آسمان سي
ور به دي نه کړم درخانیه – که د ننګ زلمي مي ټوله پکښي زیان سي

د دې لړ څه زړه آرام سو، میر مامي ویل که دي زړه دربیږي درخه د ګوجر خان د مور سره کښینه، درخانۍ چې ولاړه سوله تر خوني ووتله، دوولس تنه سپاره ولاړ وه، میر مامي ویل دغه درخانۍ ده سپروئ یاستې، څوک نسته، هغو هم دستي پر آس په زوره سپره کړه، درخانۍ دا آخره ناره پر میر مامي وکړه، نو یې بوتله :

یوسف زي دي لوی مړونه –لاس تړلې په لاس ورکړم میرمامي په رشوتونه

لوی رنځ دې په کوړمه سي –د اکبر په بند دې کښېوزي ټول تربرونه

وایي چې د درخانۍ ښرا قبوله سوله، په هغو شپو کي محسن خان د اکبر باچا صوبه دار و، میر مامي او نور یې مړه کړه، او تر اوسه یې په کورنۍ کي نری رنځ سته.

ګوجر خان چې کور ته راغی و پلار ته یې ویل چې دا خلک څوک وه، چې ښځه یې سپره کړې وه ولاړه؟ ده ورته ویل چې پایوګي نر او ښځي مرکه رالېږلې وه قبوله مي نه کړه بیرته ولاړه. د ګوجر خان مریی و، ګوجر خان ته یې نکل وکی چې درخانۍ یې په لاس ورکړه، ګوجر خان په میر مامي پسي توره لښته کړه، څو واره یې پر وکړه ځني خطا سوله، نه پر ومښتله، میر مامي په وچ تاخت ځني ولاړ پټ سو. پر لاري آدم خان لا د پایو لښکر ته نه و رسېدلی، چې خبر سو چې درخانۍ یې لاس تړلې په لاس ورکړه پایو بوتله، بیرته راوګرځېدی چې اول خو میر مامي مړ کم، نو یاران به هم سره راوړغوم، نو به جنګ ته راووزو، چې راغی هیڅوک نسته یوازي ګوجر خان په سرای کي ولاړ دئ توره یې کښلې ده. آدم خان ویل څه نکل دئ؟ ګوجر خان نکل ورته وکی، چې درخانۍ یې بوتله، میر مامي بې ننګه راڅخه وتښتېدی، که نه وي سر به یې اوس ستا د مخه پروت وای، ده ویل آفرین دي وي خیر دئ.

څه سر دي ګرځوم آدم خان او ګوجر خان د حسن خان دوی کره راغله، بلو او میرو او شمشال خان او اخلاص خان و خوشحال خان و تتر خان او نور مته خېل خبر سوله، ځانونه یې تیار کړه، آدم خان پر مجلون سپور سو، بلو پر خپل آس آذر سپور سو، میرو پر خپل آس پرده سپور سو، دوی درې دمخه سوله د آدم خان زوی میرباش او ګل جان چې د شمشال خان

زوی و، د دوی پر یوه اړخ او پر بل اړخ پر اسانو سپاره وه، د وروسته دا نور مشران او یاران پسې تله، د کور ښځو ټولو د نارینه و کالي واغوستله، توتیا د آدم خان ماینه او مینا د میرباش ماینه د آدم خان پر اړخ تلې، د بلو خان ماینه چې لیلو نومېده هم ورسره وه، هله هله دا دي د پایو لښکر ته راورسېدله، بلو خان ناره وکړه:

اې زما آسه آذره – داسې ګرځه لکه تند باد د زلزله

دوه په پښو یو په خوله نسه – د دا نورو پر سرو باندې ورځغله

باره توره یې وکښله د پایو پر لښکرو ور ګډ سو، آذر یې پر ور رهې کې وې وهله وې وهل، آدم خان بلو یار ولید چې په وینو سور و، آدم خان ناره پر وکړه:

آذر لښته لښته کېږي – د ګولیو او د تورو نه بېرېږي

ته راووزه بلو یاره – یو ګړی دمه کړه میرو ګډېږي

بلو یار د جنګ د مینځه راووت یوویشت ټپه یې وهل سوی و، په وینو کې لژند و، بیا میرو په خوله بر پتونه چخ کړه، یا علي مدت یې کړه، په لښکر ور ګډ سو، آدم خان ناره پر وکړه:

میرو یاره چابک دسته – در ته وایم تر چټې وتلې مسته

بلو یار مې ځان ټپي کې – دښمن وله ځان ساته د دوی له دسته

د میرو د توري خرپ و چې میرباش او ګلجان په ور ګډ سوله، آدم خان پر میرباش ناره وکړه:

میرباشه زویه ګله – په دا جنګ ځنګه ګرځې بې تحمله

د ځوانانو پر ځنګ ګرځه – که نه ستا و د جنګ څه و له ما دله

وروسته یې شمشال خان ولید چې داسې په خرپ توره وهي، چې توبه! آدم خان چې داسې وکتل پر ګلجان باندې څو کسه راګرځېدلي وه ایسار کړي یې و، آدم خان پر شمشال خان ناره وکړه:

شمشال خان کوي جنګونه – چې له مخه یې نړېږي ډېر پوځونه

دا د مخ ټولې له ورسه – دا ښکارېږي د ګلجان سپین مړوندونه

شمشال خان د جنګ په خولو کې ډوب و، نه یې واروېدله، بلو خان په دغه زخمي صورت ور وغورځېدی د پوځ په منځ کې ور ولوېدی غرغړه یې

پر وکړه ټوله يې وارخطا کړه، گلجان يې د سپرو له منځه راويوست، آدم خان ډېر آفرن ورکي، وروسته آدم خان وويل چي بلو ياره پر ځوانانو بړغ کوه وخت کوتا دئ، زما وار دئ، بلو خان ويل ته مه په گډېږه، موږ که مړه سو باک مو نسته، او ته خو مو سر يې سر چي پرې سي تن هيڅ نه سي کولای، آدم خان ونه منله پر مجلون سپور سو ناره يې وکړه :

اې زما آسه مجلونه – چي خورک دي شيدې وې بل شربتونه

د درخو پر اوربل جنگ دئ – د غليم پر تندي پاس ږده قدمونه

آدم خان پـه ورگډ سو، غليم يې داسي ورژول لکه ترخې منـدکي، مجلون لغتي هم غور ځولې خولې يې هم لکولې د پايو لښکر د مجلون آس څخه په عذاب سوله، ټولو مخ پر آدم خان او آس ور ورگرځاوه، د آدم خان آس په نېزو ووهل سو، لږ څه سست سو، آدم خان فکر وکی چي مازديگر او تاريکه سوله، بلو هم ټپي سو، آس مي هم د کاره ووت، دوی ډېر دي موږ لږ يو د جنگه راووت. د پايو د لښکر څخه په سوو مړه سوه، د آدم خان د خوا هم څلوېښت پنځوس کسه مټه خپل مړه سوله، جنگ يې بس کی چي سبا به ځان ورته هوسا کو بيا به يې گورو، باره د پايو لښکر پر هغه خوا ولاړه، آدم خان دوی د کور پر خوا را رهي سوله کور ته راغله، د بلو پر ټپو يې دوا ور کښېښووله، ور وې گنډله، ويل چي هر وخت ته جوړ سې نو به بيا د پايو پر کلا ورځو.

څه سر دي گرځوم ورورہ ! ځو ورځې باد بلوخان و آدم خان ته وويل چي خانه جوړ يم، درځه چي پر ورسو، آدم خان ويل چي ته پر دغه آس سپور سه ويې گرځوه، چي څنگه يې؟ بلوخان چي پر آس سپور سو چي دوه گښته يې ورکړه پر دريم يې آه کړه ويل در کښته مي کـه آدم خان چي راکښته کی ټپونه يې تازه گنډلي وه، ښه نه وه جوړ سوي، سره وشلېدله، يو گړی پروت و باره يې نفس وخوت مړ سو.

بلو خان چي مړ سو آدم خان ته لا قهر ورغی، بله ورځ له خپلو زلميانو سره جنگ ته رهي سو، تر ماپښينه وجنگېدی، په پای کي يې ډېر زلميان مړه سوه، آدم خان هم ډير ټپونه واخيستل، د کاره ولوېدی، او پـه خورا تکليف يې ځان تر خپل ځايه راورساوه، او مازديگر مړ سو.

میرو بغاري کړي ناره یې وکړه :

د زړه ویني مي بهېږي – د بهو سر له چي راسي اوبه کېږي
ننداړو لره یې راسئ – آدم خان د لحد خاوري سو رژېږي

لنډه دا چي یارانو او خپلوانو یې چي هر څونه پر ژړلي وي پر ژړلي به یې وي، آدم خان ته یې غسل و کفن ورکی پر دښت یې د سیند پر غاړه ښخ کی، دا خبر پایو لره ورغی ډېر خوشحاله سو، اوس یې نو زړه بېغمه سو.

څه سر دي ګرځوم په دې مابین کي یوه مینځه وه ولاړه د درخانۍ کره، درخانۍ او نرمۍ په باغ کي ګرځېدې ډول ډول ګلان یې پرېکوله، ګېډۍ یې د آدم خان له پاره جوړوله، مینځه باغ له ورغله نابېره یې د غم ناره پر درخو وکړه:

نن توتیان ټول په ماڼه دي – درته وایم له یوه سرایه و بل ته په واته دي
و قیامت لره یې بولي – آدم خان غوندي زلمي رواڼ په تله دي

درخانۍ آه کړه ! نرمۍ ته یې وویل چي دا څه ناره مي تر غوږ سوله؟
نرمۍ ویل هغي مینځي وکړه، درخانۍ پر مینځي ناره وکړه :

زه نه اروم کښه سوم – درته وایم په تور لېمه رنده سوم
نژدې راسه راته وایه – په کوګل کي دي زه وویشتم زده سوم

مینځه نژدې راغله ناره یې پر وکړه :

درخانۍ خواره به څه کي – چي ګلونه پرې کوې توکي په توکي
آدم خان تر دنیا تېر سو – درخانۍ ګوره ګلونه د خیال څه کي

دا ناره چي درخانۍ واروېدله بغاري یې کړې، په لاس کي یې ګلان مړاوي سوله، په ژړا کي یې ناره وکړه :

زما د صبر برخه لویه – جدا کېږم د پردي موري له زویه
که مو مینه په رښتیا وه – یاره زه درپسي درغلم په پویه

پس له هغه دستي دا او نرمۍ د باغه څخه راووتلې راغلې کور ته، درخانۍ پر پایو خان ناره وکړه :

که پاکه پایو پاکه – ما نن ور وله د ښېر آدم تر خاکه
له دې پاله دي خوریم – د هغې پاله دي نجل یم په زړه پاکه

پایو فکر وکی چي آدم خان خو مړ سو، که یې ور نه ولم عمري به مي

اوقات ورسره تریخ وي او که یې ور ولم څه د زړه تسلی به یې وسي، صبر به یې سي، باره دستي یې اوښ را تېر کی، درخانۍ او نرمۍ یې دواړي پر سپرې کړې، برابر یې د آدم خان قبر لره راوستلې چې کښته یې کړلې، درخو ورغله د آدم خان قبر یې په غېږ کي ونیو، دعا یې و خدای ته وکړه چې زه نور ژوند نه غواړم، دعا یې خدای قبول کړه پر هغه قبر یې نفس وخوت، مړه سوله، نرمۍ چې درخانۍ ولیده چې مړه سوله دا ناره یې وکړه :

زه و بي بي له یوه اصله –لویه ربه دا اصیله زه کم اصله

که مو مینه په رشتیا وه –ربه ما هم په دغه دم کړې ور وصله

د نرمۍ خواست هم خدای قبول کړی، پایو چې راغی که یې کتل چې درخانۍ د قبر یوه څنګ ته او نرمۍ یې بل څنګ ته مړې پر تې دي، نو دا اخیره ناره پایو وکړه:

د درخو مي هسي غاړه –لویه خدایه لکه بله نجل ولاړه

د دوی مینه په رشتیا وه –د آدم پر قبر وغځېده ولاړه

درخانۍ یې د آدم خان سره په یوه قبر کي ښخه کړه، یو میرو پاته سو، هغه خو هم د درخانۍ وصیت نه کی پر ځای چې ورته ویلي یې وه چې زه و آدم خان چې مړه سو ته هندوستان ته ولاړ سه، که نه وي ړوند به سې، نو په دغه سبب یې هاغه بله ستر ګه هم ړنده سوله، یو لنګري نومېده مزدور یې و، هغه به تر لکړه نیولی و ګرځاوه به یې، نو ده او لنګري به و هر چا ته د آدم خان او درخانۍ نکل کاوه، څو په آخر دوی هم خدای وژلي وه مړه سوه.

قلندر جان او میرا جان

ته وا ښه !

چې و، یو غټ خان او یا سوداګر و، څوک وایې باچا و، څلور یې زامن وه، درې زامن یې د یوې مایني څخه وه، یو زوی یې د بلې ګرانې مایني څخه و، د دې ګرانې مایني د زوی نوم "قلندر جان" و، دا قلندر جان تر ټولو کشر دئ، پر باچا خورا ګران دئ. خورا یې نازوی، خورا هوښیار هلک دئ، کارونه د خدای وه پلار یې مړ سو، دی او مور پاته سوه، د ورونو یې د پلار په ژوند لا زړه ورته ډک و، چې پلار یې مړ سو، باره یې بد ورسره کوله، ترا ټه یې، کارونه به یې لکه مزدور په کوله، د مور سره یې هم خورا بد کول، قلندر جان په څو ورځو کې تارونار سو، رنګ یې تک ژړ سو، د پلار نازولی زوی و، کله یې دا خوارې ګلولای سوای، د قلندر جان مور فکر وکی چې زما سره هم بد کوي، د زوی سره مې هم بد کوي، وچکلک سو، سبا به یې مړ کې دغه یو زوی مې دئ، زه به یوازې پاته سم، دونه څوک به نه لرم چې سترګې مې په روڼې وي، نو یې قلندر جان ته وویل چې خدای ساتندویه دئ، راځه که دې خوښه ده د دې کور او وطنه څخه به ولاړ سو، نه چې ورونه دې دښمنان دې سبا به دې مړ کې، یا به بل چم در وکې، اوس مې لا په تا سترګې روڼې دي، نو دا کور به ورپرېږدو بل ولات ته به ولاړ سو.

قلندر جان ویل ښه دئ ادې جانې ! چې ستا خوښه ده زما خوښه ده، درځه توکل پر پاک خدای دئ. چې ماښام سو، خورجین یې د بتکیو ډک کې خپل آس یې ځین کی، دی او مور پر آس سپاره سوله، په نیمه شپه د کوره پټ راووتله، را رهې سوله. هله هله دغه شپه دا بله ورځ یې مزل وکی دا دې یو بل ولات ته راشوه سوله، په یوه کلي کې یې په یوه سرای کې واړول، قلندر جان خو د ښکار شوقي و، په هیڅ کې یې چرت نه واهه، ښکار

ته يې لاس ورته کی، ښکار کوي.

يوه ورځ يې غشی او لينده راواخيستله د کوره راووت، يو مسجد دئ په مسجد کې يوه درخته ده، په درخته کې يوه کوتره ناسته ده، پر دې کوتره يې واری وکی، وې ويشتله، غشی او کوتره دواړه په مسجد کې ولوېدله، قلندر جان مسجد ته پسې ور واووښت چې غشی او کوتره واخلي، که يې کتل چې په مسجد کې يو زلمی ناست دئ، ځکه چې دا سړی هم د ښه خوی او ښو اخلاقو خاوند و، نو د ده آشنای او ملګری سو، د دې ځلمي نوم "ميراجان" دئ، د يوه غټ خان زوی دئ، چې قلندر جان يې هم ملګری سو. وروسته يې د زړه حال سره ووايه، د وروری لاس يې سره ورکی، آبس قلندر جان دستي راغی مور ته يې وويل چې زه هم په مسجد کې پر ملا صاحب سبق شروع کوم. مور يې هم ويل ډېر ښه دئ، تر دې لا بل ښه ساعت چيري دئ چې ته سبق وايې، تر ايله او بېکاره ګرځېدو خو سبق ښه دئ، دستي يې يوه سيپاره رانيوله، ورغی ملا ته چې زه سبق شروع کوم، سبق وايم ما ته سبق راشروع که. ملا هم ويل ښه دئ، دلته قلندر او ميرا ډېر سره خواږه وه، لکه دوه وروڼه او يا سره ګران ملګري په سبق ويلو بوخت وه، او دا دوه اشنايان به کورته نه سره جلا کېده.

دوی به يو ځای په باغو او دښتو کې سره ګرزېده، مېلې به يې کولې، دواړه سره خواخوږي ملګري وه. مګر زمانه هر کله پر يوه ډول نه وي، کله کله خواږه آشنايان هم سره بېلوي، او دوی سره خپه کوي، يوه ورځ دواړه ملګري په يوه باغ کې د پلک تر درختي لاندې ناست وه، او داسي يوه خبره له قلندر څخه وسوه، چې د ميرا خوا په بده سوه، او دا يې په زړه کې ټينګه کړه، چې له ده څخه بېل سي، نو ميرا په دغه نيت رهي سو، او د بېلتانه پر خوا يې مخ ونيو. قلندر چې هر څه عذر وکی خو ميرا غوږنه پر ونيو ځني ولاړ، قلندر جان د زړه د تاوه پر درختي ناره وکړه:

که درختي درختي د پلک درختي
آشنا مي ولاړی سومه بدبختـــي
که مي دوستان دي که دښمنان دي
د دوی به راسي مــــا لره سختـــي

چي يعني د دوستانو او دښمنانو له خوا به سختي خبري او پېغورونه داسي به وايي چي ميراجان څنګه ولاړ؟ نو اې درختي دا خو ګرده ستا بدبختي وه.

څه سر د ګرځوم ميراجان د سترګو نه دئ نيهام سوی قلندر جان په پسې دئ بيا يې ناره پر وکړه :

که راسه راسه دلـــبره راسه
زه دي غـــلام يم ته مي آغـــا سه
يار دي پر شوخو سترګو مين کړم
بيا راته وايې له مـــا جـــلا سه

ميراجان هيڅ چرت نه پکښې وواهه، لا ځني چابک سو، د قلندر جان زړه ته ولوېده چي اوس نو ولاړ، جدايي او بېلتون دئ، خورا زور يې ورکی ناره يې وکړه:

پاس پر تندي مي آســــمان نړېږي
له تاوه جــوشه ماغزه مي لـــوېږي
قيامت خو اوس دئ په دا زمان کي
له قلـــــندره مـــيرا بېلـــېږي

قلندر جان فکر وکی، چي ولاړ درڅخه، باره ويل يې زما دي نو هم ژوند دلته خاوري سي، پايڅې يې پسي راپورته کړې پسي برغ يې کړه چي تر مرګه دي ولاکه پسي پرېږدم چي هر ځای ځې زه درپسې يم، پسي را الا يې کړه، ميراجان دمخه دئ، قلندر جان په پسې دئ، چي تر کلي راووتله قلندر جان مخ د کلي و خوا ته راوګرځاوه ناره يې وکړه :

که ولاړو ولاړو له کندو کښې
زما يارانو زما دوســــتانو
دعا د خـــير راپسي کاندئ
خدای خبر دئ چي بيا به راسو

بيرته يې مخ د ميراجان پر خوا راوګرځاوه، پسي را الا يې کړه، هله هله ځو لمر ولوېدی، تر سترګو لا نه دئ ځني نيهام سوی، هر څه نارې چي پسي کوي هغه نه برغ کوي نه مخ ورته راګرځوي، ځان يې کوڼ اچولی دئ

ځي، قلندر جان بیا د زړه د تاوه ناره وکړه :

که دوري دوري د فلک دوري
زړه مي چوي دا ستا بې غوري
یار مي جلا سو نه راستنېږي
زما دا سوي ناري نه اوري

څه سر دي ګرځوم ماښام سو تیاره سوه، میراجان د سترګو ځني نیهام سو، ورک سو. په دغه تور ماښام په لټي پښې پر هغه رَوده چي میراجان ځني ولاړ ورک سو ځي، دا ګرده شپه یې پر دغه بټي بېبان مزل وکی وکی، هله هله وړی تړی څو سهار سو، لمر راوخوت، وړی دئ، تړی دئ، ټوکر ټوکر دئ، میراجان ورک سو، دغه ورځ یې پسي راواخیستله، پر لاري دغه د لارویانو و پلو ته ګوري، چي دا پل به د میراجان وي، دا پل به د میراجان وي، خاوري یې اخلي په سترګو پوري یې مږي، د دغه هر پل خاوري اخلي مچوي یې په سترګو پوري یې مږي[1]، چي څوک پر لاري په مخه ورځي، دی ورته وایي چي میراجان دي نه دئ لیدلی؟ میراجان دي نه دئ لیدلی؟ میراجان څه سو، بېخي لکه لېونی داسي سو، سترګي یې د ژړا د لاسه تکي سرې سولې، بیا پر ماښام سو، د ماښام د آذانو وخت دئ، شپانه مېږي او رمه رهي کړې ده، کور ته یې بیایي، قلندر جان پر دغو مېږو ناره وکړه :

مېږي لا ښې دي چي مخ پر کور ځي
بد قلندر دئ چي مخ پر چـول ځي
چول مي پر غبرګو سترګو قبول دئ
تر چول بدتر وای د یار بېلتون دئ

څو څه سر دي ګرځوم څو شواروزه یې د شپې او د ورځي مزل وکی پسې، هله هله څو یوه ورځ یو لاروی په مخه ورغی ده ورته ویل چي میراجان

---

[1] په دېوان کي هم و دې حالت ته اشاره کوي، وایي :

هغه خاوري به رانجه کړم زه د سترګو
چي اشنای ورباندي ایښی خپل قدم دئ

دي نه دئ ليدلی، لاروي ورته وويل چي ميراجان په سوات کي و، مګر هلته يې ويل چي داسي قلندر جان نومېږي، داسي رنګ يې دئ، داسي دئ، که چيري دې کلي ته راغی نو ما مه ور ښياست، ورته وواياست چي په دې کلي کي نسته او نه يې مور پېژنو، زه د ده څخه پټ راتښتېدلی يم، دا چي قلندر جان واروېدله، دغسي يې دوې پښې داغه کړې دوې يې نوري کړې مخ د سوات پر خوا را رهي سو[2]، هله هله مزل پر مزل د نکل کار دئ معطلي نسته، دا دئ سوات ته راورسېدی، د ميراجان څرک يې پټ ويوست، چا ورته وويل چي په پلاني مسجد کي يو ماخستن بل ماخستن وي، لمانځه ته راځي، د ورځي پټ وي نه يې سې پيدا کولای، قلندر جان ماښام راغی په دغه مسجد کي منتظر سو پټ سو و زړه ته وايي چي ماخستن ميراجان راغی زه به يې تر لاس ونيسم.

خو هر څوني چي يې ورته وکتل، ميراجان رانه غی، او هلته خلکو اور بل کړی و، قلندر چي هغه اور وليدی، د خپل زړه اور يې هم تند سو، ناره يې وکړه:

که اور دئ اور دئ هجرانه اور دئ
زه قلـندر يم پکښې مي کور دئ
د اور په سونګ وی د چـا رضا ده
رضـا مي نه ده راباندي زور دئ

وروسته قلندر راغی او د سوات پر غونډۍ يې يو پل وموند، او هورې ورته کښېنوست، ملګری خو يې ورک سو، نو يې پر دغه پله هم سکته

---

[2] په دېوان کي هم وايي

چي مـيرا درسره نه وي قلـندره
ته چي سوات لره ورځې عذر دي کم
قلندر په کمه پزه ولاړ سي سوات له
چي ميرا يې هـمرا نه وي عذر کم
مـيرا صاحـبه خـبر يې واخله
قلندر درومي نيت يې د سوات سي

وکړله او د ده پر پله یې شاوخوا ګلان وکرل، نهالونه یې شنه کړه، دلته یې یوه کوچنۍ کوډله جوړه کړه پکښې اوسېدی، د بېلتانه غمونه یې ګالل. میراجان ولاړ هندوستان ته هلته یې د بېلتون غمونه تېرو له.

لنډه دا چې څو عمر باد قلندر جان ناجوړه سو، د میراجان بېلتون او غم غلبه پر وکړه، د میراجان د غمه نه څه خوري نه څه څښي، فقط د ده د پله دیدن یې قوت و، داسي سو لکه نل، یوه شپه یې تر سهاره د میراجان د بېلتانه د غمه څخه وژړل، وژړل خوب نه ورتی، چي سهار صبح صادق سو د سهار نری شمال راوالوت، قلندر جان د کوډلي څخه راووت بل قاصد نه و، چي ورلېږلی یې وای، پر باد یې ناره وکړه:

که باده باده د سهار باده
بې پروا ذرومې له ما نابشاده
مدار دي نسته چي ودرېږې
پر میرا جان مي ډېر سلام وایه

چا چي جامونه د میني څښلي دي
ننګ و ناموس یې دواړه پرې ایښي دي
که هند له تللی میراجان راسي
څو صدقې مي ورباندي ایښي دي (۳)

څه سر دي ګرځوم، خو بیرته راغی په کوډل ننوت، اوس نو بېخي ضعیفه سوی غوښاشکي وهي، دغه ورځ هم تېره سوه ماښام د غم په کوډل کي یوازي پروت دئ، یوازي د میراجان یاد ورسره سته،

---

(۳) په دېوان کي وايي:

نصیب راوکړې چاري ناپسندي
د سند پر غاړه مړ سوم د تندي
میرا که راسي د هند له لوري
هلته به وایم نصیبه رندې

ناجوړي او ضعف او بېلتون يې سخت سو، د ډېره عذابه او خوارۍ څخه يې ناره وکړه :

پاس پر تندي مي آسمان نړېږي
له تاوه جوشه ماغزه مي لوېږي
که ته رادرومې تلوار پر وکه
په تش کاته دي رنځور ښه کېږي (۴)

چې نيمه شپه سوه سپوږمۍ راپورته سوله، د کوډلي تر سوريو يې وړانګي ور ولوېدې، ستوني ستخ پروت دئ، پر ستر ګو يې د سپوږمۍ رڼا برابره سوله، بل قاصد بيا نه و، چې ميراجان ته يې حال ور استولی وای، نو يې پر سپوږمۍ ناره وکړه:

که سپيني سپيني سپوږميه سپيني
احوال مي يوسه د يار تر سيمي
پر ميراجان مي سلام ووايه
قلندر خوري وای د زړګي ويني

دا ناره يې وکړه بيرته ډوب ولاړ، هله هله څو د سهار ګاه خوا سوله د ځکندن سوګلۍ ورته ودرېدلې، د ښو د خواږې سا راتوله سوې ده، ستر ګو يې شنه پېروي نيولي دي، اوس نو څه نه ويني آخره يې ده، مګر بيا هم د ځکندن بيداري ده د مخه څخه يې د سهار شمال وموښت، نو يې پر باد ناره وکړه :

د سهار باده خوشبو نسيمه
احوال مي يوسه د يار تر سيمه

---

(۴) په دېوان کي وايي :

د رب دپاره کاغذه ورسه
هغه اشنای ته په نارو سر سه
چې تا ويشتلی قلندر پروت دئ
پر زکندن يې تلقين له ورسه

پر یار مي عرض کړه د خدای دپاره
د یار دي شنه سوه د سترګو سپینه[5]

د سهار باده خوشبو نسیمه
احوال مي یوسه د یار تر سیمه
ورته مي عرض کړه د رب دپاره
هجران خسته کړه په زړه دوه نیمه

میراجان چیري دئ؟ د یوې خوا د بېلتانه غم دئ، د بلي خوا د ځکندن خوارۍ او غم دئ، ډېره پر سخته ده، باره دا آخري ناره یې وکړه :

زه دي په اور کي د هجران وسوم
که مي ته خلاص کې له دې جحیمه
یا قلندر کړې له میرا وصل
یا یې په ګور کړې رب الرحیمه

دا اوستړۍ ناره یې وکړه، د میراجان د وصل خواست یې نه سو قبول، د ګور خواست یې قبول سو، اوه یې کړه نفس یې والوت، مړ سو. خدای دې وبخښي، دلته نو لمر راوخوت خلک په خبر سوه، راغله چي قلندر جان مړ دئ، غسل مسل یې ورکی ښخ یې کی.

هلته باد و میراجان ته د قلندر جان د مرګ حال ور وړی، یا یې د مرګ

---

[5] په دېوان کي وایي :

سهار سبا سو پټېږي ستوري
خبر رانه غی د یار د لوري
قاصده ورسه خبر یې راوړه
پسې مي سپین سوه د سترګو توري

د سهار باده خوشبو نسیمه
که چیري ولاړ سې د یار تر سیمه
ورته مي عرض کړه د رب دپاره
هزار سلام او هزار تعظیمه

افسون پر ولوېدی، یا یې د یار د مرګ حال په زړه کې ور وګرځېدی، په هر صورت خبر سو، چې قلندر جان مړ دئ یا مري (وایي چې دی په لاهور[٦] کې و)، نو را رهي سو، هله هله څو سوات ته راورسېدی.

مخ د غونډۍ پر خوا را رهي سو چې راغی یو بزګر دئ دویمه غنم کري، د دې بزګر څخه یې پوښتنه وکړه چې قلندر جان څنګه دئ؟ بزګر ورته وویل چې په ژوند دي پوښتنه نه پر کول، نه ورته راتلې، اوس نو هغه یې د وخته لا ښخ کی، میراجان پر بزګر ناره وکړه:

کښت دي شین کېږه بیا رېبل کېږه
غنم دي من و خروار کېږه
زما له یاره احوال دي راکی
بل پر ایمان دي ډېر فضل کېږه

خو پسي راوخوت غونډۍ ته، په دې غونډۍ کې یوه هوسۍ ګرځي، پر لوړه ولاړه ده، پر دې هوسۍ یې ناره وکړه:

هوسیه وخورې د سترګو توري
پر لوړ ولاړه ښکاریان په ګوري
ښکاریان لا کله د ګور بندیان سوه
خزې ولاړې دي تشي توري

میراجان د غونډۍ سر ته راوخوت د قلندر کوډله یې ولیدله، تشه توره ولاړه ده، بغاري یې کړې، ناره یې وکړه:

که خاصه خاصه دلبره خاصه
خېمه دي نجتي د لوړ د پاسه
ستا د اجل سپاهیان چې راغله
ځیر ک یې وخوت خېمه پرېباسه

---

[٦] په دېوان کې وایي:

قلندر چې بې وفا نه دئ نو څه دئ
چې میرا ورڅخه ولاړ مخ پر لاهور

د درده یې کوډل ونړوله، پر مځکه پرله ځرخي کورنځي وهي، وروسته خلکو ورته وویل چې اوس نو څله پسي ژاړې، اول ځني ولاړې اشنایي دي نه ورسره کوله، اوس نو پسي ژاړې ناري وهې، د قلندر جان ستا په بېلتون کي زهره وچاوده مړ سو، د میراجان خو دمخه زړه زخمي و، د دې خلکو پېغورو ښه پسي زخمي کی، پر زړه یې مالګي دوړېدلې، نو یې د زړه د جوشه پر مځکه ناره وکړه :

خدایه دا مځـــکه پاره پاره کې
پر دېسن لالی زما راته ښکاره کې
په بېلتانه کې الوی مکوټ سوم
یو واریې دید بیا راســره وکې

د رښتیني او صادق مین خواست و، خدای قبول کی، وایي چې قبر وچاود قلندر جان د میرا سره غاړه په غاړه سو او میراجان هم خدای ته خواست وکی، چې خدایه زه هم زیات یوه دقیقه ژوند نه غواړم، وایي چې خدای یې خواست قبول کی، آه یې کړه خوله یې وازه کړه، مړ سو خدای دې وبخښي.

وروسته خلکو دواړه د قلندر جان په قبر کي ښخ کړه، قبر یې پر جوړ کی ځني ولاړه، ګوره چې رشتیا دي که درواغ.

کیسی په کولک ننوته – زه نو په تلتک ننوتم

ملي هینداره

دریم ټوک

اهداء

خپل دا اثر په ډېرو درناويو د هيواد د جمهوريت مؤسس او وطن پرستو جمهوريت غوښتونکو قهرمانانو ته اهداء کوم!

محمدګل نوري

مقدمه

د احمدشاه بابا کتاب چاپولو مؤسسه سرلوړې ده، چې د "ملي هينداري" دريم ټوک په داسي مهال کي افغاني ټولني ته وړاندي کوي، چي په افغاني ټولنه کي د جمهوريت نهضت خپور سوی دی، او د دغه تحول سره د نورو اجتماعي مؤسساتو په اړخ کي د افغاني فرهنګ مؤسسه هم درانه وظايف پر غاړه اخلي او سترو علمي خدمتونو ته تياری نيسي.

دا اثر د هيواد د معروف فلکلوريست ښاغلي محمد ګل "نوري" د ټولوني او زحمت نتيجه ده، دغه ښاغلی د نيمي پېړۍ را په دې خوا د افغاني فولکلور په ټولونه کي کار کوي او د دغي حاضري سلسلې دوه ټوکه يې تقريباً دېرش کاله پخوا نشر کړي وه، چي په مکرر ډول يې په داخل او خارج کي يې چاپ تجويد سوی دئ او ترنن پوري په داخل کي د ولسي مجلسونو سات په تېر دئ او په خارج کي د افغاني فولکلور څېړونکي اکاډمي تحقيق پر کوي.

د ده د اثارو په جمله کي "ملي هينداره" خورا ډېر شهرت لري او د شوروي جماهيرو د اتحاد معروف محقق " م. ګ اسلانوف" دغه اثر د افغاني فولکلور د اصيلتوب يو سند او وثيقه بولي.

کله چي دغه غنيمت اثر ورورستی پاني له چاپه راوتلې نو محترم مؤلف يې زما څخه غوښتنه وکړه، چي پر دغه اثر يوه مقدمه وليکم. زه د ده دعوت ته هر کلی وايم او د نورو ذهني او عملي مصروفيتونو په اړخ کي دغه ليکنه کوم.

د پښتو شفاهي افساني :

يو ولس چي څونه په مادي لحاظ د پټو خزانو څخه غني وي، کانونه

ولري، ابادي مځکي ولري، بر کتناکه سيندونه او ځنګلونه ولري نو په معنوي لحاظ هم فرهنګي غنا ته احتياج لري او د فرهنګ سره چي يې اشنايي هر څومره قديمه وي نو د تهذيب سابقه يې په روزنه کي اغېزه کوي. په ولسي فرهنګ کي فولکلور د هغو غني کانونو په شان دئ، چي نسونه يې د جواهراتو ځخه ډک وي، دغه جواهرات چي هر څومره د کان له تيږو او ډبرو څخه رابېل سي هغونه د ټولني اقتصادي ژوند تقويه کوي، په همدغه ډول د يو ولس په کلتور کي چي هر څومره د ولس په فولکلور کي عملي څېړنه وسي په هغه اندازه د ټولني فرهنګ تقويه کېږي، او د معنوي غنا ذخيره يې زياتيږي.

موږ فولکلور ته څه احتياج لرو؟

فولکلور پېژندنه يعني په فولکلور کي تحقيق يوه نوې پوهنه ده. د دغي پوهني په برکت د بشري کلتور پر ډيرو تيارو رڼالوېدلې ده.

په فولکلور پېژندنه کي د افسانې پېژندني (ميتولوژی) محققينو په دغه وسيله د بشري کلتور هغه مرحلې کشف کړي دي، چي پر هغه د لرغون پېژندني (اراکيالوژی) پوهنه په بې وسي پټه خوله ده.

د يوې ټولني د اجتماعي تاريخ د بېلو بېلو مرحلو حال تر هر څه وړاندي په ميتولوژي کي څرګندېداى سي.

يونان چي د بشري فرهنګ قديم تاريخ لري نو علت يې دا دئ چي د فولکلور غني خزانه لري او نن د قديم (هومير)[1] (ايليان)[2] او (اوډيسه)[3] د يو ګويا تاريخ په شان د هغي زمانې حالات په افسانه کي بيانوي، چي هلته اجتماعي مناسبات لا د طفوليت په حال کي وه. پر همدغه ځاى و، چي فرانسوي مشهور زومان ليکونکي (ويکتور هوګو)[4] وويل: "افسانه په تاريخ کي او تاريخ په افسانه کي دئ".

نن د نړۍ لويي علمي مؤسسې او فرهنګي اکاډمۍ د فولکلور څېړني په برخه کي کار کوي او داسي لوی محققين سته، چي د خپل تحقيق فيلډ يې يوازي افسانه او حتی يوه افسانه ټاکلې وي.

په بشري ټولنو کي عرف او عادات بېل بېل رنګونه لري او دا هر عرف په خپله سلسله کي د اجتماعي مناسباتو و ډېرو قديمو مرحلو ته رسېږي، او په دې برخه کي تحقيق نو د يو څېړونکي په لاس داسي کيلۍ ورکوي، چي په هغو د اجتماعي تحقيق د هر رمز قلف خلاصېږي. دغه لوی کار د افسانې پېژندني په ساحه کي ډېر بريالی انجامېدای سي او همدا علت دئ، چي د دغه تحقيق له پاره د ولسونو په افسانو کي تحقيق کېږي.

د مثال په ډول په بشري کلتور کي د فاميلي تکامل يوه ډېره مهمه مسئله ده، چي په مترقي شېوه مطالعه او تحقيق پر کېږي. د فاميلي په تطور او تکامل کي (د ويني اشتراک) مسئله د ځرګندو مثالونو سره د ولسونو په افسانو کي پيدا کېږي. د "هومير" "ايلياډ" د دغسي ارزښتونو څخه مالا مال دئ او د مارکس په نظر د يونان اساطيري افسانې ټوله هغه قديمه زمانه معرفي کوي چي هلته لا ښځه په فاميلي مناسباتو کي د (موروني حق) څخه (پلرني حق) ته پوره تسليم سوې نه ده.

دغه لوی تاريخي انتقال چي د بشر په کلتور کي په عمل راغی يعنی د "موروني حق" ځای "پلرني حق" ونيوی، نو د "موروني حق" وروستی بقايا (د ويني اشتراک) پر لار په افسانو کي ښه ترا پېژندل کېدای سي او ميتولوژي د هغه حدود موږ ته راښوولای سي.

انګليسي معاصر محقق (ارنولد تاينبی)[۵] د بشري تمدن د ظهور په باب د افسانې ارزښت داسي بيانوي :

"هغه کسان چي د انسان تاريخ د ژوند پېژندني (بيولوژي) يا ځمکه پېژندني (جيولوژي) يا حيوان پېژندني (زولوژي) پر لار پلټي پوره مؤفق نه دي، ځکه په بشري کلتور کي د تغيراتو او تبديلاتو سير تر هر څه په افسانه کي ښه معلومېدای سي او افسانه پېژندنه (ميتولوژي) چي د دغه لوی مقصد له پاره استخدام سي نو په علمي ډول د بشر په نفسياتي برخه کي د تحولاتو علتونه پيدا کېدای سي.

په افسانه کي د انساني ذهن د تکامل مراتب ډېر ښه معلومېدای سي. د ولسونو شفاهي افسانې د دوی د ابتدايي مراحلو ډېر ژوندي مثالونه بيانوي. د انساني ارزو لومړنۍ جرقې په افسانو کي ډېري ښې معلومېدای سي.

د شوروي اتحاد مشهور ليکوال (ماکسيم ګورکي)[٦] په دې باب وايي : "حيوان تر انسان قوي دئ، ځوانان بايد تر حيوان قوي سي لوی حيوانات نه سي کولای چي الوتونکی په هوا کي ونيسي له دغه ځايه د مځکي پر مخ د چټکوالي او الوتلو ارزو په انسان کي پيدا سوه". چابکي تلونکي موزې"، "الوتونکي غاليچې" او داسي نوري کيسې او افسانې د اولني انسان ارزو او تصوراتو ښکارندوی دي[٧]".

ګورکي په يوه ډېره درنه تحقيقي مقاله کي دا موضوع په خپل ټول علمي او ادبي صلاحيت څېړلې ده او په دې پوره قانع دئ چي د ولسونو شفاهي کيسې او افسانې د دوی د ذهني تکامل د مختلفو مراحلو ځرګندوی دي.

هغه انسان ماغزه يو خلاقه هستي بولي او دا خلاقيت يې تر هر څه وړاندي په شفاهي افسانو کي پلټي. هغه وايي : "هغه مهال چي لا انسان د فردي اصالت (انډيوايډياليسم) تر سيطرې لاندي نه و راغلی نو د اجتماعي اصالت (کولکتويسم) په روحيه يې مناسبات پالل او کله چي دغه اصل له زوال سره مخامخ سو نو موږ وينو، چي په افسانه کي يو خواشيني ارمان ځای نيسي".

د ولسونو د شفاهي افسانو څېړونکي پوهان وايي چي د ولسونو په اساطيرو کي چي موږ کوم قهرمانان پېژنو او نامعلومه افسانه نګارانو هغو ته د خدايانو منزلت ور کړی دئ هغه په حقيقت کي د دوی د ټولني ماهران وه او دا د انساني ماغزو ارمان و، چي انسان ته د طبيعت پر ټولو قوتونو بری په نصيب کړي نو دا و، چي د ماکسيم ګورکي په اصطلاح افسانه د حماسې په غېږ ورغله او قهرمانان د خدايانو پر تخت کښېنول سول.

"د ولسونو د هري زړې افسانې انګېزه د کار په اساني کي د انساني تلاښ څخه سرچينه اخلي او نو ځکه ويل کېدای سي چي (هر کول)[٨] به په هغه وخت کي "د کار قهرمان" او " د ټولو فنونو استاد" و، چي د لمانځني په زياتوب کي و (المپ)[٩] ته بېول سوی او هلته د ارباب الانواعو په اړخ کي ځای ورکول سوی و[١٠]".

نن په نړۍ کې د ولسونو دغسې افسانې راټولېږي او تحقیق پر روان دئ. په جرمني کې د دغه ډول افسانو یوه مجموعه د "گریم" په نامه په نونسمه پېړۍ کې خپره سوه او له دې سره سم د "زرین وېښتان" په نامه او په هغه پسې په ټوله اروپا کې دغه ډول افسانې راټولې سوې او په ختيځ کې دغه کار په ډېره علاقمندۍ نن جاري دئ.

د افغاني فولکلور ارزښت :

په افغاني فولکلور کې پښتو افسانې د علمي تحقیق له پاره غني ذخیرې دي. تر اوسه چې په دې برخه کې کوم کار سوی دئ او کومې افسانې راټولې سوې دي، نو هغه د نړۍ د علمي مؤسسو له خوا په ارزښت سره منل سوي دي.

استاد اسلانوف د پښتو افسانې د علمي تحقیق له پاره په زړه پوره ذخیرې بولي او وايي : "د دغو افسانو په منځ کې د (فتح خان بړېڅ)[11] او (موسی جان او ولیجان)[12] حماسې د ډېرې توجه وړ دي مخصوصاً د موسی جان او ولیجان په کیسه کې د افغانانو د عاداتو او رسوماتو دونه توصیف پروت دئ، چې د یو اتنوگرافي موزیم رنگ لري[13]".

دغه دوې شفاهي کیسې او نورې افسانې چې د (ملي هینداري) په تر مخنیو دوو ټوکو کې ټولې سوې دي اکثره یې په روسي او ځینو نورو ژبو ترجمه سوې دي.

دا شفاهي کیسې او افسانې چې نن په ټوله ولس کې ویل کېږي دوه ډوله دي چې یو یې د کوچنیانو له پاره دي او د (خزدکي انا نکل)[14] یې یوه ټیپیک نمونه ده، بل ډول یې د لویانو نکلونه دي، چې هغه هم پر دوو برخو وېشل کېږي یو ډول یې د پېریانانو نکلونه دي، چې معروف یې د (سیف الملوک او بدرۍ جمالي)[15] او (زبزباني شاپیرۍ)[16] نکلونه دي او بل ډول یې هغه کیسې دي، چې په انساني کر کټر کې د ماجراوو سرگذشتونه بیانېږي. په دغو شفاهي کیسو کې د "فتح خان بړېڅ" او "ولیجان" او "ادم خان او درخانۍ"[17] کیسې ډېر شهرت لري. په عمومي ډول که د کوچنیانو

نکلونه او د شاپېريانو افسانې يوې خوا ته کړونو په نورو شفاهي داستانونو کي زموږ د ټولني پروني څېره د خپلو ټولو اجتماعي مناسباتو سره په کامله روښنايي ليدای سو. دا د پښتو د شفاهي کيسې امتياز دئ او خصوصيت دئ، چي د يوې هينداري په ډول د ټولني د پرونيو مناسباتو ښه او بد په کامله صفايي منعکسوي. زموږ د کوچنيانو نکلونه او د شاپېريانو افسانې لکه د نورو ولسونو فولکلوري افسانې په رمز او سمبوليک ډول د کار او فعاليت قهرماني توصيفوي، خو د لويانو نوري شفاهي کيسې مو عيناً لکه يو ناول د ټولني حال تصويروي.

د مثال په ډول د (موسی جان او وليجان) په شفاهي داستان کي ټوله د داستان عناصر په طبيعي ماحول کي حرکت لري.

په دې کيسه کي زموږ د اجتماعي تاريخ فيوډالي خصوصيات په کامله پاملرنه تصنيف سوي دي. د مثال په ډول په يوه ابتدايي ټولنه کي چي هلته ملوک الطوايفي مناسبات حاکميت لري د دوی په اقتصادي مناسباتو کي د تاجر رول هلته د يو قاطع تحول پيلامه ګرزي. په دغه داستان کي لوی خان (سهيلی)[18] موږ وينو، چي د دوو صحرايي تاجرانو (فيروز او نوروز) پيسو ته احتياج پيدا کوي او کله چي د ده لور (بي بي) ته مرکه کوي نو يو هدف يې دا دئ، چي د هغه څخه به پيسې اخلي او دا دوستي د هغو د پيسو په منظور عملي کېږي.

دا نو هغه مهال دئ چي د (فردريک اينګلس) په قول تجارت په قاطع ډول په دغو مناسباتو کي خپله اغېزه پرېباسي. پيسه په تازه قدمونو د سهيلي خان ټولني ته ورننوزي او هغه خان چي تر دغه وخته يې هيڅ احتياج محسوس کړی نه ونن پيسو ته احتياج پيدا کوي.

په دې پسې کيسه کي چي د خانخانۍ په ماحول کي حرکت لري د لوی خان او خرده مالک چي (وليجان) دئ تر منځ مناسبات د اجتماعي تحقيق له پاره ډېر مواد يو محقق ته په لاس ورکوي.

دا چي څرنګه يو خان د خپلي طبيعي خاصې پر بنا د خرده مالک سره اخته کېږي، او په پای کي د هغه له خوا د يوې سرشاره مبارزې سره مخامخ کېږي نو د طبيعي قانون له مخي عکس العمل جلبوي څو په دغه عکس

العمل له منځه ځي.

په دغه کيسه کي د شيريني له پاره يو پاک او معصومانه عشق هم توصيف کېږي. دا مينه له يوه پلوه د (موسى خان) او (ګلمکۍ)[19] په عشق بدرقه کېږي نو بلي خواته د (موسى جان او وليجان) يارانه هم د ځوانمردۍ يو ډير ښکلی مثال برابروي. د دغي کيسي په پای کي د لوی خان سره د (تانو)[20] پېغلي توره په توره جنګ او د خان وژل د يوې مبارزي پېغلي له خوا د داستان قهرماني آسمان ته پورته کوي او پر لوستونکي چي د وليجان، موسى جان او ګلمکۍ د مرګ فاجعې هر څونه خواشينۍ ور وړې وي د "تانو" په قهرماني يې د انتقام حس تسکين کېږي.

د دې قبيله د پښتو هره کيسه څه د علمي اجتماعي تحقيق له لحاظه او څه د ادبي جوړښت له پلوه د هر ډول ارزښتونو درلوونکې ده.

د علمي تحقيق له پاره د نورو موضوعاتو په اړخ کي د حقوقي او جزايي تعاملاتو په ساحه کي ډېر غني مواد لري.

دلته به په ډېر اختصار سر دغه اصل بيان هم د (موسى جان او وليجان) په کيسه کي چي استاد اسلانوف يې د "اتنوګرافي" موزيم بولي يو څه وڅېړو. دلته زه صرف د (هډ) او (ساري) دوې کلمې څېړم، نور نو دا کيسه ځانته قاموس لري، چي هره اصطلاح يې په لوی تفسير او ژوره څېړنه ارزي. ساري او هډ دوې اصطلاحي کلمې دي، چي د پرونيو اجتماعي مناسباتو توازن پر تړلي دئ يعني څوک که د بل پر حق تجاوز کوي نو مجازات هم بايد ومني. په حقوقو کي نفس لوی ارزښت لري، او قتل نفس داسي جرم دئ چي بدله يې مقابل طرف ته روا حق بلل کېږي.

(ساری) د برابرۍ په معنی راغلی دئ، خو زيات وخت په زيروح کي استعمالېږي يعني وايي "توريالی د ننګيالي ساری دئ" يا داسي ويل کېږي چي: "تور سخوندر د ژړ سخوندر ساری دئ" د حقوقي تمايلاتو په چوکاټ کي د ساري اصطلاح د هغه (پور) په بدله کي راځي چي د قتل نفس ذمه واري پر غاړه ولري. د وليجان په داستان کي هغه مهال چي وليجان د لوی خان (سهيلي) له خوا وژل کېږي نو وليجان د زکندن پر وخت خپل زوی

(میرولي)[٢١] ته داسي وصیت کوي:

میرولیه پر سمه که بگړیه!
یو مي ساری د سهیلي واخله
موسی لره بل راوړه ګلمکیه!

بګړۍ پر سر سمه کړه، یعني د کورنۍ مشري پر غاړه ومنه او زما "پور - خون" د سهیلي څخه واخله دلته د (ساري) څخه یوازي پور مراد نه دئ بلکه (ساری) د برابرۍ معنی هم ورکوي یعني د مقتول په سویه بدله واخله.

هډ هم به کلمه کي د (استخوان) معنی لري خو د تعاملاتو له مخي یې معنی یو پوره نفس دئ چي بدله پر بنا کیږي.

د ولیجان په کیسه کي دا اصطلاح داسي راځي چي کله پر زکندن ولیجان له خپل زوی څخه د ده د (ساري) اخیستلو وعده اخلي نو زوی یې ورته وایي.

"بابا پلاره دا وصیت به دي خوار نه کم
یو به دي ساری د سهیلي واخلم - بل به هډ او ساری وکم"

یعني هغه هډ چي زما په فامیل کي مات سوی دئ د هغه بدل به په ساري واخلم.

په پښتني عرف کي بدله پرېښوول بې غیرتي ده او نو ځکه په دغه کیسه کي د پلار په بدله کي زوی مبارزه کوي څو هغه هم له منځه ځي، او په پای کي دا ساری د ولیجان خور (تانو) اخلي او (سهیلي) وژني.

په ادبي لحاظ دا کیسه او د پښتو نوري افسانې د دې کمال د رلوونکي دي، چي په نوي افسانه نګارانۍ کي زموږ د ژبې لیکوالان د هغو تقلید وکړي، د دغو افسانو طرح، قهرمانان، کرکترونه او د کیسې فضا عادي جریان تمثیلوي، او د کیسې (تم) یوې عالي نتیجې ته رسیږي. په پښتو افسانو کي تصادف او بحران ډېر په احتیاط برخه لري او د لوستونکي ذهن له اوارګۍ سره نه مخامخ کوي.

د دغو ارزښتونو او ادبي کیفیت په بنا نو که د پښتو له شفاهي کیسو او افسانو څخه زموږ په نوې کیسه لیکنه کي د تقلید استفاده وسي دا به مو لیکوالو یوه کامیابه لار په مخه اخیستې وي.

د شفاهي کيسو څخه په نوې افسانه نګارۍ کې استفاده :

پښتو ادب چې څونه د شفاهي کيسو او افسانو له پلوه پنې او غني دئ په دغه اندازه د نوي کيسه ليکنې له خوا خوار او کمندری دئ.

زموږ زياتره افسانې چې مجلې او اخبارونه يې چاپوي ډېر لږ زموږ د اجتماعي ژوندانه معرف ګرځي. د دې کار علت دا دئ چې افسانه نګار مو کاغذي کتاب لوستی دئ، خو د ټولني له کتاب څخه بې خبره وي. تاسي وګورئ زموږ په شفاهي کيسه کې د اجتماعي مناسباتو څېره بالکل شفافه او روښانه ده او هر حرکت او برخورد کاملاً عادي رنګ لري خو برعکس زموږ په نوي ليکل سوي کيسو کې دا شفافيت نسته او سړی چې يې لولي ډېر لږ داسي خيال کوي چې ګواکي زموږ د محيط عکاسي دي پکښې سوې وي.

د دې علت دا دئ چې شفاهي کيسه مو د ولس تخليق دئ او هغه چا چې دا کيسه جوړوله د ټولني کتاب يې پېژندی خو زموږ نوی افسانه نګار چې جهاني فرهنګ افاقي کړی دئ ډېر يې لږ دې خواته توجه ساتلې ده، چې يو څه ځان په خپله ټولنه کې انفسي کړی او نو ځکه افسانه يا کيسه يې بېګانه شانته ايسي.

زه دا نه وايم چې د پښتو افسانه نګاران يا د لنډو کيسو ليکونکي ليکوالان به ټوله همداسي وي خو په جرئت ويلای سم، چې داسي اثار به زموږ په نوې کيسه ليکنه کې ډېر لږ وي چې د شفاهي کيسو په شان دي طبيعي وي.

د لنډي کيسې (شارټ سټوري) د ليکني ادبي فن چې پښتو ادب ته له يورپ څخه راغی بد مېلمه نه و، خو په وروسته وروسته کې بد کور به ځني جوړ سو.

د يورپ په تقليد په پښتو ادب کې داسي کيسې وليکل سوې، چې صرف نومونه به يې پښتو وه يعني هلته چې د قهرمان نوم (موريس) و، دلته په انځر ګل واوښت، هلته چې د قهرماني نوم (لوسي) و دلته ګلالۍ سوه. هلته چې د داستان قهرمان برخورد ځای د (ژنيو د جهيل) غاړې وې دلته د سيند ګودر سو، په دې ډول به پښتو افسانه کې يو منحط جريان راوارد سو. په دې پسې زموږ افسانه نګار ليکوال د نوي مطالعاتو پر لار د فولکلور د

اهمیت او ارزښت سره اشنا سول، او د نړۍ د لويو تحقيقي او فرهنګي مؤسسو څخه يې واورېدل چي پښتو شفاهي ادب د فولکلور خورا ښه خزانه ده دا مهال يې نو مخه دې ته کړې، دلته هم د يوې غلطۍ سره مخامخ سول او د خپل شاوخوا عيني شرايط يې له ياده ووتل او ولاړ په تخيلاتو کي نوک تر کوټيه غوټه سو.

دلته نو د پاوليو شرنګا او کړو برېتو پسې واخيست څو د ادبي ابتذال لويي کندي ته ولوېد.

په دې برخه کي چي زموږ پاک شفاف او اصيل شفاهي ادب ته ښه د پراخه لاسه زيان ورسېد، نو تر افسانې په راډيو ډرامه کي دا کار کاملاً په بې صلاحيتي او بخښنه غوارم په بې ادبي سر ته ورسېد.

يو بل وخت را ورسېد چي زموږ باذوقه خو د ادبي روزني څخه فارغه افسانه نګار د نويو ريالستي ادبي اثارو سره اشنا سو، نو دردېدلي عواطف يې لکه د اور غر پر جوش راغلل خو څرنګه چي د سره څخه بده پېښه وه نو دلته هم لار ورکه سوه.

زموږ افسانه نګار د بزګر خواره ورځ په قلم تصوير کړه، د ده د پښو چاودي، خواشيني ورځ، د تندي غوټۍ او کړاغي سترګي يې ترسيم کړې، خو دا بزګر بيا هم زموږ بزګر نه وو بلکي د نورو مځکو او د بل کلتور بزګر و چي زموږ له بزګر سره يې عيني او ذهني شرايطو توپير درلود(٢٢).

په دې ډول په نوې شېوه په پښتو افسانه نګاري کي يو لار ورکي جريان روان دئ او په کار ده چي د دغه کاروان مهار و لاري ته راکش سي.

په حاضر وخت کي زموږ د ادبياتو په پوهنځي کي هم دغه کار ته پروګرام نسته، او د پښتو اکاډمۍ (پښتو ټولنه) خو نو له داسي مسايلو سره کاملاً نا اشنا وه.

اوس چي زموږ په اجتماعي اوضاع کي يو لوی تحول او بدلون راغلی دی او له دې سره سم زموږ په فرهنګي مؤسسو کي هم نويتوب را روان دئ نو هيله ده چي د ادبياتو پوهنځی او پښتو ټولنه او نوري علمي او تحقيقي مؤسسې به دغې مبرمې مسئلې ته توجه وکړي. زه په پوره زړه سره دا ويلای سم چي زموږ ننني ځوان افسانه ليکونکی به د خپلي ټولني عيني او

ذهني جريانات د علمي جهانبيني په رڼا کي مطالعه کړي او بيا د افسانه ليکني په وخت کي زموږ د شفاهي کيسو ادبي شېوه او ترتيب په خپله ليکنه کي وپالي نو داسي يو اثر به واقعاً زموږ د اجتماعي ژوندانه د انعکاس څخه غني برخه ولري او په رښتيا به يو افغاني ادبي اثر ورته وويلای سو.

دا حقيقت بالکل منل سوی دي، چي د نړی نخښه ليکوالان او افسانه ليکونکي هغه خلک دي، چي په خپل ملي فولکلور کي د معلوماتو لويه ذخيره ولري.

نو ځکه ويلای سو، چي دا کتاب کوم چي ما دالنده څېړنه د مقدمې په ډول پر ليکلې ده زموږ د فولکلور يوه غنيمت خزانه ده او د ټولوونکي او مؤلف کار يې په هر ډول لمانځنه او ستاينه ارزي.

هيله لرم چي دا اثر زموږ د ځوانو افسانه ليکونکو او ناول ليکونکو له پاره په ګټه تمام سي.

محمد ابراهيم عطايي
د کندهار د اطلاعاتو او کلتور لوی مدير
او د احمدشاه بابا د کتاب چاپولو د مؤسسې آمر

د نومونو شرح او حوالې

دلته هغه نومونه او حوالې شرح کېږي چي په مقدمه کي په لمبر اشاره ورته سوېده :

١. هومير : د قديم يونان يو شاعر و، د ده تاريخ پوره معلوم نه دئ څوک وايي چي تر ميلاد پخوا و. دی د (ايلياډ) او (اوډيسه) د حکاياتو ناظم و.

٢. ايلياډ : دا د قديم يونان يو منظوم حکايت دي، چي هومير ته منسوب دئ. په دغه منظوم حکايت کي د تراجان د جګړو د

وروستیو ۴۹ ورځو بیان راغلی دئ، ایلیاډ پر ۲۴ برخو مشتمل دئ او د (ترای) د محاصرې څخه رغېږي.

۳. اوډیسه : دا هم د هومیر یو منظوم داستان دئ، چي ۳۴ برخي لري او د (ترای) تر سقوط وروسته د (اتاکا) د باچهي خبري پکښې دي.

۴. ویکتور هوګو : (۱۸۰۲ - ۱۸۸۱) دا د فرانسې یو معروف رومان لیکونکی او شاعر و، د ده د (بینوایان) اثر ډېر شهرت لري.

۵. تاینبي (ارنولد) معاصر انګلیسي مؤرخ او سیاسي لیکوال دئ، دا سړی په (۱۸۸۹) کي زېږېدلی او د تاریخ په باب فلسفي څېړني لري اوس هم ژوندی دئ.

۶. ګورکي (ماکسیم) : د شوروي اتحاد مشهور لیکوال دی چي په (۱۸۶۹ م) کي زېږېدلی او په (۱۹۳۶ م) کي مړ دئ. ده په (۱۹۰۵ م) کي امریکا ته سفر وکړ او د (مور) په نامه کتاب یې د دغه سفر سوغات و، ګورکي د نړۍ په معاصرو لیکوالو کي د اجتماعي ریالیسم د سبک لوی استاد دئ.

۷. د ګورکی د (نظری به ادبیات) د کتاب ۲۲۸ مخ.

۸. هرکول : د قدیم یونان په اساطیرو کي د زور او قوت رب النوعه په اساطیرو کي وایي چي ده به په څو سوه کاله کي یو ځل د لوی رب النوعه (ذینوس) مامته جارو کوله.

۹. المپ : په یونان کي هغه مقدس غر، چي قدیمو یونانیانو عقیده درلوده، چي ارباب الانواع هلته اوسي.

۱۰. د نظری به ادبیات د کتاب ۲۳۸ مخ.

۱۱. فتح خان (بړیڅ) : د پښتو د یوې شفاهي کیسې د داستان قهرمان د دغه داستان قهرمانه (رابیا) ده او د پېښې ځای یې د کلابُست څخه تر هندوستان پوري دئ.

۱۲. موسی جان او ولیجان : د پښتو د ملي افسانې دوه قهرمانان.

۱۳. د افغانشناسی ۸۳ مخ.

۱۴. د خزدکي انا نکل : دا د کوچنیانو یوه مشهوره کیسه ده، چي په

لوېديځو پښتني سيمو کي پېژندل سوې ده.

۱۵. بدرۍ جماله شاپېرۍ : دا د پښتو د پېرياني نکلونو د داستان يوه قهرمانه ده، چي سيف الملوک پر مين سوی و.

۱٦. زبزبانه شاپېرۍ : دا هم د پښتو د شاپېريانو د نکلونو يوه قهرمانه ده.

۱۷. آدم خان او درخانۍ : دا د پښتو د يوې مشهوري شفاهي کيسې قهرمان او قهرمانه دي.

۱۸. سهيلي : د موسی جان او وليجان د کيسې منفي کرکټر او لوی خان.

۱۹. ګلمکۍ : د موسی جان او وليجان د کيسې قهرمانه د موسی جان مينه دا نکل د موسی جان او ګلمکۍ په نامه هم يادېږي.

۲۰. تانو : د موسی جان او وليجان په کيسه کي د وليجان خور چي (سهيلي) لوی خان يې د توره په توره جنګ کي مړ کی.

۲۱. ميرولي : د وليجان زوی چي د سهيلي خان په جنګ کي مړ سوی دئ.

۲۲. د ننګرهار د مجلې د ۱۳۵۱ کال د مرغومي په ګڼه کي د (بربښنا) پر داستان تقريظ چي زما په مستعار تخلص (اديب) په نامه نشر سوی دئ.

محمد گل نوري

د "ملي هینداري" مؤلف

ښاغلي محمد گل "نوري" چي اوس یې عمر تقریباً (۷۳) کالو تـه رسېږي تقریباً پنځـوس کالـه یـې د ولسي ادب (فولکلـور) پـه ټولونـه کـې خدمت کړی دئ.

ده د عمومي مدیریت تر چوکۍ پوري کار کړی دئ، او بیا تقاعد سو اوس د کندهار په مطبعه کي مصحح دئ.

دا سړی چي نن څونه په گمنامۍ کي ژوند کوي نو شهرت یې د افغاني فرهنگ په قاموس کي هغومره اوچت دئ.

د ده کار د هغو هیوادونو د ادبي او فرهنگي مؤسساتو له خوا پـه درناوي لمانځل سوی دئ چي د افغاني ادب او فرهنگ سره اشنایي لري.

ښاغلي نوري تقریباً څلوېښت کاله دمخه په هغه کار شروع وکړه، چي نـن هـم زمـوږ د فرهنـگ پـه معرفـي کـي د لـومړي، ضـروري او مبـرم اهمیـت درلوونکی دئ. ده پښتو متلونه، لنډۍ، نومونه او تکیـه کلامونه راټول کړل او ځیني چاپ سوه او ځیني یې ورک سول.

د ده پښتو اصطلاحات هغه قاموس دئ چي تقریباً پنځه ویشت کاله پخوا چاپ سوی دئ او تر نن پوري بیا چا په دې باب کار نه دئ کړی او حتی دغه ضروري کتاب چي اوس بیخي نه پیدا کېږي دوباره چاپ سوی هـم نـه دئ.

ښاغلي نوري ولسي کیسي راټولي کـړې او دوه جلـده یـې شل پنځـه ویشت کاله پخوا د ملي هینداري په نامه چاپ سوه او دریم ټوک یې دا دئ اوس چاپیږي. د ده دغه اثـر (ملي هینـدار) پـه جهاني سویه شهرت لـري او

هغه خارجي تحقيقي مؤسسې چي د افغاني کلتور په باب څېړني کوي دغه اثر ته په لوی اهميت قايلي دي.

دغه فرهنګي کارونه چي په يوازي سر ښاغلي نوري کړي دي نو د ده تر تقاعد وروسته حتی په پښتو ټولنه کي هم دغومره کار نه دئ سوی.

بايد په خواشيني ووايو، چي پښتو ټولنه په دې برخه کي دونه بې علاقې وه چي د (ملي هينداره) دوه ټوکه چي د ده په نامه وه په پېښور کي د ده بې اجازې څو واره چاپ سوه او حتی ليکوال يې په جګ سر ژوندی و، خو نوم يې هم غلط سو يعنی د محمدګل پر ځای محمد کامل ور ولوېدی دا چي په متن کي يې نوري څه مداخلې سوي دي هغه لا بله خبره ده خو د غه زموږ د ملي ادب پالونکي او ساتونکي مؤسسې په دوو تورو هم د دغي غلطی يادونه ونه کړه.

په هر صورت دا سپين ږيری ليکوال چي اوس يې زړه مات دئ او د زمانې ناخوالو ډېري څپېړي ورکړي دي يو شمېر نور داسي آثار لري چي زموږ د فولکلور زړه بايد ورته ووايو او موږ هيله لرو، چي د ده تر مرګ پخوا هغه له ضايع کېدو څخه راوګرزي.

البته د پښتو ټولني له نوي جريان څخه چي يو لايق او باانصافه ليکوال يې په مشري ټاکل سوی موږ ته دا ډاډ راکوي چي د ښاغلي نوري د آثارو په نشر کي به د مرستي لاس وغزوي.

(م. عطايي)

خانان

دا پور ته نوم د يوه هلک و، چې پلار يې نه درلود، يوه مور يې وه، يو يې پلندر و، نور يې هيڅ نه درلوده، خورا مسکين و، پلندر د خانان سره ډېر بد کوله، د خانان د پلندر سره شپه نه تېرېدله، باره ځني وتښتېدی ولاړ يوه بل وطن ته، ورغی د يوه مالدار او کوچيانو کلي ته، يوې کوډلي ته ورغی خورا وږی دئ په کوډل کي يوه سپين سرې بوډۍ ده، و دې بوډۍ ته يې وويل چي وږی يم څه ډوډۍ راکه !

و بوډۍ ته د کوډلي دمخه د دې چرګه او چيچان ګرځي بوډۍ ور ته وايي چي هغه بلي کوډلي ته ورسه، ډوډۍ به درکي زه دا چيچان ګورم چي پڼو (تپوس) يې يو نه سي.

خانان ورته وايي چي زه ډېر ستړی يم، پښې مي تناکي دي نه سم ورتللای، ته ورسه ډوډۍ راته راوړه زه به د پڼو څخه چيچان ګورم ځني شړم به يې.

بوډۍ ويل ښه دئ، بوډۍ په ډوډۍ پسي رهي سوه، ده فکر وکی که پڼو راغی خامخا به يو چيچی راڅخه يوسي، د بوډۍ به خوابده سي باره راولاړ سو، ګرده چيچان يې د چرګي سره پښه پښه په انځۍ سره غوټه کړه نو ورته کښېنوست.

يو ګړی باد پڼو راغی پر چيچانو يې حمله وکړه يو چيچی يې په منګل کي واخيست په هوا سو، خانان ورته ګوري چي نه يې سي وړای، دوباره ټوله چيچان او چرګه په هوا سوله، ګرده پڼو يووړه.

خانان فکر وکی چي که بوډۍ راغله ولاکه دي بې مرګه پرېږدي، باره يې دوې پښې دغه کړې دوې نوري د وهمه څخه راوتښتېدی ولاړ، هله هله يوه بل کلي ته راغی، خورا وږی دئ يوه سړي ته يې وويل چي وږی يم که

دي ګوله ډوډۍ راکړه؟ هغه ورته وويل غټ هلک يې ولي مزدوري نه کوې چې پکر کوې؟ ده ورته وويل چې مزدوري کوم که راپيدا سي، هغه سړي ويل چې راسه زما مزدور سه ! ده ويل ښه دئ، باره يې خانان کور ته بوت مزدور يې کی، په دغه ورځ يې ډوډۍ ورکړه، موړ يې کی، ماښام سو، د دغه سړي غوا ناجوړه ده، خانان ته يې وويل چې ته په دغه پراړه کي غوا ته پرېوزه، دا غوا ناجوړه ده دغه چاړه درسره کښېږده که غوا مردارېدله دستي به يې حلاله کې، خانان ويل ښه دئ.

باره خانان په ګوخانه کي په پراړه کي پرېووت، دغه سړي يوه خره درلوده، دا هم په دغه ګوخانه کي تړلې ده، چې نيمه شپه سوه تاريکه ده، د خرې ترپکي سولې، ده دستي چاړه پر راواخيستله، د خوبه هم دئ، جږ سو خره يې الاله کړه نو بير ته ورغی بيده سو، چې سهار لږ څه رڼا سوله، که ګوري چې خره يې حلاله کړېده، غوا مرداره سوېده، باره اريان سو چې دا څه چل پېښ سو باره د خاوند د بيري په دغه خره لا د ګوخانې څخه راووت بيا وتښتېدی را رهي سو.

هله هله وهم او ېږه په پسې ده، هله هله يو دښت يې پسي راواخيست راغی و يوه غره ته خورا وږی سو، د غره په لمن کي ښکاريان دي تازيان ورسره دي، باره د ښکاريانو سره مزدور سو، وروسته ښکاريانو يو پوستين او يوه شړۍ او تازيان په لاس ورکړه، چې موږ پر دغه لوړ کمر خېژو ته به د غره پر پوزه راوګرځې ها خواته به راسې، تازيان ستړي دي، ته هم نه سې ختلای.

ده ويل ښه دئ، ده پوستين او شړۍ راواخيسته، ښکاريان غره ته وختله، دی را رهي سو، ستړی دئ، شړۍ او پوستين نه سي وړای باره يې پوستين پر يوه تازي وتاړه، شړۍ يې پر بل تازي وتړله، څه ځکل چې ولاړ، يو وار د تازيانو په مخ کي ګيدړه وغورځېده، تازيان ورپسي ور په هوا سوله پسي الا يې کړه، ګيدړه دمخه تازيان په پسې دي هله هله ګيدړه راغله په يوه غار ځني ننوتله، هغه تازي چې پوستين پر تړلی دئ په ګيدړه پسي ننووت د دې خوا دا بل تازي پسي ننووت، دا تازي چې ور حمله کي يو ټکر پوستين په خوله کي ځني يوسي، خولنړه دا چې پوستين ټکر ټکر ګډړ

ګدړ سو، شړی هم په ځوزانو کي تړوک سوله، څه سر دي ګرځوم بیا د ښکاریانو د بیري راوتښتېدی هله هله راغی یوه کلي ته، شپه ده یوه کور ته ورننووت، یوه ښځه ناسته ده ډوډۍ پخوي، وریجي یې باندي کړي دي، اندړه یې دېګ ته جلا اچولې ده پخوي یې، دا ښه یار لري، هغه راغلی دئ د خوني په پای کي ناست دئ، دغه ښځه د هغه یار له پاره دا وریجي او غوښي پخوي.

باره خانان ور ته وايي چي وږی یم ډوډۍ راکه !

دې نیمه ډوډۍ ورکړه چي ها دغه ده څه ولاړ سه !

خانان وايي یه ولا مړ مي کې که ولاړ سم، زه هغه اندړه غواړم وریجي غواړم، ښځي چي هر څه ور ته وکړه، وې واهه درد یې پر وکی چي ولاړ سه، دی وايي ولاکه ګام واخلم، زه وږی یم، خانان رشتیا چي وږی هم دئ او بل یې د ښځي یار لیدلی چي د خوني په پای کي ناست دئ، پوهېږي چي دا خواړه و یار ته پخوي، نو ځکه وايي ولاکه ولاړ سم، چي زه به وږی ناست یم ستا یار بې خوري، ښځه اریانه سوله چي که اوس اندړه یا وریجي ورکوم ګر ده خوري یار ته مي هیڅ نه پاتېږي، خو دا په دغه چرت کي ده چي اوس هلک ځنګه وباسم، نیمه شپه سوه یار مي وږی دئ، بازۍ مي هم د یار سره ونه کړې، یو وار د دروازې کړپ سو، مېړه یې راغی، یار یې په کندو کي واچاوه، نو راغله د هلک سره په ګفتګوی سوله چي ورځه ووزه !

مېړه چي یې راغی ویل څه نکل دئ؟

دې ور ته وویل دغه سپین سترګی هلک دئ راغی ویل وږی یم یوه ډوډۍ مي ستا له پاره ساتلې وه، د هغې څخه مي نیمه ورکړه وې خوړله، اوس وايي دا نوره هم راکه چي وې خورم، زه وایم ورځه بس ده دا نوره مي د مېړه ده، بیا هغه وږی پاتېږي، دی نه ځي وايي ولاکه ولاړ سم.

مېړه یې ویل نوره ډوډۍ نسته؟

دې ویل یه !

ده ویل خیر دئ، چي نسته داغه به سره شریکه کو.

باره ده او هلک هغه نوره نیمه ډوډۍ سره وخوړله، نو کي یې ماینې ته ورکړه چي دا خواره به هم وږې وي، ډوډۍ چي یې وخوړله ماینه یې هلک ته

وايي چي اوس تو ورځه ولاړ سه، هلک وايي چيري په دې يخ، په دې نيمه شپه ولاړ سم، ولاكه ګام لا واخلم، مېړه يې واى مې كوه خوار كى، سهار به ولاړ سي، يو ګړى باد سړى و هلک ته وايي، چي هلكه د كم ځاى يې؟ څنګه راغلى يې؟ هلک وايي د روزګان يم، په مزدوري او خواري پسې راغلى يم، د كور خاوند وايي: ښه دئ زما سره مزدور سه، زه به دي ښه ساتم. ماينه يې وايي: ورک يې كه دا سپين ستر ګى هلک، ډېر بې حيا دئ ولاكه يې په نس موړ كې، سُسُت او لټ دئ څه يې كوې، ولاكه كه زما خوله وي كه نن شپه راته تېره كي.

مېړه يې وايي: څو شپې دي وي معلوم به سي كه يې ښه كار كاوه هغه دئ راسره به وي، كه لټ، بېكاره او سپين ستر ګى و بير ته به جواب ور كو.

لنډه دا چي اوس وخت د خوب دئ، ماينه يې وايي درځئ چي بيده سو نيمه شپه سوه.

مېړه يې وايي: ښه دئ زه هم ستړى يم.

هلک وايي: وختي دئ، ودرېږئ چي يو نكل مكل وكو بيا به بيده سو.

ماينه يې وايي: ويش خوار سې، ځغله ورک سه د دله زو ته چيري نكلچي سوې.

د كور خاوند وايي: ښكنځل مه ورته كوه، يتيم هلک دئ ولي يې زهيروې، بيا يې هلک ته مخ راوګرځاوه چي ښه زويه وكه نكل، زه به دي شپانه يم ښه ښه به در ته لرم، ښه! هلک وايي نكل دا دئ چي نن راتلم په لار كي يو مار و داسي پنډ او داسي پېچ پېچ كېدى فقط لكه هغه انډره چي په غوړو كي سره سوېده، او په كاسه كي تر كور لاندي پر ته ده "ماينه يې وايي ورک سه چيري ده، انډره خداى دي خوار كه په هغه نكل، ناحقه دروا غ وايې، مېړه يې وايي ښه نكل وكه ته يې پرېږده ښځي چي نكل وكي، ښه!

هلک وايي: داسي نري غاښونه يې وه لكه هغه وريجي چي په غوړو كي د كور تر كمبله لاندي پر تې دي، او داسي ژړي ستر ګي يې وې، لكه د هغه سړي چي په كندو كي دئ.

سوداګر پوه سو چې یو څه چل سته، باره ور ولاړ سو، چې کمبله یې پورته کړ، سره کړې انډره، وریجې او غوښې پر تې دي، دستې یې و کندو ته هلا کړه، چې سړی ولاړ نه سي، چې ورغی د کندو څخه سړی د ښځې یار را وغورځېدئ، باره د کور خاوند او لونډه سره چنګاو سوله.

ښځه ورغله د خپل یار پر خوا سوله، یار ځني خلاصوي، د کور خاوند یو دئ، دوی دوه سوه، خو په دغه کشمکش کې دباندې سره راووتله، د سرای مینځ ته، هلک ورته ګوري وپوهېدی چې ښځه او یار پر زور سوله، باره ورغی د آس پالانه یې واخیستله پر بام وخوت، اوس یې پر لونډه را ایله کوي چې تر لاندې سي نو به د کور خاوند پر زور سي، چې پالانه یې د پاسه پر را ایله کړه د پالانې دمچې د ده په غاړه کې بنده سوله، دی و پالانه دواړه پر دوی را ولوېدله، لونډه تر پالانه لاندې سو، پالانه پر سربېره سوله، هلک پر پالانه سربېره ولوېدی، ښځه د دې کیفیت څخه وبېرېدله، هلته ځای پر ځای کنښېنستله، باره لونډه یې هلته سره سوکې موکې کی مړ یې کی، باره یې پر ماینې را واچوله دا یې مړه کړه، هلک ته یې ډېرې روپۍ ور کړې، کور ته راغی مور یې بیرته کونډه سوې وه، روپۍ یې مور ته کښېښووې چې دغه دې خوره یې.

شاتر حسن

چي و يو باچا و، نوم يې نوشېروان و، يو داسي ګړندی شاتر يې درلود، چي درې ګامه به د باد څخه تلی، د دې شاتر نوم "حسن" و.
يوه ورځ باچا او شاتر حسن په ښکار سره ولاړه، چي غره ته ورسېدله، د باچا مسئله کور پاته سوې وه، شاتر حسن يې کور ته راولېږی چي مسئله راوړي.
شاتر حسن لکه باد کور ته راغی، که يې کتل چي د باچا ماينه او وزير سره ناست دي، (حسن) باک په ونه کی تر تېر سو مسئله يې راواخيستله، باچا ته يې په يوه پلا په يوه تراټ راوړه، حال يې پلن واچاوه، باچا ته يې څه ونه ويل.
دلته وزير وهم واخيستی چي شاتر حسن وليدلې نبايده چي باچا ته ونه وايي، په راسه دا شاتر په باچا په يو ډول مړ که.
شاتر حسن خو پر باچا داسي ګران دئ لکه خپل سکه زوی ځکه چي د شاتر حسن دا عادت او خوی و، چي هر رنګه سخت کار به و، چي باچا به ور وفرمايه، ده نې نه درلوده، ويل کولای يې سم، هغه کار به يې اجراء کاوه.
وزير فکر وکی چي راسه يو داسي ناشده کار و باچا ته ووايه چي د شاتر حسن د لاسه نه کېږي، او هيڅ شد ونه لري.
لنډه دا چي وزير هم په باچا پسې غره ته راووت يو خورا لوی د چول دښت دئ، يو خاخکی او به نسته، چي راغی باچا ته يې سلام وکی، پسله هغه يې د ښارو او اباتيو خبري شروع کړې، په دې ترځ کي يې ورته وويل: ياره صاحبه ! ارمان چي پر دې دښت يو ښه ښار وای، څه ښه خوند به يې کړی وای. باچا ويل : دا نو د چا د لاسه کېږي؟ وزير ورته وويل چي د شاتر حسن د لاسه کېږي، منګر هو چي ته ورته ووايې "چي دا ښار به په دغه يوه هفته

کي جوړوي که نه وي بې مرګه دي نه پرېږدم".
شاتر حسن داسي کمالات لري چي هر څه کولای سي نه پوهېږم چي پېری دئ که ولي دئ؟ منګر زه په خبر یم ته نه یې په خبر حال یې نه دئ درته ویلی.
باچا ویل: هن!
ده ویل ولا که بل ډول ده.
باچا دستي شاتر حسن راوغوښت ورته ویل یې څنګه زویه! دلاسه دي کېږي چي دلته پر دغه دښت یو ښه نوی ښار جوړ کې؟
ده خو نه، نه ویل، ویل هو!
باچا ویل: ښه منافقه تا دا دونه عمر دي زما څخه دغه کمال پټ کړی و، او ما داسي نازولې، یه نو خامخا که دي د لاسه کېږي که نه کېږي په دغه یوه هفته کي به خامخا دغه ښار جوړوې.
شاتر حسن ویل ښه دئ، د جمعې په ورځ به راسې سیل به یې وکې.
لنډه دا چي باچا او وزیر ځني را رهي سوله شاتر حسن یې پرېښو، ماښام سو، شاتر حسن راغی پر یوه لوړه غونډۍ کښېنوست ژاړي چي خدایه دا خو زما د لاسه نه کېږي، دا څنګه کم عقله خلک دي ته مي چاره وکې.
چي نیمه شپه سوله یو سپین ږیری سړی ورته ودرېدی ورته ویل یې چي ولي ژاړې؟
ده یې سلام وکی ورته ویل یې چي ستا قربان سم باچا یو داسي د عقله لیري یو ناشده کار را فرمایلی دئ چي هیڅ نه کېږي او نه سوی دئ. ده ویل څنګه خدای به یې اسانه کي.
شاتر حسن ویل چي باچا تر بلي هفتې حکم راباندي کړی دئ چي دلته به پر دغه دښت یو نوی داسي ښار جوړوې چي په هیڅ ملک کي نه وي. سپین ږیري ویل چي دا خو اسانه کار دئ، واخله دغه زما لکړه، په خپله د ښار نقشه واچوه، سهار به که خدای ﷻ کول ښار جوړ سوی وي.
شاتر حسن دستي بسم الله کړه، لکړه یې راواخیسته په یوه ګړي کې د ښار او ارګ داسي نقشه واچوله چي توبه.

راغی بیرته غونډۍ ته لکړه یې سپین ږیري ته ورکړه، ولاړ دی پرېووت، چې سهار سو که یې کتل داسي تک سپین ښار ولاړ دئ، چي سترګي نه پر رونېږي، نو ښه کوټې او ماڼۍ او بنګلې دي چي توبه، ښه ښه حوضونه دي، منګر څوک نسته نه اوبه پکښې سته.

شاترحسن را رهي سو لکه باد باچا ته راغی سلام یې وکی، ورته ویل یې چي جوړ مي کی، راځه سیل یي وکه!

آبس باچا سره له وزیر او شاتر سره راسپاره سوه، چي راغله که ګوري یو ماڼۍ دي، دوکانونه دي، ارګ دئ، حوضونه دي چي باچا اریان ورته ولاړ.

وزیر ورته ویل چي وینې صاحبه! دا داسي بلا سړی دئ هر څه یې د لاسه کېږي، "په زړه کي یې ویل چي ګور د ډاګ(؟) په دې چم هم نه سو مړ، دا خو لا پر باچا ګران سو." باره وزیر باچا ته وویل چي ښار خو ښه ښار دئ منګر ارمان چي دا حوض د اوبو ډک وای، چي ګرده ښار ته اوبه ځني ورتلای، او پر غاړه یې یوه د خندا او د ژړا درختي ولاړي وای څه بده به ښه و!؟

باچا ویل: هو ته خو ښه وایې منګر دا د چا د لاسه کېږي، دا وچ دښت اوبه چیري دي، او د خندا او د ژړا درختي چي دي، چیري سته؟

وزیر ورته وویل چي ولي د شاترحسن د لاسه کېږي، ښار یې په یوه شپه جوړ کی، دانه سي کولای.

باچا و حسن ته ویل څنګه د لاسه به دي وسي؟

شاترحسن ویل هو! دا پلا دوې هفتې مهلت راکه!

باچا ویل ښه دئ.

لنډه دا چي باچا او وزیر را رهي سوله خپل کور ته. شاترحسن ماښام بیا راغی پر هغه غونډۍ کښېنوست که ګوري په نیمه شپه هغه سپین ږیری ورته ودرېدی، بیا یې ورته وویل: "ولي ژاړې زویه؟"

شاترحسن ویل: ستا جار سم خو بیا یې داسي کار را فرمایلی دئ چي دا ښار خو اوبه غواړي باید دغه د ارګ حوض اوبه ولري چي و ګرده ښار ته اوبه ځني ور بهېږي، او بل یې د خندا او د ژړا درختي غوښتي دي، چي د دغه حوض پر غاړه به شنې وي.

سپین ږیري ویل: خدای ﷻ به یې اسانه کي، واخله دغه زما لکړه پر سپور به سې سترګي به پټې کې، چې سترګي دي را رونې کړې په یوه ځنګله کي به یوه دېبه وي، په پښه کي یې دا څو کاله کېږي چې یو منډه مات سوی دئ، هیڅوک یې نه سي کښبای، دغه زما نُسی به واخلې دغه منډه به وکاږې، هغه دېبه به د خندا او ژړا درختې درکي، رابه یې وړې، د حوض پر غاړه به یې شنې کې، او دغه لکړه به د حوض په منځ کي ووهې، اوبه به ځني راوغورځي ګرده ښار ته به بهېږي.

ده ویل: ښه دئ!

لنډه دا چې ده هم بسم الله کړه پر لکړه سپور سو سترګي یې پټې کړې، چې رونې یې کړې، که ګوري چې یوه دېبه ده د ځنګه په منځ کي یې زګېروي دئ.

دېبې ورته ویل: څه کوې سړیه؟ دا ځای او ته؟

ده ورته وویل چې راغلی یم چې دغه ستا د پښې منډه وکاږم.

دیبې ورته ویل چې پر دې ټولو آن تمام کی کښلای یې نه سي، ته یې چیري کښلای سې، او زه هم توان نه لرم چې پښه درته ونیسم، ناره او چغه مي تر خوله خیژي زما په دغه چغه ټوله دېبان راځي و به دي خوري.

ده ویل چې زما یې چم زده دئ، کښلای یې سم، منګر پس له دې چې منډه مي وکیښ د دېبانو څخه به مي ته ساتې. دې ویل: ښه دئ!

آبس شاتر حسن یو غار او نغم پرې کی، دیبې تر غار پښه ور وځړوله، ده بسم الله کړه نُسی یې ور واچاوه کش یې کی منډه یې وکیښ.

د دیبې تر خوله یوه بُغاره ووتله چې په دې بُغاره سره ټوله دېبان راغله ویل څه نقل دئ امر کوه خدمت!!

دیبې ورته وویل: خیریت دئ ځای پر ځای ودرېږئ!

یو سړی دئ زما د پښې څخه یې منډه وکیښ ناره مي تر خوله ووتله منګر هوښ کوئ چې غرض په ونه کئ. چې پښه یې ارامه سوله، دی د غار څخه راووت، ټوله دېبان په سلام ورته ودرېدل.

دیبې ورته ویل چې غواړه سړیه څه غواړې؟

ده ورته ویل چې د خندا او ژړا درختې غواړم.

دیبي ویل : دا خو اسانه کم قیمته شی دئ بل شی وغواړه.
ده ویل : یه بل هیڅ شی نه غواړم.
دیبي حکم وکی چي ورسئ د خندا او ژړا درختي ور کئ. دستي دېبانو درختي راوړې ور یې کړې.
دیبي یو څه د خپل سر ورېښتان ورکړه چي که هر وخت دربانديتنګسه سوله دغه ورېښتان به ودودوې موږ به ټوله ستا په خدمت کي حاضر سو.
لنډه دا چي شاتر حسن د خندا او ژړا درختي راواخیستلې ورېښتان يې په جیب کي واچول.
دیبي حکم وکی چي په یوه رپ کي به یې تر ځایه ورسوئ.
دېبانو په څټ کي سپور کی را په هوا یې کی برابر یې هغه نوي ښار ته راووست، دېبان بیر ته ځني رخصت سوله.
د خندا او ژړا درختي یې د حوض پر غاړه شنې کړې لکړه یې د حوض په مینځ کي ووهله، دستي د خدای جل جلاله په حکم اوبه راوغورځېدلې لکه فواره داسي راغورځي، د ښار په ټولو لښتیو کي اوبه وبهېدلې.
په دا بل سهار شاتر حسن راغی باچا ته یې سلام وکی ورته وې ویل چي د خندا او ژړا درختي مي راوړې شنې مي کړې، حوض هم د اوبو ډک دئ، ټوله ښار ته اوبه ځني بهېږي، راځه سیل یې وکه !
دستي باچا حکم وکی وزیر یې راوغوښت آفرین یې و وزیر ته ورکی کار شاتر حسن وکی.
باچا او وزیر سره را رهي سوله چي راغله د حوض پر غاړه درختي ولاړي دي، حوض د اوبو ډک دئ، باچا یو وار یوې درختي ته وویل چي وژاړه ! هغې وژړل. بیا یې و بلي ته وویل چي وخانده ! هغې وخندل.
باچا ګوته په غاښ ورته ونیوله، ډېر خوشحاله سو.
په وزیر مغزی وځړېدی چي دا کار یې هم وکی، باره یې چرت وواهه سر یې راپورته کی و باچا ته یې وویل چي داسي ښار جوړ سو چي په رکن(؟) کي نسته، منګر ارمان چي د پلاني باچا لور ستا مینه وای دلته په دې ښار کي وای او په دې بنګله کي ستا سره ناسته وای، څه ښه خوند به یې

کړی وای!

باچا ویل: هغه به مو د وسه ونه سي، د هغې خورا ګران شرطونه دي، چي هیڅوک یې نه سي پر ځای کولای.

وزیر ویل چي شاتر حسن دي ژوندی وي، یو نسوار نه دي ورته.

باچا ویل: څنګه د لاسه به دي وسي؟

ده ویل: هو که خدای ﷻ کول. منګر یوه میاشت به راته ګورې.

باچا ویل: ښه دئ.

لنډه دا چي شاتر حسن را رهي سو، هله هله برابر هغه باچا ته راغی، ورته ودرېدی چي زه ستالور غواړم، منګر ځان ته نه، د خپل بادار له پاره یې غواړم.

باچا ورته وویل چي زمالور په شرطو ده، ته ښه ځوان یې پر مرګ مي نه پیرزو کیږې.

شاتر حسن ورته وویل چي شرطونه یې راوښیه پر ځای کوم یې، زه خپل باچا ته خدمت کوم. د خپل باچا په خدمت کي باید سړی ځان مړ کي!!!

باچا ورته وویل: ښه دئ دغه یې شرطونه دي:

اول: دغه د اوسپني خونه ده، د اوره ډکه ده شپه به پکښې تېروې.

دوهم: زما د جنګي غوایي سره به غویی جنګوې ماتوې به یې.

دا دوه شرطونه که دي پر ځای کړه بس زمالور دي وګټل!

ده ویل ښه دئ! آبس چي ماښام سو، راغی د اور خوني ته، د هغې دیبي ورېښتان یې ودودول یو ګړی باد ټوله دېبان ورته راغله ویل خدمت!

ده ویل: خدمت دغه دئ چي اول به دغه خونه سړوئ، اور به یې وژنئ، چي زه شپه پکښې تېره کم، او بل به یو دېب ځان د یوه زاړه غوایي په بڼه کوي او بل دېب به د یوه مسکین په بڼه، راځي دا غوایی به راولي په ګنج کي به یې ځني رانیسم، نو بې د باچا د غوایي سره وجنګوم دغه غویی به ور مات کي.

دوی ویل: پر دواړو ستر ګو.

دېبان دستي ورته وجوړېدل او به یې د روده څخه په خولو کي راوړلې،

پر خونه یې توی کړې، خونه یې سره کړه اور یې مړ کی.

دئ په ننووت شپه یې تر سهاره پکښې تېره کړه هیڅ څه ونه لیدله چې اور د کمي خوا مړ سو، او نه څوک ورته راتېر سو، چې سهار سو خلک راغله که ګوري دی ژوندئ پکښې ناست دئ، دستي باچا ته رپوټ وسو، چې دا یو شرط یې پر ځای کی. باچا ویل سمه خبره ده، کې دا بل شرط وګاټه نو یې زما لور هم وګټل.

باره په دا بله ورځ حسن راغی ګنج ته چې یو غویی رانیسي د باچا د غوایي سره یې وجنګوي چې ګنج ته راغی په ګنج کې ښه ښه غویي ولاړ دي، حسن پکښې وګرځېدی، یوه مسکین سړي ته زوړ غویی ولاړ دئ، څلور لاښه دئ، وچ پوست، ځړېدلي کړېدلي ښکر، اوښکي یې بهېږي، باره حسن و دغه مسکین ته ویل: په څو دئ؟

هغه ورته ویل چې په لس روپۍ.

باره یې لس روپۍ ورکړې، غویی یې را رهي کړ، خلک پر خاندي چې پر تا دي ودرېږي خو یو چاغ مست غویی به دي رانیولی وای، دا غویی وګوره جنګ وګوره!

ده ویل چې دغه مي خوښ دئ.

لنډه دا چې په دغه بل سهار یې باچا ته حال وکی چې سبا دي غویی راوباسه میدان ته، زه غویی درسره جنګوم.

چې سهار سو، د غویو د جنګ میدان جوړ سو، خلک دي د خدای ﷻ الم دئ، د باچا غویی یې میدان ته راووست، رمبکی یې دئ په ځنځیرو تړلی دئ، خلک خاندي، ده هم خپل زوړ غویی راووست، په میدان کې یې سره ایله کړه.

په اول وار یې د باچا غویی پسي واخیست مات یې کی.

یو وار ډولونه او نغارې وډنګېدلې چې بل شرط یې هم وګاټه.

شاتر حسن راغی باچا ته چې اوس خو نو پر خپل قول ولاړ یې؟

ده ویل: هو بېشکه!

ده ورته ویل چې ستا لور پر دغه خپل زاړه غوایي بیایم بل څوک مه راسره کوه!

باچا ویل: ښه دئ.

لنډه دا چي د باچالور يې پر غوايي راسپره کړه هغه بل مسکين ډېب يې هم را رهي کی، چي د ښاره راووتله، را په هوا سوله، دوی د هغه ډېب په څټ کي سپاره سوله، برابر خپل نوي ښار ته راغله. د باچا لور يې په ارګ کي کښته کړه.

دی دئ هغه دوه ډېبان دي د سړو په ښه دي راغله باچا ته يې سلام وکی چي دا کار مو هم وکی، ماينه مو درته راوستله، باچا او وزير سره رارهي سوله.

په وزير بيا مغزی وځړېدی کرار کرار پسي راځي چرت وهي چي په دې چم هم نه سو مړ، اوس بل ناشده کار په زړه کي سره جوړوي.

شاتر حسن فکر وکی چي دا خبيث دي ولاکه پسي پرېږدي بيا بله بهانه درته تراشي. باره يې ډېبانو ته وويل چي دغه وزير به د ښار په دروازه کي په توره ووهئ چي ټوکر ټوکر سي لاښ يې يو راواخلئ سر يې بل راواخلئ.

دوی ويل: ښه دئ. څه سر دي ګرځوم باچا خوشحالی اخيستی دئ، وزير ته يې فکر نسته، باچا ورغی ارګ ته خپله ماينه يې په بنګله کي وليدله، وزير ته يې ويل چي دا دئ دا کار يې هم کړی دئ، د وزير رڼغ نسته، چي داسي يې تر شا وکتل د وزير تن د يوه سړي څخه سر يې د بل سړي څخه دئ. شاتر حسن ورته وويل چي دغه دئ وزير !

باچا ويل چي دا څه نکل دئ اريان سو؟ شاتر حسن ورته ويل چي وزير ما مړ کی چي زه يې په تا وژلم. باچا ويل: څنګه؟ حسن ورته ويل چي ته فکر وکه، دا کارونه دانسان د لاسه کيږي؟ ده ويل: يه !

ښه ! حسن ويل چي نه کېږي نو تا څنګه د ده په خوله عمل کاوه، او زه خو ستا په خدمت کي راست وم، نه مي نه درلوده، که مي کار کولای سوای که مي نه سوای کولای، ما به ويل چي کولای يې سم، ولي چي و خپل بادار ته بايد سړی ونه وايي چي دا کار نه سم کولای، منګر بادار دي هغه کار ور فرمايي او سره وسنجوي چي دغه نوکر يې کولای سي که يه؟ او د شيطان او دښمن په خوله بايد ونه کي، خپل دوست او دښمن وپېژني.

لنډه دا چي دانکل يې سر تر پايه باچا ته وکی، چي داسي وزير ستا د پلاني حرم سره جوړ و، د وهمه يې وژلم، منګر خدای ﷻ زه نه وم وژلی، ګرده کارونه خدای ﷻ اسانه کړه وسوله.

دغه دوه کسه دېبان دي او ټوله دېبان مي پخوانه وه مسخر کړي دغه دئ ښار دغه دئ حوض، اوبه او درختي، دغه دي ماينه، اوس نو ما ايله که زه زيات ستا خدمت نه سم کولای.

باچا ورته ويل چي پر تا دي آفرين وي، هغه خپله ښځه يې راوغوښتله، د شاترحسن دمخه يې مړه کړه، و شاترحسن ته يې وويل چي ايله کوم دي نه، يعنی اجازه نه درکوم، منګر زما پاچهي او حکومت ټوله ستا دي، باره يې نور وزيران او منصبداران راوغوښتله حکومت يې حسن ته ور وسپاره !!!

زه يې تش لاس ايله کړم، ناحقه پر پښو ورته وچ سوم.

انار ژړان او سېب خندان

یو باچا و، اولاد یې نه کېدی. هر څه تعویذونه چې یې وکړه هر څه خواری چې یې وکښلې اولاد یې نه پیدا کېدی.

د باچا دوې ماینې دي یوه پر ګرانه ده بله ارزانه!

یوه ورځ یو فقیر راغی خیر یې غوښت، مینځې خیر ورته راوړی دا ملنګ یې په خیال ښه سړی ورغی.

باره یې ورته وویل چې ملنګه! باچا زوی نه لري که دي یو څه وکړه.

د ملنګ څخه درې دانې سېب وه، دا یې ور دم کړه چې بي بي ته یې ورکه خدای ﷻ به درې زامن ورکي.

مینځې سېب څني راواخیستله پر لاري یې په یوه سېب خوله ولګوله نیم یې وخوړ، دوه نیمې دانې سیب یې راوړه و دغې ارزانې ماینې ته یې ورکړه، چې دا ملنګ راکړه دا وخوره خدای ﷻ به زامن درکي.

دې ماینې یې دغه سېب وخوړه، کارونه د خدای دي ماښام د باچا وار د ارزانې ماینې سره دئ.

لنډه دا چې په دغه شپه حمل داره سوله چې نه میاشتې تیري سولې د دې ماینې دوه زامن او یوه لور پیدا سوله، مینځې دستې الا کړه باچا په دربار کي دئ مینځه ورغله زېری یې پر وکی چې مبارک دي سه دوه زامن او یوه لور دي پیدا سوه. دلته یې ګرانې ماینې فکر وکی چې ولچې پسات وسو، باره به پر باچا دا ګرانه وي د اولاد مېرمن سوه ما به په باک نه راوړي، دستې یې یوه بوډۍ پیدا کړه چې د دې خبري چاره کوه.

بوډۍ ویل: خوا مه بدوه، دستې یې الا کړه په بازار کي وګرځېدله یوه سپۍ یې پیدا کړه، چې تازه لنګه ده، درې کوتریان یې پیدا کړه، را یې وړه هغه لنګه ماینه بیده ده پر ته ده.

دې بوډۍ يې د بغله څخه الكان وكښله دغه د سپي کوترياڼ يې تر تلتک ور لاندي کړه، د دې زامن او لور يې يووړه د يوه غره په لمن کې يې پر دښت کتار پرې ايستله چي دلته بې شرمښان او چغالان وخوري، بير ته په يوه ټوپ راغله ګراني ماينې ته يې وويل چي داسي کار مې وکی.

دې ګراني ماينې يې دستي بله مينځه ور واستوله چي ولاړه سه باچا ته ووايه چي ارازانه ماينه دي لنګه سوله درې د سپي کوترياڼ يې وزېږول.

باچا لا په دربار کي دئ چي مينځه راغله دا يې باچا ته وويل چي زما د سر امان دي وي ارزاني ماينې دي درې د سپي کوترياڼ وزېږول.

باچا ته خورا درد ورغی، حکم يې وکی چي ورسئ کوترياڼ يې مړه کی، دا د اسانو په تبيله کي واچوئ دروازه پسي وتړئ زيا ته بړغ مه کوئ يوه ګوله اربشينه تر چوله ورغورځوئ.

دا ښځه خوار کۍ په ځان ناخبره ده چي راويښه سوله د کوترياڼو بړغ دئ اريانه سوله چي دا څه چل دئ؟

يو ګړی باد سړی راغی کوترياڼ يې مړه کړه دا خواره يې د اسانو په تبيله کي واچوله، دروازه يي پسي قلف کړه "دا لنګه ماينه نو په هغه تبيله کي پر پړه ده چي خپل غمونه ګالي په اوربشينه عمر تېروي هغه کوچنيان پسي راواخله چي هغه څه سوله؟" هغه دوه ماشومان هلکان او يوه لور چي هغې بوډۍ پر دښت د غره په لمن کي پرې ايستله و دغه ځای ته نژدې د يوه مالدار کور دئ شپږ اووه سوه مېږي لري، ماښام چي مېږي کور ته را رهي کړي دي مېږي وتورېدلې.

مالدار چي راغی ګوري چي شرمښ دئ که څه بلا؟ کې کتل چي تر يوه ټوکره لاندي د کوچنيانو انګا انګا ده چي دسمال يې ځني پورته کی دوه هلکان يوه نجلۍ تر لاندي دي دستي يې راواخيستله ډېر خوشحاله سو چي زوی او لور نه لرم او نه تربور لرم يو سر وم دغه دئ خدای ﷻ راکړه، برابر يې کور ته کوډلي ته راوړه، ماينې ته يې ورکړه چي دغه دي اوس يې نو لويوه، وړيا زامن او لور مي در پيدا کړه، مېږي او بزې ډيري لنګي دي.

ښځي هم هلکان واخيستله ښه يې ساتله د بزو شيدې يې ورکولې "هله هله هله د نکل کار دئ معطلي نسته پکښي" خدای ﷻ لويول لوی

سوله نجلۍ هم پېغله سوه.

کارونه د خدای ﷻ دي دا مالدار او ماینه یې مړه سوله.

دا دوه ورونه را ولاړ سوله، دغه مېړي او بزې اوښان یې خرڅ کړه، هلته یې یوه ښه کلا واچوله، خور یې په کلا کي ده خپل کار او پخلی ورکوي دوی دواړه داسي ښایسته هلکان دي چي سترګي نه پر رونېږي، تمامه ورځ خپل ښکار کوي یا د کلا و مخ ته مردکي کوي.

یوه ورځ هغه باچا چي د دوی پلار دئ په ښکار راوتلی دئ دوه کسه نوکران ورسره دي ګرده ورځ یې ښکار وکی "د ښکار شوق دئ" باندي ماښام سو. دغه یو نوکر ته یې وویل چي ته ورسه دغي کلا ته اور به راوړې دلته به دغه کوتري او سیسۍ کباب کو و بې خورو بیا که تلو ځو به.

نوکر رارهي سو چي راغی که ګوري د کلا و مخ ته دوه داسي ځلمیان ناست دي چي نوکر داسي منګ ورته ولاړ ! نوکر وویل چي دا څنګه لکه شاهزاده ګان هلکان دي، خو یو ګړی ډوب ورته تللی و ... وروسته یې ورته وویل چي اور غواړم؟

دوی ورته وویل چي په کلا کي بزغ ور وکه در ته راوبې باسي.

ده چي په کلا کي بزغ ور وکی چي مسافر یم څه اور راکه؟

نجلۍ اور ورته راویوست.

نوکر چي ورته وکتل د روه یې زړه پر بایلو بېسده سو، یو ګړی بېسده پروت و، چي په سد کي راغی و نجلۍ ته یې وویل چي زه به دلې کوتري راوړم خدای ﷻ خبر دا اور تر هغه ځایه ورسېږي که نه دلې بې پخې کم.

نجلۍ ویل : ښه دئ ورسه رایې وړه !

نوکر ولاړی باچا ته یې وویل چي اور یې نه راکاوه ویل نه رسېږي، ویل دلې کوتري راوړه کباب یې که !

باچا ویل : ښه دئ دغه دي دا درې کوتري یوسه !

نوکر کوتري راوړې کلا ته پر اور یې کښېښوولې د نجلي مخ ته ګوري داسي ډوب ورته تللی دئ، کوتري یې د یاده ووتلې هغه پر اور توري تلبۍ سولې.

نجلۍ ورته وویل چي کوتري دي وسوځلي سوې.

ده چي کوترو ته وکتل تور سکاره سوي وې، باره نوکر وام واخيستی چي باچا به مي مړ کي نجلۍ ته يې ويل چي د دې پای يې څه؟
نجلۍ ويل : خوا مه بدوه دغه درې څلور ډوډۍ واخله دغه څه غوښي دي هلته به يې سره وخورئ.
نوکر هم ډوډۍ او غوښي څني راواخيستلې را يې وړلې باچا لره.
باچا پوښتنه څني وکړه چي ولي دي دونه عمر وکی؟
ده ويل : صاحبه ! په کلا کي يو دوه کسه داسي ښايسته ځوانان او يوه نجلۍ ده چي سترګي نه پر رونېږي، ما د دوی دېد کاوه کوتري پر اور وسوځلي سولې، بيا هغې نجلۍ دغه ډوډۍ او غوښي راکړې دغه دي رامي وړلې.
چي سهار سو باچا را رهي سو چي راغی د کلا دمخه دوه داسي ځوانان ناست دي چي سترګي نه پر رونېږي، ده چي ورته وکتل څه عشق و څه د اولاد محبت، دغسي منګ ورته ولاړ، ولاړ و، ولاړ و هله هله ځو په دغه ولاړه کي باندي ماښام سو، هيڅ يې تر خوله نه سوای ايستلای، نې څه ويلای سوای، ماښام کور ته راغی سبا بيا ورغی ورځ يې ورته تېره کړه، دوي خپلي مردکي کوي.
ماښام باچا کور ته راغی دې ګراني ماينې ته يې دا نکل وکی چي داسي په يوه کلا کي دوه هلکان دي زه پر مين يم او د زامنو ميل مي پر راځي نه پوهېږم چي څه سر دئ او څه چل وکم؟
دې ويل : زامن به دي تر خوله تېر وي ! او هلکان څه کوې د هلکانو مينه نه ده ښه، باچا سړی يې رنګ به دي بد سي باره مه ورځه ورک يې که!
سهار وختي يې ماينې هغه بوډۍ پيدا کړه، ورته وې ويل چي چابکه ځه ! نکل داسي دئ لکه چي هغه هلکان لوی سوي دي که خبره رسوا سوله باچا به زما او ستا ترخې وکاږي.
بوډۍ د وهمه په يوه ټوپ ورغله هغه هلکان چي يې وليدله څه سد يي په ورسېدی، دستي په کلا ور ننوتله کې کتل چي هغه نجلۍ ناسته ده، وپوهېدله چي هغه دي، دستي يې خپل مکر را سربېره کی، د نجلۍ دمخه يې بُغاري کړې چي الله زما د ورور کور داسي خراب سوی دئ، زه خو ستا

عمه يم، په پلاني وطن کي واده وم، تر اوسه يې نه په ژوند خبره وم نه په مرګ، او شکر دئ چي دغه تاسي درې چڅخي يې پاته ياست، نور مي نو زړه دردنه کوي منګر دغه مي ژړوي چي ته په کلا کي يوازي يې هلکان درڅخه ولاړ سي ساعت په يوه او په بله تېروي، ته به دغ ناسته يې، ارمان چي يو دوه ژوندي زمريان واى چي ستا سات په تېر واى يو وار به پر سپر بدلاى، زما وربنداري ته دوه زمريان ولاړ وه داسي سات يې په تېر و چي توبه ! او ستا ورونه خو ښکاريان دي دلاسه يې کېږي، چي دوه ژوندي زمريان درته راولي.

نجلۍ ويل : ولچي ښه وايې عمه جاني ! وده چي لالا دوى راسي ورته وايم به. بوډۍ ويل : زه نو ځم په هغه بل کلي کي مي د خور خواندي کور دئ يادېږي مي نه مي ده ليدلې بيا به کله کله درباندي راګرځم، بوډۍ ولاړه.

ماښام چي هلکان کور ته راغله خور يې ورته وايي چي تاسي په ښکار پسي ولاړ سى، زه يوازي دغ ناسته يم، ماته يو دوه زمريان راولئ چي سات په تېروم.

دغه يو ورور يې ورته وايي : ښه دئ سبا به زه پسي ولاړ سم، چي سهار سو يو ورور يې پسي رهي سو، هله هله دغه غر يې پسي راواخيست کې کتل په يوه ګاره کي هغه ملنګ ناست دئ چي د ده په دعا دوى زوکړي وه، دى ورغى سلام يې ور واچاوه.

ملنګ وعليک ووايه، بيا يې ويل : خير ځوانه څنګه په دې غره کي يوازي ګرځې؟

"ملنګ يې پېژني دى يې نه پېژني".

ده ويل چي که مي دوه زمريان ژوندي ونيول عمه مي د خور له پاره غوښتي دي.

ملنګ ويل : خطاباسي دي زمريان چا ژوندي نيولي وي؟ بېعقلي مه کوه څه کور ته !

ده ويل چي تر هغو کور ته نه ځم څو ژوندي زمريان پيدا نه کم، کور ته يې بونه زم.

ملنګ ویل : ښه دئ چي نه پاتېږي نو دغه زما دسمال واخله دغه مخامخ لار واخله ځه ځه یو ځنګل به په مخه درسي په ځنګله ور ننوزه د ځنګله په منځ کي دوه زمریان په ځنځیرو تړلي دي دوی به زورونه درته راوهي، منګر ته مه ځني بېرېږه زړه ور پر ورسه، دغه دسمال ورښکاره که دوی به آرام سي را رهي یې که کور ته یې بوزه!

آ بس دسمال یې د ملنګ څخه واخیست و ځنګله ته را رهي سو، چي د ځنګله مینځ ته راغی که ګوري یوه دوه مست زمریان په ځنځیرو تړلي دي، غرړی یې دئ زورونه ورته راوهي چي توبه ! دی هم زړه ور پر ورغی چي ور نژدې سو دسمال یې ورته ونیوي، زمریانو سر پر ځپړو ورته کښېښود، لکی ورته ښوروي.

ده هم دستي زمریان را خلاص کړه را رهي یې کړه هله دا دئ کور ته یې راوستله په کلا کي یې زمریان ایله کړه خور یې پور ته کښته پر سپرېږي په خوشحاله ده.

"بوډۍ خو پسي ښارو ده" راغله د باچا ماینې ته یې وویل چي په دې چم نه سوله مړه زمریان یې راوستلي دي. دې ویل چي چاره یې کوه باچا هره ورځ ورځي چي خبر نه سي، ما وتا به ټوکر ټوکر کي.

بوډۍ بیا د وهمه را رهي سوله بیا راغله کلا ته زمریانو پر غړومب وهل، نجلۍ ور الا کړه ځني خلاصه یې کړه و زمریانو ته یې ویل چي دا زما عمه ده ورسره اموخته یې کړله.

بوډۍ ویل : وینې اوس دي ښنګه سات په تېر دئ.

دې ویل : هو ! عمه جاني.

بوډۍ ویل : ارمان چي هغه یوه درخته لا وای چي هم سېب کوي هم انار کوي، که سېب ته ووایې چي وخانده ! خاندي، انار ته چي وا وژاړه، نو دستي ژاړي چي دا هم وای نو به دې بیخي سات په تېر وای.

نجلۍ ویل : دا نو چیري پیدا کیږي؟

بوډۍ ویل : زمانیکه درلودې، او اوس چي نر وي دستي یې پیدا کولای سي.

دې ویل : وده چي لالا راسي دغه به پیدا کوم.

بوډۍ ويل : چي په ټينګه به ورته وايې، "ورته وا زه درڅخه ځم، يا به خامخا د انار ژړان او سېب خندان درخته راپيدا کوئ".

دې ويل : ښه دئ ! آبس بوډۍ ويل : ته مي وليدلې زه نو ځم بيا به بله ورځ درته راسم، بوډۍ ولاړه.

د نجلۍ ورونه چي کور ته راغله، خور يې ورته ويل چي عمه ويل داسي دانار ژړان او سېب خندان ونه سته، چي واى سات به مي ښه په تېر و، دا به خامخا ماته پيدا کوئ، راوړئ بې چي زما سات په تېر وي، زه دغ ناسته يم که يې نه راوړئ نو زه در څخه ځم، پخپله يې پيدا کوم. دا بل ورور يې وايي : زمريان ده راوستله دانو زه پيدا کوم راوړم يې.

دغه بل ورور ورته وايي چي په دغه غره کي ملنګ ناست دئ، ته اول هغه ته ورسه ګوندي هغه يې در وښيي، ماته زمريان هم هغه راوښووله.

سهار دا هلک را رهي سو، برابر هغه ملنګ ته راغی، د ملنګ سلام يې وکی پسله سلامه يې و ملنګ ته وويل چي عمه مي د خور له پاره د انار ژړان اوسېب خندان درخته غواړي.

ملنګ ويل : بېعقله هغه دي عمه نه ده، بوډۍ شيطانه ده، خطاباسي دي، په يوه چم دي وژني، ناشده کارونه مه کوه.

ده ويل : يه زه پسي ځم لالا بيا پېغور راکوي چي ما زمريان راوستله تا دغه درخته نه راوړه، اوس که دي څه د لاسه کېږي خو ښه که نه وي هيڅ.

ملنګ ويل : ښه دئ نو، دغه زما خط واخله دغه لار واخله ځه ځه په لار کي به يو بدشکله دېبه په مخه درسي مه ځني بېرېږه، دغه زما خط ورته ونيسه، هغه به دي کار روايي وکي.

هلک هم خط ځني راواخيست، را رهي سو، هله هله دا ده دېبه په مخه ورغله، و ديبي ته يې خط ونيو. ديبي کاغذ مچ کی، هلک يې په څټ کي واخيست ويل سترګي پټي که !

ده چي سترګي پټي کړې يوې بلي علاقې ته يې راوړی و يوه بل دېب ته يې تسليم کی سره له خطه.

هغه دېب په څټ کي پورته کی و بلي علاقې ته يې راووست، و يوه بل

دېب ته يې ورکی، څه سر دئ ګرځوم هه هه پر دغه ډول ځلوېښتو دېبانو يوه وبل ته ورساوه، ځلوېښتم دېب د يوه غره پر سر ناست دئ.

دې دېب ورته ويل چي زياته زموږ په وسه نه کېږي، چي بو دي زو، اوس دي خپله مړانه او زړه دئ که دي په خپله مړانه او توکل څه وکړه ښه که نه وي هيڅ. تر دې غره چي ورشوه سولې د باغ حرم علاقه ده، يوه شاپېرۍ يې باچا ده چي د ګلخنداني خور ده، شپږ مياشتي بيده وي، شپږ مياشتي ويښه وي، اوس بيده ده، د انار ژړان او سېب خندان درخته د دې په سرای کي ولاړه ده، که دېبه ويښه سوې نه وه نو د درختي يو ښاخ بې مات کې را وا بې خلې نو راځغله تر ما پوري ځان راورسوه، او که ويښه سوې وه نو يې ټوکر کړې زيات ژوند نه لرې. بله دا چي تر غره ور شوه سولې تر شا مه ګوره د دې شاپېرۍ د کور پر خوا مخامخ ورځه، ته به هيڅ نه وينې منګر غيبي نارې به کېږي چي "غل دئ درغی راګرځوئ يې" غالمغال به وي هوښ کوه چي ونه بېرېږې، که وبېرېدلې او مخ دي راوګرځاوه سر به دي غوټ پرې سي، مطلب دا دئ ته به باک نه په کوې، په خپل مقصد پسي به ځې.

ده ويل : ښه دئ !

آبس بسم الله يې کړه تر غره راکښته سو دستي نارې سولې چي "غل دئ درغی مه پر راګورئ نيسي يې، دا دئ درغی هغه دئ ولاړ".

ده هيڅ باک په ونه کی تر غونډۍ مخ د شاپېرۍ د کور پر خوا چابک چابک ځي خو برابر راغی د شاپېرۍ په کلا ورننوت "بخت يې بيدار و" اول يې د دې دمخه نقاب پورته کی خورا يې خوښه سوله، د دې د لاسه يې ګوتمۍ وکښله په خپله ګوته يې کړه، خپله ګوتمۍ يې د دې په ګوته کړه، خپل د جېب دسمال يې ور پرېښود، د دې دسمال يې ځني واخيست، يوه مچه يې هم ځني واخيستله، د درختي څخه يې ښاخ پرې کی را وايې خيست هله هله په وچ تراټ برابر غره ته راغی، را وخوت، دېب ته يې ځان راورساوه.

دېب هم دستي را په هوا کی تر بله دېبه پوري يې راوړی هه هه څو ټولو دېبانو يو د بله سره راورساوه، څو تر دېبي پوري يې راوړی دېبي په ځټ

کي واخيست تر ملنګ پوري يې راوړی.

ملنګ ورته وويل چي پر تا دي آفرين وي، دا پلا مړ نه سولې باره دغسي ناشده کار مه کوه، ملنګ تر کلا پوري راووست.

هلک دا دئ راغی په کلا ور ننووت خور ته يې ويل چي دا ده درخته مي راوړه، په کلا کي يې د حوض پر غاړه شنه کړه، د درختي په يوه خوا سېب په بله خوا انار ځړېږي و سېب ته يې ويل وخانده ! شين د خندا ولاړی، و انار ته يې وويل وژاړه ! شين د ژړا ولاړی، د خور يې خورا سات په تېر دئ.

بوډۍ پسي څارو ده، چي خبره سوه دستي مغزی په وځړېدی راغله د باچا ماينې ته چي دا درخته خو يې هم راوړېده، په دې چل نه سوه مړه، منګر يو چل مي لا زده دئ که په هغه چل هم نه وه مړه، نو زموږ مرګ دئ، دوی په هيڅ نه مري.

دې ويل : وس کوه چي باچا هره ورځ ورځي چي سره ونه پېژني.

بوډۍ راغله کلا ته، درخته د حوض پر غاړه شنه ده، و نجلۍ ته وايي : مبارک دي سه ! اوس خو دي نو ښه سات تېر دئ.

نجلۍ وايي : هو عمه ښه مي سات په تېر دئ.

بوډۍ وايي : دا خو وسوه، منګر ورونه دي بې ماينې دي او ته هم يوه ښځه يې په سرای کي ناسته يې، ارمان چي ګلخندانه يې غوښتې وای، چي وخاندي تر خوله يې ګلان غورځي، نو به بيخي ښه و.

نجلۍ ويل : هو عمه جاني ولچي ښه دي وويل، وده چي لالا دوی راسي ورته وايم به، چي خامخا به ګلخندانه په تاسي دوو کي يو کوئ.

بوډي ويل : ښه دئ د خدای ﷻ په امان ولاړه !

ورونه يې چي کور ته راغله، خور يې ورته ويل چي ما وارويدله چي يوه ګلخندانه شاپېرۍ ده، چي وخاندي ګلان تر خوله تويوي، دا چي په تاسي کي د يوه ماينه وای ځنګه به ښه و.

دغه يو ورور يې ورته وايي : زه پسي ځم پيدا کوم يې تاسي به دالته ناست ياست يا به مړ سم يا بې راولم.

لنډه دا چي ورور يې بيا را رهي سو بيا ملنګ ته راغی سلام يې وکی، و ملنګ ته يې وويل چي زه ګلخندانه غواړم پسي ځم پيدا کوم يې.

ملنګ ویل چي مه کوه، د ښځو په خوله مه کوه، یو وار مي د مرګه خلاص کړې بیا مي د مرګه خلاص کړې دا پلا دي نه سم خلاصولای، ګلخندانه د هیچا لاس ته نه سي ورتلای. هلک ویل : یه زه چي دا ګلخندانه لاس ته رانه ولم زه نو د څه شي نر یم!

ملنګ ویل : ښه دئ چي نه یې پرېږدې نو زه به یې یو درک په لاس درکم، زیاته مي هیڅ کومک د لاسه نه کېږي، دغه د غره لمن ور واخله یو دره ده، چي په دغه دره کي ور ووتلې یو دښت دئ، دغه دښت ته ګلخندانه یوه هفته راځي، دالته سات تېروي، هیڅوک یې نسوای لیدلای، منګر دا یې ویلي دي چي "که هر چا ماته ږغ را وکی چي ګلخنداني ! او ما ور ها کړه او زه د ده په ږغ ورغلم زه د هغه یم، او که نه ورغلم هغه سړی به هلته ښخ سي، لکه کاڼی داسي به وي". دا ځلمی چي را رهي سو هله هله هغه دښت ته راغی که ګوري په سوو کسان ډبري سوي ښخ ولاړ دي، دی هم دالته ودرېدی چي د شاپېریانو هی هی سو، ده ږغ پر وکی ګلخنداني ! پر هغه ځای شخ ودرېدی ډبره سو.

دوهمه درېیمه ورځ یې دا بل ورور پسي را رهي سو چي لالا ډېر عمر تېر کی چي درک یې معلوم کم، باره راغی ملنګ ته ورته ویې ویل چي زما ورور څه سو؟

ملنګ ویل : هغه په ګلخنداني پسي ولاړ، هلته پر هغه دښت ډبره سوی دئ، ما ډېر ورته وویل چي مه ځه ! دی نه پاتېدی، ملنګ دا قصه ورته وکړه.

ده ویل چي زما ورور مړ سو، نو زما ژوند هم غیم، زه هم پسي ځم.

ملنګ چي هر څه زاري ورته وکړې، چي مرګ دئ مه ځه د ملنګ په خوله یې ونه کړه، هغه د ورور پر لار را رهي سو راغی هغه دښت ته په دغه ډبره سوو خلکو کي وګرځېدی خپل ورور یې پیدا کی، یو ګړی یې پر وژړله، وروسته د خپل ورور پر اړخ ودرېدی، چي د شاپېریانو ږغ او هایو هوی سو ده ور ږغ کړه چي ګلخنداني، دی هم پسي ډبره سو.

څو ورځي باد یې خور پسي راغله ملنګ ته یې وویل چي زما وروڼه څه سوه؟ ملنګ ویل چي په وروڼو تا پسات وکی، مړه دي کړه، او ته بوډۍ

خبيثي خطا ايستلې، نو ستا عمه چيري وه؟ ستا ورونه ما دوه واره د مرګه خلاص کړه دا پلا مي زور نه په رسېدی هغه دئ پر هغه دښت ګلخنداني دواړه ډېره کړي دي څه ولاړه سه کور ته !

نجلۍ ويل : زما ژوند دي نو هم خاوري سي، زه نو د چا سره کښېنم تر دې دا ښه دئ چي زه هم د خپلو ورونو تر څنګ ډېره سم، او ودرېږم، زه هم پسې ځم د خدای ﷻ په امان ! آبس نجلۍ را رهي سوله هله هله دښت ته راغله خپل ورونه يې پيدا کړه، دواړه شنه کاڼي دي ولاړ دي، دا يې هم پر اړخ ودرېدله، چي د شاپېريانو بړغ او غالمغال سو.

نجلۍ ور بړغ کړه چي ګلخنداني !

ګلخنداني چي وکتله که ګوري ښايسته نجلۍ ولاړه ده، فکر يې وکی چي دا خو ښځه ده، مانه سي ماينه کولای، په راسه ور ها که، ورسه چي دا څه نکل دئ، او دا نجلۍ څنګه راغلې ده؟

نجلۍ بيا وربړغ کړه چي ګلخنداني !

د دښت څخه ور بړغ سو چي ها درغلم !

درېيم وار بيا نجلۍ ور بړغ کړه چي ګلخنداني ! ژر راځه !

ګلخندانه دستي د انسان په ډول ورته ودرېدله ويل : خدمت !

نجلۍ ورته ويل چي تا خو ويلي وه چي "زه چي د هر چا په بړغ هغه ته راغلم زه د هغه يم" دا خو دي نه وه ويلي چي نر يا ښځه فرق خو دي نه و کړی، ويل پر خپل قول ولاړه يې که يه ؟

ګلخنداني ورته ويل چي بېشکه پر خپل قول ولاړه يم، بېشکه زه ستا يم، اوس امر کوه !

نجلۍ ورته ويل چي اول دغه زما دوه ورونه را ژوندي که !

ګلخنداني هم د روه دم پر وواپه ژوندي يې کړه "په حقيقت کي خو مړه نه وه په سحر سره ډبري سوي وه" ګلخنداني چي ودې هلکانو ته وکتل دستي پر مينه سوله.

وروسته يې ګلخندانه را رهي کړه پر هغه ملنګ راغله.

ملنګ ته يې ويل چي دغه ده رامو وستله.

ملنګ ورته ويل چي دا شل کاله کېږي چي زه پر مين وم او دا شل کاله

دمخه ما یو وار لیدلې وه بیا مې نه وه لیدلې، او ما د خدایه غوښته چې زما په ژوند یې یو وار بیا په ما وویني زیاته ژوند نه غواړم، اوس دا دئ چې پس له شلو کالو چې ما په دې غار کې د دې د دید له پاره ورته تیر کړه، ستاسي په سبب دا ده خدای ﷻ په ما ولیدله، زیاته ارمان د خدای ﷻ څخه نه لرم.

هلکانو ورته وویل چې دغه ده موږ لا اوس نکاح نه ده پر تړلې ستا یې په حلاله نکاح ، موږ نه یو پر عاشقان، ته پر مین یې او ته زموږ پیر یې زموږ سره دي ډیري نیکی کړي دي.

ملنګ ویل : یه خدای ﷻ دې ستا روزي کي، ما یې د خدای ﷻ څخه په ژوند کي دغه یو دید غوښتی و، هغه مې دا دئ ستا په سبب وکی، منګر دغه ستاسي حال لا درته وایم، زیاته نو زما عمر پوره دئ مرم.

ورته ویل یې چې تاسي د دې ښار د باچا زامن یاست، پلار مو هم دغه دئ چې پر تاسي مین دئ کله کله درته راسي، او مور مو باچا د آسو په تبیله کي اچولې ده تاسي دغه بوډۍ چې وای عمه مو یم دلته په څلوېښتي کي د مور د غیږي راوړاست وې غورځولاست، او ستاسي په عوض کي یې د سپي کوتریان ستا د مور په ځای کي ور واچوله ستاسي میره چې پر باچا ډیره ګرانه ده ستاسي دښمنه ده چې اوس هغه او دغه بوډۍ په تاسي پسې څارو ده او تاسي یې وژلاست، او ناشده کارونه یې په تاسي کوله، منګر ستاسي اجل خدای ﷻ نه و پوره کړی تولـه خدای ﷻ اسانه کړه، او ستاسي بخت به لا خدای ﷻ ښه راسته کي، د شاپېریانو باچهي به خدای درکي، او تاسي به تر هغو خپل پلار په ځان نه خبروئ څو شاپېرۍ د ګلخنداني ملګري لاس ته در نه سي او باچهي د پېریانو ستاسي نه سي.

دا یې ورته وویل، ویل "حق پل لرئ" ملنګ چپه سو مړ سو !

ملنګ ته یې هلته غسل ورکی، ښخ یې کی نو کور او کلا ته سره راغله. "دوی نو دالته پرېږده"

هلته د ګلخنداني د خور چې د پېریانو باچا ده خوب یې پوره سو، چې راکښېنستله که ګوري د بل چا دسمال یې پر مخ هوار دئ، د انسان بوی یې ځي، د دې دسمال نسته، چې لاس ته یې وکتل د بل ګوتمۍ یې په ګوته ده د دې ګوتمۍ نسته، او پر باړخو یې د انسان د خولې بوی دئ، حیرانه ولاړه،

چي دباندي راووتله د انار ژړان او سېب خندان د درختي يو ښاخ نسته، باره دغسي يې سترګي لګه د انارو پيالې راوکښلې د درده سره چوي. اول يې هغه ديبان چي پيره داران وه راوې غوښتل مړه يې کړه، حکم يې پر پېريانو وکی چي ولاړ سئ پر مځکه تيت سئ هر ځای چي مو دا درخته پيدا کړه، په درخته او په چا غرض مه کوئ فقط حال راوړئ، دا کار بې زوره نه کېږي لکه چي خورا زوره ور سړی راغلی دئ. دا کارونه يې کړي دي، زه يې ورسره معلومومه دا څنګه زوره ور دئ.

څه سر دي ګرځوم پېريان سره په هوا سوله چي وګرځېدله وګرځېدله، هه هه دا ده د دې هلکانو په کلا کي يې درخته وليدله، دوه زمريان هم ورته تړلي دي، پېريان ځني وبېرېدله، د وهمه يې را الا کړه برابر شاپېرۍ ته راغله.

شاپېرۍ ته يې وويل چي درخته په يوه کلا کي ولاړه وه، دوه نر زمريان پوري تړلي وه هغه هم په خيال ديبان راغله، او کلا د انسانانو وه !

شاپېرۍ هم امر وکئ چي جنګ ته ځان تيار کئ، نفر او خېمه در واخلئ ماښام کوچ دئ.

آبس ماښام ګرده پېريان او شاپېرۍ راپه هوا سول دا دي راغله پر کلا يې شاوخوا خېمې ونجتلې کُل دښت يې په خېمو ونيو چي لار و ګودر نسته.

سهار چي هلکان راکښېنسته که ګوري دښت ټوله شنو خېمو نيولی دئ، يو بامبو پروت دئ، هلکان بير ته په کلا ننوتله.

شاپېرۍ يو پېری د سړي په بڼه ورته راولېږۍ چي ته ورسه ورته ووايه چي غل په لاس راکئ يا جنګ ته راووزئ چي سره معلومه يې کو، که نه وي آل و مال به مو ګرده دود کم.

پېری راغی د کلا دروازه يې ور وټکوله، هغه هلک چي درخته يې ځني راوړې وه ورته راووت ويل خير !

دې سړي ورته وويل چي زموږ د باچا د انار ژړان او سېب خندان درخته ورکه ده، اوس باچا سره له لښکره راغلی دئ وايې : يا غل په لاس راکئ يا جنګ دئ ! ده ورته وويل چي زه نه لښکر لرم نه صلاح کوم، درځه زه يې جواب وايم، دستي کور ته ننووت هغه د شاپېرۍ دسمال او ګوتمې

يې راواخيستله، ورور او ګلخنداني ته يې دا کيفيت ووايه ! ګلخنداني ورته ويل چې زه به درسره ولاړه سم، هغه زما خور ده، يو څه عذر او زارۍ به ورته وکم !

ده ويل : يه ! زه يوازې ورځم او رشتيا ورته وايم توکل دئ.

آبس د دې قاصد سره را رهي سو، برابر راغی د شاپېرۍ پر زنګانه کښېنوست.

شاپېرۍ ورته ويل چې غل ته يې درخته تا وړيده؟

ده ورته ويل : هو ! غل زه يم درخته ما وړيده.

دې ورته وويل چې نښاني يې ووايه !

ده ورته ويل چې دغه ستا دسمال او ګوتمۍ نښاني ده، او دغه ستا پر مخ زما د غاښو ليکې دي.

شاپېرۍ ويل چې ته څنګه راغلې؟ زما ځای ته خو نه انسان نه پېريان راتلای سوای، نو ته په کم زور په څه چم راغلې؟

ده ورته ويل : نه مي چم و نه مي زور و، نه مي لښکر و نه مي سپاه وه، خاص په خپل غيرت او مړانه درغلم.

شاپيرۍ ويل : ښېشکه ټيک وايې، آفرين ! زه په حلاله نکاح ستا يم، ته زما مېړه يې، او تې زما پر ځای باچا، دغه دي لښکر دئ.

لنډه دا چې نور پېريان يې رخصت کړه شاپېرۍ يې د انسان په بڼه را رهي کړه کلا ته يې راوستله.

شاپيرۍ که ګوري چې په کلا کې ګلخندانه خور يې ناسته ده.

شاپېرۍ ويل : ته څه کوې دلته څنګه راغلې يې؟

دې ورته ويل چې زه يې ګټلې يم، خپل نکل يې ورته وکی. دې هم خپل نکل ټوله ورته وکی، چې دې هلک زما د سرايه څخه د انار ژړان او سيب خندان ونه راوړيده، او ډېر زړه ور او دلاور هلک دئ، نو ما هم دی مېړه کی.

څو ورځې باد دې هلکانو وويل چې زموږ مور د باچا په پلانۍ ګوخانه کې ده، دستې به يو پېرۍ استوئ راولئ بې.

شاپېرۍ هم دستې يو پېرۍ واستاوه ورته وې ويل چې يو دم به ورځې

چي څوک يې درڅخه ونه ويني، دا ښځه به راوړې.

پيرى ورغى په يوه رپ كي يې د دوى مور راوړه.

نجلۍ او هلكانو يې لاسونه مچ كړه، ورته وې ويل چي مور ستا هغه اولاد يو، چي بوډۍ دلته د غره په لمن كي وغورځولو، منګر خداى ﷻ مهربان دئ د صابر صبر نه ضايع كوي، خداى ﷻ ساتندويه دئ مور يې د مرګه وساتلو، لوى يې كړو، دا مو ماينې دي، دا مو كلا ده، او ستا كسات به د بوډۍ او ستا د بني څخه ستا په مخ كي وكاږو، دستي يې حمام په وكى د پېرذاتو كالي يې په واغوستله.

دې هم د خداى ﷻ شكر وكيښ.

بله ورځ ګلخنداني و هلكانو ته وويل چي پلار خو مو ملامت نه دئ، ناخبره و، ګناه ګرده د بوډۍ او ستا د ميرې ده سبا كه مو پلار راغى تاسي به يې سلام وكى مه يې خبروئ چي مور ستا زامن يو، يا ته مو پلار يې، بلكى ورته ووايا ست چي سبا شپه ته او ستا ټوله عمله زمور مېلمانه ياست خامخا به راځئ ! زمور او ستاسي باره سره خپلوي ده شناخت به سره كوو.

هلكانو ويل : ښه دئ !

سبا چي يې پلار د كلا دروازې ته راغى دواړه هلكان ورته راووته سلام يې وكى، پس له تعظيمه يې و باچا ته وويل چي سبا ته او ستا ټوله عمله او سپاه زمور مېلمانه ياست باره به خپلوي اوشناخت سره كوو.

"باچا خو پر مين و داسي خوشحال سو لكه د جنت زيرى چي پر وسو. " باچا ورته ويل چي ښه دئ، ځني را رخصت سو، چي كور ته راغى دستي يې جار وواهه چي سبا مازيګر ته دي ټوله عمله او سپاه او منصبداران راحاضر سي چي يو ځاى مېلمانه يو. په دا سبا مازيګر ټوله عمله، قاضيان، منصبداران او سپاه راټول سوله.

باره باچا دمخه دئ نور په پسې دي هله هله مازيګر غټ لا كلا ته را نژدې سوله، كه ګوري نه دود سته نه كادود سته، نه نور ترتيبات سته، نه دېګ سته نه كاسه، اريان ولاړ چي دا يې رشخند راوواهه، كه څه؟ خو هيڅ نسته، دا دونه خلك خو په كلا كي نه ځايېږي او دباندي هيڅ نسته.

خو چي ښه كلا ته ورنژدې سوله د كلا څخه يوه ډله سړي راووتله، د

هر یوه څخه یې آس ونیو ستړې مسې پې ورته وکړه.
وروسته بله ډله د کلا څخه راووتله، فرشونه یې په یوه رپ کې هوار کړه، و هر یوه ته یې في نفر یوه یوه ورېښمینه غالیچه ور هواره کړه بالښتونه یې ورته کېښېښوول، څه سر دي ګرځوم چې یو بامبو یو ږوږ دئ چې دوی ټوله اریان تللي دي چې ماښام سو، سړی و څراغ ورته لګېدی، د ډوډۍ وخت سو د هر سړی له پاره جلا جلا ګډوه او دشوی د سرو زرو راوړه سوه لاسونه ور پرېوله سوه، بیا سړي سر سترخان ورته هوار سو سړي سر د وریجو غوښو او سرو کړو مرغانو او سالنو د سرو زرو غوري ورته کېښېښوول سو.
چې ډوډۍ وخوړه سوه بیا یوه یوه ګډوه او دشوی د سپینو زرو ورته راوړه سوه، لاسونه ور پرېوله سوه، چې خلاص سوه ږغ وسو چې دغه ګډوه او دشوی فرش او غوري چې هر سړي ته ایښودل سوي دي د هغه دي ورسره وادې خلي، نور ټوله رخصت دي په مخه یې ښه ! یو باچا، قاضي او وزیران دي پاته سي، باره ټوله عمله او سپاه رخصت سوله ولاړه.
باچا قاضي او وزیران یې کلا ته ننه ایستله د سرو زرو پر تختو یې کښېنول د انار ژړان او سېب خندان او د زمریانو سیل یې په وکی.
وروسته ګلخندانه او خور یې راغلې باچا ته یې سلام واچاوه، دوی داسي ښایستې دي چې سترګي نه پر رونېږي، باره یې باچا ته وویل چې ښه! تا اروېدلي دي چې انسان کوتریان زېږولي وي؟
په باچا مغزی وځېدی.
وروسته یې د باچا ارزانه ماینه چې په ګوخانه کي یې اچولې وه ورته راوستله، ده چې داسي ورته وکتل اریان سو، چې دا خو زما ماینه ده، دغسي ډوب ولاړ. وروسته ګلخنداني دغه تېر نکل د بوډۍ او د ګراني ماینې تعداوي یې ورته بیان کړې، ټوله نکل یې سر تر پایه ورته وکی، ویل : دغه دي هغه دوه زامن دي، او هغه دي لور ده، زه او دغه ښځه دي مرندي یو، زامن دي د ټولو پیریانو پاچهان دي. وروسته باچا وویل : هغه ګرانه ماینه او بوډۍ راولئ، چې زړه په یخ کم.
باچا چې سترګي اړولې بوډۍ او ماینه یې ورته راوستله باره یې پر یو

دېب حکم وکی چي سره کش یې که وې خوره !

دېب ور حمله کړه بوډۍ او دا ښځه یې دواړه یوه ګوله کړه.

باره باچا و زامنو ته وویل چي زما باچهي هم ستاسي ده زیاته نو ارمان نه لرم.

باره سره کور و کهول سوله.

د باچازوی، مالداره او سپی

ته وا، ښه!

چې و یو باچا و یو زوی یې درلود چې خورا پر ګران و، دې زوی یې بل کار نه درلود بېله ښکاره، یوازې به دی او یو سپی ښکار ته سره تله، بل څوک یې ښکار ته نه ورسره بېوله.

یوه ورځ دوبی دئ، سوړ تک او سره ګرمي ده په ښکار راوتلی دئ، پر دښت ښکار کوي، خو څه ښکار یې وکی، تکنده غرمه سوله، اوبه یې تمامي سولې خورا تږی سو، خولې پر بهېږي حلق یې وچ کلک دئ شاوخوا یې وکتل هلته لیري پر دښت د مالدارو کلی معلوم سو، و دې کلي ته رهي سو چې اوبه څني وغواړي، هله هله دا دئ راغی، د کلي څخه بیر ته د مالدارو څاه دئ.

یوه مالداره ښځه ده، پېغله ده اوبه کاږي، دی د تندي څخه پر لاري نه سي تلای غواړي چې ژر اوبه وچښي، مالداري چې فکر وکی چې سړی سترې دئ ګرمي وهلی دئ تږی دئ، دا یخي اوبه کې په یوه ساه وچښلې تاوان ورته لري.

ده اوبه څني وغوښتلې چې اوبه راکه!

ښځي کټوری د اوبو ور ډک کی بیا یې نو پنځه شپږ خاشې پکښې واچولې، کټوری یې ورکی.

ده پر سر پورته کی چې دوه غوړپه یې وکړه خاشې یې خولې ته ورغلې، بیر ته یې کټوری د خولې څخه ایسته کی خاشې یې پو کړې، بیا یې خوله پر کښېښووله، ها ها څو په شپږ اووه ساوو یې ځان اوبه کی، وروسته یې د ښځي څخه پوښتنه وکړه چې دا خاشې دې ولې پکښې واچولې؟

ښځي ورته وویل چې ته سترې او لمر وهلی او ډېر تږی وې په یوه ساه

اوبه نه وي درته ښې چې چښلي دي واى، نوځکه مي خاشې پکښې واچولې، ما ويل چې په يوه ساه يې ونه چښې.

ده ورته وويل چې ته د چا لور يې؟

دې ويل : زه د دغه کلي د خان لور يم، زما پلار د لسو زرو کورو خان او مشر دئ، موږ مالدار يو، درې زره کوره دغه دي او زر په وطن کې دي.

باره د باچا زوى د دې و عقل او پوهې ته اريان ولاړ چې صحرايي او دونه پوه ! او د دې ښايست او اخلاقو يې هم زړه ځني يووړى، باره يې سپى هم اوبه کى څه اوبه يې په پتک کې ځني راواخيستلې دستي مخ د کور پر خوا را رهي سو، دى او سپى کور ته راغله.

دستي ورغى پلار ته چې اوس نو ماته واده وکه، بس دئ ډيري چتى مي وکړې.

پلار يې ويل : ښه دئ پر دواړو سترګو، څوک در وغواړو؟

ده ويل : پر دښت د مالدارو کلى دئ، د هغه کلي د خان لور راوغواړه.

پلار يې ورته وويل : صحرايي ښځه څه کوې؟ د وزير لور به در وغواړم.

ده ويل : بلې ! ته ومنه کې وکم چې پر دنيا مي يوه شپه کېږي.

پلار يې هم ويل ښه دئ.

دستي يې د هغه کلي خان راوغوښت ورته وې ويل چې دا لور دي زما زوى ته راکه ! خان ويل : ښه دئ درکوم يې منګر هو نن شنبه ده بلې شنبې ته به يې ودوې، که دي واده نه کړه زموږ کلى باربړي ځي وطن ته، بيا زموږ دود نه دئ چې د وطن څخه و بل وطن ته ښځه واده کو، بيا يې په زور هم نه سې بېولاى.

باچا ويل ښه دئ.

څه سر دي ګرځوم لنډه دا چې دستي يې دسمال واچاوه نکاح يې وتړله.

باچا او د باچا زوى و بلې شنبې ته د واده کار و بار سره جوړوي.

د خداى ﷻ کارونه دي د واده کار يې و بلې شنبې ته نه کى جوړ، دا اووه ورځي تيري سوې، د يکشنبې په ورځ د مالدارو کلى بار سو، دالته په

لار کي يو دوه کوره پراته وه.

د مالدارو د خان لور راغله و يوې ښځي ته يې وويل چي که زما مېړه چي د باچا زوی دئ دغسي ځوان دئ او دا يې نښاني ده، په ما پسې که راتلی تا وليد، ته به خامخا ورته وايې چي مايني دي ويل چي هوښ کوه چي راپسي رانه سې د ژوند څکه ولاکه وکې، زما څخه لاس پرېمينځه، او زما سلام دې ورته ووايه !

هغې ښځي ويل : ښه دئ.

د يکشنبې په ورځ چي باچا حال ونيو، مالدار بار سوي وه، باچا اريان سو چي دا څه چل دئ او دا څه نکل پېښ سو؟

د باچا زوی وويل : تاسي خوا مه بدوئ مالره خدای پېښه کړېده، زه په خپله ماينه پسې خپله يوازي ځم، يا بې راولم يا به مړ سم.

باچا چي هر څه الي ځلي وکړې، چي مه ځه بله به دروغواړم.

ده ويل : خدای يو مالګي توروې که پاته سم چي پر دنيا مي يوه شپه وي.

لنډه دا چي پر آس سپور سو څه روپۍ و بتکۍ يې ورسره راواخيستلې يو يې خپل د ښکار سپی ورسره رهی کی را رهي سو برابر يې هغه لار پسي راواخيسته.

تر يوه ځايه چي راغی هغه دوه کوره په مخه ورغله، يوه ښځه ورته راووتله، ورته وې ويل چي د باچا زوی ته يې؟

ده ويل : هو ! هغې وويل چي مايني دي سلام درباندي وايه پسله سلام ويل که دي زما مېړه وليد ورته وا "هوښ کوه چي په ما پسې رانه سې د ژوند څکه ولاکه وکې" او که راتلې هم نو زموږ وطن پلانی ځای دئ او په لار کي دي د پېريانو وطن هم دئ چي هيڅوک نه سي تر تېرېدلای نور نو اختيار لرې.

ده ويل توکل پر خدای ﷻ دئ، نه پاتېږم يا به مړ سم يا به مومې.

لنډه دا چي پسي را رهي سو، هله هله هله مزل پر مزل د نکل کار دئ په نکل کي معطلي نسته، دا دئ يوه دښت ته راغی، چي د مرغه بږچ نسته، نه انسان سته نه حيوان، پر دښت ليري يوه سپينه کلا ولاړه ده، وړی هم دئ

دې کلا ته را رهي سو، چي راغی د کلا دروازې ته ور ږغ یې کړه، چي مسافر یم، بیا یې ور ږغ کړه چي هر څه ناري یې ور وکړې ږغ نسته، باره په کلا ور ننووت، هیڅوک نسته، یو حوض دئ یوه درخته یې پر غاړه ولاړه ده، اوبه یې وچښلي تر درخته لاندي د حوض پر غاړه پرېووت بیده سو، آس او سپی یې ورته وتاړه، چي سترګي یې سره ورغلې یوې مینځي ږغ پر وکی چي څوک یې؟

ده ویل : مسافر یم.

مینځي ورته وویل چي ښه ځوان یې، که بي بي خبره سوله رشکی به دي وباسي.

ده ویل : چي بي بي څوک ده؟

مینځي ورته وویل چي بي بي شاپېری ده، نهایتي ښایسته ده، دا په نیلي سواره سره مشهوره ده، په نېزه بازي کي ډېره ګړندۍ ده، او مېړه هم نه لري، وایي چي هر چا که زه په پهلواني او نېزه وهلو کي ماته کړم زه د هغه یم.

د باچا زوی ورته وویل چي ورسه را خبره یې که، ورته ووایه چي یو ځوان راغلی دئ، چي ستا سره یې په پهلواني او نېزه کي معلوموي.

مینځه هم راغله و بي بي ته یې وویل چي داسي یو ښایسته ځوان دئ چي توبه، وایي چي زه د بي بي سره پهلواني کوم او په نېزه بازي کي یې ورسره معلوموم. بي بي هم د بنګلې څخه راکښته سوله، پر خپل نیلي آس سپره سوله، نېزه یې راواخیستله چي راغله، دی یې ولید، لږ څه یې خوښ سو، باره یې ورته وویل چي ځوانه ! نېزه نه درسره وهم ځکه تښ لاس یې، منګر پهلواني درسره کوم، که دي د آس په سپرولو کي د آس د ځین څخه واخیستلم په خپل مخ کي دي د ځین پر قاش کښېنولم، نو دي په حلاله نکاح وګټلم، که نه وي سر دي بایلو.

ده ویل : ډېر ښه دئ.

باره دی هم پر آس سپور سو میدان ته سره راووتله، دواړه جوړه سره ودربدله، چي آس یې په سپرلو سره واچول هله هله په عین توپ کي یې ور حمله کړه سپکه یې د آس د ځین څخه واخیستله د خپل ځین د مخه یې

کښېنوله.

شاپېرۍ ورته وويل : چي آفرين ! اوس دي نو په حلاله نکاح وګټلم.

راغله بير ته کلا ته بنګلې ته سره وخاته، چي پر دوو شونډو يادېږي هغه شی سته، څه سر دي ګرځوم څو عمر يې په دغه کلا کي تېر کی.

يوه ورځ يې شاپېرۍ ته وويل چي تا خو هيڅ پوښتنه راڅخه ونه کړه چي ته په څه شي پسي راغلی يې، څنګه راغلی يې؟

شاپېرۍ وويل : ښه اوس نکل وکه، څنګه راغلی وې دلته؟

ده ورته وويل چي زه په ماينه پسي را رهي سوی يم، د مالدارو څخه مي غوښتې وه مالدارو راڅخه بېولې ده، نو اوس که دي يوه لار و ليکه در ته معلومه وي خو راوېښيه او ته دالته اوسه.

شاپېرۍ وويل چي دغه لار پسي واخله ځه ځه په لار کي به يوه بله دغسي کلا په مخه درسي، په هغه کلا کي هم دا يوازي ده په مشکۍ سواره سره مشهوره ده، زما د اکالور ده، که دي هغه هم په دغه چم په پهلواني وګټله خو ښه ! او که نه وژني دي، او که دي وګټله نو هلته يو غر دئ، د هغه غره و هغه بلي خواته د هغو مالدارو وطن دئ، ته به د ملنګ پر ډول ور واوړې، خپله ماينه به پيدا کې، په يو چم بې را رهي کې چي تر غره دي راواړوله زياته موږ ته يې راپرېږده، او که دي راوانه ړوله در خبر سوله، نو دي وينه و مځکي ته نه پرېږدي وژني دي. ده ويل ښه دئ. لنډه دا چي را رهي سو، دا دئ راغی دې بلي کلا ته، په کلا ور ننووت بيا هغسي يوه مينځه ورته راغله دا نکل يې ورته وکی. مينځه راغله د ده نکل يې و شاپېرۍ ته وکی.

شاپېرۍ هم پر مشکي آس سپره سوه ورته راغله.

د دې شاپېرۍ هم مينه پر راغله، خوښ يې سو، و ځوان ته يې وويل چي ځوانه! ښه ځوان يې پر مرګ مي نه پېرزو کېږې مګر زه خپل بول نيولې يم، پهلواني درسره کوم که دي زه په سپرلو کي د آس د ځينه څخه واخيستلم زه ستا يم.

ده ويل : ښه دئ.

آبس ميدان ته راووتله، اسان يې په سپرلو سره واچول په اول ټوپ

کي يې شاپېرۍ د آس د سره واخيستله پر خپل آس يې په خپل مخ کي کښېنوله.

لنډه دا چي دا يې هم وګټله خو څو عمر يې په کلا کي د مشکي سواري شاپېرۍ سره تېر کی.

پسله هغه يې مشکي سواري ته وويل چي زه مالدارو ته ځم، هلته زما ماينه ده راولم يې، او ستا د اکا لور نيلي سواره مي هم ګټلې ده هغې د مالدارو کلی رانبوولی دئ، چي د دغه غره هغه خواته دئ او ويل يې چي زه به درسم، موږ دواړي به د غره پر سر درته کښېنو او اوس نو ته د ملنګ جامې راته پيداکه چي ورسم، خپله ماينه په دغه چم پيدا کم، ولي چي لس زره کوره دي ايله که مي په ډېر زحمت پيدا کړه.

شاپېرۍ ويل : ښه دئ ولاړ سه موږ به پر غره درته ناستي يو، فقط تر موږ پوري يې راورسوه.

ده ويل : ښه !

لنډه دا چي شاپېرۍ د ملنګي کالي ورکړه، دا کالي يې واغوستل را رهي سو راغی تر غره ور واوښت، سپی او آس يې په غره کي وتړله. شاپېرياني دواړي د غره پر سر ورته کښېنستلې، آس او سپی يې ګوري. دی کلي ته راغی د ملنګ پر ډول کور په کور ګرځي پکر غواړي، هله هله څو د خسر پر کور پېښ سو، چي هل يې کړه چي مېرمني خير راوړه! ماينې يې خير راواخيست چي راغله ملنګ يې وليد وې پېژاند باره يې روغبړ سره وکی.

ملنګ ورته وويل چي ما خوارۍ وکښلې، مرګ ته مي ځان ورکی، اوس راسره ځې که يه ؟

دې ورته وويل چي پر سر او ستر ګو درسره ځم، مګر د دې کلي او مالدارنو واک لرې؟ که راخبر سوله تر هر ځايه چي وي راپسي ځي چي هر ځای مو پيدا کي دواړه وژني.

ده ورته وويل چي هلته په غره کي ما آس درولی دئ، ته فقط تر هغه ځايه پوري ځان راورسوه زياته تولهو و ماته پرېږده ما يې چاره کړې ده. زه به دمخه ولاړ سم ته پسې راسه !

دې ویل: ښه دئ.

لنډه دا چې د باچا زوی را رهي سو راغی خپل آس ته شاپېریاني پر غره دوګامه ناستي دي.

ماینې یې هم دستي کور و کار سره جوړ کی، ډېري روپۍ یې ورسره راواخیستلې خپله بخچه یې هم په بغل کي ونیوله په خپل مېړه پسي را ووتله، هله هله ځو پسي راورسېدله.

د باچا زوی دستي پر آس سپور سو ماینه یې پسي کنجغه کړه را رهي سوله چي تر غره راواوښته د مالدارو لښکر پسي راورسېدی.

دلته دواړو شاپېریاني دوګامه ورته ولاړي دي ده ځان ورته راورساوه، لښکر پسي راورسېدی.

شاپېریاني وردمخه سولې د لښکر مشر ته یې وویل چي خبر دار! چي زیات پسي راتېر نه سئ، زیات حق نه لرئ، زموږ علاقه ده، که مو تر دغه غره ګام راړولی و، ولاکه یو بیا ژوندی ولاړ سئ. لښکر هم بیر ته مخ وګرځاوه، د شاپېریانو سره یې د وسه نه وه پوره. د باچا زوی او ماینه یې او نوري دوې شاپېریاني راغلې د مشکي سواري شاپېرۍ کلا ته یو څو شپې یې تېري کړې. پس له هغه د باچا زوی ورته وویل چي زه د باچا زوی یم، ځم وطن ته مقصد مي حاصل سو، تاسي راسره ځئ که نه ځئ؟ شاپېریانو دواړو ورته وویل چي ښکه درسره ځو، موږ هم ستا ماینې یو، په نره توره دي ګټلي یو، ته مو مېړه یې.

لنډه دا چي د دغه ځای ښځه یې هم ډېره دنیا او بتکۍ او جواهرات رابار کړه پر آسانو راسپاره سول.

د نکل کار دئ دا دئ د خپل پلار پاچهۍ و علاقې ته راشوه سوله، د ښار ښځه لیري یو ځای یې واړول، دالته یې دستي ختمو ته لاس ورته کی، مزدوران یې واچول یوه ښه کلا یې لکه ښار غوندي جوړه کړه، مځکي او باغونه یې رانیول یوه ښه مهمانخانه یې جوړه کړه.

څو ورځي باد د باچا زوی و شاپېریانو ته ویل چي زه ورځم پلار ته حق داره دئ مېلمه کوم یې.

دې ماینو یې درو سرو ته وویل چي ورسه رایې وله مېلمه یې که، منکر

هو کور ته به يې نه راولې، که دي راووست او مور يې وليدو پر مور زړه بايلي د توانه يې وزي، نو په هر چم چې وي تا وژني.

ده ويل : چپ کئ ! چپ کئ ! پلار پر مرندو هيڅکله نه وي مين سوی، او نې زوی وژلی دئ.

دوی ورته وويل چې مور در ته وويل، زياته اختيار لرې بيا به ارمان وکې.

ده ويل : يه کله يې پرېږدم تاسي داسي خبري کوئ چې خره خندوئ.

لنډه دا چې را رهي سو، ښار ته راغی خو خوشحالي سوله چې د باچا زوی راغی. دی برابر پلار ته راغی لاسونه يې ور مچ کړه، روغبړ يې ورسره وکی. پلار يې ورته ويل : په خير راغلې؟

ده ويل : هو مانيه مي راوستله، او دوې ماينې مي نوري هم کړي دي، تاسي او نوره عمله سره له وزيرانو او قاضيانو سبا زما مېلمانه ياست.

پلار يې حيران ولاړ ورته وې ويل : چيري مي بيايي او ښځي دي چيري دي؟

ده ورته وويل چې زه جلا ځای لرم، نوی ښار مي اچولی دئ.

پلار يې ويل : ښه دئ.

لنډه دا چې سبا باچا او عمله او نوره سپاه د ښاره راووتله چو کچکه ده خوشحالي ده چې د باچا زوی راغلی دئ او باچا يې مېلمه کړی دئ.

څه سر دي ګرځوم دا دئ کلا ته راغی، د کلا دمخه ښه فرشونه اوار دي، کښېنستل ماښام سو ډوډۍ يې وخوړه هغه نور يې رخصت کړه، باچا يې کور ته بوت.

باچا چي کلا ته ننووت دا خپل مرندي يې وليدې، دستي يې زړه بايلو، خو ږغ يې دم در حاله ونه کی، روغبړ يې سره وکی، شپه تېره سوه، په باچا اور لګېږي تمامه شپه يې په چرت تېره کړه " چي که بل بېګانه وای خو په زوره به مي دا ښځي ځني خلاصي کړي وای يا به مي په يوه بانه وژلی وای، د ده سره به اوس څه کوم؟"

په هر صورت سهار باچا رخصت سو، زوی ته يې وويل چي ته نه راسره ځې؟

ده وویل : یه ! زه دلې خوشحاله یم دلې دښت دئ ښکار کوم.

باچا ولاړ ښار ته !

دې شاپېریانو ورته وویل چې زموږ په خوله دي ونه کړه اوس ته خبر اوسه چې باچا پر موږ زړه بایلو ضرور یو چم در ته جوړوي، وژني دي، زیاته اختیار لري.

ده ویل : چپ کئ ! چپ کئ ! دا خبري مه کوئ !

باچا هلته دستي ماښام قاضي پټ راغوښت و حرمسرای ته، ورته وې ویل چې د دغه زوی مرګ به راته روا کوې، او دا ماینې به یې هم راته روا کوې، که نه وي ولاکه د ژوند څکه راځخه وکې پرېږدم دي نه !

قاضي فکر وکی چې وژني دي، او پر ناروا څنګه د روا حکم وکم، باره یې باچا ته وویل چې راسه یو چل ورسره وکه.

ده ویل : څه چل؟ قاضي ویل چې حال ور ولېږه ورته وا راځه ښکار ته، چې بودي تی دښت ته یې وباسه، چې خورا لیري وي او څه آبادي او اوبه ور نژدې نه وي، سکاو وپوهوه چې تکی اوبه ور نه کي، او غرمه هم تروه خواړه په وخوره، چې خورا تږی سي، او ډېر یې ستړی هم که، که یې د سکاو څخه اوبه وغوښتې، سکاو دي ورته ووایي چې دا یوه سترګه دي کاږم نو دي اوبوم، چې سترګه یې څني وکښله، نو دي لا تروې د مالګي اوبه ور کي، چې ښه پسي تږی سي بیا دي ورته ووایي چې دا بله سترګه به دي هم وکاږم نو دي په خوږو اوبو اوبوم ! چې ړوند مو کی، پر هغه دښت یې ایله کی، هلته یې درندګان خوري، مړندي به در پاته سي په خوني به هم نه یې.

ده ویل : ښه دئ !

لنډه دا چې سهار یې حال ور وکی چې موږ ځو ښکار ته د مېلې ښکار مو ایستلی دئ، ته به هم چټک راسې چې ګرده تاته ولاړ دي.

د باچا زوی هم پر خپل آس سپور سو، خپل د ښکار سپي یې ورسره را رهي کي، دا دئ د پلار سره یو ځای ولاړ، ښکار ته یو دښت یې پسي راواخیستی چې سر او پای یې نه معلومېږي.

زوی یې ورته وایي چې دا چول دئ، اوبه نسته زیات څه کوو چې ځو؟

پلار یې ورته وایي چي د دې په پای کي یوه چینه ده، ډیري هوسۍ او غرڅه ورته راځي، اوبه چیښي، هلته به ورسو، ښه ښکار به وکو.

څه سر دي ګرځوم خورا یې لیري بوت، یو ځای یې پیاده کی آس یې بل نوکر ته ورکی، دوی پیاده را رهي سوله، هله هله ټکنده غرمه ده، خورا ګرمي سوله ستړی هم سو تږی هم سو، سکاو ته یې ویل اوبه راکه!

سکاو ورته وایي چي یه! اوبه نه درکوم باچا حکم کړی دئ چي دا چول دئ اوبه لږ دي هیچا ته یې مه ورکوه.

بیا یې یو دوه ساعته ځان ټینګ کی، حلق یې وچکلک سو، ویل: اوبه راکه!

سکاو ویل: وده د ډوډۍ وخت دئ، چي ډوډۍ وخورو په ګډه به په اندازه اوبه وچښو. ډوډۍ راغله، ده ته یې داسي تروه غورمه کښېښووله چي سوکری مالګه ده، وږی دئ دا یې وخوړه، وروسته داسي تږی سو چي د ترپ او خبرو ولوېدئ. باچا ځان نیهام کړی دئ، او د باچا زوی وایي مړ سوم د تندي اوبه راکه!

سکاو ورته وایي چي څه اوږدې او لنډي کوم، باچا راته ویلي دي چي که ده اوبه غوښتې په یوه سترګه به یې ورکوې، که یې بله پلا غوښتې بله سترګه به یې کاږې.

دئ پوه سو چي ماینو مي رشتیا ویل، منګر ما یې په خوله ونه کړه، په هر صورت په تېر پسي ارمان دئ هیڅ یې د لاسه نه کېږي د چول دښت دئ، هیڅ سړی یې په خوله هم نه کوي، آس یې هم نسته، یو ګړی یې ځان ټینګ کی، آخر ته تندي نهایته غلبه پر وکړه، د صورت ویني یې وار په وار وچېږي آخر ته یې فکر وکی چي مرم خو مرم نه پاتېږم، تر مرګ دغه ښه دئ چي سترګي مي وکاږي اوبه خو به سم، باره یې سکاو ته وویل چي راسه دغه یوه سترګه مي وکاږه اوبه راکه!

سکاو هم دستي نښخ ور واچاوه سترګه یې ځني وکښله هلته یې وغورځوله، سپی یې ورته ولاړ و، دستي یې دا سترګه په هوا ونیوله و مځکي ته یې پرې نښووله وایې خیستله په ستوني کي یې وساتله.

باره سکاو یو غړپ تروې اوبه ورکړې، اوبه یې نه کی.

ده ویل : اوبه خو مي که ! سترګه دي راځخه وکښله اوبه دي نه کړم، هغه یو غړپ هم تروږ وي.

سکاو ویل : چي یه ! د باچا حکم نسته، چي دغه بله سترګه دي هم وکاږم نو دي اوبه کوم.

ده ورته وویل چي دغه ده دا بله سترګه هم وکاږه !

سکاو بیا نښخ ور واچاوه دا بله سترګه یې هم ځني وکښله هلته یې وغورځوله، سپي بیا حمله کړه په هوا یې ونیوله دا سترګه یې هم تازه توده په ستوني کي وساتله.

دئ او سپی یې دالته پر دښت پرېښوولو. سکاو باچا ته راغی چي سترګي مي ستا په امر وکښلې. باچا هم خوشحاله سو دستي را رهي سو د زوی کلا ته راغی و مړندو ته یې وویل چي مېړه مو مړ سو، راځئ اوس نو زما سره ښار ته. مړندو یې ورته وویل چي موږ دلې د ده پر نامه کښېنو او که زور راسره کوې په زور مو بیایې، نو جنګ درسره کوو، هر څه زور چي لرې راوړې باسه !

باچا اریان سو چي دا یې څنګه خبره وکړه ! دوی نو په څه شي جنګ کوي، بیا یې وویل چي څه ښځي دي یو پېشرو یې وواهه.

سهار یې دوې پیرې ورته راواستولې چي ورسئ ښځي د مال او اسبابه سره راولئ.

پیرې چي ورته راغلې په دروازه کي یې ورته وویل چي درځئ باچا حکم کړی دئ چي دوی راکډه کئ، دوی دي د مال سره راسي.

شاپېریاني دواړي پر اسانو سپرې سولې د نر په بڼه سولې نیزې یې راواخیستلې و میدان ته راووتلې، پیرې یې پسي واخیستلې ټوله یې ځای پر ځای په نېزو وپېیل مړه یې کړه، بیر ته کلا ته ننوتلې.

باچا ته حال راغی چي هغه سپاهیان یې ځای پر ځای په نېزو ټوله وپېیل.

په سبایې دوې پلټني عسکر ورته را وایستل.

دوی بیا پر خپل مشکي او نیلي اسانو سپرې سولې بیا په راګډې سولې د پېریانو چابکي ده، اسان یې الوزي خو په یوه رپ کي یې یو پلټن په نېزو

وپېيله پوپنا يې کړه هغه نور پلټن په ښار غوټ ننوتله.

دوی نو پرېږده چي جنګ سره کي، د باچا زوی اوسپی پسي راواخله.

هلته چي د باچا د زوی سترګي يې وکښلې او سپي دواړي په خوله کي وساتلې او دوی دوه يوازي پر دښت وه، دغه سره لمر ته پاته سوله.

سپي فکر وکی چي زه هم مرم، بادار مي هم مري، ته خو سترګي لري بادار که دي د ترپه ولوېدی ړوند سو، باره يې دغسي لکی پر شا واړوله هله هله يو ګړی يې دښت تر پښو وکيښ آخر ته يې يو ځای يوه پخه چينه پيدا کړه، يوه ونه پر ولاړه ده، راغی ځان يې پر اوبه کی، "ګوره د سپي وفا ده او فکر" خپله لکی يې په اوبو کي ووهله لنده يې کړه بيرته يې راالا کړه ځان يې په يوه ټوپ تر باداره راورساوه، لکی يې د بادار د لاسه ووهله کړنچی يې وکی. ده چي د سپي لکی وکتله لنده وه وپوهېدی چي سپي اوبه پيدا کړي دي باره يې سپي ته وويل چي دمخه سه!

سپي دمخه سو، ده يې په لکی پوري لاس ونيو ټپرېدی هله هله څو د نس په خوږو يې راووست باره سپي اوبه په چمبه وچړپولې.

ده يې چړپی واروېدی ور وڅکېدی اوبه يې وچښلي شکر يې د خدای جل جلاله وکيښ.

سپي بيرته په لاس کي لکی ورکړه رايې ووست تر وني لاندي يې کښېناوه.

يو ګړی باد سپي فکر وکی چي اوبه خو سولو منګر د لوږي به دلته مړه سو زه لا په واک کي يم بادار مي د واکه ولوېدی، پر يوه نه سي تلای، باره سپي لکی پر شا واړوله، ټوپ يې کړله، هله هله په يوه تراټ کلا ته راغی.

ماينې دغسي پر راوغور ځېدلې، سپی يې پر دا خوله مچ کی، سپی پر دوی هم شاوخوا راوګرځېدی، دوی فکر وکی چي ولچي د سپي د محبته څخه معلومېږي چي لکه چي ژوندی دئ، سپي ته يې ډوډی واچوله.

سپي ډوډی په خوله کي واخيستله د دباندي پر خوا رهي سو.

د ماينو يې ښه ترا يقين سو چي خامخا ژوندی دئ، دغه ډوډی لکه چي هغه ته ور وړي، دستي يې د سپي په غاړه د ډوډی او د غوښو ډک دسمال غوټه کی سپي يې ايله کی، سپی په يوه تراټ راغی سر يې د خاوند

په غېږ کي کښېښو. ده چي لاس پر وتپراوه په غاړه يې دسمال غوټه دئ ځني خلاص يې کی ډوډۍ او غوښي يې وخوړلې، شکر يې وکيښ چي خدايه بېشکه رزاق او قادر يې. دا بله ورځ بيا سپی را رهي سو، کلا ته راغی، د باچا زوی تر درخته لاندي پروت دئ. دوه مرغان راغله په درخته کي کښېنستل يوه مرغه هغه بل ته ويل چي دا څه ښه ځوان دئ ارمان چي ستر ګي يې درلوداى، دې بل مرغه ور ته وويل چي ستر ګي يې د سپي په ستوني کي دي، چي د دې درختي بلګونه وشکوي او سپی په څټ کي په سوک ووهي ستر ګي يې د سپي د ستوني څخه رالوېږي، بيا يې د دغي چيني په اوبو پرېمينځي په بسم الله يې د ستر ګو په غالبانو کي کښېږدي او دا بلګونه ميده کي پر کښي يې ږدي، په دوه ساعته به يې خداى ﷻ ستر ګي جوړي کي، په ويني به، او هو ستر ګي به يې شنې وي. هيڅوک به يې نه پېژني.

دا خبري چي مرغانو سره وکړلې پر سو والوتل.

دی دستي درختي ته ور وخوت بلګونه يې ځني وشکوله بير ته راکښته سو چي سپی راغی ده کوچ کی، سپی راغی سر يې په غېږ کي ور ته کښېښو.

ده په څټ کي په سوک وواهه په لمن کي يې ستر ګي ولوېدلې دستي يې واخيستې د چينې په اوبو يې پرېولې، بسم الله يې کړه په غالبانو کي يې کښېښوولې، سربېره يې بلګونه پر کښېښوول. يو دوه ساعته پرېووت چي پور ته سو، چي ستر ګي يې پور ته کړې مځکه او آسمان يې وليد شکر يې وکيښ پر سجده و خداى ﷻ ته پرېووت باره راولاړ سو، سپی يې پر خوله مچ کی، نو يې وشاړه چي ولاړ سه کلا ته باره مه راځه.

سپی ولاړ کلا ته دا پلا يې بيا د سپي په غاړه د ډوډۍ او دغوښو دسمال ور غوټه کی، چي هر څه يې چغه کی سپی نه تلی، دوی فکر وکی چي ولچي مړ دئ، خو صبر يې وکی ويل توکل دئ.

د باچا زوی راغی ښار ته پر يوه دوکان کښېنوست، دکاندار خوابدی ناست دئ، ده پوښتنه ځني وکړه چي ولي خوابدی ناست يې؟

دکاندار ور ته وويل چي د باچا د مړندو سره جنګ دئ، ګر ده پلټني يې

ور تباه کړي اوس موږ ورباسي.

ده ورته وویل چي ورسه باچا ته ووايه چي يو ځوان دئ وايي چي زه يې په جنګ در ماتوم، زه يوازي په جنګ ور وزم، نور دي هيڅوک نه وي راسره، فقط يو اس دي په کمنډ کي باچا و ماته راکي، نور هيڅ نه غواړم.

دوکاندار خوشحاله سو راغی باچا ته يې وويل چي داسي يو شين سترګی ځوان دئ، وايي چي زه يوازی په جنګ ور وزم، نور هيڅ نه غواړم منګر ماته دي په کمند کي يو آس راکي بل څه نه غواړم. باچا ويل : ورسه رايې وله.

دوکاندار راغی دی يې ور رهي کی، باچا ته يې ور ووست، باچا يې نه پيژني خوسترګي يې شنې دي، او چيري يې زړه ته لوېږي چي دا به زما زوی وي.

باچا پوښتنه ځني وکړه چي څنګه ته په جنګ ور وزې؟

ده ويل : هو ! زه يوازي په جنګ ور وزم، نور څوک به نه وي، ته او قاضي او کم يو وزير چي لرې، هغه دي ليري پر يو غونډۍ راته کښېني، نو يې سيل کوئ چي څنګه يې در ماتي کم، که خدای ﷻ کول، منګر هو ! ما په کمند کي ايله که، هر اس چي مي خوښ سو هغه راکه، چي زه پر سپور سم.

باچا ويل : ښه دئ ورسه د سره ګرده کمند ستا دئ تر تا جار دئ، که دي دا کار راوکی.

دی هم راغی کمند ته پکښي وګرځېدی او پکښي وې کتل خپل آس يې پيدا کی.

آس يې داسي ډنګر سوی دئ چي په سترګو يې د اوښکو لاري جوړي سوي دي، چي د ده بوی پر ولګېدی ورته وې ششنل.

دی هم راغی دستي يې پر آس لاس تېر کی، آس يې ځين کی پر آس سپور سو. آس پر دوه دوه نوکه کېږي، راغی ښځو ته يې حال ورکی چي ميدان ته راووزئ.

باچا وزير او قاضي ولاړه ليري پر يوه لوړه غونډۍ ورته کښېنستله سيل يې کوي.

ښځي هم ور ته راووتلې دمخه نيلی سواره ده، ده چي آس باندي ور رهی کی، آس مخامخ باندي ور الا کړه، ده نيلی سواره و نېزه وهلو ته پرې نښوولـه د روه يې واخيستله دمخه پر ځين يې سپره کړه.

باره يې په دغه حال کي ور ته وويل چي زه پلانی يم، ستا مېړه يم خوا مه بدوه.

و مشکۍ سواري ته يې هم حال ووايه چي خوابدي نه سئ نښاني يې ور ته وويل، دغه خپل نکل يې ګرده سر تر پايه ور ته وکی، نو يې بير ته ايله کړه، چي ور ځه کلا ته، هغه بله راوباسه.

دا کلا ته ولاړه، هغې بلي ته يې دا نکل وکی، حال يې ور ته ووايه چي خوشحاله اوسه خوابده نه کې زموږ مېړه دئ.

لنډه دا چي مشکۍ سواره هم ور ته راووتله، دا يې هم په يوه ټوپ د آس د سره څخه واخيستله، په خپل مخ کي يې سپره کړه بير ته يې ايله کړه، ور ته وې ويل چي سبا به د کلا دروازې ته راسئ يوه به يوې خواته ودرېږئ بله به بلي خواته ودرېږئ، چي باچا در ننووت وهئ به يې پر دغه لنډه باندي چي دوه ټوکره سي، بيا به قاضي او مفتي پسي ووهئ.

دوی ويل ښه دئ موږ هم د خدايه دغه ساعت غوښتی.

دی راغی باچا ته يې وويل چي سبا دي باچا قاضي او مفتي درې په درې راسي دلې به نکاح وتړي شپه به تېره کي سهار به مو په ډېر درب بوزي واده به مو کي.

باچا ويل: ډېر ښه دئ او پر تا دي ډېر آفرينونه او شاباسونه وي، وده چي زه پر کراره سم بيا به دي غټوم.

سبا شپه باچا ښه پېشن کړی دئ د قاضي او مفتي سره را رهي سو خوشحاله دئ، دا دئ کلا ته راغی چي په دروازه يې سر ور دننه کی دتورو پر شرپ سو دوه خياره يې کی، اه يې ونه کی مړ يې کی، بيا قاضي او مفتي پسي ننوتله، دا يې هم ووهله پر دغه څټانو باندي، سرونه يې هلته وغورځېده. د باچا زوی راغی و کلا ته، شپه يې تر سهاره ده او ماينو په شکر او سجدو تېره کړه.

سهار وختي د باچا زوی راغی ښار ته، و وزيرانو ته يې وويل چي زه هغه

د باچـا زوی يـم چـي سـتـر ګـي يـې راخخـه وکښـلـې باچـا او قاضـي او مفتـي ګمراهان مي مړه کړه، تاسي به د روه جار ووهئ چي باچا مړ سو، زوی يې پر تخت کښېنوست، که نه وي والله که يو د ژوند څکه راخخه وکی، يا تاسي يا سپاه.

وزيرانو ويل چي ستا پلار دي خدای ﷻ دوږخي کي تـه مو پـر غبر ګو ستر ګو منلی يې، باچا مو يې بېغمه اوسه !

سهار وزيرانو جار وواهه چي باچا مړ سو، پر تخت يې زوی کښېنوست، هوښ کوئ چي غوږ ونه ښوروئ.

بـاره د هـري خـوا بيعتونـه ورتـه راغلـه، دی پـر تـخـت کښېنوست دري سره مايني يې ښار ته راوستلې، خپله خوشحالي يې کوله، و خـدای ﷻ تـه يې عبادت کاوه، او د خدای ﷻ شکر يې کيښ. و بس !

دوی هلته پاته سوه، زه دلته راغلم !

علیبېک او شاپاڼۍ

ته وا، ښه !

چې وه دوه ورونه وه، دا دواړه په کندهار کې د بکوا وه.

دواړه ورونه خورا دولتمن وه، خورا ډېر دولت او مالداري یې درلوده، منګر یوه اولاد نه درلود. د خدای کارونه دي د دواړو ماینې امیندواري سولې.

دواړو ورونو وویل چې که زما لور وه ستا زوی و زه به لور ستا و زوی ته درکوم، او که ستا لور وه زما زوی، ته به لور زما زوی ته راکوې، او که د دواړو دا لوني یا زامن وه خو هیڅ !

څه سر دي ګرځوم ښځې چې لنګې سولې د یوه لور او د یوه زوی پیدا سو، د نجلۍ نوم "شاپاڼۍ" او د زوی نوم یې "علیبېک" کښېښو، دستې یې شاپاڼۍ و علیبېک ته ورکړه.

لنډه دا چې عمر دئ تېرېږي، د نکل کار دئ معطلې نسته پکښې، شاپاڼۍ او علیبېک دواړه ښه غټو کې کوچنیان سوله، په دغه کوچنیوالي یې یو د بله مینه سره پیدا سوله، یو د بله داسې سره ګران دي چې توبه ! یو ځای سره ګرځې بازۍ سره کوي، هه هه هه ! څو دواړه خدای لویول لوی سوله. کارونه د خدای دي څو عمر باد یې دواړه ورونه مړه سوه څو ورځې باد چې فاتحه و کمبله واخیستله سوه، علیبېک د شاپاڼۍ مور ته وویل چې اوس مې نو واده په لاس راکه، ښځه هم لو سول.

د شاپاڼۍ مور ورته وویل چې ښه دئ، منګر ولور در څخه غواړم ولې چې اکا دي مړ سو، زه به د کور یو ټاک و ټوک در وکم.

علیبېک ورته ویل چې ښه وایې منګر اوس خو څه نه لرم چې در یې کم او څو روپۍ سته چې دا درکم بیا بې مایې کېږم نو یه ! زه به څه شی مې

په وکم هندوستان له به يې يوسم څه ګټه مټه به وکم، نو د هغې خوا چې راغلم هغه دئ خپل واده به وکم !

آ ول ښه دئ !

آبس ! عليبېګ راغي ښار ته څه شي مي يې واخيستل، خپل کار يې سم کی خپل کاروان يې جوړ کی، دوې درې ورځې باد يې کاروان لکه باد مخ د هندوستان پر خوا رهي سو، هله هله هله ! دا دئ برابر د کن لره راغی، په دکن کي يې کاروان واړاوه.

د بده مرغه هغه مالونه چي ده کړي وه په دکن کي ارزانه وه نو هلته يې په يوه کاروانسراى کي يوه کوټه ونيوله چي ګوندي مال به مي لږ څه ګران او لږ څه پورته سي بيا به يې خرڅ کم، څو عمر که وځنډېږم پروانه لري چي تاوان ونه کم.

دی نو هلته په دکن کي پرېږده چي خپل مال ويلي کي شاپاڼۍ پسي راواخله: شاپاڼۍ داسي ښايسته ده لکه د انارګل، سترګي نه پر روڼېږي، جوړه نه لري. يوه ورځ شاپاڼۍ د خپلو همزولو سره و دښت ته راوتلې ده، د پسرلي موسم دئ سيل کوي، صحرا ده، د غاټوی او د ريدي ګلان دي، څوک ټاټکي کاږي، څوک د غوېناړي ګلان شکوي، ځيني نجوني د غاټوی او ريدي ګلان شکوي، په خپلو چترو او ګرېوانو کي يې ټومبي، څوک اتڼ کوي، څوک څه کوي او څوک څه کوي، په خپله شاپاڼۍ پر يوه غټه ډبره ناسته ده مخ يې لکه د څورلسم سپوږمۍ ځلېږي، دا هم شاوخوا ګوري سيل او ننداري کوي. په دغه وطن کي يو معصوم خان باچا و[1] د دغه وطن مشر او حاکم و، دا معصوم خان پر آس سپور دئ نور سپاره په پسې دي، راوتلی دئ چکر وهي، سيل کوي، شاوخوا سترګي رغړوي، يو وار که ګوري دا ښځې يې وليدلې، چي داسي يې لوړ وکتل سترګي يې پر شاپاڼۍ ومښتې، د روه پر

---

[1] دمخه هر يو د خپل سر باچا و، د هيچا حمايت يې نه کاوه، هر پښتانه خپلي ښلي ښلي چاربرجه کلاوي درلودې، او هر يو د خپل قوم باچا بلل کېدی، د پښتنو هر خان باچا و، نو ځکه اوس په هر نکل کي وايي چي : يو باچا و پلانی نومېدی، نو معصوم خان هم د دغي جملې د باچهانو څخه و.

مین سو، ځای پر ځای لکه ژېړ بت بېسده پرېووت.

شاپاڼۍ او نوري ښځې را رهي سولې یو باغ دئ په دې باغ ننوتلې.

معصوم خان چي په سد کي راغی دستي را ولاړ سو و خپلو غړو ته یې وویل چي هغه ښځې څه سولې؟

دوی ورته وویل : چي هغه په دغه باغ ننوتلې.

معصوم خان راغی د باغ تر تخره ور واوښت په باغ کي ماش درګي درګي ولاړ دي، شاپاڼۍ یې سیل کوي، پلی خوري معصوم خان ناره پر وکړه :

لو یه خدایه ماش ولاړ دي درګي درګي
معصوم خان به څه ښادي کي چي یې لیدلي شاپاڼۍ خماري سترګي

شاپاڼۍ چي دا ناره واروېدله فکر یې وکی چي څه بلا در ته جوړه سوه، خورا خوابدې سوله، باره یې چرت وواهه چي راسه پوره او کلک جواب یې وکه چي صبر یې سي، او زما مېړه په دکن کي ناست دئ، نو زه څنګه د ده پت مات کم، باید تر مرګه دده پر پت کښېنم. او د ده پت وساتم.

آخود شاپاڼو د ده په جواب کي ناره پر وکړه :

معصوم خانه که ته پُل زه دي واله یم
که ته پر ما مین یې معصوم خانه زه پر تا مینه نه یم

یعني که ته خان یې زه دي همسنګه یم، نه در څخه بېرېږم، نه بېرېدونکې یم، ته لکه پر ځای به پاته یې او زه لکه اوبه درڅخه تېره به سم، زه پر تا نه یم مینه، څه پر لو لار خپله لار دي وهه د بل په ښځو کار مه لره ! ښځې د کلا پر خوا را رهي سولې.

معصوم خان په پسې دئ د توانه یې وتلې ده، چي کلا ته راورسېدلې، معصوم خان بله ناره پر وکړه :

د کلا د خولې څخه خېژي شنه دودونه
معصوم خان به څه ښادي کي
چي یې لیدلي د شاپاڼو سپین مړوندونه

شاپاڼو بیا خوشکیت ورته وکی چي ځغله بې پلاره !

معصوم خان ورته ویل چي زما د طاقته وتلې ده، د پتڼ پای انکار دئ،

که په رضا وي که په زور نه دي پرېږدم، که په رضا ياري نه راسره کوې په زوره به دي بوزم!!!

شاپاړو فکر وکی چي ته ښځه يې، د وسه دي نه ده پوره او په کور کي هم نر ګاړی نه لرې، راسه چم ورسره وکه، که دي خطايوست څو عمر خان ځني خلاص او تر ګوره ځان ځني ورسوم، ګوندي په دغه ترخ کي عليبېګ راسي يا به احوال ور وکم، نو يې پر معصوم خان ناره وکړه:

معصوم خانه که ته نل زه دي پېروتی
که ته نل زه دي پېروتی
معصوم خان زه نېزه يم در ته نجتی

يعني چي زه هم پر تا داسي مينه يم لکه پېروتی چي پر نل مينه ده، او شاوخوا پر پېچل کېږي، بيا يې د ده د زړه د ډاډ له پاره بله ناره پر وکړه چي زړه يې بېغمه سي:

معصوم خانه غاښ دي سپين تر مرغلرو
کلا بېخ لره را درومه
په ورو ورو به سره کړو د ناز خبري

معصوم خان چي دا واروېدله، نهايته خوشحاله سو، چي ولچي دا هم راباندي مينه ده، او رضا سوله.

شاپاړو ورته وويل چي د کلا بېخ لره ماښام راسه هلته به خپلي خبري سره وکو، خپل مقصد به سره ووايو، اوس دلته دا دونه د خدای ﷻ عالم دئ نوم به مو بد ګرېوان به مو شيري وي، يه! کار بايد په پټه وسي. معصوم خان هم ډېر خوشحاله سو ويل ښه دئ. معصوم خان بير ته پر آس سپور سو ولاړ، منګر په زړه يې خدای خبر دئ چي څنګه به وي، وای کله به ماښام سي. شاپاړو چي ولاړه دستي په کلا ننوتله، دستي يې د کلا دروازه وتړله قلف يې کړه، خاوري يې ورته کوټه کړې، داسي يې ټينګه کړه چي هيڅوک يې نه سي خلاصولای، وروسته وختله د کلا په برج کي کښېنستله.

لنډه دا چي ماښام سو، چي ښه ترغونې سوله، معصوم خان را رهي سو راغی کلا لره "شاپاړو په برج کي ده" ده ور ږغ کړه چي څنګه يې کوې؟ دروازه راخلاصوې که څه وکم؟

شاپاڼو ویل چي زما چرت او کار نه دئ سم سوی، نن ولاړ سه سبا شپه راسه!
څه سر دي ګرځوم یوه هفته دوې هفتې یې په دغه چم خطا یوست هره ورځ بې کتله چي نن به علیبېګ راسي سبا به راسي، دې خواري خو نر ګاړی نه درلود چي په علیبېګ پسي یې ولېږي، یوه سپین سرې مور یې ده. یوه ورځ شاپاڼۍ په برج کي ختلې ده، شاوخوا ګوري که یې کتل د کلا بېخ ته یو فقیر ناست دئ، پر سر یې ګډړۍ اچولې ده پر دې ملنګ یې ناره وکړه چي ګوندي په علیبېګ پسي ولاړ سي، دا احوال ور وړي :

شاه ملنګه چي پر سر دي ګډړۍ ده
که به ناز د پاڼو اخلې
علیبېګ لره به یوسې زما چټۍ

یعني علیبېګ ته زما خط یوسه!
ملنګ په جواب کي ناره پر وکړه :

شاه ملنګ یم چي پر سر مي ګډړۍ
زه به ناز د پاڼو واخلم
علیبېګ لره به یوسم ستا چټۍ

آ بس! ملنګ ورته ویل چي بې بې خدمت! زه هر کار چي دئ کوم یې. شاپاڼو دا خپل تېر حال ورته ووایه، ورته وې ویل : "زه به خط در ولیکم، دا خط که دي دکن ته یووړی او علیبېګ ته دي ورکی، هر څه چي غواړې در بې کم".
فقیر ورته ویل چي پر غبرګو لېمو، را وې لیکه!
شاپاڼۍ هم دستي قلم او مشواڼۍ راواخیستله او دا یې پکښي ولیکل :

په علیبېګ پسي به واستوم حالونه
که په دې میاشت کي رانغلې
معصوم خان دي په باغ کښېیستل مالونه

په علیبېګ پسي به واستوم چټۍ
که په دې میاشت کي رانغلې
تور دکن لره به درسمه بندۍ

لنډه دا چې د ځان او د معصوم خان کیفیت یې ټوله پکښې وکیښ، چې معصوم خان په نن او سبا خطا باسم داغه یې چې راغلې، دا خط یې ولیکې د فقیر په لاس یې ورکی.

فقیر هم ګډړۍ ټکوهله پر غاړه یې واچوله دوې پښې یې دغه کړې دوې یې نوري یا شاهي ولات مخ د دکن پر خوا رهي سو.

په دغه ماښام معصوم خان راغی و شاپانو ته یې وویل چې ته ما خطاباسې، زه په زوره درځم، که دا چلونه کوې زما یو ګړی توان نه کېږي، تې په نن او په سبا کي وهې، علیبېګ خدای خبر مړ وي که ژوندی په هغه مه خانتماه کېږه او که راسي هم په زوره دي ځني خلاصوم.

شاپانۍ اوسترۍ وعده په قسم سره یوه میاشت ورسره کښېښووله، چې ته دا یوه میاشت صبر وکه، که علیبېګ راغی خو هم ته زور ور یې ما به ځني خلاصه کې نو به تا وکم او که نه راسي هم به دي وکم.

معصوم خان ویل ښه دئ.

فقیر چې را رهي سو مزل پر مزل د نکل کار دئ، هله هله ځو دا دئ برابر دکن ته راورسېدی، دستي یې د علیبېګ څرک ویوست، فقیر هغه کاروانسرای ته چې علیبېګ پکښې اوسېدی تجارت یې کاوه ورغی، فقیر یې نه پېژني، چې علیبېګ ته یې وکتل ډول یې د هندوستانیانو څخه بېل و، ویل که و دغه به وي.

علیبېګ هم چې ورته وکتل وې ویل چې دا فقیر خو کندهاری دئ، وروسته علیبېګ پوښتنه ځني وکړه، چې فقیره د کم ځای یې؟

فقیر ویل : د کندهار یم.

خیر خو سره وې پېژندل روغبړ یې سره وکی، علیبېګ خو هم پر خپلي میني پانو مین وو نو یې پر فقیر ناره وکړه :

شاه فقیر چې پر سر دي ګډړۍ
ما په خدای قسم درکړی
چې بي بي شاپانو مړه وه که ژوندۍ

فقیر په جواب کي ناره پر وکړه:

شاه ملنګ یم چي پر سر مي ګډېږي
ما په خدای قسم خوړلی
چي بي بي شاپاڼو ناسته وه ژوندی

وروسته ملنګ کاغذ د ګډېږي څخه راوکیښ و علیبېګ ته یې ورکی، د شاپاڼو او معصوم خان حال یې ګرده په خوله هم ورته ووایه.

علیبېګ چي کاغذ ووایه خورا یې زړه درد وکی پر خپلي میني یې آفرین ووایه چي بېشکه پښتنه یې.

منګر دلته یې معامله بنده وه، مالونه یې پراته وه، نو فقیر ته یې وویل چي ته درځه زه درپسې یم ته به دمخه حال ور وړې چي دغه دئ علیبېګ راځي راپسې دئ. فقیر هم راهي سو، څو شپې باد په وچه دوړه بیرته راورسېدی د شاپاڼو کلا ته چي ورغی د کلا دروازه بنده ده چي هر څه نارې یې کړې چا بږغ نه ورکاوه، فقیر دروازې ته کښېنوست.

شاپاڼو د کلا په برج کي شاوخوا ګوري ځار کوي که ګوري هغه فقیر یې ولید، د فقیر څخه یې پوښتنه وکړه چي څنګه دي کړه سترې مسې !

فقیر حال او د علیبېګ نخښي ورته وویلې چي راپسې دئ که خدای ﷻ کول درېیمه ورځ به راسي.

فقیر ته یې ډېري روپۍ ورکړې، فقیر خوشحاله سو پر خپله تړه ولاړ.
شاپاڼو هره ورځ کړی ورځ پر بام تېره کي چي اوس به راسي، اوس به راسي، یوه ستر ګه یې څلور کړېده، دا درې ورځي لکه درې کاله دونه سوله، اوس نو د معصوم خان سره یې چي موده اېښېده، هغه هم پوره کېږي، درې ورځي هم تیري سولې څوک نه سو معلوم.

څلرمه ورځ بږغ سو چي د دکنه څخه قافله راغله، دا پر بام وختله چي ګوندي یا د علیبېګ وي یا علیبېګ ورسره وي.

قافله راغله تېره سوه منګر علیبېګ نسته ورسره، نو یې مخ د ښار پر خوا وګرځاوه ناره یې وکړه :

که په نیل دئ احمد شاه چارسو په نیل دئ
دغه نور سوداګر راغله
لو یه خدایه علیبېګ سوداګر کم دئ

اوس نو د معصوم خان موده چي شاپاڼو ورسره ایښي وه پوره سوه، معصوم خان راغی د شاپاڼو کلا ته ورته وي ویل چي دا ده موده هم پوره سوه اوس څه کوې؟

شاپاڼې ورته ویل : بالکل صحیح ده، خدای خبر علیبېګ مړ وي که ژوندی، اما هو ! سبا شپه به ته یوازي راځې، نور څوک به نه وي درسره، زما و ستا دا د عشق کار دئ، ډول او ډمامې به نه جوړوو. معصوم خان خوشحاله سو ویل : ښه دئ زه هم په یوازي خوشحاله یم.

معصوم خان ولاړ ماښام راځي. دلته د علیبېګ یوه تېره توره ده، دا یې ښه پاکه ساټ و باټ کړه، تیاره یې پټه کښېښووله چي ولاکه د ژوند څکه راځخه وکې. زما مېړه په جګ سر ژوندی دئ او ته د بل ناموس ته ګورې او زه به د ده پت څنګه اخلم؟ لنډه دا چي معصوم خان ظالم ځان یو غوړپ کړی دئ، دا دئ راغی شک شک برېتونه د کلا دروازه یې ور وټکوله. شاپاڼو هم په خپله راغله دروازه یې ور خلاصه کړه ویل : ښه راغلې ! رایې ووست په خونه کي یې کښېناوه ډوډۍ یې ورته راوړه، ډوډۍ یې وخوړله. د شاپاڼو مور ده دا ایې لا دمخه په دروازه کي کښېنولې ده چي ته دروازه ګوره نور څوک نسته، د شاپاڼې یوه مینځه ده د معصوم خان تلوار سو ویل : دغه مینځه وباسه ځراغ مړ که چي پرېوزو بیده سو. شاپاڼو ویل : زما هم تلوار دئ پر دواړو ستر ګو.

آبس ! مینځه یې وایستله ده ته یې ویل چي ته پلنګ ته وخېژه پرېوزه، زه به ځراغ مړ کم، اوبه به راواخلم نو به زه هم دروخېژم.

معصوم خان چي پر پلنګ وخوت دراز یې وکیښ.

شاپاڼې د دې خوا توره ورسره لښته کړه وې واهه په دغه سر کي، سر یې ور دوه ځایه کی. ماغزه یې ور پاش پاش کړه، مړ یې کی پسي ټوکر ټوکر یې کی. اوس نو اریانې واخیستله چي څه په وکم چیري یې ښخ کم، چیري یې وغورځوم. کارونه د خدای دي دا په دغه چرت کي ده په دروازه کي برغ سو چي علیبېګ راغی. دا مخي ته ورغله په وینو سره ده، ښه لا نه معلومېږي خوني ته چي سره راغله علیبېګ دا حال ولید، ټکر ټکر سړی پروت دئ اریان سو وې ویل دا څه نکل دئ؟

شاپاڼو ناره پر وکړه :

ښه وې چي راغلې مسافره د دکنه !

ما پر ګوټ پټري وهل د رپسي تلمه[1]

خو یو ګړی سره غاړه په غاړه سوله روغبړ یې وکی.

وروسته شاپاڼو ورته وویل چي دا هغه معصوم خان دئ چي تاته مي په خط کي حال درلیږلی و. لنډه دا چي دا نکل یې سر تر پایه ورته وکی، وروسته یې هډوکي او غوښي سره ټول کړه په جوال کي یې واچولې نیمه شپه یې د کوره څخه ویوست، ګوښه یې په یوه چر کي واچاوه، پاڼ یې پر ونړاوه.

دوی سره کور و کهول سوله سره کښېنستله.

کیسی په کولک ننوته، زه په تلتک ننوتم.

[1] دا ناره د کسر پر ډول د هري نارې وروسته کوي، څوک په دې ناره کي د "ګوټ" پر ځای "ډال" چي په معنی د "سپر" دئ وايي.

لمبولال یا نېمبولال

ته وا، ښه !

ښه چي و يو باچا وو، د دې باچا يوه لور وه، زوی يې نه درلود، دغه لور خورا پر ګرانه وه، او ډېره ښه سکه يې وه.

پر دې لور يې يو پېری مين و، چي نوم يې "نېمبولال" يا "لمبولال" و، چي د کشمير د پېريانو د باچا زوی و، يو مريی يې درلود چي نوم يې "لونګين" و، او څلور خوندي يې درلودې، چي کشره خور يې "شېربانو" نومېده، دوې خوندي يې په لاهور کي وې، دوې هلته په کشمير کي، دی پر مين سو، د باچا پر لور. نو يې مريی چي لونګين نومېدی او هر ځای به د ده سره و، او د ده حفاظت بې کاوه، د ځانه څخه يې جلا کی کشمير ته يې واستاوه.

ده ځان د يوه سپېره طالب په بڼه کړی دئ، د باچا کور ته نژدې په يوه مسجد کي يې ځای ور ته نيولی دئ استېږي، د ورځي د طالبانو سره سبق پر ملا وايي، چي نيمه شپه سي بير ته د پيري په ډول سي، راسي نه يې پيره دار ويني نه يې مينځياني ويني. د باچا د لور سره پر پلنګ تر سهاره شپه تېره کي، نه يې خوب ته پرېږدي نه يې بل څه ته، سهار وختي بير ته ولاړ سي مسجد ته، د طالب په بڼه سي په مسجد کي سبق وايي، هيڅوک يې نه پېژني. دغه د باچا لور ورځ په ورځ تکه ژړه کېږي، داسي تکه ژړه سوه وچه کلکه لکه دا ژړ نل ننځه ننځه کېږي، رنځ يې نه دئ معلوم، هر څه دواوي چي په وکي نه ښه کېږي، دا هم په ځان نه پوهېږي.

آخر ته باچا حکم وکی چي دغه زما لور که هر چا جوړه کړه د هغه سړي ده.

په دغه ښار کي "ځيني خلک وايي چي دغه باچا په سوات کي و

اخوندي بهادر هم په سوات کي و، چي هغه مسجد تر اوسه سته چي اخوند بهادر يې پکښي ځړولی و، دی اوس هم ځړېږي." اخوند بهادر نومېږي چي پېريان يې مسخر کړي دي.

دې اخوند بهادر يې ذمه واخيسته چي زه يې جوړوم ولې ده خو معلومه وه چي دا پېرې دئ.

باچا هم ورته ويل : ښ دئ که جوړه سوه ستا ده.

آ بس اخوند بهادر راغی ورته وظيفه سو، نېمبولال يې په وظيفه سره را حاضر کی، منګر چي هر څه يې وکړه نه يې سوای نيولای په لاس نه ورتی.

اخوند بهادر ورته ويل چي مه کوه دا ښځه پرېږده !

ده ورته ويل چي زه پر مين يم هيڅکله يې نه پرېږدم، زه ستا په وظيفه بند واز نه يم، زه د باچا زوی يم ته مي نه سې نيولای.

تر سهاره ملا ورسره ووهله نېمبولال يې نه ونيو.

آخر ته ملا ورته وويل : که ته داسي غښتلی يې او نر يې په دغه ګډوه به ننوزې، بير ته به يې تر چوښکه راووزې، که دي دا کار وکی نو بېشکه غښتلی يې نو زه هم ځم په تا غرض نه لرم.

نېمبولال يې خطا يوست ويل : ګوره چي په ننوزم.

اخوند ورته وويل چي ودي ګورم څه !

نېمبولال په ګډوه ننووت.

اخوند بهادر دستي د ګډوې پر خوله او چوښکه لاس ونيو ويل : اور بل کئ، اور چي يې بل کی ګډوه يې پر اور باندي کړه.

هلته يې خوندي خبري سولې په يوه رپ کي راغلې، که ګوري اخوند نېمبولال په ګډوه کي اچولی پر اور باندي کړی دئ ايشوي يې، دوی ناره پر وکړه :

لمبولال مه وژنه اخونده

تاته به درکو شېربانو تر شيدو سپينه

نارې دي لونګينه

يعني ته لمبولال د باچا د لور له پاره وژنې موږ به خپله کشره شېربانو خور چي تر ټولو ښايسته ده درکو. لمبولال را ايله که.

اخوند بهادر غوږ نه پر ونیو. خوندو یې بله ناره پر وکړه :

لمبولال مه وژنه اخونده !

د لمبولال په غوږ لښتی شنه یې خالونه

ناري دي لونګینه

چي یعني د لمبولال په غوږ لښتی ده، شنه یې خالونه دي، چي د یوې باچهی قیمت لري دا به درکو، دی مه وژنه.

اخوند بهادر غوږ نه پر نیسي، نې پرېږدي، په دوی کي چرت نه وهي، نه ورته ګوري، په ګډوه پسي اور بلوي.

وروسته دوی خپل تر خپله ناره سره وکړه :

خوندي یې ټوله ورته ژاړي

چي لمبولال یې په ګډوه کي ایشاونه

ناري دي لونګینه

لبمولال څه سوه هغه ستا د بشر مینه

ناري دي لونګینه

لنډه دا چي لمبولال یې مړ کی، خوندو یې ناره وکړه :

د نېمبولال د مرګ ناري سوې

په کندهار کي ماښام اور نه بلېدنه

ناري دي لونګینه

وروسته یې نېمبولال د ګډوې څخه مړ راوکیښ، د سر وېښتان یې د سر څخه شوړېدلي وه. خوند یې دغه وېښتان واخیستله څه یې هغه مسجد ته راوړه هغه طالبانو ته چي دی ورسره وو وریې کړه، نو یې ناره پر وکړه :

د نېمبولال پیکی یې پرې کی

نو طالبان دي د څراغ پلیتې کینه

ناري دي لونګینه

لنډه دا چي اخوند بهادر ته یې وویل چي نېمبولال خو دي په داسي ظلم راڅخه مړ کی، یه ! نو پر تا هم ښادي حرامه ده بې مرګه دي والله که پرېږدو.

پس له هغه یې نېمبولال په تابوت کي واچاوه، څلورو خوندو پر اوږو

واخیست کشمیر ته یې یووړی.

باچا عسکر پېریان و مخ ته ورته راوایستله نو عسکرو ناره پر وکړه:

د لمبولال تابوت یې راوړی

څوک وایي مړ دئ څوک وای خوب یې زنګوینه

ناري دي لونګینه

لنډه دا چي نېمبولال یې وسپاره.

بیا نو باچا ټول پېریان راټوله کړه، چي تاسي به ورځئ هر ځای چي مو پر اخوند بهادر چمبه صافه سوله وژنی به یې.

خوندو ویل چي یه! موږ یې په خپله وژنو چي زړه مو په سوړ سي. څه سر دي ګرځوم، بیرته یې خوندي او دوه کسه غټ پېریان راغله، اوس په اخوند بهادر پسي دي وار پر ګوري.

وایي چي اخوند بهادر یو ګړی بې اودسه نه ګرځېدی، او تل مدام به یې په خوله کي ورد و، چي پېری به نه سوای ور نژدې کېدای.

یو شپه اخوند بهادر په مسجد کي پروت دئ، شیطان بازي ور کړه، اودس پر واوښت، دستي د نېمبولال دوو خوندو ور حمله کړه، اخوند بهادر یې ټینګ ونیو، هغه نورو ته یې وویل چي پورته کئ د مسجد چت یې تیر پرېږدئ. هغو هم د مسجد چت پورته کی یو تیر یې پرېښو، اخوند بهادر یې پر تیر پړمخي لکه د غوږو زک کښېښو، بیرته یې چت پر کښېښو، اخوند یې مړ کی، لړمون یې تر خوله ووت.

سهار چي یې مقتدیان راغله اخوند بهادر په تیرانو ځړېږي، دوی اریان سوله چي دا څه نکل دئ؟

خوندو یې ناره پر وکړه:

مقتدیان راغله ډلي ډلي

اخوند بهادر مو لکه زک وځړاونه

ناري دي لونګینه

وروسته مقتدیانو چي دا واورېدله پوه سوله چي پېریانو ځړولی دئ.

اوس نو د نېمبولال خوندي هره یوه سره جلا کېږي، ځي خپلو وطنو ته دا آخره ناره سره کوي:

د ښمبولال خوندي څلور دي

"په بلې بلې"

دوې پر لاهور دي دوې پر کشمیر دي ویر کوینه

ناري دي لونګینه

ښمبولال څه سوه هغه ستا د بشر مینه

ناري دي لونګینه

دوه ورونه په يوه رنګ

چې و يو سوداګر و.

دې سوداګر زوی نه درلود، او نې زوی زوکړی و، دنيا او دولت يې خورا ډېر درلود.

يوه ورځ يو فقير راغی په دروازه کي يې هل کړه.

د کور د خوا مينځې ور بږغ کړه چې ويش اور دي وسي په تاسي ډيرو ملنګانو !

ملنګ ويل : ولي بي بي؟

دې ورتـه وويـل چـي اغـا زوی نـه لـري، پـه تاسـي کـي يـو د خـدای ﷻ دوست نسته چي دعا وکي، خدای اغا ته زوی ورکي.

ملنګ ويل : ښه دئ زه به سبب در دم کم، منګر هو په دې شرط که خدای ﷻ زامن ورکړه لومړی زوی يې په دروړ کي زما دئ.

مينځې و سوداګر او ماينې ته دا بيان وکی چې ملنګ داسي وايي.

سوداګر او ماينې هم ورسره خوښه کړه.

ملنګ سبب ور دم کړه، هغه سوداګر او ماينې سره وخوړله.

کارونه د خدای دي، خدای ﷻ و سوداګر ته درې زامن ورکړه.

ؤ ؤ ؤ! عمر دئ تېرېږي ځو دا هلکان درې سره غټ سوله لوی سوله، هغه مشر زوی يې بيخي ځوان دئ.

يـوه ورځ بيـا ملنـګ هـل کـړه، هغـې مينځـي خيـر ورتـه راوړی فقيـر يـې وپېژندی.

فقير ورتـه وويـل چـي څنګـه اوس خـو زامـن خـدای تعالـی وسوداګر تـه ورکړه اوس زما نذر راکوي که يه ؟

مينځه راغله سوداګر ته يې وويل چي هغه ملنګ راغلی دئ وايي چي

پر قول ولاړ یاست که نه، زه خپل نذر غواړم.

سوداګر وویل : بېشکه پر خپله پښتو زه ټینګ یم، نو یې هغه مشر زوی و ملنګ ته ورکی.

ملنګ دعا ورتـه وکړه د سوداګر زوی یې را رهي کی، ملنګ دمخه دئ، هلک په پسې دئ، د هلک هم خورا ښه رنګ دئ، ملنګ تـه بابا وایي، خو هله هله پر لاري پر یوه دښت کوډل ده، یوه زړه بوډۍ یې و مخ تـه ناسته ده، کنډوکي او خاشې ټولوي.

بوډۍ چي دې هلک تـه وکتل خورا ښه سکه یې وه، خوښ یې سو، دوباره یې هلک ته اشاره وکړه چي دلته راسه !

هلک چي ورتـه راغی بوډۍ ویل چي چیري ځې دا ملنګ دي څه دئ چي پسي ځې؟ هلک ورتـه وویل چي زه پـه کوچنیوالي کي لا پـلار و دغـه ملنګ ته په نذر کي ور کړلم، اوس نه یم خبر چي چیري مي بیایي؟

دې بوډۍ ورته وویل چي زویه ! ښه ځوان یې، پر مرګ مي نه پېرزو کېږې "ستا په خوله کي دي وي" دغه سړی ملنګ او انسان نه دئ، "تور دېب او ادم خور دئ" اوس دي بیایي هلته یوه کلا ده د ده ځای دئ، پـه هغه کلا کي یې د دتیلو دېګ باندي کړی دئ چي ورسې تاتـه به وو ایي چي "تـه پر دغه دېګ راوګرځه وګوره چي تېل خو نه تویېږي" پـه دغه مابین کي تـا ورپوري وهي، پـه تیلو کي چي پوخ سوې، نو بیا دي خوري، یـه ! تـه داسي وکه چي ورسې دی به دا درتـه ووایي چي پر دېګ وګرځه، تـه ورتـه ووایه چي یه بابا زمانه دئ زده، چي څنګه پر وګرځم، تـه یو وار پـر وګرځه زه بې در څخه زده کم، بیا به نو زه پر وګرځم، چي دی پر ګرځي یو وار به خدای یاد کې، بسم الله بـه کې دی به ور پـوري وهې، بخت و شنې دي کـه دي دی پـه دېګ کي غوزار کی خو هغه دئ خلاص به سې، که دي پکښي غوزار نه کی نو یې مړ کړلې.

ده ویل : ښه دئ.

لنـډه دا چـي د سـوداګر زوی او ملنـګ سـره راځـي راځـي دا دئ راورسېدله، یوه لو کلا ولاړه ده، پـه کلا سره ننوتله، یو ګړی باد ملنګ یوه کوټه خلاصه کړه په کوټه کي دېګ باندي دئ ایشي، ملنګ و هلک ته وویل

ورسه پر دېګ وګرځه چي تويېږي خونه.

ده ورته وويل چي زمانه زده، يو وار ته پر وګرځه چي زې زده کم.

ملنګ ور ولاړ سو، وايي داسي پر وګرځه!

ملنګ چي يو څرخ پر وخوړ، پر دوهم باندي ده بسم الله کړه ملنګ يې دېګ تـه ور پـوري واهـه، ملنګ پکښي غـوزار سـو، هلتـه مکـوټ سـو، يـوه سوځېدلې سو، د ملنګ او د مرګه خلاص سو.

وروسته يې د ملنګ ګودړۍ راواخيستله، سره شنله يې پنځه کيلي يې پکښي پيدا کړې دا کيلي يې راواخيستلې په کلا کي پنځه خوني قلف دي، يوه خونه يې خلاصه کړه، اسان پکښي تړلي دي، منګر د پروړو پر ځای يې هډوکي ور اچولي دي بله کوټه يې خلاصه کړه، سپيان پکښي تړلي دي، د هډوکو پر ځای پروړ ورته پروت دئ، بله کوټه يې خلاصه کړه، که ګوري خالص انسانان پکښي پراته دي څوک مړه دي څوک ناجوړه دي، زګېروی يې دئ، د چا زکندن دئ، پـه بلـه کوټـه کـي سـره زر دي، پـه بلـه کوټـه کـي جواهرات دي.

وروسته را ولاړ سو اسانو تـه يې پروړ واچاوه، هډوکي يې واخيستله سپيو ته يې واچوله، مړي يې ښخ کړه نور بنديان يې ايله کړه، وناجوړو تـه يې دواوي راوړې پـه لږ موده کـي پـه دې کيفيت خلک سـره خبـر سوله، نوکران او مزدوران يې ځان ته ونيوله، په کلا کي يې همسايګان واچوله، يوه کلا چي ځني جوړه سوله اوس نو دالته اوسېږي.

يو کال تېر سو، وروسته د سوداګر زوی دالته دغ سو فکر يې وکی چي کم ځای ته ولاړ سم، او کور ته خونه ځم ولي چي مور و پلار بې فکره او بې سنجشه و مرګ ته ورکړلم، يه راسه پر يوه بله خوابه ولاړ سم. "هلته چي ملنګ دی را رهي کی، نو وده تـه يې يوه خولۍ ورکـړه، چي کـه دا خولۍ پر سر کـړې چي د هر شي پـه ډول دي زړه غـواړي ځـان د هغـه پـه بڼـه کـولای سې." دوباره يې دا خولۍ راواخيستله، څه پيسې يې هم راواخيستلې، د کلا همسايګانو ته يې وويل چي زه څو عمر په سياحت او مسافري ځم، پر يوه ښه آس سپور سو را رهي سو، هله هله مزل يې وکی غرمه ده راغی د غره په لمن کي يوه پډه ولاړه ده، تر دې پډې لاندي پرېووت، که ګوري په دغه پډه

کې د "سیمرغ" مرغه ځاله ده، دوه چیچیان پکښې کې دي، یو ښامار ورخېژي غواړي چې دا چیچیان یې وخوري ده د دې خوا غشې او لینده ورته ونیو، دغه ښامار یې وویشت، لاندې یې راواچاوه، باره یې د ښامار څخه یو څه غوښې پرې کړې، دغه چیچیان یې په ماړه کړه، وروسته بیرته بیده سو، یو ګړی چې وسو، د هې خوا سیمرغ مرغه راغی، چې دا سړی یې ولید فکر یې وکی چې دا زما چیچیان هر وخت خوري هغه لکه چې دغه سړی دئ، خورا درد ورغی، راغی یوه د غره کرکنډه یې په منګلو کې راواخیستله، غواړي چې دپاسه یې پر ده راایله کې، د دې خوا یو چیچی ور والوت دغه خپله مور یې په یو ډول وپوهوله چې دغه سړي مور له دښمنه خلاص کړو.

سیمرغ مرغه بیرته کرکنډه وغورځوله، چیچي دا تېر نکل ورته وکی، مور یې راغله کرار یې دا سړی ویښ کی.

سیمرغ ورته وویل چې دا دونه نېکي دي زما سره وکړه، دغه زما یو چیچی یې ستانوکر، چې ته هر چیري ځې ستا پر سر به سایه کوي.

ده ویل : ښه دئ.

د دغه ځایه بیا د سوداګر زوی را رهي سو هلـه دا دئ راغی یوه ځنګله ته یوه زمری ده چې په پښه کې یې منډه مات سوی دئ خوراځني په عذاب ده.

ده زمری ته وویل چې دغه منډه به زه د پښې څخه در وکاږم، چې ته داسي ځني په عذاب یې.

دې ورته وویل چې نه بې وکاږې.

ده ویل : کښلای یې سم، زه به یو غار وکینم ته به تر غار پښه راځړوې زه بې وکاږم.

دې ویل : ښه دئ.

آبس غار یې پرې کی، زمری پښه په غار کې ور وځړوله، ده لاندې منډه ځني کش کی زمری د درده په ډېره خوله ولګوله، دی په غار کې وڅو د زمری د پښې درد جوړ سو.

دی د غاره راووت، زمری خورا ډېره ځني خوشحاله سوه.

زمری خپل یو زوی و ده ته ورکی چې دا زمری یې ستانوکر.

لنډه دا چي دی او زمری او د سیمرغ چیچی سره را رهي سوله، راغله یوه کلي ته، آس یې ورته وتاړه، زمری پرېووت، سیمرغ مرغه ورته کښېنوست، خو سودا ورلوېدلې ده چي څه وکم.

باره راغی یو ګوروان دئ خپل کالي یې وده ته ورکړه د ګوروان کالي ده واغوستله، ګوروان ته یې وویل چي برغ مه کوه دغه زما آس ګوره، دغه زمری هم درسره دئ هوښ کوه چي برغ ونه کې.

د سوداګر زوی په ګورم پسې سو، هغه خولی یې پر سر کړه، کټ مټ هغه ګوروان سو، ماښام یې ګورم کلي ته راووست، دی د کلي دباندي پاته سو، یو ګړی باد د ګوروان مور فکر وکی چي ګورم راغی زوی مي نه راغی، دا څه نکل دئ خو پسي را رهي سوله، چي خپل زوی پیدا کي چي راغله د کلي دباندي د سوداګر زوی پروت دئ.

دې ولید ویل : څه کوې زویه چي دلته پروت یې؟

ده فکر وکی چي دغه د ګوروان مور ده، باره یې ورته وویله چي دلته مي تبه سوله، پرېوتلم کور ته نه سوای درتلای.

مور یې نه پېژني چي دا بل څوک دئ هغسي رنګ او کالي یې دي، لکه د دې د زوی، باره یې را رهي کی کور ته یې راووست.

سهار یې بیا ګورم راویوست هغه اصلي ګوروان ته یې یو مټ بتکی ورکړې چي ته به دا یو کال کلي او کور ته نه ورځې، دا ګورم زه پیایم، ته ولاړ سه دا یو کال په بل ولایت کي تېر که، هغه یې رخصت کی ولاړ. اوس نو دی ګوروان دئ، په دغه ماښام چي یې ګورم راووست دی کور ته راغی مور ته یې وویل : "د ګوروان مور ګواکي د ده مور ده." چي ادې ! زه یو آس یو زمری یو مرغه لرم، کور ته یې راولم، هوښ کوه چي څرک یې څوک در شخه ونه ویني یا ونه وایې، که دي ویلي وه یا چا در شخه لیدلي وه، دغه زمری دي خوري، او زه دي هم وژنم، یو مټ بتکی یې و مور ته هم ورکړې، چي دغه دي برغ مه کوه ماته خدای ﷻ راکړه، دغه ګورم به پیایم څوک به نه وي راخبر.

مور یې ویل : په زویه چیري وایم بیغمه اوسه !

باره ده د شپې زمری او سیمرغ او آس کور ته راوستله، په یوه خونه

کي يې واچول، مور يې خواړه ور اچوي دی هره ورځ ګورم پيايي.
يو وخت يې ګورم چمن ته را ايستلی دئ، خولی يې د سره کنبلې ده، پام يې نسته چمن ته نژدې د باچا دکشري لور بنګله ده دوربين يې اچولی دئ، د سوداګر زوی يا په بل نامه سره ګوروان يې وليد، دستي پر مينه سوله.
دغه شپه تېره سوله، دی پر ېږده چي خپل ګورم پيايي.
د باچا اوه لوڼي دي دغه يې کشره لور ده چي خورا پر ګرانه ده.
باره دغي کشري خور يې ودغو نورو خوندو ته وويل چي ځو تر ځو به ناسي يو، يه راځئ چي و پلار تـه وو ايو چي موږ تـه مړونه وکه، دې نورو هم ورسره خوښه کړه، چي ښه دئ، منګر ښه نو څنګه به ور ته وو ايو؟
دې کشري خور يې وويل چي زما يې چم زده دئ.
باره يې يو هندوانه راوړه، اوه چاقوګان يې پکښي جګ کړه، نو يې دسمال پر هوار کی، په پتنوس کي يې کښېښووله پلار ته يې ور ولېږله.
باچا چي دا هندوانه او چاقوګان وليدلـه اريان ولاړ چي دا څه معنی لري؟ باره يې وزيران راوبولل پوښتنه يې ځني وکړه چي د دې معنی څه ده؟
وزيرانو چرت پکښي وواهه، وواهه، دوباره يې دا سوک تر وايستی چي دا مړونه غواړي.
باره يې باچا ته وويل چي دا دا معنی لري چي موږ لويي سولو اوس نو مړونه غواړو.
باچا ويل : ډېره ښه خبره ده، دستي کور ته راغی، لوڼو ته يې وويل چي ښه دئ تاسي مړونه غواړی هغه دئ هره يوه خپل مېړه خوښ کی.
خير ! چا د يوه وزير زوی، چا د بل وزير زوی، چا د قاضي زوی خوښ کی، يوه کشره لور يې پاته سوله.
باچا و کشري لور ته وويل چي ته څنګه مېړه غواړې؟
دې ور تـه وويل چي تـه د ښار او اطرافو خلک راوغواړه هر يو چي ما خوښ کی هغه زما مېړه دئ.
پر باچا ډېره ګرانه وه، دستي يې جار وواهه چي ټوله خلک دي راځي، د باچا د حرمسرای تر مخ دي تېرېږي.

لنډه دا چې دوې درې ورځې خلک راتله، د حرمسرای مخ ته تېرېدله، دا په بنګله کې ورته ولاړه وه، هيڅوک يې نه سو خوښ.

څلرمه ورځ د سوداګر زوی ګوروان هم را رهي سو، چې راغی د باچا لور و مينځې ته وويل چې ورسه هغه ګوروان په کوښه ووهه چې دغه د باچا د کشرې لور مېړه دئ، خوښ يې سو.

مينځه راغله ګوروان يې په کوښه وواهه.

خلکو نارې کړې چې مينځه خطا وتله، خو دی يې درې واره وواهه.

آخر ته باچا ډېر وشرمېدی چې ګراني لور يې ګوروان خوښ کی، آخر ته يې ټوله لوښي په درب واده کړې، دا او ګوروان يې د آسو په يه تبيله کې واچول.

ګوروان خپله ګورواني کوي، د ورځې ځې مابنام راځي، د ده خپله هغه خولۍ پر سر ده، ښه يې د هغه بدشکله ګوروان ده.

ماينه يې هره ورځ ورته وايي چې سړيه ! په هغه ورځ چې ما ته وليدلې د شاهزاده سکه دې وه، اوس دې داسې بده ښه ده او يې هم هغه سړی، دا څه چل دئ او څه سر دئ؟ دی وايي : يه ! زه هغه ګوروان يم هغه مې رنګ دئ خدای ﷻ خبر په هغه ورځ څه شاهزاده په خيال درغلی وم، منګر سر ېېره پر دې ته صبر وکه تا زه خوښ کړلم، او پر ما دې ګوخانه قبوله کړه، خدای ﷻ مهربانه دئ، خدای ﷻ به مو په داد ورسېږي، صبر تر ټولو ښه دئ، هوښ کوه چې وسواس در وانه چوې !

دې ويل : يه ! اوس هم ما پر شاهزاده ګانو نيولی يې.

يوه ورځ د باچا شپږ زومان دې په ښکار سره راووته په خورا درب و دروب او په سامان.

باچا ورته ويل چې هر يوه چې ډېر او ښه ښکار وکی، هغه به زما مجلسي وي او يو يو نښان هم ورکوم.

دوی چې راووتله ګوروان و ماينې ته وايي، چې زه به يوه غراره پيدا کم، په دوی پسې به ولاړ سم، ښه دئ هغه لرې او کولمې چې دوی يې غور ځوي رابې وړم دلته بې ايشوو خورو بې.

دې ويل ښه دئ.

باره ده یوه لو غراره پیدا کړه، پسي راووتی راغی خولۍ یې د سره ایسته کړله بیر ته ښایسته شاهزاده ځوان سو، خپل زمري او سیمرغ مرغه یې را رهي کړه، پر آس سپور سو برابر په دوی پسي راغی، باره یې زمري او سیمرغ مرغه ته وویل چي ولاړ سئ څه چي د غرو او دښتو په دغه نژدې شاوخوا کي هوسۍ یا مرغان دي ټوله ښکار کی، رایې ولئ، چي زه یې دلې وولم.

زمري او سیمرغ مرغه پسي را رهي سوله.

لنډه دا چي د غرو اوزګړي، میږي، سیږي او نور یې په سوو ورته راوستله، ده ښکار کړه.

هغه نورو یوه دانه ویشتلي یا نه ویشتلې اریان ولاړه چي دا څنګه سړی دئ؟

باره دوی ورته وایي چي سړی اکا ! څوني ډېر ښکار دي وکی، زموږ سره به کومک ونه کې؟

ده ورته وویل چي دغه دئ ګرده یې ستاسي، که ژوندۍ هوسۍ یا سیږي غواړئ هم دغه دي بویې زئ، منګر هو په دوه شرطه یې درکوم، یو خو دا دئ چي تاسي به کوناټي راته لځوی چي یو یو کوچنی مهر پر کنبېږدم، بل دا دئ چي لري او کولمې به یې ګرده ماته راکوی، او په دغه غراره کي به یې را اچوئ، زیاته مو په مخه ښه ! زه د بل ولایت سړی یم، پر خپله تړه پسي ځم.

هغو ویل : ښه دئ، دا خو ډېر ګران شرطونه نه دي، موږ لري څه کوو، او بل یې ویل د بل وطن سړی دئ، په خپل کار پسي به ځي بیا به چیري معلومېږي.

لنډه دا چي د هر یوه پر کوناټي یې مهر ور کنبېښو، څه لري دلبندان یې په غراره کي ور واچوله، دی یې پرېښو.

دوی خپل ښکارونه را بار کړه، راغله هر یوه باچا ته ځیني ژوندي ښکارونه ور کړه.

باچا ورته وویل چي پر تاسي ټولو دي آفرین وي ښه ښکار مو کړی دئ، منګر مانبام ته به هر یو د دغه خپلو ښکارو څخه څه راته پخوئ، د

هر يوه دا چي ماښام ښه خوند وکی هغه زما مجلسي دئ.

دوی ويل : ښه دئ.

ماښام هر يوه ډول ډول غوښي پخې کړې.

ده بيرته خولۍ پر سر کړه، د ګوروان په ښه سو، خپله غراره يې د لرو او کولمو او پرپوسانو ډکه راوړه، ده هم څه لري او پرپوس پاخه کړه.

ماښام هر يوه خپل کتغ باچا ته راوړی، ده هم په يوه خاورين لوښي کي واچوله، منګر ډېر مزه ناکه پرپوس يې پوخ کړی و، پر سر يې يو د آس خشوی ور کښېښونو يې باچا ته ور وړی.

باچا اول د هغه نورو زومانو د کتغو څخه څه وخوړل وروسته يې د دغه د دلبند څخه هم څکه وکړه، خورا ښه خوند يې ورکی، ښه ډېري ګولې يې وخوړلې.

وروسته باچا دا خرشين وليد خورا ډېر درد ورغی، دئ يې راوغوښت، چي دا دلبندان دي د څه وه، او دا خرشين دي ولي پر سر ور ايښی دئ؟ خوړو او کتغ خو دي ښه خوند وکی.

ګوروان ورته وويل چي ما په خپله ښکار نه دئ کړی، دا دلبندان او لري مي د دوی د ښکار څخه چي دوی وغورځول ما واخيستل پاخه مي کړله، او خوشايي ما په قصد نه دي پر ايښي د ګوخانې او تبيلې خو دغه کار دئ.

وروسته يې هغه زومان وهم واخيستله، فکر جن سوله، چي ډېره عجبه ده، هغه سړی چي موږ ته يې ښکار راکی لري او کولمې يې ده واخيستلې. دئ خو به نه وي؟ بيرته يې چرت وواهه چي هغه خو ښه ځوان و، ښه آس يې و، ښه دا خو هغه کور کری ګوروان دئ.

باچا حکم وکی چي د ګوخانې څخه يې وباسئ، په يوه بله پاکه خونه کي يې واچوئ. دغه د ځای اليشېده دي د دې په عوض کي او ته د مصاحبت وړ نه يې.

لنډه دا چي د ګوخانې څخه يې دوی وايستله په يوه معمولي خونه کي يې کښېښوله.

يوه ورځ ګوروان ګورم و زمري ته پرېښو، او خولۍ يې د سره څخه

وکښبله، په ښکار ووت، بیر ته هغه ښایسته ځلمی دئ.

دغه ماینه یې دغ سوېده دباندي په غلا راوتلې ده، دی یې ولید، هغه سړی دئ چي دا پر مینه ده، منګر اریانه سوله چي دا څه سر دئ، چي ما لره راسي ګوروان وي چي په ښکار ووزي بیا بېل ډول سړی ځني جوړ سوی وي، ښه یې الیشه کړې وي، اوس نو ماته هم بیخي سِل را ولوېذی چي دا څنګه سړی دئ، یه د دې سر به معلوموم چي دا انسان دئ، که پېری دئ، که جادوګر دئ؟ باره بیر ته کور ته راغله.

په دغه فکر کي ده چي ماښام ګوڑوان کور ته راغی، چي په خونه ور ننووت ماینې یې شا ور وګرځوله، پخوا به ور ولاړه سوله پر مخ به یې دسمال ور تېر کی، دا پلا یې چرت نه پکښې وواهه او نه یې مخ ور واړاوه.

ده ور ته وویل چي ولي دي نن نه سلام راواچاوه، نه دي مخ راوګرځاوه، نه دي ستړې مسې راته وکړه؟

دې ور ته ویل چي ما پر تا ځان خاوري کی، د غویو ګوخانه مي درسره قبوله کړه، نوري خوندي ګرده عمر پېغورونه راکوي راباندي خاندي، مور و پلار راڅخه بېزاره دي، او تا تر اوسه د زړه حال او خپل کیفیت ماته ونه وایه.

ده ور ته وویل چي څه کیفیت او حال مي غواړې، دغه دئ ګوروان یم، په دغه خواري کي زه هم شپې درسره تېروم، نور نو څه غواړې؟

دې ویل : څنګه څه غواړم، چي ما لره راسې ګوروان یې، چي دباندي په ښکار ووزې بیا شاهزاده یې، زه دي و دغه چل ته حیرانه یم، چي دا څه چل دئ؟ نه زه ولاکه بېعقله وم یا یم چي ما به ګوروان کاوه، او نه ته ولاکه ګوروان یې، یه نو بسته ډیري خواری راباندي تیري سولې، اوس نو ځان او حال راته معلوم که، رشتیا راته ووایه، چي ته انسان یې، پېری یې، ګوروان یې، شاهزاده یې څوک یې څنګه سړی یې؟ زیاته زه دا خواری نه سم سهلای، هر وخت چي وي در څخه ځم، ولي په خپله خوښه مي کړی یې، دا لا شرمندګي ده، ځان وژنم زیاته اختیار لرې. ده ور ته وویل چي ښه دئ، پر دواړو ستر ګو اوس به حال در ته معلوم کم.

دوباره راغی د مور کره، روپی یې راواخیستلې، خولی یې وکښله،

بیر ته ښه ښایسته ځلمی ځوان دئ، راغی ښار ته ښه دریشي یې رانیوله، بیر ته راغی د ګوروان کره، دریشي یې وکړه پر خپل آس راسپور سو، زمري یې دمخه لکه شاتر ځغلي او سیمرغ مرغه یې پر سر په هوا ځي، سایه یې باندي کړې ده، راغی په ښار راننووت، خلک اریان ورته تللي دي، چي دا باچا دئ، د باچا زوی دئ، یا دا پیري ذات دئ، دغه د ده و رنګ او ځوانۍ او دې زمري او سیمرغ ته ډوب تللي دي، څه سر دي ګرځوم خلک سیلاني غوندي په ډلو ډلو په پسي دي، دی برابر راغی دربار ته ور ننووت باچا چي داسي ورته وکتل، د تخت څخه سپک ورته را ولاړ سو، د ده تعظیم او سلام یې وکی، هغه نور وزیران او اخښیان او نور د دربار خلک ګرد ده لاس پر نامه ورته ولاړ دي. باچا حیرت اخیستی دئ چي دا ښایسته ځوان، دا آس او دا نر زمری یې دمخه او دا سیمرغ مرغه، دا څنګه معامله ده؟ څنګه سړی دئ؟ څنګه راغی؟ د کم ځای دئ؟ څوک دئ؟

خیر خو روغبړ یې ورسره وکی، آس یې یوه نوکر ونیو، سیمرغ مرغه د بنګلې پر کنګره ورته کښېنوست، زمري ورسره دئ، باچا دی پر اړخ ورسره کښېناوه، زمري یې دمخه سر پر څپېړو ورته کښېښو، ورته پرېووت، دستي باچا ډوډۍ ورته راوغوښته، زمري ته یې هم پسه ور حلال کی، ډوډۍ چي یې وخوړله، پس له هغه باچا په ډېر ادب پوښتنه ځني وکړه چي څنګه راغلی یې؟

ده وویل چي زما شپږ مریان ورک دي، لیکن څرک مي دلته ستا په حضور کي ایستلی دئ، دلې ستا سره دي که دي راکړه.

باچا ورته وویل چي دالته خو مریان بېګانه نسته، او نه ما نوي مریان رانیولي دي، او نه مي نوي نوکران نیولي دي.

ده ورته وویل : بېشکه ته ښه وایي منکر زما مریان دلته نسته، زه نښانې لرم، که ته اجازه وکې زه به یې دغه ستا د مجلسه ولاړ کم، ته بې نښانې وګورې، که مي رشتیا ویلي وه خو خپل مال په لاس راکه، بیایم یې، او که دروغ وه باید زه په سزا ورسېږم.

باچا ویل ښه دئ، که یې ته پېژنې خو ووایه ! کم ځنې خلک دي؟

ده وویل : دغه دئ، دغه دئ، هغه دئ، هوغه دئ، خو د باچا شپږ زومان

يې شپږ سره ولاړ کړه، ګر ده د وزيرانو زامن دي، پلرونه يې هم ناست دي.

باچا ويل : دا مريان نه دي، دا زما زومان دي، د وزيرانو زامن دي، ته څه وايې؟

ده خپل مهر ورښکاره کی ورته وې ويل چي که دا مهر د دوی پر کوناټو پروت ونو خو زما مريان دي که يه؟

باچا ويل : بېشکه که ستا مهر د دوی پر کوناټو و بېشکه ستا مريان دي.

وروسته يې پر شپږو سرو حکم وکئ چي ښکاره کئ کوناټي.

دوی چي ښکاره کړه، مهر او نښان يې صحيح و.

باچا ويل : بېشکه دغه دي، ستا مريان دي هر څه چي په کوې، وروسته باچا پوښتنه ځني وکړه، چي ته د کم ځای يې څوک يې؟

ده ويل : زما کور په ګوخانه کي دئ، ستا د غويو او اسانو په ګوخانو کي يم، نوم مي ګوروان دئ، او ستا يو خوار کی زوم يم.

باچا اريان سو، چي دا څه نکل دئ، باره يې ورته وويل چي دهغه ګوروان خو بل ډول ټپين رنګ و، ته خو يو شاهزاده ځوان يې دا څه چل دئ؟

ده ورته وويل چي زه هغه ګوروان يم، ستا زومانو چي ښکار درته راوړی و، هغه ګر ده ما ښکار کړی و، چي لري او کولمې او دلبندان مي واخيستله، پاخه مي کړه، مابسام مي درته راوړه، او پر سر يې خوشايي پروت و، څنګه و څنګه و، دا نکل او نښانی يې ټوله ورته وويلې، ويل ستا لور نه ده خطا وتلې بېغمه اوسه، منګر په ما کار مه لره، نور پوښتنه مه راځخه کوه، دغه دئ خدمت دي کوم، ستا سترګي مي ستا د لور په واسطه لوړي کړې.

لنډه دا چي باچا خپلې کشري لور او دې زوم ته يې ښه کوټی ورکړه، بيخي يې د باچهی اختيار ورکی، کشره لور بير ته پر ګرانه سوله، آفرين يې هم ورکی، چي داسي سړی دي خوښ کی، ماته خو حال نه و معلوم.

اوس نو دی د دې پسه ښه نه اليشوي.

دی پر ښه آس سپرېږي، هغه زمری يې دمخه وي سيمرغ مرغه يې پر

سر ځي، خپل ښکار کوي، ډېر عزت يې دئ، هغه نور اخښيان يې ځوړي ستر ګي لکه مريان داسي ګرځي.

يوه ورځ بيا شاهزاده ته چرت ور ولوېدی چي ته راسه يو بل ولايت ته ولاړ سه. باره يې باچا ته وويل چي زه دغ سوم، ځم په سفر يو بل ولايت ته، دغه زما زمری او سيمرغ مرغه راسره بيايم، نور هيڅ نه وړم، نه بل څوک راسره بيايم.

باچا وويل : ښه دئ.

باره رارهي سو، زمری او سيمرغ مرغه ورسره دي، هله هله د نکل کار دئ دا دئ راغی يوه بل ښار ته، په دې ښار کي يوه بوډۍ ده چي په شطرنج کي خورا مشهوره ده، هيڅوک بازي نه سي ځني وړای، دی راغی د دې بوډۍ کره، و بوډۍ ته يې وويل چي زه شطرنج درسره کوم.

هغې وويل : ښه دئ.

شطرنج يې سره کښېښو، دالومړی شطرنج په پيسو دئ، بوډۍ ځني يووړی.

بيا يې شطرنج په ځان ځان سره کښېښو چي يعني که دي وګاټه زه دي وګټلم، که مي وګاټه ته مي وګټلې. شطرنج چي يې وکی وکی بيا بوډۍ ځني يووړی.

د سوداګر زوی يې وګاټه، وروسته يې جادو پر وواېه، يوه ستن يې کی، پر ګرېوان يې ستن جګه کړه.

"بوډۍ چي به شطرنج کښېښو د چا سره، د دې يوه پيشي وه چي پر دې بوډۍ به زور راغی نو دې به ورته اشاره کړه پيشي به څراغ په چمبه وواهه مړ بې کی، دې به ژر مهره بدله کړه، او شطرنج بې هم د شپې کاوه، د ورځي يې د چا سره نه کاوه."

لنډه دا چي دی نو دالته پرېږده، زمری اوسيمرغ مرغه يې بوډۍ ته پاته دي.

هلته يې مور و پلار سره وويل چي بيا نه د ملنګ درک معلوم سو نه مو د زوی، دې ملنګ کوز سپيري دا زموږ زوی څه کی؟ چيري يې بوت؟

هغه مشر ورور يې وويل چي بابا ! زه پسي ځم درک يې معلوموم، چي

زما ورور څه سو، مړ دئ ژوندئ دئ، څنګه دئ؟

پلار يې وويل : ښه دئ ولاړ سه پسي پر خداى ﷻ مي سپارلی يې په مخه دي ښه !

څه سر دي ګرځوم دا ورور پسي را رهي سو.

" د ده او د هغه ورور رنګونه بالکل يو ډول وه چي هيچا يې توپير نه سواى کولاى".

خو مزل يې وکی، د هغه ملنګ لار وليکه يې پسي راواخيستله، دا دئ پر هغه دښت پر هغې بوډۍ پيښ سو.

هغه بوډۍ يې و مخي ته ورته را ولاړه سوه، ويل : خداى ﷻ دي راوله زويه ! خداى ﷻ د هغه ملنګه خلاص کړې؟

دی ناخبره دئ فکر يې وکی چي اوس دي درک پيدا کی، باره يې وويل : هو ادې !

بوډۍ وويل : چي هغه ملنګ لکه چي ما در وښو، په تيلو کي دي پوري واهه پکښي مړ سو؟

ده ويل : هو دغسي مي په تيلو کي پوره واهه، په تيلو کي وايشېدی.

دې ويل : شکر دئ چي دا ظالم ادم خور خو دي مړ کی او ته خداى ﷻ ځني خلاص کړې.

د ده ښه اميد پيدا سو چي ولچي ژوندی دئ، په دغه لار پسي اخله، بله لار خو نسته، باره د بوډۍ څخه را رهي سو، ويل : زه نو ځم.

هغې وويل : پر خداى ﷻ مي سپارلی يې.

خو هله هله د نکل کار دئ، دا دئ هغه د ملنګ کلا ته راغی، هغه د کلا خلک چي د ده ورور په کلا کي اچولي وه، مخي ته يې راولاړ سوله، چي خداى ﷻ دي راوله اغا ستړی مسې، څونه عمر دي وکی، پياده راغلې لکه چي آس دي مړ سوی دئ درڅخه؟

ده ويل : عمر ډېر وسو، آس مي مړ سو، راغلم ما ويل آس به بوزم څه روپۍ به هم راسره واخلم.

"فکر يې وکی چي ورور مي ژوندی دئ، دا يې کلا ده منګر په بل سفر تللی دئ، او د ده و د هغه رنګ يو ډول دئ، نه وايي چي زه د هغه ورور يم

پسي ګرځم، ولي واى بيا خلک سره مشوشه کېږي او رشتيانه راته وايي".

لنډه دا چې هغو دستي آس ورته راووست چې آغا دا ښه آس دئ، ناظر د خوني کيلي ورکړه چې بېغمه اوسه، ستا دنيا مو سلامته ساتلې ده. ده هم خونه خلاصه کړه سرې او سپيني يې څه راواخيستلې پر آس راسپور سو ويل : آفرين دي پر تاسي وي، زه بير ته ځم کار مي دئ، تاسي دلې خپل کارونه کوئ، زه به مياشت باد بير ته راسم.

خو لنډه دا چې بيا را رهي سو، هله هله پر عادت راځي يا د ورور په بوى پسي راځي ځو بيا هغې پډې ته راورسېدئ، تر پډه لاندي کښېنوست.

يو ګړى باد لوى سيمرغ مرغه راغى، چې وده ته يې وکتل وې ويل چې دا خو هغه سړى دئ، باره يې ورته ويل چې لکه چې هغه زما چيچي بې وفايي درسره وکړه، در څخه تللى دئ؟

ده ويل : هو هغه راڅخه ولاړ.

باره يې ويل : ها دغه بل چيچى مي دي ستانوکر وي، خپل بل چيچى يې ورکى، او دې چيچي ته يې وويل چې هوښ کوه چې بې وفايي ورسره ونه کې ځني ولاړ نه سې !

باره دى او د سيمرغ مرغه چيچى دواړه سره را رهي سول هله هله بيا پر هغې زمرى پېښ سو.

زمرى بيا خيال د هغه دمخه سړي پر وکى چې منډه يې د پښې څخه ځني کښلى و، زمرى وويل چې زما زوى درڅخه وتښتېدى؟

ده ويل : هو !

باره يې بل زمرى ورکى، پر دې زمري يې ټينګار وکى چې که دي بېوفايي وسره کړې وه لکه هغه بل ټوکر ټوکر به دي کم.

زمري ويل بېغمه اوسه ! دى دي مي بادار وي زې مريى يم.

دلته يې ښه ترا يقين سو چې ورور مي پر دغه روده تللى دئ، او هغه ته يې هم زمرى او سيمرغ مرغه ور کړي دي، يه نو دغه لار او ليکه پسي اخله که خداى ﷻ کول پيدا کېږي. لنډه دا چې د زمرى څخه را رهي سو، هله هله زمرى يې دمخه دئ سيمرغ مرغه يې پر سر ځي، سيورى يې پر کړى دئ، او د ده هم کټ مټ د ورور رنګ دئ، دا دئ راغى هغه ښار ته چې

باچا یې د ده د ورور خسر دئ.

خلکو چې ولید یو وار نارې او چکچکې سولې چې د باچا زوم راغی.

پر باچا زېری وسو چې هغه ورک زوم دې راغی، دستې باچا و مخې ته ورته راغی حرمسرای ته یې بوت ستړې مسې یې ورته وکړه.

باچا ورته وویل : چې چیرې وې؟

ده ویل : دغسې تللی وم کار مې و، کار مې ونه سو یو وار کور ته راغلم بیرته څو شپې باد ځم.

هغه ورېنداره یې ورته راغله، سلام یې ور واچاوه، پر مخ یې دسمال ور تېر کی روغبړ یې وسره وکړ، وای ښه وچې خدای ﷻ ته راوستلې.

ده فکر وکی چې دا مې ورېنداره ده، باچا مې د ورورو خسر دئ، او ورور مې لکه چې بیا تللی دئ، ورک دئ، یه بړغ مه کوه چې ودې نه پېژني.

خیر ! ماښام سو، ورېنداري یې ځای اوار کی، خیال نه بلکې یقین یې دئ چې دا مې مېړه دئ، ولې خو یو رنګه رنګونه یې دي، او پر زمري او سیمرغ مرغه خو بالکل د شکه وتلې ده چې دی دئ، ځای چې یې اوار کی سره پرېوتله.

ده توره وکښله تر مابین یې کښېښووله، نو یې ورته وویل چې بړغ به هم نه کوې، او که دې تر دغه توره لاس یا پښه را واړوله غوڅ به یې در څخه پرې کم.

د باچا لور اریانه سوه، چې دا څه نکل دئ؟ خو پوښتنه یې ځنې وکړه چې ولې، څه ګناه څه تعدی څه سوي دي؟ دا دونه عمر ورک وې مسافر وې، اوس به لا خوشحاله وای ته داسې کارونه کوې ولې؟

ده ویل : بړغ به نه کوې، نه به پوښتنه دا څو شپې کوې، او نه به دلیل غواړې، خپل خوب دې کوه، په ما غرض مه لره. لنډه دا چې څو شپې پر دغه ډول تیرې سوې، چې هوسا سو فکر یې وکی، چې څو تر څو به دلته اوسې، را رهې سوې په ورور پسې چې ورور پیدا کې او دلته کښېنستې. لنډه دا چې په دا سبا په پټه را رهې سو، خپل زمری او سیمرغ مرغه یې ورسره را رهې کړه.

د باچا زوم بیا ورک سو، خو هله هله د نکل کار دئ، څه سر دې ګرځوم دخدای کارونه دې، بیا پر هغه بوډۍ پېښ سو چې د ده ورور یې ګټلی و، او

ستن کړی يې و، پر ګرېوانه يې جګ کړی و.

بوډۍ ورته وويل چي: ځوانه سطرنج نه کوې؟

ده ورته وويل چي: ولي يې نه کوم.

"بوډۍ هم ورته اريانه ده چي يو دغسي سړی خو ما په شطرنج کي وګاټه چي دغسي رنګ يې و، دغسي زمری او سيمرغ مرغه ورسره وه، دا څنګه نکل دئ؟"

خو مدعا دا ده چي بوډۍ ورته وويل چي سطرنج درسره ايږدم که مي يوړې، ته مي وګټلې، او که دي راڅخه يووړی زه دي وګټلم.

ده ويل: ښه دئ، چي سطرنج يې سره کښېښو، پيشي ورته ناسته ده، چي بوډۍ به پيشي ته اشاره کوله پيشي به څراغ وواژه.

ده چپلاخه ورته ونيوله پيشي يې په چپلاخه ووهله، پيشي الا کړه، سطرنج يې د بوډۍ څخه وګاټه، او بوډۍ يې هم وګټله.

باره بوډۍ ورته ويل چي دغسي سړی لکه ته، ما تر اوسه نه و ليدلی، بيا سطرنج کوې؟

ده ويل: هو!

بيا يې سطرنج سره کښېښو، بيا يې په دغه ډول ځني يووړی، بوډۍ د ګرېوان څخه ستن راوکښله دم يې پر وکی، بيرته يې د ده ورور د انسان پر ډول کی.

ده چي ورته وکتل خپل ورور يې دئ، سره ويې پېژندل پوښتني او ګروېږني يې سره وکړلې، هر يوه خپل تېر نکلونه سره وکړه.

هغه ورور يې وويل: ته څنګه راغلې؟

دې ورور يې ورته وويل: چي داسي پر عادت راهي سولم، پر هغه بوډۍ راغلم، بيا ستا يعني د ملنګ پر کلا، بيا پر سيمرغ مرغه او زمری راغلم، هغوی خپل يو يو چيچی راسره کړ چي دا يې ستا، بيدا خدای ﷻ و چي ستا د خسر پر کور پېښ سوم هغه باچا و، ورېنداره وه زې نه پېژندلم دوی چي ويل زوم مو دئ، ولي چي زما او ستا رنګونه يو شی وه، ستا سره هم زمری او سيمرغ مرغه وه زما سره هم، څو شپې مي د ورېنداري سره تيري کړې چي هوسا سولم نو بيرته را رهي سولم چي تا پيدا کم څو دا دئ خدای

ﷻ فضل وکی ته مي پیدا کړې، ژوندی مي ولیدې اوس نو د خدایه نور ارمان نه لرم.

ده هم خپل ټوله نکل سر تر پایه ورته وکی، چې داسي مي ملنګ مړ کی ادم خور و، داسي دنیا یې وه ښکنګه وه، داسي مي د سیمرغ مرغه د چیچانو ښخه مار مړ کی، د زمرئ د پښې ښخه مي منډه وکېښ، بیا ښکنګه او ښکنګه و، داسي اوداسي، هه هه ښو دا دئ د خدای ﷻ په فضل او ستا په مړانه سره زه بیر ته سړی سوم او ما و تا سره ولیدله، اوس نو درځه چې کور ته ولاړ سو، خپله ټوله دنیا به هم راسره واخلو، ځو به خپل مور او پلار او و خپل وطن ته، ویل ښه دئ.

باره سره را رهي سوله، هله هله دا ورور چې په ده پسي راغلی دئ، دمخه دئ هغه بل مشر په پسې دئ، باره پر لاري د دې مشر ورور په زړه کي ور وګرځېده چې نه چې دا ورور به مي ماینې ته ورغلی وي، ولي هغې خو نه پېژندی، ګمان بې د خپل مېړه پر کړی وي، دئ به ورسره پرېوتلی وي، او بل مي خسر او ماینه دی ټینګ نه کي چې دا مو زوم دئ، تا به وشړي نو دي ښه د لاسه ورسره کېږي؟ باره یې د شیطان لعین په خوله وکړه، تر شاټک سو خپل ورور یې وویشت مړ یې کی، هلته یې پر دښت پرېښود، دی ځني را رهي سو. هله هله دا دئ کور ته راغی، ږغ نه کوي، دا پلا دوه زمریان او دوه سیمرغ مرغان ورنسره دي، خو بیا ستړې مسې او روغبړونه ورسره وسوله، ماښام سو کور ته راغی، د ماینې سره پرېووت. دستي یې مینه او محبت ورسره وکی. پس له هغه ښخه یې ماینې ورته وویل چې سړیه! زه یوه پوښتنه درڅخه کوم!

ده ویل: وکه!

دې ورته ویل چې هغه پلا چې په سفر تللی وې، ورک وې چې راغلې. ماښام راسره پرېوتلې ولي دي توره په مابین کي کښېښووله. نه دي لاس راوړی نه پښه، او نه دي زه پرېښووم چې لاس مي در وړی وای؟ او دا پلا چې راغلې، دستي دي مینه محبت راسره شروع کړه، په دې کي څه سر و، جواب یې راکه؟

ده لاسونه سره ټک وهل چې ورور مي پاک وناحقه مي مړ کی، منګر

چي اوس بېغ کوم وايم نو څه فايده، باره يې ماينې ته ويل چي څې کوې، زه په هغه وخت کي د کار نه وم.

لنډه دا چي څو عمر باد يې خسر ته وويل چي زه خپل وطن ته ځم.

باچا هم رخصت ورکی.

خپله ماينه او بارونه يې را رهي کړه، پر هغه خپله کلا راغی، څه دنيا چي وه ټوله يې را بار کړه، هله هله هله دا دئ راغی خپل وطن او مور او پلار ته، خوشخالي سوله.

و پلار ته يې ويل چي ما او ورور سره پيدا کړه، منګر هغه مړ سو، ده دا خپل نکل ټوله ورته وکی.

ککرۍ

یو سوداګر و، په ښکار وتلی و، د ورځي به یې په غره کي ښکار وکی، ماښام به کور ته راتلی، پر دښت راځي و ښی خواته یې ناري دي چي "سل مي وژلي دي، سل به لا مړه کم".

سوداګر دا ناري واروېدلې، اریان سو، چي دا څه نکل دئ، پېړی دئ ناري وهي او که انسان دئ، څه بلا ده هیڅوک هم نه معلومېږي، باره ویل چي ته وده درک یې معلوم کم چي څه دئ، چي ناري وهي؟

څه سر دي ګرځوم پر دغه نارو را رهي سو، هله هله چي راغی که ګوري د انسان یوه ککرۍ ده د دې ککرۍ څخه ناري راوزي چي وایي "سل مي وژلي دي سل به لا مړه کم".

سوداګر ته درد ورغی ویل: ته څنګه ککرۍ یې چي سل دي وژلي دي، سل نور وژنې، باره یې دا د انسان ککرۍ پور ته کړه د مځکي یې وویشته، ورسته ککرۍ ټوکر ټوکر سوه.

آواز ورک سو، باره سوداګر یو کوچنی هډوکی لکه زړی، راواخیستی په جیب کي یې واچاوه نو کور ته راغی باره یې هډوکی هېر سو، په دا سبا په سودا پسي بازار ته ووت سودا یې وکړه کور ته راغی، خیال یې دئ چي په دا بل سبا په سوداګري پسي ولاړ سي، ماښام یې کورتۍ کښلې ده، په موږي یې ځړېږي، دی دباندي وتلی دئ، لور یې د کورتۍ په جېبو کي ګرځي، چي د پلار په جېبو کي مي څه شي دي، د ښاره به یې کم شی می د خورک له پاره راوړی وي، باره یې دا هډوکی په لاس ورغی، چي را وې ایستی دي چي ویل "سپیني ژاولي دي" باره یې خولې ته واچولې یو وار یې په سا وواهه هډوکی ځني تېر سو، زیاته یې ږغ ونه کی.

سهار یې پلار په سوداګري ولاړ، هډوکی مډوکی یې هېر سو، لور یې

پېغله وه مېره ته يې نه وه ورکړې، د لور يې هم د ياده وواته، چې ما هډوکي تېر کې، څه سر دي ګرځوم در پيمه مياشت باد، يې د لور نس وپړسېدی لکه اميندواره چې وي اريانه سوله چې خدايه ما خو جماع هم د چا سره نه ده کړې، دا اميند مي د کمي خوا سو، چې اتمه مياشت سوله بيخي يې نس تر خوله وخوت، د شرمه تر کلي، کور او موره پوري ستر ګي نه لري، چې نهمه مياشت رانوې سوله، پلار يې د سوداګرۍ څخه راغی، باره خبر سو، چې لور دي پسات کړی دئ ټنډه سوې ده.

سوداګر ته خورا درد ورغی چې نوم مي په کور و کلي کي بد سو، سبا به خلک پېغورونه راکوي، دا څنګه کار سوی دئ، باره يې دستي لور راوغوښتله، توره يې ورته کش کړه چې دا ولي دي داسي کار کړی دئ، زما نوم دي په ټولو سوداګرو او کور و کلي کي بد کی؟

لور يې ورته ويل چې ما خو بد کار د چا سره نه دئ کړی، او نه ما لره څوک راغلي دي خدای ﷻ خو راخبر دئ، ته وده څو شپې مي و لنګېدو ته پاته دي که زه رشتيا پاکه وم نو به زه خپل چنګوټی تر خولې وغورځوم، او که بده وم بد کار مي کړی و، نو به هغه لکه نوري ښځي لنګه سم، بيا مي مړه که ما نور بد کار نه دئ کړی يوه ورځ ستا په جېب کي ګرځېدم ما ويل: "د بابا په جېب کي به پلمېټ يا بل د خورک شی پيدا کم مګر بل شی مي پيدا نه کی يو کوچنی سپين هډوکی و، ما چې ويل ژاولي دي، و خولې ته مي واچاوه چې وې ژويم باره مي په ساه وواهه هډوکی را څخه تېر سو د هغه راهيسي په ځان وپوهېدم نس مي ډک سو." نور څه مي نه دي کړي. سوداګر ته ور په ياد سو، چې هوی هغه خو د هغي ککرۍ هډوکی و، زما هېر سو، ولچي که و هغه يې سبب دئ زياته يې لور ته برغ ونه کی. لنډه دا چې د لور د لنګېدو موده پوره سوله، ناجوړه سوه مور او دايي ګاني ورته ناستي دي.

هله هله زورونه زورونه په آخر کي يې هک وهل کوچنوټی وړوکی هلک يې تر خوله وغورځاوه، دستي دايي ګانو او مور يې واخيست، په اوښي کي يې وپېچی، پلار ته يې خبر ورکی چې لور دي هلک تر خوله وغورځاوه، راسه هر څه چې يې کوې.

پلار یې راغی چرت یې ورته وواهه، چې که اوس یې مړ کم یا لور مړه کم، ګټه او فایده یې څه ده، خبره خو هغسې سره تیته سوې ده، او بل دا چې د لور خبره مې هم رشتیا سوله چې دې ویل : "که مې تر خوله وغورځاوه نو معلومه دا چې زه پاکه یم" اوس یې هغه دئ تر خوله وغورځاوه باره یې پر دې فیصله کړه چې وي دي، زوی نه لرې دا بې پلاره لمسی دئ لکه سکه زوی داسې دئ، را لوی به سي نو یو سر یم، اوړه به مې سپکه وي.

باره یې خپلې ماینې او دایې ګانو ته وویل چې وي دي خیر دئ ! دا هلک ښه ساتئ چې ناجوړه یا مړ نه سي لویوی یاستې، ښه دئ زوی نه لرم د زوی پر ځای بې ونیسم، خدای ﷻ بې را لوی کي.

دوی ویل : ښه دئ.

څه سر دي ګرځوم د نکل کار دئ شپې او ورځې دي تېرېږي، هلک هم داسې ژر ژر لوییږي په استراحت دئ په دغه کوچنیوالي داسې هوښیار دئ لکه نیکه.

سوداګر هم په خوشحاله دئ، څو دا هلک د لسو کالو سو غټ سو.

یوه ورځ یې نیکه چې ګواکي د پلار پر ځای یې دئ په سوداګري ځي، دا هلک ور ته وایي : ما هم درسره بوزه زه هم درسره ځم.

سوداګر هم ویل ښه دئ راځه د سوداګرۍ په کسب به هم بلد سې.

باره سوداګر او لمسی دواړه په سوداګرۍ ولاړه، یوه بل ښار ته ورغله، سوداګر دا ښه قیمت بها او ګران ګران شیان رانیسي، دا لمسی یې ور ته وایي چې دا مه رانیسه ! داسې ارزان بها شیان رانیسه چې وطن ته یې یوسو، ټوله خلک ور ته اړ وي، په کار یې وي او د ټولو خوار او غریب وس په ورسېږي، دا ډېره ګټه کوي او په دې شیانو چې ته یې اخلې د خوار سړي وس نه رسېږي او نه ور ته اړ دئ د دې له پاره به یو وخت خریدار پیدا کېږي، چې خورا دولتمن وي، یه ! ته دا پلا زما په خوله وکه چې څه کوي؟

سوداګر ویل : ښه دئ.

آبس ! سوداګر هم ارزان بها داسې شیان واخیستله چې خوار و بدای ټوله ور ته اړ وه، سودا چې یې وکړه را بار یې کړه خپل ښار ته یې راوړه.

څه در ته وایم ورورکه ! چې خرڅ یې کړه یو په دوه یو په درې یې تر

پخوا ګټه زياته وکړه، او په پنځه ورځي کي يې مال ويلي سو، پخوا به په مياشتو مياشتو پروت و.
پر سوداګر دالمسی خورا ګران سو، دلمسي يې داسي عقل دئ چي توبه، د خوبونو معناوي باسي، حاضر جوابه دئ په هر شي يې عقل رسېږي، څو د ده د هوښياری خبر او چوکچوکه تر باچا پوري ورسېده.
باره باچا هلک او سوداګر يې ځان ته وروغوښت، و سوداګر ته يې وويل چي ما اروېدلي دي چي دا ستا زوی خورا پوه او هوښيار دئ.
ده ورته وويل : هو !
باره د ازمېښت له پاره باچا د خپلي سپارلی آس راوغوښت چي دې هلک ته يې ښکاره کي چي اصل دئ که بدل، آس چي يې راووست دوې قيضې يې وراچولي دي، په دوو تنو يې نيولی دئ پر دوه دوه نوکه کېږي.
باچا و هلک ته وويل چي څنګه ! دا زما آس اصل دئ که بدل؟
ده چي ورته وکتل ويل : بدل دئ کمصل دئ.
باچا اريان سو، ويل : د څه څخه دي معلوم کی، چي کمصل دئ؟
ده ويل : د خرې شيدې يې رودلي دي، که يې نه منې ځين ځني واخله امبار ته يې ايله که پر دغه امبار او ايرو کي ورغښت خو معلومه ده چي د خره خوی پکښې کي دئ او که ونه رغښت نو زه درواغجن يم.
آس چي يې شاتوری کی پر امبار او ايرو يې ايله کی آس دستي پکښې ورغښت او ورغښت.
باره باچا وويل : بېشکه هوښيار يې ستا پر شيدو دې آفرين وي چي تا رودلي دي.
باره باچا ډېر خوشحاله سو چي داسي هوښيار زما په باچهي کي پيدا سو، و سوداګر ته يې وويل چي دا زوی دي ماته راکه.
سوداګر وويل چي دغه دئ تر تا دمخه دئ، منګر زه بل زوی نه لرم.
باره باچا ورته ټينګ سو، يه ! پرېږدم دي نه، خامخا بې راکوې، او په عوض کي يې هر شي چي غواړې درکوم يې، تې ښه نه سې ساتلای.
سوداګر ورته ټينګ سو چي يه قطعي يې نه درکوم منګر دغه دئ زما کره دي وي، که دي کله کله په کارېدی درغواړه يې، زه به يې په خپل لاس

در ولم.

باچا ویل : ښه دئ.

لنډه دا چې سوداګر او لمسی یې را رخصت کړه کور ته راغله.

کارونه د خدای ﷻ دي، یوه ورځ همدغه باچا په ښکار ووت لاړ درياب ته د مايانو ښکار يې کاوه، چې درياب ته يې تور ور وغورځاوه، يو خورا ښه ښايسته تک سور ماهی يې په تور کې بند سو، چې تور يې راپور ته کی دا سور غټ ماهی پکښې بند دئ.

باره باچا ویل چې دا ماهی د مرګ وړ نه دئ، د اوبو په دغه لوښي کې يې واچوئ، زه يې ژوندی کور ته وړم، ماهی يې د اوبو په لوښي کې واچاوه کور ته يې راوړی.

د باچا پنځوس ماینې دي، د دې ماينو يې پنځوس مينځياني دي، هر يوه سړي سر يوه يوه مينځه لري.

باچا ماهی کور ته راوړی په کور کې يې د اوبو په تش کې ايله کی، دا پنځوس ماينې او پنځوس مينځياني يې پر راټولي سولې، د ماهي سيل کوي چې دا څنګه تک سور ښايسته ماهی دئ، يو وار نابيره ماهي وخندله، دوی اريان ولاړه چې اوهو دې ماهي څنګه وخندل.

باچا وای درواغ مه وایاست نو په خپله ورته رانژدې سو، ماهي بیا د باچا دمخه وخندل.

باچا او دا نوري ماينې يې داسي ډوب ورته ولاړه چې دا څه نکل دئ، زياته ماهی چوپ سو.

باره دستي باچا راووت وزيران او نور هوښياران يې راوغوښتله ورته وې ويل چې زه نن د ماهيانو په ښکار پسي وتلی وم، په درياب کې مي يو سور ماهی ونيو کور ته مي راوړی ښځي او مينځياني باندي راټولي سولې، زه هم وم، سيل يې کاوه يو وار ماهي وخندله بيا يې وخندله، د دې معنی به راته واياست، چې په دې کې څه حکمت دئ او څه معنی لري؟

ټولو وزيرانو چرت پکښې وواهه وواهه، باره ويل صاحبه ! زموږ عقل او چرت نه ور لوېږي هغه د سوداګر زوی راوغواړه ګوندي د هغه سد ور ولوېږي.

باچا دستي سړي ور واستاوه د سوداګر زوی يې راووست.

باره باچا و دې هلک ته وويل چي داسي زموږ کره د ښځو او مينځيانو او زما په مخ کي ماهي وخندل، د دې معنی به را کوې.

هلک وويل چي څې کوې، که مي معنی در ته وکړه داسي به دي خوا بده سي لکه د تازي د خاوند، او ډېر ارمان به وکې، يه پرې يې ږده تر دې تېر سه!

باچا وويل د تازي خاوند څنګه و؟ څنګه يې خوا بده سوه؟ او څنګه يې ارمان وکی؟

هلک ورته وويل چي ته غوږ ونيسه!

باچا ويل : ښه!

ويل چي وه دوه کسه وه خورا يو د بله سره ګران وه، سره اشنايان وه دې يوه اشناې يې يو تازي درلود خورا پر ګران و داسي پر ګران و چي بې ده يې ډوډۍ نه خوړله. باره دې بل اشناې يې ورته وويل چي اشنايه! دا تازي څه خوی لري چي داسي درباندي ګران دئ؟

ده ورته ويل : چي څې کوې؟

هغه ويل : يه خامخا به راته وايې.

ده ويل : بيا به ارمان وکې زه بې هم وکم.

هغه ويل : يه راته ووايه.

باره ده ويل چي دا تازي دا خوی لري چي څوک غلا وکي، دی امر کې هغه غلا دستي پيدا کوي.

آبس! اشناې يې ورته وويل چي دا ماته راکه.

ده هم دستي وويل : ښه دئ هغه دئ واخله، تازي يې اشناې ته ورکی، اشناې يې تازي کور ته بوت.

څو ورځي باد يې هغه اشناې غلا وکړه، باره وهم واخيستی چي دا تازي څوک امر نه کي دستي به دا غلا په لاس ورکي، باره يې د تازي په غاړه کي کاغذ ور وځړاوه ار ايله يې کی.

تازي برابر راغی د هغه زاړه خاوند دروازې ته، دروازه تړلې ده، تازي ورته پرېووت، يو ګړی باد يې خاوند راووت چي وې کتل تازي پروت دئ،

باره يې بې فکره متار پورته کې تازي يې وواهه، تازي يې مړ کې چې ته ولي زما د اشناى څخه راوتښتېدلې، وروسته چې يې غاړې ته وکتل يو خط يې په غاړه دئ، چې خلاص يې کې پکښې ليکلي يې وه چې "تازي مي در ولېږی، ما غلا کړېد، ما ويله نه بايده چې دا تازي مي رسوانه کې".

باره دې خاوند يې ډېر ارمان وکې خوا يې بده سوله.

نو باچا صاحبه ! يه ! ته به هم ارمان وکې، د ماهي د خندا معنى مه غواړه.

باچا ويل : دانو څه نکل و چې تا وکې، دانو څه ارمان و چې د تازي خاوند وکې، ژر کوه د ماهي د خندا معنى راته راکه.

ده ويل چې ته ورسه کور ته هغه ګراني ماينې ته دې دا نکل چې در ته ومي کې وکه چې هغه څه وايي.

باچا ويل : ښه دئ. باچا کور ته راغی و ګراني ماينې ته يې دا نکل وکی. هغې ور ته وويل چې يه ورسه، مې پرېږده معنى ځني وغواړه، دا نو څه ارمان و چې د تازي خاوند کړی دئ.

باچا راغی هلک ته يې ويل چې د ماهي د خندا معنى راته وکه نه دې پرېږدم.

هلک ور ته وويل چې مه کوه داسي ارمان به وکې لکه د "باز" خاوند چې په باز پسي وکی.

باچا ويل : څنګه ؟

هلک ويل : چې يو سړی و باز يې درلود او په ښکار راوتلی و غرمه ده تږی سو، اوبه نسته، د ليري څخه د غره د ګاري څخه روني اوبه ځلېږي، چې د غره څخه رابهېږي، دا سړی راغی چې څنګه ښه روني اوبه مي پيدا کړې، ورغی اوبو ته چې لپه په ډکه کي چې خولې ته يې پورته کي، باز ور په هوا سي لاسونه يې په منګلو او په وزرو ووهي اوبه ځني توی کي، خو څو کرته يې اوبه پورته کړې باز ځني توی کړې، خو تندي غلبه پر کړې ده، باره يې باز ونيو سر يې غوڅ ورپرې کی، وروسته يې فکر وکی چې ته وده چې زه وګورم دا باز بې څه نه و.

باره دغه د اوبو رکښ يې پسي راواخيست چې راغی کې کتل چې يو

لوی اپي ښامار مړ دئ، د خولې څخه يې زهر تويېږي لاندي لکه روښي اوبه رابهېږي، ده لاسونه سره ټک وهل خوا يې ډېره بده سوله، ډېر ارمان يې په باز پسي وکی.

نو يه ! ورک يې که د ماهي د خندا معنی مه غواړه.

باچا ويل : يه غواړم يې.

ده بيا ويل چي ته ولاړ سه کور ته و ګراني ماينې ته دي ووايه چي د ماهي د خندا معنی څني وغواړم که يه ؟ او دا زمانکل ورته وکه.

باچا راغی بيا يې و ګراني ماينې ته وويل چي داسي نکل يې راته وکی، وای ارمان به وکې د دې معنی مه غواړه.

ماينې يې ورته وويل چي ورسه معنی يې څني وغواړه، دا نو څه ارمان و، چي د باز خاوند کړی دئ. باچا راغی ويل هلکه ! نه دي پرېږدم چي د دې معنی راته ونه کې. هلک ويل : مه کوه ! داسي ارمان به وکې لکه د "طوطي" خاوند چي په طوطي پسي وکی.

باچا ويل : څنګه ؟

هلک ويل : ته وا، ښه ! يو باچا و، يو طوطي يې په قفس کي اچولی و، دې طوطي ښې خبري کولې پر باچا خورا ګران دئ خورا يې ښه ساتي.

يوه ورځ په هوا نور طوطيان دي سېل يې دئ تېرېږي، يو طوطي د هوا د سېل څخه را جلا سو، راغی د باچا د طوطي پر قفس سرېبره ورته کښېنوست، يو ګړی ناست و، چغ و بغ يې سره وکی بير ته والووت، ولاړ په خپله سېل ګډ سو، هغه طوطي چي ولاړ، دې طوطي وژړل.

باچا ورته وويل چي ولي ژاړې او څه يې درته وويل؟

طوطي ورته وويل چي "راته وې ويل چي دا ستا د ورور واده دئ، دا دي د ورور د واده ورا ده" زما لږ څه زړه درد وکی ولي بندي يم.

باچا ورته وويل : چي ور ايله دي کم بيا به راسې؟

طوطي وويل : هو.

باچا ويل : څه شي به راته راوړې؟

طوطي ويل : خدای و هست يو شی به درته راوړم.

باچا هم دستي طوطي ايله کی، طوطي په سېل پسي والووت.

څه سر دي ګرځوم څلرمه پنځمه ورځ باد طوطي بیرته باچا ته راغی، یوه سپینه مندکه یې په خوله کي ورته نیولې ده.

باچا وای : دا دي راته راوړه؟

طوطي ویل : هو !

باچا ویل : دانو د څه په ښه ده؟ طوطي ویل : دا چي سپین ږیری وخوري ځوانیږي، او ته یې دستي مه خوره، دا واخله شنه یې که، چي لو سوله نوري مندکي کوي، هغه به زړو خلکو ته ورکوې ځوانیږي به، نه به تمامیږي.

لنډه دا چي طوطي په خپله په قفس ننووت.

باچا مندکه شنه کړه، د نکل کار دئ مندکه شنه سوله، لو درخته سوله، مندکي یې وکړې.

باچا پیرې پر ودرولې چي څوک یې غلا نه کي، او باچا هم په خپله سپین ږیری دئ، باره یې فکر وکی چي ته راسه په دې مندکو ازمیښت وکه نه بایده دې طوطي چم نه وي کړی.

باره یې یو زوړ هندو راووست، یوه مندکه د درختي رالوېدلې ده، دا مندکه یې هندو ته ورکړه، چي دا وخوره ځوان به سې.

هندو چي مندکه وخوړه پر هغه ځای دستي تک له تکه واوښت مړ سو. "دا مندکه یوه اپي مار په خوله کي رغړولې وه، د هغه مار په زهر وه".

باچا دستي د طوطي سر غوڅ پرې کی، چي ستا خوله دي وچه سي زه دي وژلم.

باره یې جار وواهه چي دغه درخته د زهر وده، مندکه یې زهر دي څوک دې نه خوري، اوس نو هیڅوک د وهمه نه ور نژدې کېږي، او نه حیوان ور پرېږدي.

څه سر دي ګرځوم څو ورځي باد یوه سپین سرې ښځه ده، د بني د لاسه په عذاب ده، مېړه یې په باک نه راوړي.

باره یې وویل چي تر دې ژوند مي مرګ ښه دئ، باره ولاړه د دغي درختي څخه یې یوه دانه مندکه وخوړه، سپین سرې دستي د دوولسو کالو نجلۍ سوله، چټه ښایسته پېغله سوله، باره اریانه سوله چي دا څه نکل دئ،

کور ته راغله، مېړه ته یې دا بیان وکی، پر مېړه هم داسي ګرانه سوله لکه هغه بله.

دا خبره تر باچا پوري ورسېده چي داسي یوه بوډۍ تللې وه، د بني څخه په عذاب وه، ځان یې واژه، چي مندکه یې وخوړله، پر هغه ځای ځوانه سوله.

باچا دستي یو بل زوړ سړی راوغوښت، یوه مندکه یې د درختي څخه پرې او ور یې کړه چي څه په کوي؟

زاړه چي مندکه وخوړله نوی ځوان سو.

څه سر دي ګرځوم درو څلورو سپين بږيرو وخوړه، ټوله ځوانان سوله.

باره باچا ډېر ارمان په طوطي پسي وکی، منګر لاس ته یې څه نه ورغله.

هلک ویل : ته به هم ارمان وکې، پرېږده معنی یې مه غواړه، ورسه ګراني ماینې ته دي هم وواپه، دا نکل ور ته وکه ښه صلاح ورسره وکه.

باچا کور ته ولاړ بیا یې ګراني ماینې ته وویل چي داسي نکل هلک راته وکی، معنی یې ځني وغواړم که یه؟

ماینې یې وویل : ورسه مي پرېږده ضرور د ماهي د خندا معنی ځني وغواړه.

باچا راغی ویل : ژر کوه ارمان نه کوم، د ماهي د خندا معنی راکه.

هلک ور ته وویل : مه کوه ارمان به وکې !

باچا ویل : نې کوم.

ده ویل : نې کوې؟ باچا ویل : یه !

هلک ویل : ستا پنځوس ماینې دي، دا پنځوس مینځیاني یې ګرده نر دي، هري یوې ستا په غلا د ځان له پاره یو یو نر د ښځي په بڼه ساتلی دئ، ته نه یې په خبر.

ماهي پر وخندل. باره هلک نارې کړې چي "سل مي وژلي دي سل به لا نور مړه کم" باره په مځکه ننووت ورک سو.

باچا دستي کور ته راغی، چي مینځیاني یې وکتلې ټوله نر وه.

باره باچا توره پسي لښته کړه، دا پنځوس ماینې او پنځوس مینځیاني چي نر وه ټوله یې مړه کړه چي دا سل سي.

وروسته باچا تر وزیرانو پوري ډېر خجل سو، ډېر ارمان یې وکی، چي کشکي مي معنی نه وای ځني غوښتې.

شرمښ او سره بوزه

چي وه يوه سره بوزه وه، دوه يې مرغومي وه، د يوه نوم "شليل" و د بل نوم "ماشليل" وو، دا زامن خورا پر ګران وه، سهار به يې د خوني دروازه پسي وتړله، دوی ته بې ويل چي "ېېله زما بې ږغ ځڅځه هيڅا ته دروازه مه خلاصوئ" نو دا به ځني ولاړه، مانبام به يې په ښکرو کي واښه ورته را اخيستي وه، غلامځه او تي به يې د شيدو ډک وه نو به راغله و زامنو ته به يې ور ږغ کړه : "شليل ماشليل دروازه را خلاصه که، ښکر مي ډک دئ د وښو، تي مي ډک دي د شيدو".

واښه بې وخوړله، شيدې به يې ورودلې ماړه به سوه نو به بيده سوه. دا بوزه داسي غښتلې او زړه وره وه چي شرمښان او چغالان ټوله ځني بيريدله، او د دې د ښکر نوم په ټولو حيواناتو کي پروت و.

يوه ورځ يو شرمښ ورته پټ دئ بوزه چي ماښام راغله زامنو ته يې ناره کړه، چي : "شليل ماشليل" دروازه راخلاصه کئ، ښکر مي ډک دئ د وښو، تی مي د شيدو !

شرمښ دا ناره وختي ځني زده کړه نو ولاړ.

دا بل ماښام وختي لا شرمښ راغی، ور ناره يې کړه "شليل ماشليل" دروازه راخلاصه که، ښکر مي ډک دئ د وښو، تی مي ډک دئ د شيدو.

مرغومانو چي دروازه ور خلاصه کړه شرمښ پر ور وغورځيدی دواړه مرغومان يې وخواړه، باره ولاړی په خپل غار ننووت بيده سو.

بوزه چي راغله هر څو نارې چي يې مرغومانو ته وکړلې د مرغومانو ږغ نسته، باره يې دروازه په ښکر ووهله، دړې وړې يې کړه ورننوتله، که ګوري ځای سته جولا نسته، مرغومان نسته څه ويني ميني توي سوي دي، ويل "هی هی زما مرغومان مو په چم راڅخه خوړلي دي" ډېر افسوس يې وکی.

څه سر دي ګرځوم دستي په دغه مابنام را رهي سوه هله راغله د چغال غار ته، و چغال ته يې ور بږغ کړه :

ما هوای جنګ دارم

ما توره تفنګ دارم

شرمښ په جواب کي ورته وويل :

ما نه هوای جنګ دارم

ما نه توره تفنګ دارم

شليل ما شليل نه بردم و نه خورده ام

بيا راغله د شرمښ غار ته، و شرمښ ته يې ور بږغ کړه :

ما هوای جنګ دارم

ما توره تفنګ دارم

شليل ما شليل ما که برده و که خورده

شرمښ د غاره سر را وايسته وې ويل :

ما هوای جنګ دارم

ما توره تفنګ دارم

شليل ما خوردم ما شليل ما بردم

لنډه دا چي بوزې ورته وويل چي سبا ميدان ته راووزه، جنګ دئ، اوس چي دي هر څه د لاسه کېږي وې کړه، سبه ماپښين زما او ستا جنګ دئ.

آبس ! سهار وختي شرمښ هم راغی آهنګر ته، بوزه هم راغله، و آهنګر ته يې وويل چي نن ماپښين زما او د شرمښ پر پلاني ميدان جنګ دئ، دغه زما ښکر به را تېره کوې ښه به يې را جوړوې.

شرمښ ورته وويل چي زما غاښونه به رانوي کوې زاړه سوي دي، خورک نه په کېږي، نوي ښه غاښونه به راکښېنوې. آبس ! آهنګر و بوزې ته ښه تېره د پولادو د ښکرو پوښونه يې ور جوړ کړه، د بوزې په ښکرو يې واغوستله د شرمښ غاښونه يې وکښله، د پنداني غاښونه يې ور کښېښووله.

ماپښين سو، بوزه او شرمښ دواړه د جنګ ميدان ته راوواته، د خدای ﷻ عالم و سيل ته راوتلی دئ، دوی په ميدان کي سره ودرېدله.

سره بوزه وایي : "واری دي کوه اول وار ستا دئ".
شرمښ وایي : "یه ! اول وار ستا دئ، ته واری وکه !"
بوزه وایي : "یه ! واری ستا دئ چي بیا دي ارمان په زړه کي نه سي پاته".

آبس بوزه ورته ودرېدله، شرمښ پر شا ولاړ ولاړ تاو یې راوکیښ، چي را الا یې کړه په بوزه یې خوله ولګوله، غاښونه یې د یوې واري توی سوله باندي، په بوزې یې هیڅ ونه کړه، یو وېښته یې لا ځني ونه کیښ، اوس وار د بوزې دئ.

شرمښ ورته ودرېدی، بوزه ولاړه د لیري ځخه یې تاو راوکیښ، چي را الا یې کړه وې واهه په دغه نس کي تر نس یې ښکر ور وکیښ، لري او کولمې یې پر ډاګ ور کوټه کړه شرمښ یې مړ کی.

بوزې مخ و دغه سپلانیانو ته راوګرځاوه ویل : آخلکو !

زه یو نصیحت درته کوم، باید دا زما خبري ټینګي په غوږ کي ونیسئ : "باید تاسي هیڅکله غیرت او همت د لاسه ځخه ور نه کئ، او د زورور دښمن ځخه ونه بېرېږئ، که ځه هم لکه ما غوندي ضعیف یاست، لا باید د دښمن په مقابل کي ځان ضعیف ونه بولئ، بلکي د ډېره غیر ته ځخه ځان زورور اوقوي وبولئ، او که کم ظالم دښمن ستا مال او اولاد او ناموس ته ناحقه لاس وغځوی باید غچ یې ځني وکاږئ".

وروسته د جنګ میدان او مجلس په ډېرو چکچکو سره ختم سو.

د سوداګر زامن
یا
درې هوښیاران ورونه

ته وا، ښه ! ښه .

چې و یو سوداګر و، چې په عقل خورا مشهور و.

د دې سوداګر درې زامن وه، دوه زامن یې د یوې ماینې څخه وه، یو کشر زوی یې د بلې ماینې څخه و، سوداګر خپله دنیا په ژوند لا ور وویشله.

سوداګر ناجوړه سو، خپل درې سره زامن یې راوغوښتله وصیت یې ورته وکی، چې دنیا مې په ژوند لا در وویشله، د دې له پاره چې بیا جنګ پر ونه کئ، او ستاسې د دښمنۍ او بې اتفاقۍ سبب نه سي، او د یوې خونې او یو صندوخ کلي یې دغه کشر زوی ته د ورونو په مخ کې ورکړه، ورته وې ویل چې دغه خونه تر هغو مه خلاصوه چې دنیا مو تمامېږي، هر وخت چې مو دغه موجوده دنیا تمامه سوله، نو دغه خونه خلاصه کئ، په خونه کې صندوخ دئ هر څه چې پکښې وه هغه به هم سره ووېشئ درې ځایه به یې کئ.

دوی ویل : ښه دئ.

کارونه د خدای ﷻ دي سوداګر مړ سو، دوی یو د بله هیڅ غرض نه سره درلود، هر یوه خپله ډوډۍ خوړله.

دا کشر ورور یې د خپلې کمبلې سره پښې سمې غځولې دی اصراف نه کوي، دا نور دوه ورونه لږ څه اصراف کوي، عیش او عشرت کوي، وایي : "پلار مو هوښیار سړی و، ډېره یې راګټلې ده نه تمامېږي، په هغه خونه او صندوخ یې زړه پوره دئ، په پنځه شپې کې یې دنیادربدره کړه." باره یې

دغه کشر ورور ته وویل چي زموږ دنیا تمامه سوله، دزځه د خوني دروازه را خلاصه که، چي ددغي خوني شیان سره ووېشو.

دغه کشر ورور یې دمخه لا د دوی په پټه خونه او صندوخ خلاص کړي وه، په صندوخ کي درې خورا ګران قیمت بها غمیان وه یو یې ځني پټ کړی و".

کشر ورور وویل : ښه دئ راځئ، چي راغله خونه یې خلاصه کړه، بیا یې صندوخ خلاص کی، که ګوري په صندوخ کي دوه غمي دي.

باره وروڼو یې ورته وویل چي دا خو خامخا درې غمیه وه، بابا داسي کار نه کاوه چي دوه غمیان یې په صندوخ کي ایښوول چي زموږ پر جنګ وای، موږ درې وروڼه یو، غمیان هم درې وه، یو غمی تا غلا کړی او پټ کړی دئ.

کشر ویل : مانه دئ غلا کړی، نه مي پټ کړی دئ زما هغه ده نور دنیا لا کوټه پر ته ده، زه هغه نه سم تامولای، زه کم مسکین یم چي غمی مي هم غلا کاوه، دغه نوره تر مرګه نه سم تامولای.

دوی ویل : ښه دئ چي نه یې منې نو درځه ښار ته حاکم ته به موږ دا کیفیت ووایو، هر څه حکم چي یې وکی موږ یې پر غبرګو سترګو منو.

ده ویل : ښه دئ، درځئ!

لنډه دا چي درې سره وروڼه سره را رهي سوله، چي تر کلي راووتله، پر لاري یې یو د اوښ پل ولید.

دغه مشر ورور ویل چي دا پل د ښځي اوښي دئ.

هغه مېنځوي ویل چي دا اوښه په یوه سترګه ړنده ده.

دغه کشر ویل چي بارداره ده، بار پر باندي دئ، یو انډی یې عسل دئ، بل انډی یې غوړي دي.

دا خبري یې د اوښ پر پله سره وکړې، پر لار راځي چي د شا د خوا یو صحرایي دئ پسي راغی و دوی ته وایي :

آ ځوانانو ! یوه اوښه مو ونه لیده؟

مشر ویل چي اوښه وه؟ ده ویل : هو !

هغه مېنځوي ویل : په یوه سترګه ړنده وه؟

صحرايي ويل : هو !
دې کشر ويل چي پر يوه خوا يې عسل پر بله خوا يې غوړي باندي وه؟
ده ويل: هو !
دوی ورته ويل چي يه ! کاکانه مو ده ليدلې.
صحرايي ويل : څنګه مو نه ده ليدلې، نښاني مو وويل اوس واياست نه مو ده ليدلې، عجبه ده، ولاکه مو پرېږدم چي اوښه رانه کی، اوښه تاسي غلا کړېده، درځئ حاکم ته يا اوښه راکئ؟
دوی ويل چي اوښه مو نه ليدلې ده، نې در کوو، راځه زموږ سره دعوا ده حاکم ته ځو، ستا سره به يې هم هلته فيصله کو.
ده ويل : ښه دئ درځئ.
باره څلور سره رارهي سوله، هله هله تر يوه ځايه چي راغله پر لاري بيا د خلکو پلو ته ګوري، يو پل دئ، دا مشر ورور وايي : دا پل د ښځي دئ.
دغه مېنځوی وايي چي دا ښځه راتښتېدلې ده، کشر وايي چي دغه ښځه اميندواره ده.
صحرايي دا خبري واورېدې.
يو ګړی وروسته يو سړی دئ راځغلي نارې وهي، چي راغی وايي : آ خلکو ! يو څوک په مخه نه درغله؟
دغه مشر وايي : ښځه وه؟ دی وايي : هو !
دا مېنځوی وايي : تښتېدلې وه؟ هغه وايي : هو !
دا کشر وايي : اميندواره وه؟ دی وايي : هو !
دوی وويل : ولاکه مو په سترګو ليدلې ده.
هغه دمخه صحرايي د اوښي خاوند اريان سو، چي دا څه نکل دئ. دغه سړی تېنګ سو چي ښځه تاسي پټه کړې ده، ښځه په لاس راکئ.
دوی وايي نه مو ده ليدلې، که ډېر نه درېږې راځه حکومت ته.
صحرايي ورته وايي : کاکا زما هم داسي اوښه ورکه ده، د دوی څخه مي پوښتنه وکړه، دوی ناديده نښاني وويلې، ما دوی تېنګ کړه، چي اوښه تاسي پټه کړې ده، اوس چي مي دا حال وليد يقين مي سو، چي دوی نه ده ليدلې، زه ناحقه ورسره راخوار سوم، دا دئ کاکا زه ورسره وم ته ومنه که

ګرد سره ښځه په مخه راغلې ده، ولاکه یا دوی لیدلې ده، یا ما، دا ښه خلک دي د غیبو لکه چي ګډ دي.

د ښځي خاوند وايي : څنګه د غیبو ګډ دي، زه یې نه پرېږدم، تې هم مه پرېږده راڅه حاکم ته، چي هر څه حاکم حکم وکی، هغه مو قبول دئ، خپل کیفیت به ورته ووایو زړه به مو پر آرامه سي، که دوی پټ کړي وه، حاکم به حکم وکي خپل مال به په لاس راکي، او که یې حکم پر ونه کی هغه دئ پر خپله تړه به ځو، بیا به یې بل ځای پوښتنه کوو.

صحرايي وايي : ښه دئ درځئ خوښه مي ده.

څه سر دي ګرځوم پنځه سره را رهي سوله، هله هله دا دئ ښار ته راغله، حاکم ته ودرېدل.

حاکم پوښتنه ځني وکړه چي تاسي څوک یاست او څه عرض لرئ؟

دغه درو ورونو ورته وویل چي موږ درې سره ورونه یو، د پلانکي سوداګر زامن یو.

حاکم وپېژندل، ځکه چي د دوی پلار یعني سوداګر په عقل او حاضر جوابۍ او بندوبس کي خورا مشهور و.

حاکم و دغه نورو دوو تنو ته وویل چي ښه ! تاسي څنګه ورسره یاست څنګه راغلي یاست څه عرض لرئ؟

دوی ورته وویل چي زموږ یوه ښځه او یوه اوښه ورکه ده پر لاري مو د دوی څخه پوښتنه وکړه چي تاسي نه دي لیدلي دوی یې نښانۍ ګرده راته وویلې، اوس وايي چي موږ نه دي لیدلي.

حاکم د سوداګر و زامنو ته وویل چي ورکه ورکئ یا یې جواب ووایاست.

دوی ورته وویل چي نه مو ښځه لیدلې ده نه مو اوښه !

حاکم ورته وویل چي نښاني مو څنګه ورته وویل؟

د سوداګر زامنو ورته وویل چي خدای ﷻ چاته عقل ورکړی وي ولي یې نه سي ویلای. باید د لږ علامې څخه سړی د پوره شي حقیقت ځان ته معلوم کي.

حاکم وویل : څنګه؟

مشر ورور ورته وویل چي د ښځي او نر پل، که حیوان وي که انسان چي سړی لږ څه عقل او ځراکت ولري پېژني يې و دليل ته حاجت نسته.

مېنځوي ورور ورته وویل چي اوښه ما پر دې وپېژندله چي په یوه سترګه ړنده ده، چي د لاري د یوې خوا ځوزان او واښه خوړل سوي وه او د بلي خوا دا پاته وه.

دغه کشر وویل چي ما پر دې اوښه وپېژندله چي پر یوه خوا یې عسل او پر بله خوا یې غوړي دي چي د لاري پر یوه خوا پر خاشو مچمچی ناستي وې، او د لاري پر بله خوا پر خاشو مچان ناسته وه.

حاکم وویل چي ښځه مو پر څه و پېژندله، چي دا ښځه ده، تښتېدلې ده، امیندواره ده؟

مشر وویل چي د ښځي پل خو معلوم دئ، هر څوک یې پېژني دا د ښځي پل دئ، پوښتني ته حاجت نسته.

مېنځوي ورور وویل چي ښځه ما پر دې وپېژندله چي تښتېدلې ده، چي هر ځای یې تر شا کتلي وه، پل یې ګر ځېدلی و.

کشر وویل چي ما پر دې وپېژندله چي امیندواره ده چي هر ځای کښېنستلې وه چي ولاړه سوې وه دواړه لاسونه یې پر مځکه لګولي وه. حاکم د ورکي و خاوندانو ته وویل چي څه وایاست؟

دواړو ومنله چي بېشکه دغسي ده، دوی غله نه دي، نې اوښه او ښځه لیدلې ده زموږ زیاته دعوا په دوی پوري نه لرو دا دوه تنه ولاړه، ابرا یې ورته وکړه. وروسته حاکم د سوداګر د زامنو څخه پوښتنه وکړه چي تاسي څنګه راغلي یاست؟ دوی دا نکل سر تر پایه ورته وکی، دغه دوو ورونو ورته وویل چي زموږ پلار چي مړ کېدی، نوره دنیا یې په ژوند را ووېشله د یوې خوني کیلی یې و دغه کشر ورور ته ور کړه، چي دا خونه تر هغو مه خلاصوئ څو دا نوره دنیا مو تمامېږي، هر وخت چي مو نوره دنیا تمامه سوله، دغه خونه خلاصه کئ، په صندوخ کي هر څه چي وه هغه به سره درې ځایه کئ، اوس چي مو خونه او صندوخ خلاص کی، په صندوخ کي دوه غمي دي، دا نه سره وېشل کېږي نو زموږ پلار خو ډېر پوه او هوښیار سړی و داسي کار یې نه کاوه چي زموږ د جنګ او دعوا، بې اتفاقی او دښمنی سبب ګر ځېدلی وای، ضرور

يې غمې په صندوخ کې ايښې و اوس يو غمې معلومداره دغه کشر ورور غلا کړې او پټ کړې دئ، دی وايي چې ما نه غلا کړې دئ نه مې پټ کړې دئ، نه يې مني، او په پلار زموږ اعتماد و داسې د کم عقلۍ کار يې نه کاوه.

حاکم و دغه کشر ورور ته وويل چې څه وايې؟

ده ورته وويل چې ما نه غلا کړې، شاهد دې تېر کې يا دې په معقول صورت راباندې واړوي، زه خو يې نه منم.

حاکم وويل چې ښه دئ، دا نو قاضي ته سبا ورسئ دا مسئله د شريعت ده.

دوی هم وويل : ښه دئ سبا به قاضي ته ورسو.

ماښام حاکم قاضي راوغوښت، ورته يې وويل چې دا د پلاني سوداګر زامن دي، دغسې دعوه يې ده، او په عقل کې اول لمبر دي، داسې يې دعوه ور خلاصوې چې د عقل د لارې يې دوی درې سره ومني، او قانع سې حق و حقدار ته ورسېږي، قسم به په مابين کې نه وي، د ښځې او د اوښې د دعوا نکل يې هم ورته وکی، چې دوی په عقل سره د ښځې او د اوښې خاوندان قانع کړه، هغو د دعوا څخه ابرا وکړه او ولاړه.

قاضي اريان ولاړ، وار خطا سو چې د دوی په خپله دونه عقلونه دي په خپلو عقلو يې دوني لويې دعوې فيصله کړې نو زه به چيرې دا دعوه په عقل ور خلاصه کم خو مخامخ يې دم درحاله و حاکم ته وويل : "ښه دئ دعوا به يې ور خلاصه کم" منګر په زړه کې خورا چرتي دئ چې دا دعوه به څنګه ور خلاصوي.

قاضي په دغه شپه کور ته راغی، خورا خوابدی دئ ډوډۍ نه خوري نه خبرې کوي چرت وهي.

د قاضي يوه لور ده چې خورا هوښياره ده دې لور يې ورته وويل چې بابا! ولې داسې خوابدی ناست يې، چرت ولې وهې؟ قاضي دا نکل و لور ته وکی، چې داسې ورونه دي داسې دعوه يې ده.

لور يې ورته وويل چې دا اسانه کار دئ خوا مه بدوه سهار به زه دريشي وکم ور به سم د قضا پر مسئله به کښېنم زه به ووايم چې نن زه قضا کوم، قاضي صاحب ناجوړه دئ، زه به دا دعوه په دغسې ډول ور خلاصه کم چې په عقل سره دوی قانع سي، او حق به هم و حقدار ته ورسېږي، قسم به هم په

مابین کي نه وي.

قاضي ويل : ښه دئ، که دي د دې غمه خلاص کړم.

څه سر دي ګرځوم سهار د قاضي لور د نر دريشي وکړه راغله محکمې ته، د سوداګر زامن يې راوغوښتله، ورته وې ويل چي ستاسي څه دعوا ده؟

دوی اينه پر بينه دا خپل کيفيت ورته ووايه.

د قاضي لور ورته وويل چي تاسي درې سره غوږ ونيسئ چي زه يو نکل درته وکم، بيا به نو دعوا فيصله کوو.

دوی ويل : ښه دئ وکه !

د قاضي لور ويل : تاسي وا، ښه !

دوی ويل : ښه !

ويل چي و يو سوداګر و، ډېره ديندار او پرهېزګاره سړی و، په زړه هم صاف او سپېڅلی و، يوه ښه پاکه د بدو بېزاره ماينه يې وه.

دغه سوداګر په يوه لويه او ليري سوداګري تلی، نو يې ماينې ته وويل چي زه دا پلا په ليري واټن سوداګرۍ ته ځم ښايي چي ډېر عمر نه سم را، نو که زه دغه يو کال نه راغلم، ته زما د قيده څخه آزاده يې که دي بل مېړه کاوه درته اجازه ده وې که، او که راغلم راغلم، او هو، هوښ کوه چي بد ونه کې، د بل نامحرم سره ګوته بنده نه کې.

ماينې ويل : ښه دئ بېغمه اوسه، زه هم پښتنه يم.

لنډه دا چي سوداګر ولاړ په خپله سوداګرۍ پسي، ماينه يې په خپل کور کي په ستر ناسته ده، دباندي نه وزي خپله ګذاره کوي.

يوه ورځ دې سر غوړولی دئ کور ناسته ده سر مينځي، د دغه ښار باچا دوربين اچولی دئ شاوخوا ګوري په برج کي ولاړ دئ، يو وار يې د سوداګر ماينه وليده، و کور ته يې دوربين برابر سو، د سوداګر پر ماينه مين سو، دا کور يې نښاني کی، باره يې وښځي ته حال راوکی، چي زما حرامسرای ته راسه.

دې په جواب کي حال ورواستاوه چي زه نه درځم، زه د سوداګر ماينه يم مېړه مي نسته، نه درځم نوم مي بدېږي.

باچا بير ته حال ور واستاوه چي پرېږدم دي نه، خامخا به راځې زه پر تا مين سوی يم.

دې په جواب کي ورته وويل چي ښه دئ چي نه مي پرېږدې نو ته داسي وکه چي د خپله حرامسرايه څخه يو نغم په مځکه کي راواچوه زما تر سرايه پوري يې راورسوه، باره به په پټه سره ځو، او راځو، نه به ستانوم بدېږي، او نه به زمانوم بدېږي، ځکه د لوی سوداګر ماينه يم.

"د ښځي مقصد دا و چي ګوندي په دغه موده کي چي دی نغم کاږي سوداګر راسي".

باچا هم وويل ښه دئ.

لنډه دا چي باچا پټ سړي ور واچوله نغم پرې کوي هله هله تاته دي خدای ﷻ نېکه ورځ درکي د نکل کار دئ يو کال باد نغم تيار سو، د سوداګر هم وعده پوره سوله، نه راغی.

اوس نو باچا حال ورته راوکی چي په نغم کي راسه نغم تيار سو.

دې فکر وکی چي دا بهانه هم درباندي ودرېدله، نغم هم جوړ سو، سوداګر هم نه راغی، او د باچا سره دې هم د وسه نه ده پوره، او بل د سوداګر موده او وعده چي درته ايښې يې وه پوره سوله، که بيا راسي څه به نه درته وايي، نو ښه دا ده چي ورسم. باره يې ځان جوړ کی، کالي يې واغوستله. پسولونه يې په ځان پوري کړه په نغم ننوتله، هلته رږغ سو چي سوداګر راغی سوداګر سرای ته ورننووت، دا د نغم په خوله کي اېښه پېښه ودرېدله.

سوداګر چي خپله ماينه وليدله چي ځان يې جوړ کړی دئ د نغم په خوله کي ولاړه ده، دستي يې توره باندي راوکښله چي وهله يې، دې ورته ويل چي د خدای ﷻ پار دئ دغونه مي پرېږده چي زه تاته اصل حقيقت او کيفيت ووايم بيا که مي وژنې که مي پرېږدې؟

سوداګر وويل : ووايه څه وايې څه نکل دئ؟

ماينې يې ورته وويل چي نکل دا دئ : "چي ته ولاړې په هغه ورځ نه په دغه بله ورځ باچا دوربين اچولی و، زه يې په سرای کي وليدلم پر ما مين سو، زه يې نه پرېښوولم، نو ما بهانه ورته وکړه چي داسي نغم پرې که، زه او ته به په نغم کي ځو او راځو، څو دا دئ دا يو کال مي په دې نغم کښلو اخته کړی و، خطا ايستلی مي و، اوس ستا وعده هم پوره سوه نغم هم تيار سو، باچا وو، د لاسه مي نه ورسره کېده، نو د ناچارۍ اوس ورتلم." نکل دغسي دئ که

مي پرېږدې که مي وژنې؟"

سوداګر ورته وويل چي پر تا دي شابس وي، منګر د دغه مخه ورځه، ما هغه باچا ته وربخښلې يې.

"غوږ دي دئ" ښه! "ښه!"

څه سر دي ګرځوم باقي دی پاته سو، پوهېږې چي دا هم رارهي سوله راغله باچا ته.

باچا پوښتنه ځني وکړه چي څونه عمر دي وکې ولي؟

دې دا نکل ورته وکی، چي داسي مي ځان جوړ کړی و په نغم ننوتلم نابيره سوداګر راغی رابانـدي، تـوره يـې رابانـدي وکښـله، وژلـم يـې، مـا دا کيفيت ګرده رشتيا ورته ووايه سوداګر چي په اصل حقيقت خبر سو، نو يې وويل چي ورځه، ولاړه سه ما باچا ته وربخښلې يې، نو د دغه سببه ناوخته راغلم.

باچا ورته وويل چي سوداګر دونه ښه مړانه وکړه، نو يه! زما خور يې ما بير ته هغه سوداګر ته د يوې مجمې بتکيو سره بخښلې يې ورځه!

باچا دستي يوه مجمه بتکۍ ورکړې رخصت يې کړله، دې هم د بتکيو مجمه پر سر راواخيستله په نغم کي بير ته را رهي سوله.

کارونه د خدای ﷻ دي غله په دغه نغم خبر سوي دي نغم يې پر منځ سوری کړی دئ، ناست دي چي داړه ووهي، دا ښځه پر راغله يوه مجمه د بتکيو ډکه يې پر سر ده، په پساله هم بار ده، ښايسته هم ده، چټه هم ده، بې خدای ﷻ څخه ماسيوا بل څوک هم نسته، لکه سپوږمۍ داسي ځلېږي، غلو چي ورتـه وکتل راوې ګرځول چي خـدای ﷻ ذر کړه، اول يې طلاوي ځني واخيستلې، باره يې پوښتنه ځني وکړه چي دا مجمه بتکۍ چا درکړې، چيري تللې وې، چيري ځې، د چا ماينه يې؟

دې ښځي په رشتيا سره دا ټوله نکل سر تر پايه غلو ته وکی.

غلو وويل چي دوی دونه راستي او صداقت درسره کړي دي نو زموږ هم خور و مور يې ورځه په مخه دي ښه، بتکۍ يې بير ته په مجمه کي ور واچولې ايله يې کړه.

د سوداګر ماينه، بير ته د سوداګر کور تـه راغلـه بيـا يـې دا نکـل ټولـه

ورته وکی. سوداګر او ماینه بیر ته سره کور او کهول سوه.

ښه ! اوس نو زه ستاسي څخه پوښتنه کوم چي په سوداګر او باچا او غلو کي کم یوه انصاف او مړانه وکړه، او کم یوه ښه وکړه ؟؟؟

مشر ورور وویل چي سوداګر ښه وکړه چي خپله ماینه یې د باچا او د ماینې پر صداقت و باچا ته وروبخښله.

مېنځوي ورور وویل چي باچا ښه وکړه چي بیر ته یې ښځه د طلاوو سره سوداګر ته وبخښله، که نه وي باچا د چا څخه بیرېدی، او بیا سوداګر هم ور وبخښله، او پر مین هم و، د باچا څخه خو هیڅ بازخواست نسوای کولای. کشر ورور ورته وویل چي یه ! چیري ؟ غلو مړانه وکړه چي مفت پر داسي ښځه او بتکیو قادر سوله او بیر ته یې دا وبخښله، ایله یې کړه، بتکی یې ور کړې، اصل انصاف غلو وکی. د قاضي لور وویل : وینې قاعده دا ده چي غل د غلو مل وي، ور که ! غلا دي کړېده غمی ور که ! ولي چي د غلو مل یې ! تا د غلو خوا ونیوله، نو غمی دي غلا کړی دئ ور یې که چي ته هم دغسي په انصاف والاوو کي حساب سې لکه ته چي وایي !

کشر ورته وویل چي بېشکه زه غل یم غمی مي اخیستی دئ، خپل غمي دي واخلي، پر تا دي آفرین وي، منګر قاضي صاحب که دي خوانه بدېږي، ته هم والله که نر یې، ښځه یې ښځه !!!

د قاضي لور ورته وویل چي پر تا دي آفرین وي، که زه ښځه وم نو والله که بل سړی مېړه کم، بې تا بل مېړه پر ما حرام دئ !!!

وروسته په دې خبرو او فیصلې قاضي او باچا خبر سوله راغله محکمې ته، باچا د قاضي لور ته آفرین ورکی، و کشر ورور ته یې وویل چي د قاضي لور بېشکه ستا ده، وروسته قاضي په هغه محکمه کي د خپلي لور نکاح په هغه دریشي کي د کشر سره وتړله، غمي یې یو یوه ته، یو بل بل ته ورکی.

باره درې سره ورونه، باچا د قاضي د لور سره، رخصت کړه کور ته په خوشحالي راغله، پس له دغه یو تر بل سره جارېدله سره کور و کهول سوله.

ماته یې وویل چي ورځه نکلچي ! د انصاف، اتفاق، ښه ورور ګلوي، راستي، عقل او سنجش دغه نتیجه ده، په یاد یې ولره، ځه په مخه دي ښه!!!زه دا یم راغلم دوی مي پرېښووله.

حلاله مزدوري

يو ښکلی ځوان و، يوه يې ماينه، يوه يې سپين سرې مور، او دوه درې يې سر ونيمسر چيچيان وه.

مور يې ناجوړه سوله، دا زوی يې راوغوښت، ورته وې ويل چې زويه ! زه مرم فقط دوې خبرې وصيت درته کوم.

ده وويل : وکه ادې جانې.

مور يې وويل چې زويه ! يو مې دا وصيت دئ چې بېکاره او لټ به نه ګرځې، په خپل وچ متېه به خپل عيال ساتې.

دوهم وصيت مې دا دئ چې حلاله مزدوري به کوې، دا دوه وصيته مې پر ځای که، عمري به په آب و عزت يې، پر هر چا به ګران يې، دښمن به نه لرې، د چا به بد نه ايسې.

ده ويل : ښه دئ پر غبر ګولېمو.

لنډه دا چې مور يې مړه سوه، پخوا د عيال په نفقه او ګذاره کې مور ډېر کومک ورسره کاوه، اوس نو د عيال خوارئ او تکليفونه خاص د ده په غاړه کې ولوېدله.

څو عمر په حلاله مزدوي پسي ګرځېدی، پوښتنه به يې کوله چې زه په حلاله مزدوري پسې ګرځم، حلاله مزدوري کوم، منګر چې چا به ورته وويل چې څنګه حلاله مزدوري کوې؟

ده به جواب نه سوای ورکولای، او نه دی او نه بل څوک د حلالې مزدورئ په معنی پوهېدی، چې حلاله مزدوري کمه ده او څنګه وي؟

عيال يې بيخي بې پېردې سو، وږي او لڅ سوله، دی بېکاره ګرځي نه پوهېږي چې حلاله مزدوري نو کمه ده، چې زه يې وکم.

يوه ورځ يې ماينې ورته وويل چې سړيه ! ته ولې يوه خواري او مزدوري نه کوې؟ خو ګرده ورځ او لګ سولو، بېکاره او لټ ګرځې دا خو ښه کار نه دئ.

ده ورته وويل چې لټ نه يم، منګر چې ادې مړه کېده ماته يې وويل چې ته به حلاله مزدوري کوې، اوس زه په حلاله مزدوري پسې ګرځم، نه را پيدا کېږي، او زه نه پوهېږم چې حلاله مزدوي کمه ده؟

ماينې يې ورته وويل چې حلالې مزدورۍ خو ډېرې دي، هره مزدوري حلاله ده، چې ته يې په خپل لاس ځانته مرداره نه کې.

ده وويل : څنګه ؟

ماينې يې وويل : چې حلاله مزدوري دا ده چې پر لږ مزدوري صبر وکې، په ډېره پسې ونه ګرځې، مطلب دا دئ چې که لږ وي که ډېره، ته بايد مزدوري وکې، ځان بېکاره پرې نهږدې، په يوه کار دې بايد لاس بوخت وي، داسې نه چې ته نفس کوې او په سپکه مزدوري لکه جارو کښې يا په پنډې توب شرمېږې، په حکومت او منصب پسې ګرځې، يا دا چې وايې د دې کار مزدوري او پيسه لږ ده، په ډېره پسې ګرځې، بل دا دئ چې د هر چا کار چې دې ونيو، مزدور يې سولې، بايد د هغه سړي مزدوري او خدمت په ډېر صداقت او راستي سره وکې، او د ده تر خيال بايد زيات کار وکې، او په کار کې پس رانه سې، او په کار و خدمت کې يې سستې، لټې او نامردې ونه کې، او وس بايد وکې چې په کار کې خپل بادار خوشحاله او راضي کې چې تاته د هغه کار مزدوري در کوي، په ښه نيت، د زړه په اخلاص او په ورين تندي يې در کې، که څه هم لږ وي، نو به ستا په مزدوري او ګټه کې خداى ﷻ برکت کښېږدي، دښمن به نه لرې، پر هر چا به ګران يې، په آب او عزت به يې، او که نفس کوې په سپکه مزدوري شرمېږې، يا په لږ مزدوري سر نه کښته کوې، په ډېره پسې ګرځې، يا په کار کې لټې او نامردې کوې، په راستي يې نه کوې هسې خپله ورځ تېروې، شپې او ورځې حسابې او خپله مياشت پوره کوې، بادار به در څخه خوشحاله نه وي په تريو تندي به مزدوري او پيسه در کوي، او درته وبه وايي چې "واخله يوه دې مه دوه کېږه، په نس مه مړېږې." نو د هر يوه به بد در څخه راځي، تل به خوار او بې

عزته ګرځې، رزق به دي بركت نه كوي، نو يه ! ته بېكاره مه ګرځه ولاړ سه يوه بل وطن ته كه دلې څوک مزدوري نه دركوي، چي بل وطن ته ولاړې اول سړى چي هر څوک درباندي پېښ سو د هغه مزدور سه، په لږ و ډېر پسې مه ګرځه، مطلب كار په راستي سره كوه.

نامردي مه كوه بېكاره مه ګرځه !

ده وويل : ښه دئ.

لنډه دا چي را رهي سو، ځي بل وطن ته، هله هله يوه ښار تـه راغى، باره يو سپين ږيرى سړى پر پېښ سو.

سپين ږيرى ورته وايي : ځوانه د كم ځاى يې، په څه پسې راغلى يې؟

ده ورته وويل چي مثلاً د پلاني ځاى يم په حلاله مزدوري پسي راغلى يم، چي كم ځاى حلاله مزدوري وكم.

سپين ږيري ورته وويل چي راځه زه به حلاله مزدوري دركم منګر هو په دې شرط چي ته يې ځان ته مرداره نه كې، يعني نامردي په كار كي ونه كې، او بل به زما په خوله كوې، هر څه چي مي درته وويل دلايل به نه راسره وايې، او جواب به نه راكوې، زياتـه نو بيا وګوره چي زما پيسه چي تاتـه يې دركوم څونه بركت كوي، او وګوره چي حلاله ده كه يه ؟

ده وويل : ښه دئ څو راكوې د مياشتي؟

سپين ږيري وويل : درې ايكى دركوم.

دئ اريان سو، چي په درې ايكى به نو زه څه وكم، زه بې وخورم كه بې عيال ته ور ولېږم، خو بير ته يې د مايني نصيحت ور په ياد سو ويل: "ښه دئ قبولي مي دي" سر له نن څخه زه ستا مزدور يم. آ ول ښه دئ.

آ بس ! د سپين ږيري مزدور سو، هغه كارونه وروښووله چي دا كار به كوې، دغه كار به كوې هغه كار به كوې، ډوډۍ به هم زه دركوم.

سپين ږيرى هم ښه سړى دئ، خپل لمونځ او وظيفه كوي دى خورا په راستي سره كار كوي.

سپين ږيرى پسي ګوري چي څنګه كار كوي، خو دغه د ده كار يې خوښ سو، هه هه څو مياشت پوره سوه، يوه دوې ورځي لا تيري سولې باره درېيمه ورځ سهار وختي سپين ږيري تـه ورغى چي اوس مي نو مزدوري

راکه، که دي مهرباني کیږي.

سپین ږیري جېب ته لاس کی، ویل "پر دواړو لېمو !" درې ایکی یې د جېبه څخه ورته راوکښلې ویل ها، دغه دي زویه دا دي درې ایکی مزدوري واخله دارو دي سه، منګر ولاړ سه سبا وختي بازار ته په دروازه د بازار ور ننوزه څه، هر څوک چي اول په مخه درغی هر شي چي یې خرڅاوه که ښه و که بد چرت مه پکښې وهه ځني رایې نیسه، نو وروسته بیا ګنج ته ورسه یا په بازار کې مطلقي د وطن په سړي پسې وګرځه چي شناخته دي وي، که دي پیدا کی دغه شي چي دي رائیولی دئ، وهغه ته یې ورکه او ورته ووایه چي دا واخله زما کور ته یې یوسه او زما عیال ته یې ورکه، بیا نو راځه خپل کار دي کوه.

ده ویل : ښه دئ.

څه سر دي ګرځوم ده هم د سپین ږیري په خوله وکړه، په دابل سبا وختي ولاړ بازار ته، اول وار یو سړی په مخه ورغی چي درې دانې انار ورڅخه دي، خرڅوي یې، ده ورته وویل : چي دا انار په څو دي؟

هغه ورته وویل : په درې ایکی.

ده دستي درې ایکی د جېبه ورته راوکښلې، انار یې ځني رانیول، انار هم وچکلک دي، باره راغی په بازار کي وګرځېدی، وګرځېدی د خپل کلي یو سړی یې پیدا کی، دا درې دانې انار یې په دسمال کي ور وګنډل ورته وې ویل چي دا به زموږ کره یوسې، زما ماینې ته به یې ورکې.

هغه ویل : ښه دئ انار یې ځني راواخیستله.

دی بیرته راغی خپله مزدوري کوي.

هغه سړي انار راوړه په دسمال کي یې ګنډلي دي د ده کور ته یې ور ړغ کړه، ماینه چي یې ورته راغله ده دا دسمال ورکی ورته وې ویل چي : "دا دي مېړه راکړي دي" نه یم خبر چي څه شي دي، سلام یې وایه او ویل یې : "دا مي ماینې ته ورکه !"

ماینې یې دا غوټه راواخیستله درې دانې کلک شیان پکښې کي دي، چي خوني ته ننوتله چیچیان یې باندي راټول سوه چي بابا مو څه شي رالېږلي دي، چي دسمال یې خلاص کی که ګوري وچکلک انار دي د ماینې یې خوا

بده سوله، د درده يې د مځکې وويشته چې ته دا دونه عمر تللى وې، تا دا وچکلک درې دانې انار راولېږله، دانو څه کوو؟ دې چې انار وويشتله دا يو انار مات سو، دانې يې په خونه کې دانه دانه سولې، خونه په روښانه سوله، دې چې ورته وکتل که ګورې ګرده جواهرات او سره لعل دي، باره يې چابک چابک ګرده دانې راټولې کړې، هغه نور دوه انار يې هم راواخيستله چې ولچې دا هم د جواهراتو ډک دي، ګرده يې په صندوخ کې واچول صندوخ يې کلپ کى، يو څو دانې يې راوړې ښار ته پټ يې پر يوه صراف خرڅې کړې، وځان او عيال ته يې ښه کالي وکړه، غنم، وريجې، او غوښې يې واخيستلې، اوس نو په استراحت سوله، شکرونه کاږي او په مېړه پسې دعاوې کوي.

څه سر دي ګرځوم هلته يې د مېړه د مزدورۍ بيا مياشت پوره سوله، سړى بيا ورغى سپين ږيري ته يې وويل چې مياشت پوره سوله، اوس که مهرباني وکې چې مزدوري مي راکې؟

سپين ږيري بيا جېب ته لاس کى درې ايکۍ يې ورته راوکښلې ور يې کړې، او ورته وې ويل چې سبا بيا وختي ولاړ سه ښار ته، تر لومړۍ سودا مه تېرېږه هر شى چې په مخه درغى که يې خرڅاوه وايې خله کور ته او عيال ته يې ولېږه، منګر د يوه ښه سړي په لاس يې واستوه چې امين وي. ده ويل : ښه دئ.

سړى بيا سهار وختي ښار ته راغى، اول سړى په مخه ورغى يوه پيشي ورڅخه ده، ده ورته وويل : کاکا دا پيشي نه خرڅوې؟

هغه ويل : خرڅوم يې.

ده وويل : په څو ده؟

هغه ويل : په درې ايکۍ.

ده دستي توکل وکى درې ايکۍ يې ورکړې، د بادار په خوله يې وکړه، پيشي يې ځني واخيستله، بيا راغى وګرځېدى وګرځېدى، د دوى د کلي يو سوداګر دئ خورا ډېره دنيا لري ډېر معتبر دئ، دا يې پيدا کى، دغه پيشي يې ورکړه چې دا مي په مزدوري ګټلې ده، خداى ﷻ به کوي ته به کوې، دا پيشي به زموږ کره وړې، او زما مايني ته به يې ورکوې.

سوداګر وخندل چې دا سړی لکه چې تازه لېونی سوی دئ باره یې وویل چې پیشي څه کوې، چې استوې یې، کور کې خو پیشیاني ډیرې دي، هلته لږ دي چې ته نوري استوې؟

ده ورته وویل چې ته یې څه کوې که ښه کوې ته یې یوسه زما ماینې ته یې په لاس ورکه.

سوداګر ویل ښه دئ، که خدای ﷻ کول امانت به دي ورسوم بېغمه اوسه!

باره سوداګر پیشي واخیستله په قفس کې یې واچوله وې ویل: "زه سبا وطن ته ځم یو بې سم".

دی را رهي سو راغی د سپین ږیري مزدوري کوي.

سوداګر په دا سبا مخ د وطن او کور پر خوا را رهي سو، هله هله وایي په دغه شپه نه په دا بله شپه یوه داسې ښار ته راغی چې ګردسره پیشي پکښې نسته او نه چا لیدلې ده.

لنډه دا چې په کاروانسرای کې یې واړول، غټ سوداګر دئ نوم یې پروت دئ.

ماښام د دغه ښار باچا سوداګر مېلمه کی، سوداګر یې ور وغوښت.

سوداګر چې راغی دربار ته کښېنوست، د ډوډۍ وخت سو که ګوري چې د خوني په کونجانو او شاوخوا کې پیره داران ودرېدل، لښتي یې په لاسو کې ونیولې، سترخان هوار سو ډوډۍ راغله کښېښوولهٔ سوه، "یو وار ورور ته دي ووایم" د دباندي څخه او د خوني د کونجانو او شاوخوا څخه موږکان راووتل. پیره داران او نوکران یې په لښته وهي و سترخان ته یې نه پرېږدي شي یې. څه سر دي ګرځوم دغه ډوډۍ یې په ډېر زحمت وخوړله سترخان ټول سو.

باره سوداګر ورته وویل چې صاحبه! ولې پیشي نه ساتې داسې په عذاب یې؟

باچا ویل: پیشي څه شي ده؟

ده وویل: ولې تا تر اوسه پیشي نه ده لیدلې؟

باچا ویل: یه!

بس سوداګر سړی واستاوه د هغه مزدور پیشي یې راوړه نو وې ویل : دغه پیشي ده، د موږکانو قاتله او دښمنه ده، دا چي په کور کي وي یو موږک به په سترګو ونه وینې.

آ بس ! باچا ویل : دا ماته راکه.

سوداګر ویل دا خو امانت ده، د بل چا ده، یو مسکین سړی دئ د هغه ده، د هغه کره یې وړم.

باچا ویل : یه ! دا به خامخا راکوې دغه دئ هر څو روپۍ چي غواړې وایې خله هغه مسکین ته یې ورکه.

څه درته ووایم جکه جکه پیشي یې مثلاً په لس زره روپۍ باچا ته ورکړه.

باچا چي پیشي ایله کړه یو وار پیشي ور په هوا سوله څو موږکان یې ونیوله مړه یې کړه، څه چي پاته سوله ولاړه په غارونو تله، باچا خوشحاله سو. سوداګر په دا سبا رابار سو، روپۍ یې راواخیستلې د ځانه سره یې وویل : "څه هغه نو پیشي څه کوي دا روپۍ د هغه له پاره ښې دي، پیشیاني خو هلته په کلي کي ډیري دي." څه سر دي ګرځوم سوداګر راغی وطن ته، د هغه سړي کره ورغی و ماینې ته یې لس زره روپۍ ورکړې، چي دا ستا مېړه راکړي دي، هغه ویل چي زما عیال ته یې ورکه.

ښځي هم روپۍ ځني واخیستلې.

سوداګر خپل کور ته ولاړ. ښځه راولاړه سوله د ځانه سره یې وویل چي دا نغده دنیا څه کوو اوس مونو بس ده ولاکه یې زموږ کړوسی لا خلاصه کي، باره یې مځکي، باغونه او جایدادونه واخیستله، یوه ښه کلا یې واچوله جوړه یې کړه، ځان او کوچنیانو ته یې ښه نوکران، مینځیاني او مریان ونیوله، اوس نو بي بي سوله ګرده کلی لاس پر نامه ورته ولاړ دئ.

هلته یې د مېړه بله میاشت پوره سوله، هغه بیا راغی بادار ته یې وویل چي زما مزدوري بس ده زه نوره مزدوري نه کوم، ځم کور ته چي خپل عیالووینم.

سپین بږیري ویل : ډېر ښه دئ، د جیبه څخه یې درې ایکۍ راوکښلې ور یې کړلې، بیا یې ورته وویل چي سبا ښار ته ولاړ سه اول وار چي دي هر

شي رانيو، هغه شی به کور ته درسره يو سې، ځه په مخه دي ښه، پر خدای ﷻ مې سپارلی يې پر رزق دي بر کت سه په عزت اوسې، زه درڅخه خوشحاله يم ښه حلاله مزدوري دي وکړه آفرين! دی يې رخصت کی.

سهار وختي راغی ښار ته چې په دروازه ورننووت دستي اول يو سړی په مخه ورغی يوه زړه بنۍ يې په شا ده ناري وهي چې دا بنۍ خرڅوم.

ده ويل: ويل په څو ده؟

هغه وويل: په درې ايکۍ.

ده درې ايکۍ ورکړې بنۍ يې څنې واخيستله، بنۍ ډکه ده دئ خوشحاله دئ چې دالکه چې جواري دي خوله يې نه کړه خلاصه، مخ د کور پر خوا را رهي سو د ځانه سره وايي چې ځه دا يوه بنۍ جواري چې خورو، او خلاصوو يې څوک مړه څوک ژوندي، پوهان وايي: "چې د نن رزق دي پيدا کی، خدای ﷻ در ورساوه د سبا غم مه کوه" دا مو يوه مياشت بس ده، نور نو د انارو، پيشي او بنۍ په حال نه دئ خبر. څه سر دئ ګرځوم هله هله مزل پر مزل د نکل کار دئ دا دئ خپل کلي ته راغی، هغه څيري غوړ پړ خيرن پيرن کالي يې اغوستي دي، چاودلي پښې يې دي، بنۍ يې په شا ده. د کلي خلکو وپيژاند، يو د بله يې سره ويل: "ګوره لا هغسي کنځکی اسکېرلی دئ".

باره چې ورغی خپل کور او سرای يې نسته، پر ځای يې ښه سپينه کلا او بنګله ولاړه ده، نوکران او مريان يې دروازې ته ولاړ دي، باره يې پوښتنه وکړه چې زما سرای، مإينه او عيال څه سوه؟

خلکو ورته وويل چې دغه کلا ستا د ماينې ده، دا نوکران او مريان دي د زامنو دي، عجبه ده چې ته تر اوسه نه يې خبر!!

لنډه دا چې دی غريب د وهمه او د بيري خپل کور ته نه سي ننوتلای.

باره يې يو مريي ته وويل چې دا کلا د چا ده؟

هغه ورته وويل چې د پلاني ده. " د ده نوم يې واخيست".

باره ده ورته وويل چې ورسه د دې کلا و خاوند يا بي بي ته ووايه چې پلانی نامی راغلی دئ، که يو وار مهرباني وکې دروازې ته راسې، يا ما در پرېږدې چې درسم.

مریی راغی و بي بي ته یې وویل چي داسي یو خوار کی سړی دئ په دروازه کي ولاړ دئ وایي " زما نوم پلانی دئ، که بي بي یو وار دروازې ته راسي، یا ما کور ته پرېږدي چي درسم کار مي دئ".

بي بي چي دروازې ته راغله چي داسي یې ورته وکتل وې پېژاند، دغسي یې کور ته ننیوست وې ژړل لاس و پښې یې ور مچ کړه، نو یې ورته وویل چي کور دي خراب سه! تر کلي او کوره دي اوبه راوځړولې دا دونه دنیا دي وګټله راوادي ستوله، ته لا هغسي اسکېرلی د بلا په ټکي لړلی راغلې، ولي؟ خو زما و ستا کړوسی یې ولاکه تمامه کي.

دی اریان ولاړ! ورته وې ویل چي ما نو څه ګټه کړې ده، او څه شي او کومه دنیا مي درته رالېږلې ده؟ او دا یوه بنۍ مي رانیولې ده جواري دي که څه شي دي خوله مي لا نه ده ورخلاصه کړې.

دې ویل: د انارو په مینځ نه وې خبر؟

ده ویل: یه!

هغې وویل: هغه خو ګرده د جواهرو ډک وه سره لعل پکښي کي وه، ته راسه دغه دي دوه لا روغ دي چي هغه نور دوه انار یې مات کړه ګرده د جواهرو ډک وه.

ده دستي د بنۍ خوله خلاصه کړه چي دا بیا څه شي دي کې کتل چي بنۍ هم د لعلو او جواهرو ډکه ده.

سوداګر یې راوغوښت چي پیشي دي څه کړه؟

هغه وویل چي په لس زره روپۍ مي خرڅه کړه، نکل یې ټوله وکی، روپۍ مي ستا ماینې ته ورکړې.

هغې ویل: بېشکه!

باره ده دا خپل نکل ورته وکی، چي په درې ایکۍ مزدور وم، دا شیان مي هري پلا په هغه درې ایکۍ رانیول را استول مي. ماینې یې وویل: دغه ده حلاله مزدوري او د حلالي مزدورۍ برکت!!!

مسګر او نجار

چي و، یو مسګر او یو نجار و، د دوی په منځ کي بحث سو یوه وویل: زه ښه کمالداره یم، بل ویل: زه ښه کمالداره یم.

نجار و مسګر ته وویل چي راځه چي سره معلومه یې کو.

مسګر وویل: ښه دئ ونیسه، ته هم هر رنګه کمال چي دي زده دئ راوې باسه، او زما هم هر څه چي زده وه میدان ته به یې در وباسم.

څه سر دي ګرځوم دوې هفتې یې مهلت سره کښېښو، پس له دوو هفتو څخه نجار یو صندوخ غوندي یو شی جوړ کی، دوه پیچونه یې پکښي کښېښوول. چي د سر پیچ یې و پېچي سړی پکښي سپور وي په هوا کېږي چي د پای پیچ یې و پېچې راکښته کېږي.

مسګر یو د مسو ماهی جوړ کی چي سړی پکښي ننوزي او په اوبو کي چي ایله کې د دریاب ټوله ماهیان نیسي، او د دریاب لوی لوی نهنګان وژني.

لنډه دا چي دواړو خپل کمال و میدان ته سره راوړ، سره دعوا یې سوله، یوه ویل "زما کمال ښه دئ" بل ویل "زما کمال ښه دئ" خو نه سره ملامتېدل، وروسته یې پر دې صلح وکړه چي درځه چي باچا ته یې وروړو، د هر یوه کمال چي ښه و باچا به ووایي چي دا ښه دئ.

لنډه دا چي مسګر ماهی او نجار خپل صندوخ راواخیست راغله باچا ته، و باچا ته یې وویل چي صاحب، عرض لرو.

باچا وویل: وواياست څه عرض لرئ؟ نجار ور ته وویل چي زه نجار یم، دغه سړی مسګر دئ زموږ په منځ کي سره بحث دئ سره دعوا مو ده، زه وایم چي زه کمالداره یم زما کمال ښه دئ، دی وایي "زما کمال ښه دئ زه کمالداره یم". نجار وویل چي ما دغه صندوخ جوړ کړی دئ، چي دغه د سر

پېچ يې وپېچی، او سړی پکښي کښېني، په هوا الوزي او دغه د پای پېچ يې وپېچی بير ته راکښته کېږي.

مسګر وويل چي ما دغه ماهی جوړ کړی دئ د مسو دئ، چي سړی په نوزي او په درياب کي يې ايله کې، د درياب هر رنګه لوی نهنګ چي وي پر برابر سي تر نس يې ښوی وزي وژني يې.

د باچا زوی ور ته وويل چي تاسي دغه دواړه موږ ته راکئ، چي موږ ازميښت په وکو، بيا به حکم وکو چي د پلانی دا ښه کمال دئ، پلانی کمالداره دئ.

دوی وويل: ډېر ښه دئ.

دغه د باچا زوی د يو بل باچا پر لور مين و، چي په خوب يې وليدلې وه، او هغه باچا خورا زورور و د ده هيڅ د لاسه نه ورسره کېده.

هغه باچا خپله لور په يوه داسي لوړه بنګله کي کښېنولې وه چي هيڅوک نه ور تلای او نه ور ختلای سوای، د بنګلې خوله د ده تر تخت لاندي وه يوه مينځه يې ورسره کړې وه، چي د دې د کار يې کاوه، ستی کړې يې وه، چي زما لور به نه څوک ويني او نه به يې چا ته ورکم.

آبس د باچا زوی پلار ته وويل چي په دې شيانو به زه تجربه وکم.

باچا وويل: ښه دئ ! "باچا د ده په مينتوب نه دئ خبر".

د باچا زوی څه بتکی ورسره راواخيستلې صندوخ يې دباندي راويوست پکښي سپور سو، چي د سر پېچ يې وپېچی، يو وار صندوخ په هوا سو، جلو يې د هغه باچا د ښار پر خوا راوګرځاوه، چي دی يې پر لور مين و، چي په هوا سو راوې وهله و ښار ته نژدې سو، دا بل پېچ يې وپېچی صندوخ راکښته سو، صندوخ يې په شا راواخيست و يوه کلي ته راغی يوه مسکينه بوډۍ يې پيدا کړه.

بوډۍ ته يې وويل چي دغه دوې بتکۍ واخله ماښام به زه ستا کره تېره کم. بوډۍ ډېره خوشحاله سوله ويل خدای دي راوله د سره شل شپې تيري که، زه په کور کي نه لور لرم نه زوی، ته مي زوی يې.

باره د بوډۍ کره ورغی، ماښام يې ډوډۍ وخوړله وروسته يې بوډۍ ته يو موټ بتکۍ ورکړې چي دا واخله زه يوه پوښتنه درڅخه کوم، که دي

درک په لاس راکی، بیانو هر څه چي غواړې، زه يې درکوم.

بوډۍ ډېره خوشحاله سوله وې ويل: پر سترګو زويه په اور درسره ګډېږم، هر څه ستا کار چي وي کوم يې وواېه !

ده ورته وويل: د باچا دلور درک په لاس راکه.

بوډۍ ورته وويل چي زويه ! مه کوه، د باچا لور ته څه کوې، هغې ته خو مېږی نه سي ورتلای، پر باچا خورا ګرانه ده چاته يې نه ورکوي او نه تر اوسه چا ليدلې ده، هغه ستۍ ده مېړه نه کوي، او هغه خورا په لوړه بنګله کي ناسته ده، د بنګلې خوله د باچا تر تخت لاندي ده، هيڅوک نه سي ورتلای.

ده وويل: ته يې هسي سبا په اشاره راوښيه زياته ما او خپل کار سره پرېږده.

بوډۍ وويل: ښه دئ.

سبا چي سو بوډۍ دمخه سوله، دی په پسې دئ، راغله اول يې د باچا باغ ورو ښو، بيا يې د لور بنګله ور وښووله چي سل ګزه لوړه ده، بيرته کور ته سره راغله.

ماښام چي سو د باچا زوی دستي په صندوخ کي کښېنوست صندوخ يې په هوا کي برابر ورغی، تر دربچه ورننووت صندوخ يې د بنګلې په پنجره کي کښېښو.

د باچا لور چي داسي ورته وکتله که يې کتل چي يو کښېده ځوان دئ، چي سترګي نه پر روښېږي، دې هم د روه زړه پر بايلو، پر مينه سوله، منګر ډير اريانه ده چي دا انسان دئ او که پيريان دئ په بڼه د انسان سوی دئ. باره هلک خپل حال ورته وواېه، چي دا اوه کاله کېږي چي ته مي په خوب کي ليدلی يې، منګر هيڅ رسد مي نه کېدی، اوس دغه دئ راغلم څنګه يې کوې؟ منګر ځای يې نه وروښود.

دې ورته وويل چي زما زړه دي هم په دغه يوه ليدو يووړی، بل مېړه پر ما حرام دئ بېتا ماسوا، منګر ته څنګه راغلې، رنګ دي د انسان دئ، انسان او دا ځای؟

ده ورته وويل چي زه انسان يم، شاهزاده يم د پلاني باچا زوی يم بېغمه اوسه اما خپل ځای نه درښيم.

لنډه دا چي شپه يې سره تېره کړه، د پېشلمي پر وخت بير ته ځني راووت، په صندوخ کي سپور سو، را په هوا سو، د ګل باغ سره يوه جګه ګڼه ونه ده، دلته کښته سو، د دې وني په سر کي يې صندوخ کښېښو، بير ته راکښته سو، راغی د بوډۍ کره.

وايي چي د باچا لور يې هر سهار د ګل ګلابو سره تلله په دې سهار چي يې وتلله تر پخوانن ډېره درنه سوله، او رنګ يې هم تک ژړ، شونډان يې وچکلک دي.

مينځه راغله و مور ته يې وويل چي نن بي بي د پخوا تر عادت په تاله کي زياته وختله، رنګ يې هم تک ژړ او شونډان يې وچکلک دي.

مور يې راغله پوښتنه يې ځني وکړه چي "ولي داسي خرابه سوې يې، څه در سويدي؟"

لور يې وويل چي برايي يو سړی راغی تر سهاره راسره و، ږغ مي هم د بدنامۍ څخه نه سوای کولای سهار بير ته ولاړ نو نه پوهېږم چي د کمي خوا راغی؟ مور يې راغله و پلار ته ويې وويل چي داسي نکل دئ. پلار ته يې خورا قهر ورغی، حکم يې پر پيره دارانو وکی چي که مو تر سهاره ستر ګي سره ورورې ستر ګي به مو وکاږم، دی هم راغی پر تخت پرېووت، منګر تر سهاره يې ستر ګي جګي نيولي وې.

سهار سو، مينځه راغله ويل : هغه آش هغه کاسه، بيا سړی راغلی و، بي بي بدخوابه پر ته ده لکه انسان دونه درنه ده، او تر پرون لا خراپه سوېده. مينځي چي دا بيان د بي بي و مور او پلار ته وکی، مور او پلار يې راغله لور ته يې وويل چي د کمي خوا سړی درته راځي؟ ستا په مصلحت دئ، نه دئ ځنګه چل دئ، ته بيان وکه؟

لور يې ورته وويل: په نيمه شپه ماله راځي، په چا حصار نه دئ، موري هغه زما يار نه دئ، نه زما په مصلحت راځي، که زما په رضا وای ولي مي رنګ ژړېدی، او ولي به مي ويل چي سړی راځي، خو زه په خوارږه خوب بيده يم د پاسه ترپ راننوزي، زياته نه يم خبره چي د کمي خوا راسي.

باچا اريان ولاړ، و ماينې ته يې وويل چي د دې پای يې څه؟ اوس لا نور خلک نه دي خبر، سر ورخ دئ، که نور خلک خبر سوله، نوم به مو په تمامه

دنيا کي بد سي، اوس يې يوه چاره راښيه !

ماينې يې ورته وويل چي چل يې دادئ چي سهار دغه خوشبو او دوه درې ټوله رنګ به سره ګډ کو، پر لور به يې شاوخوا راګرځوو، او تر کړکيو لاندي به يې هم واچوو، که انسان و چي راغی څراغ به نه وي ټوله ځان او کالي به يې په رنګ سي ته به سهار وختي لا حکم وکې چي جار ووهي چي د ښار او چار اطراپو ټوله خلک دي راحاضر سي هر سړی که پاته سوی و هغه د باچا غل دئ، حکم يې د مرګ دئ، که انسان و معلوم به سي او که پېری و نه به سي معلوم.

آ بس ماښام يې د کړکيو لاندي رنګونه او خوشبو واچوله پر لور يې شاوخوا دغه پوخ رنګ راوګرځاوه، څراغ يې ځني يووړ.

ماښام د باچا زوی بيا په صندوخ کي سپور سو راغی تر دربچې ورننووت، د نجلۍ سره په مجلس اخته سو.

نجلۍ ورته وويل چي ګرده بنګله يې د رنګه ډکه کړې ده ټوله ځان او کالي دي په رنګ سوه، سهار دي دستي نيسي، د ژوند څکه ولاکه وکې، که مي بېولای سې خو ښه او که مي نه سې بېولای د ځان چاره وکه! ده وويل: توکل پر خدای دئ، خو شپه يې سره تېره کړه سهار پر سپېدو راووت، صندوخ يې د درختي په سر کي کښېښو د لمانځه مال دئ د دوبي کره راغی دوبي ته يې کالي وکښله ورته وې ويل چي ستا يو جوت کالي راکه چي وايې غوندم دغه به ژر پر ېمينځې. دوبي کالي ورکړه وايې غوستله، دوبي بيا د ده کالي واغوستله، سهار وختي يې جار وواهه چي څه چي خلک دي که دننه که دباندي ټوله دي ارګ ته راسي، که يو پاته سوی و هغه د باچا غل دئ حکم يې د مرګ دئ.

څه سر دي ګرځوم دا دئ خلک جوپې جوپې ارګ ته راځي، د باچا په حضور کي تېرېږي، هه هه د خلکو په منځ کي دوبي معلوم سو، باره باچا نور خلک ايله کړه دوبي يې راوګرځاوه.

دوبي ناخبره دئ، باره يې د دوبي څخه پوښتنه وکړه، چي ته زما لور ته بنګلې ته راځې، دا کارونه ته کوې؟

دوبي ګوز و اروا سو، وې ويل: يه صاحب ! زه دوبي يم.

باچا وویل: دا کالي دي د څه وه؟

دوبي وویل: دا کالي سهار یو ځوان راکړه چي راپرېمینځه، زما کالي څیري وه چي راتلم دغه مي واغوستله زه خو دوبي یم د هر یوه کالي مینځم، مدام د بل کالي اغوندم.

باچا وویل: ورسه هغه سړی په لاس راکه، که نه وي ولاکه د ژوند څکه راڅخه وکې.

باره یې د دوبي سره پټ دوه کسه سپاهیان بې درېشۍ ورسره کړه.

دوبي راغی کالي یې ده ته راوړه ورته ویې ویل چي کالي دي نه پاکېږي دغه دي.

سپاهیانو دستي ورحمله کړه ځوان یې ټینګ ونیو، ویل درځه باچا غوښتی یې، دی هم زړه ور ورسره را رهي سو رایې وست باچا ته.

باچا پوښته ځني وکړه چي ته بنګلې ته راځې؟

ده وویل: هو.

باچا وویل : په څه چم؟

ده وویل : چم یې څه کوې، چم یې نه درښیم خو زه درځم.

باچا ورته وویل چي وژنم دي، که نه وي راته ووایه په څه چم راځې؟

ده وویل چي ټوکر ټوکر مي کې چم یې نه درښیم.

باچا هم دستي حکم وکی چي ورسئ حلال یې کئ.

دستي جلادانو راکش کی د ګلباغ د څنګه یې راتېروي باره دې ځوان جلادانو ته وویل چي د دغه ګلباغ سیل مي نه وکی، ما یې خورا صفت اروېدلی و، نو که تاسي دونه مهرباني راسره وکی چي یو وار دغي جګي درختي ته وخېژم تاسي لاندي راته ودرېږی چي زه د دغه باغ سیل وکم ډېر به ښه وي نور ارمان نو په زړه کي نه لرم او د ننه خو مي څوک نه پرېږدي نه دونه وخت سته.

دوی وویل : ښه دئ ور وخېژه.

ځوان چي درختي ته ور وخوت په صندوخ کي کښېنوست وې ویل : د خدای په امان ! ولاړ والوت !!!

جلادان اریانۍ واخیستل چي باچا خو مو وژني دا یې څه چل وکی، باره

يې سره وويل چې يو پسه به حلال کو نېچې به په سرې کو، موږ به وايو "دغه دئ الال مو کي" نو حال به پلن واچوونه به وايو چې راځخه ولاړ يا ځنګه و ځنګه سو.

باره يې يو پسه حلال کې لاسونه يې په سره کړه راغله چې حالا مو کی. باچا وويل : ډېر ښه !

اوس نو د باچا زړه بېغمه سو، چې ماښام سو د باچا زوی راغی بنګلې ته تر دربچه ور ننووت.

د باچا لور ته يې وويل : چې درځه په صندوخ کي کښېنه.

د باچا لور او دی دواړه په صندوخ کي سره کښېنستله صندوخ په هوا کي ولاړه.

سهار چې مينځه راغله که ګوري "ځای سته جولا نسته" باچا ته راغله چې بي بي خو نسته.

لنډه دا چې باچا هر ځه پور ته کښته سو د لور پته او خوان يې ور ک سو، باره يې حال پلن واچاوه.

د باچا زوی سره د ماينې کور ته راغی.

نغارې سولې چې د باچا زوی سره له ماينې چې ځو کاله دی پر مين سوی و لاس ته يې راوستله.

وروسته باچا نجار ته نهايتي ډېري روپۍ ور کړې، او وې ويل : ستا کمال پر سر دئ ولي چې عمومي فايده لري، او مسګر ته يې هم آفرين او بخښښ يې ور کی، رخصت يې کړله، ماهي او صندوخ باچا و ځان ته په بيه ځني واخيستله.

نوټ : د ماهي د ازميښت نکل مي نه دئ اروېدلی.

ګیدړه او پړانګ

ته وا ښه ! ښه.

چې و یوه ګیدړه وه خورا وږې وه، ګرده ورځ یې په غره کې څه نه وه پیدا کړي.

باره یې وویل چې خدایه ! زمري او پړانګ ته دې دونه لوی لوی صور تونه او تېرې تېرې چمبې ورکړي دي چې د غاره راوو تل دستي بیا ښکار وکي، ځان موړ کي، زه ګرده ورځ وګرځېدم، دغسي وږې پاته سوم، او دغسي عاجزه یم چې یو موړ ک په خواري نیسم، خو بیر ته یې شکر وکېښ وې ویل خدایه ! شکر دئ ماته دې تر ټولو حیواناتو پوهه راکړې ده. څه سر دې ګرځوم راځي چرت وهي، د لوږې یې پر ستر ګو پېروې را اوښتي دي، اوس غواړي چې د خپلې پوهې څخه کار واخلي، او خپل "مکر" خرڅ کي، خو هله هله دا ده نابېره پر یوه پړانګ پېښه سوله، پړانګ بیده دئ.

ګیدړه راغله وې ویل: السلام علیکم ستړی مه سې چیري وې چې نوکان مي درپسې وواته، دا یو کال کېږي چې درپسې ګرځېدم، ستا پلار دې خدای ﷻ وبخښي ډېر پهلوان او ګړندی و، تل مدام به تر دغه ګړنګ غورځېدی، او ته کوچنی وې زما و ستا د پلار سره آشنایي وه، ده به مدام ویل چې "خدای ﷻ مي دې تر هغو نه وژني څو په دغه زوی دغسي پهلواني زده کم، چې تر دغه ګړنګ وغورځي، بیا نو که مړ سم ارمان نه لرم." بیا نو زه وطن ته ځنې ولاړم، بیا مي تر اوسه ته نه وې لیدلی اوس مي دا دئ ولیدلې پیدا مي کړې، ښه انا دې جار سي خو شکر دئ ځوان سوی یې، او نه یمه خبره چې هغه د پلار مړانه او پهلواني درپکښې سته، که یه؟ ته به تر دغه ګړنګ وغورځې که به نه وغورځې؟

پړانګ وویل: انا عجبه دي وکړه نو زه خو هم د هغه پلار زوی یم، ولي دي داسي اوم ګمان دئ، درځه سیل مي کوه چي څنګه تر دغه ګړنګ وغورځم.

ګیدړي وویل: ودي ګورم، که وغورځېدې بېشکه د هغه پلار زوی یې. پړانګ راغی د ګړنګ د سره یې تاو راوکیښ را په هوا سو، لاندي تر ګړنګ ولوېدی. هډونه یې میده میده سوله منګر مړ لا نه دئ.

ګیدړي دغسي ور الا کړه، ویې ویل: فضل وکې خدایه فضل! اما په زړه کي د خوشحالۍ ګوړي خوري، چي راغله د پړانګ حال یې ولیدی، ښه یې نظمونه وکتل پړانګ بېسده دئ. فکر یې وکی چي نه جوړېږي نو راغله ناره یې پر وکړه، څه بې ویلي وي. هر څه چي ویلي وه وابې ورې:

ته بې عقل وې پلنګه
درته وایم راشوه سوې د ګړنګه
کل صورت دي رېز مرېز سو
دا د خیال وی لکۍ دي سوه په وینو رنګه

پړانګ فکر وکی چي اوس خو دي هیڅ د لاسه نه ورسره کېږي پسات یې در وکی، اوس دي بېعقل هم بولي، یه اوس خو ورته احتیاج یې، راسه د دوستۍ لاره ور دمخه که، نو یې ناره پر وکړه:

ګیدو راسه زما خدمت که
درته وایم غمخوري مي په صورت که
که د دې واري خدای جوړ کړم
درته وایم همېشه به ستا خدمت کړم

ګیدړي فکر وکی چي خدای دي خواره که، پړانګ ژوندی دئ، داسي پسات دي هم په وکی خو که جوړ سو رښکۍ به دي وباسي، یه راسه تر هغو یې خدمت کوه څو مري یا جوړېږي، که مړ سو هم، که ژوندی و جوړ سو بیر ته به یې دا بدګماني د زړه څخه ووزي، او یو د زړه ډاډ هم ور که. نو راغله د پړانګ خدمت کوي، بدن یې ور مږي او چاپي کوي یې، د پړانګ سر یې پر زنګانه کښېښو، نو د زړه د ډاډ له پاره یې ناره پر وکړه:

زه هغه ګيدو يم
شېره پړانګه اموخته په مسخرو يم
ستا په مرګ مي خوا بدېږي
شېره پړانګه زه مينه ستا پر برېتو يم

پړانګ په دې ناره بيرته لږ څه د زړه تله وسوله، خو پروت دئ زګېروی يې دئ بېسده سو.

ګيدړي خيال وکی چي لکچي مړ سو، نو راغله په کوناټي يې خوله ور ولګوله، د پړانګ د مخ پښې وښورېدلې، ژوندی دئ.

ګيدړي فکر وکی چي ژوندی دئ، او مړي نه پاتېږي، دا پلا دي په کوناټي خوله ور ولګوله، په دښمني دي پوهېدی، چي ګيدړي پسات وکی، اوس که بيرته شل واره د زړه تسلي ورکم که جوړ سو والله که دي بېمرګه پرېږدي وژني دي، که ځني وتښتې هم که جوړ سو در پسي ګرځي پيدا کوي دي، نو يه راسه داسي ناره پر وکه چي لا يې زړه ولوېږي مړ سي، نو يې ناره پر وکړه :

زه هغه ګيدو يم
شېره پړانګه چنګاو ستا په کوناټو يم
ستا په مرګ زه خوشحالېږم
منګر اوس دي ګماني د مخ په پښو يم

پړانګ ناره پر وکړه :

مېلې تا وکړې ګيدړي
ګيدوخانی همېشه دي چمبې غوړي
که د دې واري خدای جوړ کړم
دا د خيال چمبې به کړمه په تا غوړي

لنډه دا چي پړانګ آرام سو، ګيدړه راغله پر زړه يې لاس ور کښېښو، نظم يې وکوت، زړه يې نه غورځي، نظمونه يې لوېدلي دي، پړانګ مړ دئ، باره يې کوناټي ته وجوړېدله يو کوناټی يې وخوړ، شکر يې وکيښ.

ګيدړه خوشحاله ده، چي هره ورځ به داسي ځان مړوم، دا ورځ او شپه تېره سوه.

دا بله ورځ بيا راغله دغه بل کوناټي يې وخوړ، خورا يې ځان موړ کی، ټېغونه يې وکښله، را رهي سوله چي اوس نو يو ځای يخ سيوری پيدا کي او تر لاندي بيده سي، چي راغله يو پاڼ دئ تر دغه پاڼ لاندي پرېوتله، دراز يې وکيښ، وي خندله وې خندله باره يې د ډيري خوشحالی څخه د توانه ووتله ناره يې وکړه :

ګيدو څه بده مړه ده
درته وايم چي يو پړانګ د دې مېله ده
هره ورځ په سره کرتی کي
درته وايم تر دې پاڼ لاندي بيده ده
وې شېر ګلابي – وې مسته شرابي

يو بل پړانګ دئ په دې غره کي ګرځي، دې پړانګ دا ناره واورېدله، داسي درد ورغی چي توبه ! باره يې بې څنګه وڅه په ګيدړې پسي را الا کړه چي دا څه وايې ستا جګنات وچه سه.

ګيدړې ځني را الا کړه، هله هله دا دمخه ده پړانګ په پسې دئ، څو يو ځای يې په خاشو کي ګير کړه په خاشو ننوتله، ګيدړه خورا سترې سوله، نو يې پر پړانګ مخ را وګرځاوه، د پړانګ څخه ګيله کوي چي "تا ماته شکنځل هم وکړه، او دونه دي لا هم وځغلولم" ناره پر کوي :

پړانګه تا وکړه بې باکه
درته وايم زما صورت دئ درې چارياکه
راسه دا وار مي ايله که
درته وايم صورت مي ووتی د واکه

پړانګ په جواب کي ناره پر کوي :

ګيدو تا وکړه بې باکه
درته وايم زما صورت دي کی بېواکه
ګيدو تا به زه پرې نږدم
که مي پرېښوې ماينه پر ما طلاقه

يعني تا داسي بېباکه خبره وکړه چي "يو پړانګ مي مېله ده" چي زما صورت درته د درده بې واکه سو، اوس دي کله ايله کوم.

ګیدړي فکر وکی چي اوس دي نو ولاکه پرېږدي چي شل باڼې ورته وکې، او په دې خاشو کي هم نه ځني خلاصیږي، باره یې زور کړه د خاشوها خواته ځني ووتله، ځني ټوپ یې کړه.

پړانګ هم پسي ټوپ کړه، هله هله ګیدړه یو غار ته راورسېده، دا چي غار ته ننوتله پړانګ ور حمله کړه لکۍ یې غوټه ځني پرې کړه، ګیدړه بې لکۍ په غار ځني ننوتله.

باره پړانګ پسي بږغ کړه چي اوس نو نښاني سولې ستا خوله وچه سه، ته ومنه که دي پرېږدم، یو ګړی د غار په خوله کي ورته ناست و، چي هوسا سو باره ځني ولاړ.

ګیدړي دغه شپه په غار کي تېره کړه، پر خپل ځان او پر خپل عقل یې ډېر تو کړه، چي د ګیدړي رنګ دي بد کی، پټ به دي ښایسته خپل پړانګ خوړلای، څله دي نارې وهلې، خلک فیلان او قافلې نوشوي او سهي یې، تا دغه لږ عیش نه سوای سهلای.

څه سر دي ګرځوم ورور ته دي ووایم، سهار راغله د غار خولې ته، کرار کرار یې شا وخوا وکتل پړانګ نسته، باره راووتله، چرت وهي چي د لکۍ چاره څنګه وکم، په زړه کي یې دغه د لکۍ چل وسنجاوه، باره راغله پر دښت پر یوه غونډۍ د غره څخه لیري وختله، وې انګولل وې انګولل خورا نابودي کړږي یې وکښلې، یو ګړی باد دېرش څلوېښت ګیدړي ورته راغلې. ګیدړو ورته وویل چي خیریت خو دئ، څنګه دي یوازي پر دې غونډۍ نارې کړه؟

دې ورته وویل چي هو! خیریت دئ، څوک مي نه درلوده چي در استولی مي وای، زه سپین سرې وم د ترپ نه وم، کورو ته نه سوای در تلای، چي خبري کړي مي وای، نو مي دلته نارې کړه چي ټوله راسئ.

ګیدړو وویل: د څه له پاره دي راوغوښتو؟

دې ورته وویل چي زما د لمسۍ واده دئ، و یوه ښه باغوالا ته مي ورکړې ده، په باغ کي ښه انګور لري یوه ښه تنګاچه پکښي سته، نو هغه زوم مي راته وویل چي:

خوابښي! ته به خپلي ښځي مځي، یا شناخته که لرې باغ ته به یې

راولې، هلته انګور هم سته، او د اټڼ له پاره لويه تنګاچه هم سته، او د کلي نامحرم نسته چي وې ويني.

نو اوس درځئ چي ولاړي سو باغ ته، دغه لمسۍ مي په يوه ښه ډرب واده کو، چي بيا مي زوم ونه وايي چي دا ماينه او خوابښې مي بېکسه دي.

ګيدړو وويل چي انا ښه دئ خداى ﷻ دي خير درکي، شل واره به درسره ولاړي سو، خداى ﷻ دي مه بېکسه کوه، دا خو ښادي ده درځه !!!

آبس ګيدړه دمخه ده نوري ګيدړي په پسي دي، دا دئ يوه ښه باغ ته يې راوستلې باغوان نسته.

اول ګيدړي ورته وويل چي وګرځئ په باغ کي انګور منګور په بېغمه زړه سره وخورئ.

ګيدړي په جوو کي سمي سولې انګور يې وخوړه، په کلي کي دودونه خيژي. دا ورته وايي: اوس نو يو ګړى باد ښه غوښې او وريجي راوړي، هغه دئ پخوي يې، تر هغو راسئ پر دې تنګاچه باندي يو ښه اټڼ واچوئ چي ارمان مو وخيژي. ګيدړي راغلې پر تنګاچه وختلې سره ګرځي.

دا ورته وايي چي دا مو اټڼ دئ، د دې زمانې اټڼ به وي دغسي؟

دا نوري ګيدړي وايي چي نو څنګه اټڼ وکو؟ انا ته يې راوښيه، موږ خو نجوني يو، نه مو دئ زده.

ګيدړه راغله د ټولو ګيدړو لکۍ يې ټينګي سره غوټي کړلې، پر تنګاچه يې د اټڼ پر ډول ودرولې، دا په خپله په منځ کي ودرېدله.

په دې مابين کي باغوان باغ ته ور ننووت چي داسي يې وکتل پر تنګاچه دېرش څلوېښت ګيدړي کتار د اټڼ پر ډول ولاړي دي، يوه يې په منځ کي ولاړه، لکۍ د ټولو سره غوټي دي، بير ته باغوان کلي ته ولاړ، دا نکل يې د کلي خلکو ته وکی. باره خلکو سپي او تازيان را رهي کړه کرار د باغ په دروازه ور ننوتله. دلته ګيدړي د اټڼ ناره کوي:

ناره مي پر ناره

دا زما لمسۍ له ما څخه نن ولاړه

که به زما دعا قبلېږي

باغوان او تازي راولې همغاړه

يو وار د هې خوا تازيانو او سپو او خلکو باندي را الا کړه.
لنډۍ ګيدړه وغورځېده الا يې کړه، تازيان ورته راورسېدله، دوی سره زور کړه، د ټولو لکۍ د بېخه وختلې ولاړې.
لنډۍ ګيدړه نو اوس بېغمه سوله، د ځان په شان يې نوري هم پيدا کړې، د دغه وروسته به په بېغمه زړه په غره کي ګرځي.
يوه ورځ هغه پړانګ پر پېښ سو، باره يې ورته وويل : هی خدای په لاس راکړې ! ګيدړي ورته وويل چي ولي ولي خير خو و؟
پړانګ پر الا کړه په چمبو کي يې سپکه واخيستله وې ويل : دا ته يې چي پړانګ دي مېله و، ها !؟
ګيدړي ورته وويل چي ايله کوه مي چي اوس به دي وښويوم په مځکه به دي ژوندی ننباسم، ته مانه پېژنې؟
پړانګ وويل: پېژنم دي چي زما ورور دي وژلی و، او راڅخه الا دي کړه، په غار ننوتلې لکۍ مي درڅخه پرې کړه.
ګيدړي وويل : توبه وکاږه زه دي ولاکه تر اوسه ليدلې يم، موږ بسته قوم يو، دا څو شپې کېږي چي د هندوستان څخه راغلي يو، په لنډبزۍ سره مسمی يو، او ستانه هم يو، ګرده لکۍ نه لرو، هوښ کوه چي يوه لنډبزۍ ته بړغ ونه کې وبه دي ښويوي، که دي زړه ته نه لوېږي راځه هلته چي ټوله لنډبزۍ دروښيم. پړانګ وايي: درځه ! چيري دي؟
ګيدړه دمخه سوله پړانګ يې راووست په يو پټ ځای کي يې ودراوه، و پړانګ ته يې وويل : چي دلته ودرېږه ! ګوره يې چي څو لنډبزۍ راځي، منګر دوی نابلده دي، د بدو بېزاره ګرده عمر خپلي تسپې اړوي، نه بايده چي در څخه ستر ګه ونه کي. پړانګ وويل ښه دئ !
ګيدړه راغله پر هغه لوړه غونډۍ وختله نارې کړه، نارې يې کړه، يو ګړی چي وسو د هري خوا بې لکۍ ګيدړي راغلې، د غونډۍ سر په ډک سو.
ګيدړه راغله پړانګ ته يې وويل: چي زما دا دي ومنله؟
پړانګ وويل: بېشکه ! بېشکه ! د ګيدړي لاس و پښې يې ورمچ کړه، ورته ويې ويل : چي توبه مي ده، لنډبزۍ انا و مي بخښه !
لنډبزۍ وويل : څه زويه ما بخښلی يې باره بې هوښه کار مه کوه.

خمړی

ته وا ښه ! ښه.

چي وه یو بوډی وه، یو کوچنی د لسو کالو زوی یې و، نور یې هیڅ نه درلوده، د دې زوی نوم یې "خمړی" و، د خمړي مور خو نو خوار کی کونډه او سپین سرې وه، خورا مسکینه وه.

دا زوی یې خورا لټ و، یوه خاشه یې پر بله نه ایښووله، هیڅ کار یې نه کاوه، مور به سبق ته ولیږی دی به ولاړی د لوچکانو هلکانو سره به یې په ختو او لوشو کي بازی وکړلې کالي به یې ګرده په ختو ولړله ټوکر ټوکر به یې کړله، نو به کور ته راغی.

مور خوار کی به ور ته وویل چي کور دي ډاګ سه ! سبق ولي نه وایې چي د دین و دنیا ګټه ده، سبا به لوی سې زه به مړه یم څوک په ګوله نه درکوي.

ده به غوږ نه پر نیوی، مور خوار کی به یې کالي بیا په نوک و اوری سره ور وترپله ور پینه به یې کړله.

نور هلکان چي به د سبق څخه خلاص سوله، کور ته به راغله ډوډی به یې وخوړله دستي به په خپلو بوټو پسي تله خمړی چي به وږی سو را به غلی ډوډی به یې وخوړله بیر ته به په لچري پسي ولاړ.

د مور یې خورا خوا بده وه، چي دا زوی مي بې سبقه او بې خطه پاته سو، کار هم نه کوي فکر یې وکی چي زوی مي نه په ملا راګرځي، نه په وهلو اړ دئ، نه نصیحت اغیزه پر کوي، سبا به مړه یم دغسي به لوچک ګرځي، بې کماله، بیعمله، بې خطه به وي، څوک به ګوله نه ورکوي، د دې پای یې څه؟

باره یې چرت وواهه چي راسه د بلي لاري یې اصلاح که ! باره د خمړي مور د غنمو نینې وکړلې، د کلي هلکان یې راوغوښتله یو یو مټ نینې یې و هلکانو

ته ور کړې، و دغه هلکانو ته يې وويل چې خمړی به تاسي رضا کوئ، سبق ته به يې بياياست، سبق به په واياست د ځانه سره يې کښېنوئ.

هلکانو وويل: ښه دئ !

هلکان په خمړي پسې سوه چې راځه سبق وايه، هلته به مو سات تېر وي، خمړی يې رضا کی، سبق له يې بوت، هلکانو سبقونه ور واخيستل خپل سبق وايي، خمړی هلته کښېنوست.

هلکانو ور ته وويل چې خمړيه سبق ووايه !

خمړي وويل: ولاکه ټکی لا ووايم، ګوره زما مور تاسي ته يو يو مټ نينې در کړي دي د هغو په عوض کي به زما پر ځای تاسي سبق واياست.

څه سر دي ګرځم سبق يې ونه وايه، ماښام کور ته راغی.

مور يې ور ته وويل چې خمړيه ! سبق دي ووايه؟

خمړی وايي: يه ! زما پر ځای نورو هلکانو ووايه !

مور يې ور ته وويل: کور دي ډاګ سه ! نو تا ولي نه وايه؟

خمړي وويل: ګوره ! نينې دوی وخوړلې، سبق لا هم زه ووايم، دوی به سبق وايي چې نينې خوري، زې ولي ووايم.

مور خوارکې يې اريانه سوله چې خدايه ! څه ورسره وکم ؟ "اوه د مور زړه دئ"

د خمړي مور بله ورځ بيا هلکان راوبولل، بيا يې يو يو مټ نينې ور کړې چې دغه خمړی رضا کئ، بوټو ته يې درسره بياياست ګوندي په کار اموخته سي.

هلکانو وويل: ښه دئ.

آبس هلکان په پسې سوله چې راځه خمړيه ! بوټو ته به ولاړ سو، مور خوارکې ته دي بوټي راوړه، واښکي راواخله بازی به هم وکو، بوټي به هم مور ته راوړې، چې تې رانه وړې نو يې څوک ستا مور ته راوړي، په کوڅه کي به نو څه وکې، کالي څيري کې، په ختو يې ولړې نو کور ته راسې.

خمړي وويل: ښه دئ، ورغی د کوره څخه يې واښکی او کړکی راواخيستله، دی او هلکان ولاړه ځنګله ته، هلکان بوټي کوي، خمړی دغسي ور ته کښېنوست.

هلکانو وویل: خمړیه ! ولي بوټي نه کوې؟
خمړي وویل: خو ادې تاسي ته نینې در کړیدي، زما پر ځای یې هم وکئ، ولاکه لاس لا ور وړم.
هلکانو وویل: کور دي ډاګ سه ! اوس نو څه په وکو؟
دوی خواران ناعلاجه سوله په ټولو یې یو یو مټ ور وکړه ور ته کوټه یې کړه چي دغه دي اوس خو یې په خپل واشکي کي وتړه وایې خله په شا خو یې که؟
خمړي وویل: نینې به تاسي خوړلي وي، بوټي به زه وړم، ولاکه مټ لا واخلم، ادې تاسي ته نینې در کړیدي بوټي بې هم تاسي اخلئ وړئ به یې.
هلکان اریان سوله چي خدای دي خوار که تا خمړی، څه بلا دئ؟
څه سر دي ګرځوم، تاته دي خدای ﷻ نېکه ورځ درکي، کور دي په الله سره ودان، پوهېږې، چي دئ، دا ډا، وادي ورېدو، ورور ته دي ووایم، غوړ دي دئ؟ تاته دي وویل سي، باقی دی پاته سو، زما زړګیه ! په دې خبرو خبرو کي یو وار باندي ماښام سو.
هلکان ناچاره سوه د خمړي د بوټو غوزی یې هم راواخیست په شا یې کی.
خمړی تش په پسې دئ راځي "غوړ دي دئ ورور ته دي ووایم" پر هلکانو تاریکه سوله، د کور و کلي لار ځني ورکه سوله، هلته یوه لیری د اور رڼا معلومېږي، او یوه خواته د سپو غپا ده.
خمړی وایي: دوري راځئ، هغه زما انا اور بل کړی دئ ور به سو.
هلکانو وویل : یه هغه به یا غله یا بل شی وي، دوري راځه دغه سپی مو د کلی دئ.
خمړي وویل: یه ! ولاکه درسره ولاړ سم، زه خو دوري ځم تاسي پر هره چي ځی، ورځئ !!
آبس خمړی ځني رهي سو "جان لالا ته دي وویل سي" مخ د اور پر خوا. هلکانو فکر وکی چي ګور دي ډاګ سه، هلک راباندي تاوان سو، ور ک به سي یا بې چغالان او شرمښان وخوري، یه راځئ په ده پسي، بیا بې مور وایي چي زما زوی مو څه کئ؟

"غوږ دي دئ وروركه؟" د ناچارۍ څخه هلکان هم پسي رهي سوله، هله هله خمرۍ دمخه دئ دوی په پسې دي، يو وار شرمښ په مخه ورغی.

شرمښ و خمري ته غرږۍ کی، خمري بُغاري کړې.

د دې خوا هلکانو باندي هی هی او کوچ کوچ کی شرمښ بير ته الا کړه، خمرۍ يې ځني خلاص کی.

څه سر دي ګرځوم "جان لالا ته دي وويل سي" بيا چغال په مخه ورغی، باندي هو يې کړه، بيا پړانګ په مخه ورغی، باندي غوږمب يې وهل. وروره نيمه شپه ده خمري بيا بُغاري کړې، خو په دغه کوچ کوچ او له ها ها او له ها ها سره يې د دې څخه ځانونه او خمرۍ خلاص کی.

هلکان ورته وايي: خمريه ! راځه بير ته وګرځو، اور ليري دئ، دا شرمښان دې وليده؟

خمري وويل: يه دغه دئ زما د انا کور دئ زه ورځم دا دئ اوس نو راغلو.

خو هله هله څه درته ووايم وروركيه ! دا دئ راغله پر دښت يوه خونه ده مخه ته يې يوه بوډۍ ده روې ده ناسته ده، روي چي هلکان وليدله ومخي ته يې راولاړه سوله، وې ويل: لمسيانو خدای مو راوله، څونه مي درته وکاته.

خمري وويل: وينی ما ويل چي زما د انا کور دئ، تاسي ويل: "يه".

"ورورجانه" روې ولاړه سوله ښه ماليده يې ورته وکړه، چي راځخه ونه بېربېري، ونه تښتي، يو يو به کرار کرار چاغوم خورم به يې، خدای ﷻ تياره مېله راکړه.

خمرۍ بېعقل خوشحاله دئ، پورته پورته غورځي، ماليده يې سره وخوړله.

روي ورته وويل: دالته بيده سئ ! دوی پرېوتله بيده سوله.

روې دباندي ووتله، چي چاړه او غاښونه ورته تېره کي، چي يو دستي وخوري، نور هلکان بيده دي.

خمرۍ وينښ دئ، د چړې کښهاري يې واورېدی، وپوهېدی چي ولچي پسات وسو، او کار زما د لاسه وخوت، دانور مي په بلا اخته کړه هغه نور بيده

دي.

دا کښهارې چې خمرې واروېدې نارې يې کړه:

کښ د چړې کښ

دا نور هلکان بيده دي

خمرې خوار کې ويښ

روې وايي: څه کوې خمريه! ولې نه بيدېږې؟

خمرې وايي: زما نوم "خمرې" دئ، ته مانه پېژنې! زه پر ادې داسې گران وم، ماته بې په نيمه شپه د ولې څخه په چُغل کې اوبه راوړلې، ما به چښلې نو به بيده سولم.

روې وايي: زه به هم اوبه درته راوړوم، نو بيدېږې؟

دې وايي: ښه دئ انا رايې وړه.

آبس روې چُغل راواخيست رود ته راغله.

روې چې راووتله خمرې پر هلکانو برغ وکې چې در څغلئ دا روې ده، الاله يې مو انانه ده.

هلکانو دوې پښې داغه کړې دوې نورې، را الا يې کړه، د خمرې د بيرې پښې لنډې لنډې کېږې، غړې يې وښويېدل.

هلکانو ته يې وويل چې زه نه سم تلای، ما په شا کئ!

هلکانو برغ ونه کې څني ولاړه، دې پاته سو "په زړه خو يې نو يو الله خبر دئ" اوه، اوس خمرې يوازې روې ته پاته سو. خمرې وايي: خدايه! که دا پلا خلاص سوم، بيا به د مور پښې مچوم، سبق به وايم کار به کوم.

څه سر دې گرځوم، خمرې د بيرې د روې د خونې پر بام وختې، پر کولک ور ته کښېنوست.

روې هلته څو واره چُغل په اوبو کې غوټه کې، چې راپورته به يې کې اوبه به بيرته تر توی سولې، فکر يې وکې چې ولچې ځان يې در څخه خلاص کې، يه! ور څغله چې تللې به وې چې راغله هلکان نسته!! وای، هی هی ارمان راڅخه ولاړاست؟

خمرې د بيرې په کولک کې غوځار سو، خاورې پر روې ور توی سولې.

روې وايي: ښه در پوهېږم چي موږک يې، ولاکه اوس درتلم چي مړ خو دي کم.

خمړي د بيري او خوشامنده ورناړې کړه چي انا! زه يم هغه نور هلکان ولاړه، زه په هغو پسي پر بام راوختلم، ما ويل چي وګورم چي پر کمه ولاړه.

روې وايي: هی هی خمړی يې، بس پسي راوغورځېدله راغله خمړی يې ونيو، وايي ولاکه مي دا پلا خطاباسې! هغه نور هلکان دي لا زما د چمبې څخه وايستله، اوس نو څه در وکم؟ ها!

خمړی وايي: ملامت يم! ملامت يم! د مرګ وړ يم! د خوړلو وړ يم! د چا په خوله مي نه کوله، سبق مي نه وايه، بد عمل مي کاوه، د مور په خوله مي نه کول، يه! اوس نو ما په جوال کي واچوه، ولاړه سه يو لوی سوټی پرې که، را يې وړه، ما په دغه جوال کي په وهه! وهه! وهه! هر وخت که مي ستا د دغه ګليګي رمباړي وکړې، نو مي ايله که، که دي نه ايله کولم، مړ مي که، ومي خوره!

روي ورته وويل چي ښه، که د دغسي سختي سزا لايق يې، دغسي چم در کوم چي زړه در سوړ کم.

آ بس تا ته دي ووايم، خمړی يې په جوال کي واچاوه، خوله يې په يوه رښکی پسي وتړله.

روې ولاړه سوټی پرې کوي.

خمړي زور کړه، رښکی وشلېدله، د جواله راووت، دستي يې د روي ګليګی په جوال کي واچاوه، خوله يې ټينګه پسي وتړله.

خمړي را الا کړه مخ د کور پر خوا، نو مه ځغله! داسي ځغلي چي تر شانه ګوري.

روې چي راغله، لوی ډانګ يې پر غاړه را اړولی دئ، دا ده خوني ته رانغوته، ډب سو جوال يې وواهه، د ګليګي رمباړي سولې.

روې وايي: ولچي شل واره زما د ګليګي رمباړي وکې که دي پرېږدم. خو واهه يې واهه يې د ګليګي هډوکي يې هلته په جوال کي ور اوړه او وبه کړه، چي خوله يې ور خلاصه کړه غوښت يې چي وې خوري، که ګوري خمړی نسته خپل ګليګی يې دئ.

آبس ویل : هی هی راځخه ولاړې خمړیه ! ولاکه دي پرېږدم ! دغسي یې په خمړي پسي را الا کړه، چي ستا خوله وچه سه ! بیا دي خطا ایستم، که دا پلا په لاس راغلې، ولاکه دي پرېږدم، چي اوم دي ونه خورم ! هله هله دا چي په خمړي پسي رسېدله پسي بړغ یې کړه، چي نه به ځې !

خمړی په کلي ځني ننووت، کور ته ورغی، دغسي د مور په پښو کي ور غوځار سو، چغاري یې کړلې، چي موري ! ویې خوړلم !

مور په زړه پوري ونیو وې ویل : کور دي ډاګ سه ! چیري وې؟ څه نکل دئ؟

د خمړي یو ساعت ژبه تړلې وه، بېسده و، چي په سد کي سو دا نکل یې سر تر پایه و مور ته وکی.

مور یې ورته وویل : باره دي توبه ده که نه؟ سبق وایې که یا؟ کار کوې که یا؟

ده ویل : مورکي جاني توبه مي ده، چي دا پلا خلاص سوم، بیا به عمري ستا پښې مچوم، ستا په خوله به کوم، بد کارونه او بدعملونه به نه کوم، کالي به نه څیرم، په مردارو ختو کي به لاس و پښې نه لړم، د کوره څخه به د شپې نه ځم، چي د سبقه خلاص سم، برابر به کور ته راځم، پر وخت به سبق ته ځم، پر وخت به راځم !!!

آبس خمړی د دغه هیسته پر سبق ټینګ سو، چي د سبق څخه به خلاص سو د مور لاسونه بې مچول په خپل کار پسي به تلی، د مور په خوله بې کوله، وروسته نو ښه هلک ځني جوړ سو، ولې پر سر یې وخوړله، نو تاسي هم باید پام کوئ د خمړي په شان بد عمل مه کوئ، د مور و پلار په خوله کوئ، که نه وي داسي کانه به در وسي لکه په خمړي !!!.

د زعفرانو سوداګر

یو سوداګر و، د کندهار څخه یې زعفران بار کړي وه، چې د کوټې و ښار ته نږدې سو یو ځای یې واړول، درې کسه ورته راغله چې زعفران در څخه اخلو، خو هه هه جکه جکه چنې چنې نه سره جوړېدله.

آخر ته دغو درو کسو ورته وویل چې ښه دئ زعفران دي رابار که، پلاني کاروانسرای ته یې راوړه، ستا زعفران به داسي در څخه واخلو چې د هر منه په عوض کي به یو خاني من هر شي چې ستا خوښ وي در به یې کو.

سوداګر وویل: ښه دئ قبول مي دئ، دوی ځني ولاړه، سوداګر سهار هغه کاروانسرای ته چې دوی ورښوولی و زعفران ور وړه.

هغه درې کسه راغله خپل مهرونه یې پر بار ووهل، ورته وې ویل چې ته خپل چرت ووهه، هر شي چې دي خوښ دئ، هغه راته ووایه چې در یې کو، بیر ته سرې ځني ولاړه.

سوداګر چې زعفران بیه کړه، په سرو زرو دوه سره خر څېږي، نو یې د ځانه سره وویل چې ولچې یو پسات یې در وکی، ولي چې دوی یې ماته راکي یو خاني سره زر به په یو خاني زعفرانو راکي، تر سرو زرو خو بل قیمتي شی نسته، خورا خوابدی سو.

څه سر دي ګرځوم سوداګر دغسي راووته بازار ته موچنه یې څېري ده، دا یې پینه دوز ته ورکړه، چې راوې ګنډه.

پینه دوز پسي بږغ کړه چې بیا به مي خوشحاله کوې؟ سوداګر وویل : ښه دئ خوشحاله به سې، د موچي څخه چې راتېر سو، یو سړي دئ ټینګ یې سوداګر تر لاس ونیو چې ولاکه دي پر پېږدم، زما د پلار ستر ګه دي کښلې ده، خدای ﷻ په لاس راکړې.

سوداګر ناحقه په غم کښېووت، د هغې خوا بیر ته راوګرځېدی. هغه

سړي ته يې ضامن ورکی، چي زه په پلاني سرای کي د زعفرانو سوداګر يم، بيا به سهار دعوه سره کوو، بير ته راغی موچي ته چي زما موچنه راکه.

هغه ورته وويل: چي زه نه يم خوشحاله ما خوشحاله که !

ده دوې روپۍ ورکړې چي دغه دي تې خوشحاله.

موچي وايي: اوهو ! په دې زه چيري خوشحاليږم، هر شی چي ما غوښت هغه به راکوې، نو زه خوشحاليږم که نه وي حاکم ته دي بيايم.

لنډه دا چي موچي ته يې هم ضامن ورکی، ځان يې ځني خلاص کی، د ځانه سره وايي : "کور دي خراب سه په هغه شيطان وطن، خو ګرده شيطان دئ، يو غم نه دئ هغه د زعفرانو رانيوونکي، موچي او هغه سړی چي د پلار د سترګي دعوا يې په کړېده، ټوله يوه ونکی دي".

خير چي ماښام سو سوداګر راغی په لاندي پوړ کي يې يوه کوټه ونيوله، د خدای ﷻ کارونه دي سربېره پر دغه کوټې د موچي او د هغه نورو استوګنه او کړه ده.

ماښام سوداګر پروت دئ، چرت وهي، دوی سربېره سره ګډ دي، هغه درې کسه وايي چي ښه مو د زعفرانو سوداګر خطا يوست.

ښځي يې ورته وويل چي څه مو خطايوست؟ نو که سوداګر درته وويل چي "زه يوه خاني د ماشو غوړي غواړم، څه به کوی؟

دوی وويل: چيري يې دې ته پام دئ، هغه چي ډېر زور ووهي نو به ووايي چي سره زر راکه.

موچي وويل ښه ما به څنګه خوشحاله کوي.

ماينې يې ورته وويل : که يې درته وويل چي "هغه ورځ خو د باچا زوی زوکړی وو، کې درته وويل چي د هغه زېړی مې دربانډي وکی ته نه سوېخوشحاله؟"

ده وويل: چپ که چيري دونه عقل لري.

هغه بل سړي چي د پلار د سترګي دعوه يې په کړېده، وويل :

د پلار سترګه مي خدايي تازه ختلې ده، زما څخه به څنګه ځان خلاص کي.

ماينې يې ورته وويل چي ولې، که يې وويل چي : "بېشکه مي کښلې

ده، پلار دي غل و، ما يې په دغه کش وبگير کي سترگه وکښله، راځخه ايله سو، که نه وي دغه بله سترگه مې هم کښله، چي بيا بل يو دغسي کار ونه کي، او کې دا بل کار هم لا وکی چي سهار وختي سلاخانې ته ولاړ او يوه سترگه د پسه يې رانيوله او حاکم ته يې وويل چي هو ! غل و، ما يې سترگه وکښله، منکر ته د ده پلار راوغواړه، دا بله سترگه يې هم وکاږه، د دې سره يې تول که، که سر پر سر وه نو په رښتيا چي د ده د پلار سترگه ما کښلې ده.

ده وويل: چپ که چيري دونه عقل لري.

لنډه دا چي دا خبري تولـه سوداگر واورېدلې پـه ښغمـه زړه بيده سو، سهار وختي ولاړ سلاخانې تـه د پسه سترگه يې رانيولـه پـه پنبـه کي يې وپېچله په جيب کي يې واچوله راغی د خپلو زعفرانو د بارو سره کښېنوست.

دستي هغه هغه خلک ورتـه راغله چي زعفران موږ درځخه اخيستي دي، اوس غواړه يوه خانی څه شي غواړې؟ نوم خو يې نه دئ معلوم.

ده ورته وويل چي نه مي دي درباندي خرڅ کړي.

موچي وايي: زما سره دي قول کړی دئ.

هغه بل ويل: زما د پلار سترگه دي کښلې ده، ديت و تاوان راکه يا درځه حاکم ته !

سوداگر وويل: تولـه درځئ، حاکم ته هر څه حکم چي يې وکی هغه مو منلی دئ.

لنډه دا چي حاکم ته راغله، اول هغو درو کسو عرض پر وکی، چي دغه سوداگر زعفران په يوه خانی شي راسره کړي دي اوس يې نه راکوي.

حاکم ورته وويل چي څه وايې؟

سوداگر وويل چي ښشکه رشتيا وايي، اوس هم پښېمانه نه يم، زه يوه خانی د ماشو غوړي غواړم.

حاکم حکم وکی چي ورسئ يوه خانی د ماشو غوړي ورکئ، زعفران واخلئ.

پينه دوز وويل: صاحب ! ما يې موچنې کنډلي، ما ويل مزدوري يې راکه، ده ويل بيا به دي خوشحاله کم، زما سره يې خوشحالي کړې ده ما دي

خوشحاله کي.

سوداګر وويل: بېشکه مې خوشحالي ورسره کړې ده، مګر ما خوشحاله کی.

حاکم وويل: په څه شي؟

ده وويل: په هغه ورځ د باچا زوی زوکړی و، ما يې زېری پر وکی خوشحاله سو.

حاکم ورته وويل چې په دغه زيري خوشحاله سوې؟

ده وويل: هو!

حاکم وويل: څه ورک سه زياته دعوه دې نسته پورې!

هغه بل وويل چې صاحب! زما د پلار سترګه يې کښلې ده، تاوان دې راکي، اوس مې دغه دئ ونيو.

حاکم ورته وويل: څه وايې؟

سوداګر وويل: بېشکه مې کښلې ده، هغه په نيمه شپه راغی کاروان ته زعفران يې غلا کوله، نور ملګري يې هم وه خو يو غل په لاس راغی پېژندی مې نه، په کش مکش کې مې سترګه ځني وکښله، سترګه يې د جيبه ورته راوکښله، چې سترګه يې دغه ده، مګر ته د ده پلار راوغواړه دا بله سترګه يې هم ځني وکاږه د دې سترګې سره يې تول که، که سر په سر وه نو بېشکه د ده د پلار سترګه ده، بايد بازخواست ځني وکې، او که نه وه ورسره برابره هم بايد بازخواست ځني وکې، ولې چې ناحقه دعوه يې کړې ده، دا پساتي دئ د خدای ﷻ عالم زهيروي.

حاکم دستي حکم پر وکی، چې ورسئ پلار يې راوله.

يو دم يې پلار راووست، يوه سترګه يې نسته، دغه بله سترګه يې ځني وکښله چې په ترازو کې يې سره تول کړې، د پسه سترګه پر درنه وه.

سوداګر وويل: وينې صاحب! ناحقه يې زه مسافر زهيرولم، دا خلک پنځه سره يوونکی ده؟ عمري دغه پساتونه کوي.

باره حاکم حکم پر وکی، ټوله يې دايمي بنديان کړه، سوداګر يې ايله کی. سوداګر خپل زعفران خرڅ کړه، کور او وطن ته راغی، باره يې د کوټې د بناره څخه توبه وکښله.

سپېر کونډه او فیل

یوه سپېر کونډه وه، په یوه چمن کي یې ځاله جوړه کړې وه، چیچیان یې ایستلي وه، یو فیل دئ هم په دغه چمن کي څړ کوي.
سپېر کونډي ور ته وویل چي فیله ! پام کوه زه غریبه یم، همسایه دي یم، عاجزه یم، دلته دغه زما ځاله ده، سره چیچیان مي دي، زه کله په ملخانو پسي ور که یم، دغه چیچیانو ته رزق برابروم چي دغه چیچیان مي تر پښه لاندي نه کې.
فیل وویل چي څه څه ! زه دي باغ نه وینم ته وا تارو درغی، زه به چیري هر ګړی پښو ته ګورم چي د سپېر کونډي چیچیان دي، څه څه ور که سه ! فیل ګام واخیست پښه یې پر ځاله کښېښووله چیچیان یې ور مړه کړه. سپېر کونډه راغله په سرو اوښکو پر باز یې عرض وکی چي فیل زما پر ځاله پښه کښېښووله چیچیان یې رامړه کړه.
باز وویل: درځه نور څه د لاسه نه ورسره کېږي ستر ګي خو بې وکاږم ړوند خو بې کم. دې وویل: ښه ! د ده دي دالوی غوړونه وچ سي.
باز راغی پر فیل یې ځان غوټه کړ، یو وار یې یوه ستر ګه ځني وکښله، بیا یې پر غوټه کړه بله ستر ګه یې ځني وکښله، فیل یې ړوند کی. سپېر کونډي و باز ته سر تور کی دعا یې و باز ته وکړه چي ستا سایه دي زما د سره نه کمېږي، چي دغه زما ظالم دښمن دي را ړوند کی، چي زه ژوندۍ یم ستا دعاګویه یم. سپېر کونډه راغله فیل ته، ور ته ویل یې چي فیله ! ته زما همسایه وې، تا زما سره ظلم وکی، منګر زه وفا درسره کوم اوس ته ړوند سوې وږی تږی ګرځې، راځه زه یې ستا په پیمانه نه پیمانه کوم، زه دي ښه ښه وښو ته بیایم، زه به دمخه یم چوڼکی به لرم، دغه زما په چوڼکي پسي راځه، اوس خو اپیجي سولې زړه مي دربانديي سوځي. فیل وویل: ښه دئ

خدای ﷻ دي خير در کي، نېکي پر بدي د مړو کار دئ. فيل يې را رهي کی، دا دمخه ده چونکی لري فيل په پسې، هله هله فيل يې پر يوه لوی ارهټ راووست فيل درب سو په ارهټ کي ولوېدی مړ سو. سپېر کونډي و خدای ﷻ ته شکر وکيښ چي دغه کوچنی مرغی ته دي دونه توفيق ور کی، چي يو غونډ فيل يې مردار کی.

وروسته سپېر کونډي و خپلي همسايه جور کي" ته ووېل چي ته ولاړه سه چي وس دي کېږي ټوله مرغان خبر که چي و پلاني چمن ته به راسي، سپېر کونډي غوښتي ياست.

د سپېر کونډي څلور پنځه لغړي چيچيان په ځالی کي يوه لوی ظالم په قصد سره ديده ودانسته د کبر او لويی او غرور له کبله تر پښه لاندي وژلي دي، نو د دغو ماشومانو د پاتا عذر به هم ور ته وکړ، او د هغه متکبر ظالم د مرګ ډول به هم ووينئ، چي څنګه يې د ژوند د کبر او ظلم کاسه نسکوره سوه. جور که هم رهي سوه، ټوله مرغان يې په دغه نکل خبر کړه. په سېلو سېلو مرغان هغه چمن ته راغله، سپېر کونډه يې وليده په سرو ساندو ناسته وه ژړل يې. مرغانو د زړه تسلي ور کړه، لاس يې ور ته پور ته کی. وروسته سپېر کونډي پيښه ور ته بيان کړه.

مرغان ټوله راغله د ارهټ پر غاړه ور ته ودرېدله دغه لوی فيل يې وليد چي په ارهټ کي سر کُل پروت دئ، مغزی يې غوټ مات دئ. نو ټولو مرغانو ووېل چي بېشکه د ظلم پای خراب دئ، د کبر کاسه نسکوره ده.

متل دئ وايي چي : "لوی مي کې لويي را مه کې".

ټوله راغله د خپل مشر باز څخه يې تشکر وکړ، او ټولو بيعت ور کړ چي ته زموږ باچا يې، خدای ﷻ دي تل پر ظالمانو بری در کي، چي ستر ګي يې وکاږي او په دغسي کنده کي مړ او مردار ولوېږي.

PROPERTY OF ACKU 13892



ارواښاد محمد ګل نوري

(۱۳۲۰ هـ ق – ۱۳۹۳ هـ ق مړ)

د مؤلف چاپ او نا چاپ اثار

چاپ اثار:

لیك ښوونكی، دوه ټوكه، ۱۳۱۷ ل

ملي هينداره، درې ټوكه، ۱۳۱۸، ۱۳۲۵، ۱۳۵۲ل

پښتو اصطلاحات

ملي سندري او لنډۍ

پښتو متلونه

دينيات

مدني اخلاق، دوه ټوكه.

مدني معلومات: دوه ټوكه.

پښتو قاموس (نوراللغات) : چې ۴۵ زره لغات لري، ارواښاد نوري خپل دغه اثر د خپلي لور طيبې په ملګري ترتيب كړی، چې وروسته د پښتو ټولني له خوا په دوو ټوكونو كي چاپ سو.

رحمة اللعالمين

د مينو ستاينه

ناچاپ اثار يې:

ملي لوبي، يو ټوك

پښتو اهنګونه، چې تر شلو زيات اهنګونه لري

ملي دودونه، يو ټوك.

خوږ باندار، درې ټوكه، چې حكايتونه او فكاهيات لري.

د خوشالخان خټك حل اللغات، يو ټوك.

د خوشال منتخبات، يو ټوك

د عبدالقادر خان منتخبات، يو ټوك

د احمد شاه بابا منتخبات: يو ټوك

پښتو ياد، يو ټوك

د احد غزا، يو ټوك

د يارلس نكلونه، يو ټوك

د نوري ديوان

د شين خالو نارې، يو ټوك

سنګليچي قاموس، يو ټوك

واخي قاموس، يو ټوك

اشكاشمي قاموس، يو ټوك

منجي قاموس، يو ټوك